# پښتو شفاهي داستان




محمد ابراهیم عطایي

# پښتو شفاهي داستان

## (یوه تحلیلي څېړنه)

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 7555

لیکوال

کاندید اکاډیمیسن محمد ابراهیم عطایي

Download From: Aghalibrary.com

## د کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | پښتو شفاهي داستان (یوه تحلیلي څېړنه) |
| لیکوال | : | کاندید اکاډیمسین محمد ابراهیم عطایي |
| خپروونکي | : | د ساپي د موقوفاتو اداره |
| کمپوز/ډیزاین | : | آسیا سافټ، پېښور - پښتونخوا |
| کمپوزر | : | حفیظ الله |
| د چاپ نېټه | : | ۱۳۷۶هـ ل |
| د چاپ ځای | : | ملت پرېس، لاهور |

# د لوی خدای په نامه

## د امام الدین ساپي موقوفات

څرنګه چې په تېرو دوولسیزو کښې د افغانستان فرهنګي مرکزونو ته نه جبیره کېدونکی زیان وروارول شو، د هېواد ګڼ تاریخي آثار ړنګ، ورك او ګڼ فرهنګي آثار لوټ کړای شول، د هېواد موزیمونه، آرشیفونه او عامه کتابتونونه تر تباه کوونکو تېریو لاندې راغلل او ګڼ کتابونه وسوځول شول او ورسره د نورو په لمسون او د نورو په لګښت د ملي تاریخ او ملي فرهنګ د مسخ کولو له پاره په خلاص مټ کار وشو او ګڼ زهرجن آثار نشر شول.

مطلب دا چې زموږ فرهنګ او معنوي شتمنیو ته داسې زیان واوښت او داسې زیان واړول شو چې د هغو نسبي بیا رغونه او د پاتې آثارو ساتنه له زړه سوي ډکه پاملرنه غواړي، د هېواد د خواخوږو زامنو مادي او معنوي مرستې غواړي، د روشنفکرانو پیوستون او سره همکاري غواړي او د فرهنګي بیا رغونې له پاره د مؤثرو او ګټورو پروګرامونو طرح کول او عملي کول غواړي.

نو ما په دې لوی ملي خدمت کښې د برخې اخیستلو په غرض د خپلې شخصي شتمنی یوه برخه ددې له پاره وقف کړې چې:

لومړی

- د افغانستان د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او فرهنګي تاریخ په اړه لیکل شوي علمي او ګټور کتابونه پرې نشر شي.
- د افغانستان ملي تاریخ چې په دې وروستیو وختونو کښې د غرض لاسوبو په غلط شکل وړاندې کړی، د اسنادو او پخو مأخذونو په رڼا کښې په واقعي او اصلي بڼه ترتیب او پرې خپور شي.
- د افغانستان د بیارغونې په اړه د پوهانو، عالمانو او متخصصینو رغنده نظریات او وړاندیزونه پرې تهیه او خپاره شي.
- د افغانستان د ملي وحدت، ملي ګټو او ملي خپلواکۍ د ساتلو په اړه لیکل شوي آثار پرې تهیه او نشر شي.
- د ملي فرهنګ د روښانولو په لاره کښې آثار پرې تهیه او وړاندې شي.
- د پښتو ژبې او ادب ذخیرې او پانګې چې له جدي ګواښ سره مخامخ کړای شوې له عصري غوښتنو سره سمې پرې خپرې او خورې شي.
- د پښتنو لیکوالو او شاعرانو له پاره د کلنیو جایزو یوه سلسله پیل کړي او په دې وسیله د ګټورو آثارو هرکلی او درناوی وکړي او

دوهم

لیکوالان د معیاري آثارو د لیکلو له پاره وهخوي.

دا کار ما له څوکلونو راهیسې په جرمني کښې پیل کړی ؤ، ددې له پاره چې د موقوفاتو دا اداره د یود علمي مرکز ښه غوره کړي نو د هېواد د پوهانو او عالمانو یوه علمي کمیته مو ورته وټاکله او حبیب-الله رفیع مؤظف شو چې د دوی د مشورو په رڼا کښې په مسؤولیت سره دې کارته په پېښور کښې دوام ورکړي.

د ساپي د موقوفاتو د ادارې له خوا خپاره شوي کتابونه به د عصر له غوښتنو سره سم په ډېر ښه صحافت چاپېږي او د هر چا لاس ته د رسېدو په خاطر به په همهغه بیه وړاندې کېږي چې لګښت پرې شوی او په دې توګه ددې ادارې هدف تجارتي نه بلکه د تاریخ، فرهنګ او ژبې خدمت دی.

د ساپي د موقوفاتو د ادارې له خوا هرخپرېدونکی کتاب به ددې وقفنامې متن په خپلو سر پاڼو کښې خپروي.

په درناوي

امام الدین ساپی

دریېم

کابل ۱۳۷٦/۲/۱۹

# د لوی خدای په نامه

# د ساپي د موقوفاتو د ادارې د علمي مجلس لومړنی پرېکړه

د ساپي د موقوفاتو اداره به په ۱۳۷٦ کال کښې د پښتو څلور ټوکه معياري کتابونه په ښکلي صحافت خپروي او ددې ادارې د اهدافو په رڼا کښې به يې ټولنې ته وړاندې کوي.

ددې له پاره د ساپي د موقوفاتو د ادارې علمي مجلس پرېکړه وکړه چې دا لاندې کتابونه د کال تر پايه پورې پر له پسې خپاره کړي:

۱. "کتابونه دريابونه" د پښتو د پنځوسو ټوکو کتابونو معرفي او پرې تنقيد.
۲. "د پښتو پر شفاهي داستان يوه تحليلي څېړنه".
۳. "غالب جنګ غازي نواب احمد خان بنګښ او د هغه کورنی".
۴. "د رحمان بابا په ديوان کښې متلونه او محاورې".

څلورم

علمي مجلس د پوړتنیو کتابونو چاپول کتور کني او د هېواد د کلتوري ژبانونو د جبران په لاره کښې یو رغنده ګام بلل کېږي.

د ساپي د موقوفاتو اداره د پښتو ټول راغلي کتابونه مني، څېړي يې او بیا به يې د خپرولو له پاره پروګرام جوړوي.

په درنښت

لاسلیکونه:

| | | |
|---|---|---|
| پوهاند عبدالشکور رشاد | کاندید اکادیمیسن محمد ابراهیم عطایي | څېړنمل محمد عارف غــروال |
| ډاکټر محمد اکبر اکبر | احمد شاه | حبیب الله رفیع |

پنځم

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب سوځول

د لیك ایجاد او د کتاب پاڼې اوړېدلو د انسان په ژوند کې د بشر "تاریخي دوره" را پیل کړه، همدې لیك او کتاب د پرونیو نسلونو تجربې ننني‌و نسلونو ته راولېږدولې او د پرمختګ پروسه یې د فرد پر ځای د بشري نسل په تسلسل کښې پر مخ روانه کړه او پخوانو نسلونو چې کومې تجربې کړې وې ورپسې نسلونو له سره پیل نه بلکې ورپسې تعقیب کړې او همدا د لیك او کتاب برکت ؤ چې علمي پرمختګونه تر اسمان او کیهانه ورسېدل.

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې زوړ تاریخ او زوړ تمدن لري او وخت په وخت یې بشري ټولنې ته داسې عالمان او پوهان وړاندې کړي چې د انسان او انسانیت ابدي ویاړونه دي او داسې کتابونه او آثار دلته کښل شوي چې نړیوال ترې تر اوسه پندونه او عبرتونه اخلي.

د دې تر څنګ د دې هېواد حساس جغرافیایي موقعیت د دې سبب شوی چې وحشیانه تېري پرې وشي او یا له کورنیو شخړو او جګړو سره مخامخ شي، په دې تېریو کښې د نورو ورانیو تر څنګ کتابونه او کتابتونونه هم سوځول شوي او علمي بربادۍ پکښې رامنځ ته شوې دي.

شپږم

تېر په هېر خو په تېرو دوو لسیزو کې یو ځل بیا په هېواد کې د وحشت پرله پسې څپې راولاړې شوې او د وحشت د دې سره اور په لنبو کښې زموږ د نورو شتمنیو تر څنګ کتابونه او علمي ذخېرې هم وسوځېدې او زموږ ډېر څه له منځه ولاړل او بده دا چې قصداً له منځه یوړل شول.

د ۱۳۵۷ کال د غوایي د خونړۍ کودتا تر کېدلو وروسته وطنفروشو کمونستانو زموږ پر ټولو علمي پانګو د ارتجاعي دورې د بقایاؤ ټاپه ولګوله او په وحشت او بې رحمۍ یې له منځه یوړلې، سرکاري کتابتونونه یې تصفیه کړل، په مطبعو کې چاپ شوي کتابونه یې همهلته وسوځول، د کورونو تلاشۍ یې وکړې دیني او د ملي مطالبو درلودونکي کتابونه یې ضبط او بیا د اور خوراک کړل. یوه کمونست لیکوال چې د کودتا له برکته ارګ ته رسېدلی ؤ په ډېر ویاړ ویل چې موږ د ارګ د تحویلخانو په خروارونو ارتجاعي کتابونه راوایستل او ومو سوځول، د دې اورونو په لنبو کې ډېر سرکاري او شخصي کتابونه وسوځول شول او ډېرې علمي هستۍ او پانګې تباه شوې.

د کمونیزم د خونړۍ دورې تر شرمېدلې ماتې وروسته د اور یوه بله څپه په هېواد را خوره شوه، قدرت ته رسېدلو تش په نامه مجاهدینو له علم سره د مطلقې دښمنۍ په توګه د هېواد کتابتونونه او موزیمونه چور کړل، څۀ یې پۀ نیمه بیه خرڅ او څۀ نور یې د دیګونو د پخولو او بخاریو د تودولو له پاره د اور خوراک کړل، یو شمېر کسانو د کمونستي دورې کتابونه په اورونو کې واچول او ویې سوځول. خو په دې منځ کې یو شمېر نورو د تبعیض او ستم په لاړو لړلو کسانو یوازې او یوازې د پښتو کتابونو د سوځولو او له منځه وړلو وظیفه درلوده، د قبایلو د وزارت او د افغانستان د علومو اکېډمۍ د پښتو ټولنې تحویلخانې په همدې ناولې نیت تشې او د بخاریو ګېډې پرې ډکې شوې.

په دې کتابونو کې يو شمېر داسې کتابونه هم وو چې نوي- نوي په مطبعو کې چاپ شوي او په سوونو نسخې يې يو ځايي هلته پرتې وې. داسې کتابونه يو ځای د اور خوراك شول او څو محدودې نسخې يې چې تر سون مخکښې د چا لاس ته ورغلې وې، پاتې شوې.

ستاسو په لاس کښې کتاب له همهغو بدبختو او بد قسمتو کتابونو څخه دی چې نوی- نوی چاپ شوی ؤ او ډېرې لږې نسخې يې له مطبعې نه راوتلې وې، چې د کلتور دښمنی، ستم او تبعيض د ناولي اور خوراك شو او د نژادي او ژبني تبعيض ګومارل شويو اجيرانو د خپل قهر اور پرې سوړ کړ.

د ساپي د موقوفاتو اداره دا کتاب بېرته چاپوي او احيا کوي يې او هيله لري چې په ګران هېواد کښې د کتاب سوځولو لړۍ يو ځل بيا په کتاب ليکلو او کتاب خپرولو بدله شي، له هېواد نه پردي لاسونه لنډ شي او افغانان يو ځل بيا د وروڼو غوندې په خپل کور کښې راټول او د ملي کلتور په ځلونه او رڼونه کې د پخوا په شان ګډ کار او زيار وکړي.

په مينه

حبيب الله رفيع

حيات آباد، پښتونخوا

۱۳۷۶/۸/۲۵

# د دې اثر په باره کښې څو خبرې

د ډېرې خوشحالۍ ځای دی. چې زمونږ د هېواد په روان نشراتي جريان کښې د غير ضروري آثارو تر څنګه ځينو ښو او زمونږ د فرهنګي ودې لپاره ګټورو او ضروري آثارو ته هم د چاپ موقع ورکول کېږي.

په اوس وخت کښې زمونږ زياتره څېړنې ډېرې بابېزې دي او په التقاطي ډول د يو او بل خبرې سره اوډول او څېړنې نوم پرې اېښوول زمونږ د زياترو څېړنو اساس جوړ وي.

د تخليق حال مو هم لا تر دې پسې خراب دی. له يو څو شاعرانو. کيسه ليکونکو او يا هم د هنري ادبياتو له نورو ايجادوونکو که تير شو. نور خو ټول له دغې لارې ځانته د ګولې د پيدا کولو د يوې وسيلې په توګه کار اخلي.

د تدوين او ترتيب په ساحو کښې لا بل راز لېونتوب شروع شوی دی. د چا چې څه خوښ وو او څه ورته اسان وو. هغه سره راټول او ترتيب کړي او په بېلابېلو نومونو يې د هېواد له فرهنګي مؤسسو څخه د مجموعو په توګه چاپ کړي. دومره څوک نشته چې له مدون صاحب نه پوښتنه وکړي. چې د دغه اثر يا مجموعې د چاپ ضرورت څه دی؟ زمونږ په فرهنګي وده کښې څه پدل لري؟

د فولکلور له حاله که خبر شو. نو ګرده به وژاړو. دا چې فولکلور څه شی دی؟ څنګه بايد ټول شي؟ څنګه بايد وڅېړل شي؟ څنګه بايد خپور شي؟ او زمونږ فولکلور بايد د خپل هېواد له شرايطو سره سم څنګه ټول. خوندي او چاپ کړو. دغو مسايلو ته د نه توجه تر څنګه بس نو "لاس د برې چار دی" هر چا چې څه وچ لانده سره راټول کړل. د فولکلور اسانه ټاپه لاسی پرې ووهي او په دې يا هغه نامه يې د ډېرو سترو فرهنګي مراکزو له خوا چاپ کړي. په دغسې يو فرهنګي چاپېر کښې چې د يو ښه کتاب له پاره د چاپ زمينه مساعدېږي. د فرهنګ د ودې د هر مينه وال

د خوشحالۍ سبب ګرځي.

حاضر کتاب "د پښتو پر شفاهي داستان يوه تحليلي څېړنه" يو داسې اثر دی، چې سړی د معاصر تحقيق، علمي تحليل او ور سره تخليق درې واړو څرګونه پکښې ايستلای شي. زما په عقيده دا کتاب دغه لاندې عمده ځانګړنې لري:

(۱) د کتاب د لومړۍ برخې مطالب چې په عام ډول پر داستان او د داستان متعلق ځينو نورو ضروري مسايلو او هم پر کلتور، هنر، فولکلور او د فولکلور پر ارزښتونو او خصايصو ځيني مطالب وړاندې کوي، زياتره تيوريک بحثونه دي، چې زموږ د څېړونکو او لوستونکو دواړو لپاره لاربښودی ارزښت لري، د دې ساحې د کار مينه وال کولای شي، چې هر يو په خپله سطح کښې استفاده ځنې وکړي.

(۲) د پخوانۍ نړۍ د مشهورو داستاني آثارو معرفي، زموږ د ځوان کهول له پاره يو ارزښتمن کار ګڼل کېږي، په خاص ډول د هغو کسانو له پاره چې غواړي د داستان ليکنې په ساحو کښې د ليکوالۍ تجربې وکړي. د حاضر کتاب دويم فصل د پخوانۍ نړۍ د ځينو عمده داستاني آثارو معرفۍ ته وقف شوی دی.

(۳) د دغه کتاب يوه عمده او اساسي ارزښت دا دی، چې دا کتاب په عمومي ډول لوستونکو ته د پښتني نکلونو اصلي ماهيت او جوهر ورښيي، او دا ور په يادوي چې زموږ په اولس کښې خواره واره نکلونه تش د وخت تېرولو او يا د ژمي د شپو د لنډولو وسيله نه ده، بلکې دا نکلونه يو لړ مميزات لري، چې د پښتنو د اجتماعي ساختار په څېړنه کښې د هېرېدو نه دي او بايده دي، چې زموږ محققين او نور ورته متوجه وي.

د دغه اثر فاضل ليکوال کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي زموږ په معاصرو فرهنګيانو کښې يوازينی سړی‌دی چې د پښتني نکلونو د اجتماعي، هنري او کتلوري ارزښتونوپه څرګندولو کښې يې علمي کارکړی‌دی.ځيني ښاغلي به دا اعتراض وکړي، چې ولې مې عطايي صاحب ته د يوازيني خطاب وکړ؟ ولې مرحوم نوري خو په کابل کالنۍ کښې او د پروفېسور سيال کاکړ خو هم د پښتو نکلونو په مقدمه کښې پر پښتو نکلونو څېړنې کړې دي؟ زه د دغو دوو ښاغليو کارونو ته د درناوي تر څنګه دا په ډاګه وايم چې عطايي صاحب بيا هم په دې لاره کښې يوازينی سړی دی. ځکه په دې ساحه کښې چې کوم پرله پسې کار ده کړی دی، نه زموږ دوو يـــادو

يادو شويو ښاغليو کړی دی او نه بل چا. د ملي هېنداري د دريم ټوك اوږده تحقيقي تحليلي مقدمه: "ملي هېنداره د اجتماعي څېړنو له نظره" او د حاضر کتاب دريم فصل د ده د دې لړۍ ډېر عمده کارونه دي، چې زما د مطالعې له مخې يې بل ساری زموږ په څېړنو کښې نشته. البته که د ځينو ښاغلو په ځينو آثارو کښې په دې باب ځيني ضمني يادونې وي، وي به او ضروري شته چې هغه په خپل ځای ارزښتمنې دي، اما د ده د کارونو ځای نه شي نيولای.

(۴) د کتاب بل تر ټولو لوړ ارزښت دا دی، چې د کتاب وروستی فصل زموږ ځوانو ليکوالو په خاص ډول داستان ليکونکو ته دا بلنه ورکوي، چې زموږ اولسي نکلونه کېدای شي د معاصرې داستان ليکنې له اصولو سره سم داسې هم بندي شي چې واړه ناولونه، يا لوی او يا ميانه داستانونه ځنې جوړ شي. ښاغلي ليکوال دغه کار په برياليتوب سره تر سره کړی دی او د "خان" داستان يې د موسی جان او وليجان له فولکلوري نکل څخه را ليکلی دی او په دې توګه يې زموږ ځوانو داستان ليکونکو ته له دغو نکلونو څخه د استفادې يوه بله زمينه هم ورښودلې ده.

زما په نظر دا کتاب يو له هغو مفيدو کتابونو څخه دی، چې زموږ ټولنه اړه ورته لري. چاپ يې پر ځای کار دی او ليکوال يې د مننې او ستاينې وړ دی.

په درناوی.

سر محقق زلمی هېوادمل

يوولسم

# مقدمه

پر داسې یوه لیکنه چې په خپله د یوې مشرحې مقدماتي لیکنې په شکل تصنیف سوې وي. بله مقدمه چنداني ضرور نه وه. خو ځرنګه چې موضوع په خپل خان کښې د خورا زیاتې څېړنې ګنجایش لري نو دا حاضره مختصره لیکنه صرف د یوې داسې مقدمې په ډول ترتیب سوې ده چې د دغه کتاب د موضوع د تصنیف سره به لوستونکی ښه ترا اشنا کړي.

نن په پښتو ادب کښې د کیسه لیکنې یا په نوې غربي اصطلاح د (شارټ سټوري) د لیکوالی سره اشنایي پیدا سویده او د پښتو ادب لیکوالان له دغه فن سره پوره علاقه ښیي او د هېواد په پښتو نشریاتو کښې لږ و ډېر کیسه په سترګه کېږي.

دا علاقه د پښتو ادب پرونیو لیکونکو. شاعرانو او ناظمانو هم درلوده. چې د خپل وخت اورېدلې کیسې یې هم په نظم کښې اچولې او زموږ د فولکلوریك ادب د شفاهي کیسو ساتونکي هم دغه کسان وو.

(ملا نعمت الله) او (ملا احمد جان) د نونسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړنیو وختونو کښې دوه پښتانه ناظمان وو. چې د (مثنوي) په چوکاټ کښې یې اکثره پښتو او د دري څخه ترجمه شوې عوامي کیسې اچولې دي او د دوی په دغو آثارو تر نیمې پېړۍ زیات عمر د پښتو ادب عوامي علاقمندان مشغول ساتل سوي دي او زه باور لرم همدا اوس چې موږ د نوې کیسې لیکنې نوي فن ته لاس وراچولی د هېواد په بې شمېره کلیو. باندېو او حجرو کښې د زړو ناظمانو منظومې کیسې د اولس په بطن کښې په وافره علاقه ویل کېږي.

زموږ ځوان لیکوالان چې په ادبیاتو کښې نوی ځراغ لګوي دا باید په یاد ولري. چې دوی هغه وخت خپل ادبي نوي آثار پر ځای درولی سي چې د هغه الهام یې د اولسي ذوق څخه اخیستی وي.

د اولس ذوق که هر څونه کښتنه وبولو خو فاسد يې نسو بللای. ځکه د ښکلا سره د دوی علاقمندي په کښتو برخو کښې طبيعت ته ور نژدې ده او په طبيعت کښې نو فساد ځای نه لري. بنه دا د موضوع فلسفي برخه ده چې د دغې ليکنې په لومړنيو برخو کښې څه نا څه خوله په وهل سوې ده او مطلب دا دی چې زموږ اولس د خپل عوامي ادب په ساتنه کښې صادقه برخه لري.

د يوې ټولنې د اجتماعي تکامل د تاريخ پېژندنه په هر وخت او هر ځای کښې يو ضروري امر دی د دغې پېژندنې په باره کښې بايد ووېل سي چې د فلاسفه وو په افکارو کښې د انسان پېژندنه چندان ممکنه نه سوه. بلکې د انسان د اجتماعي تکامل د وضع پېژندنه په خپله د انسان موږ په موږ وپېژندله او دا کار نو د فولکلور په داستاني برخه کښې په روښانه ډول د انسان د واقعي تکامل په باب انساني ذهن تنوېروي او قانع کوي.

په لنډ ډول بايد ووايو چې فولکلوريک داستانونه يوه داسې هېنداره ده چې په هغه کښې د يوې ټاکلې ټولنې ټول کلتوري تصاوير منعکس سوي وي او دغه انعکاس نو زموږ له پاره د پېژندنې زمينه برابروي.

اوس نو موږ دې نتيجې ته رسېږو چې دغه کار په جمعي ډول اولس څرنګ خلق کړی دی؟ او د ادبي لارښوونکو له خوا څونه عملي سويدي؟

په دې باره کښې نو د هغه اولس د ادبياتو ذخيره پياوړې ده. چې د فولکلور پر ښتنوېې ادبي بنا کړې وي. د دې کتاب په راتلونکو فصلونو کښې دا مثالونه ډېر راوړل سويدي. چې په حاضره او نوی داستان ليکنه کښې هغه آثار او ليکوال د نخبه وو په ډله کښې راځي چې د فولکلوريک اصلونو په پېژندنه او مراعات بريالی وي

دا مسأله چې د يوې ټاکلې ټولنې فولکلور د کلتوري مناسباتو په توازن تکامل کوي هم په دې کتاب کښې تر يوه حده خوله په وهل سوي ده او په دې برخه کښې د څېړنې د کره والي په منظور زموږ له شفاهي داستان سره يو تحليلي او مقايسوي بحث سوی دی.

تر ټولو زيات چې په دې ليکنه کښې د مقصد او غايې په لحاظ زور اچولی سويدی هغه دا دی چې زموږ نوی افسانه نګار د خپلو شفاهي داستانونو څخه په نوې افسانه نګارۍ کښې څومره او په څه ډول استفاده کولای سي.

ديارلسم

زه په پوره زړه ویلای سم، چې زموږ افسانه نګار به هغه وخت په دغه فن کښې بریالی وي چې د شفاهي کیسې په تقلید نوې کیسه ولیکي.

افسانه نګاري پښتو ادب ته په نوی شیوه د ډېر را وروسته څخه داخله سوې ده او تر اوسه لا تقلیدي رنګ لري او د دې علت دا دی چې زموږ افسانه نګار د نورو ژبو د ادبي آثارو تر تأثیر لاندې راغلي دي.

یوه ښه افسانه او کیسه هغه ده چې د محیط او ماحول انعکاس پکښې څرګندوي.

زموږ زیاتره افسانې چې مجلې او اخبارونه یې چاپوي ډېر لږ زموږ د ژوندانه معرف کېدای شي او د دې کار علت هم دا دی چې لیکوال مو کاغذي کتاب لوستلی وي خو د ټولنې له کتاب څخه بې خبره وي.

تاسې وګورئ زموږ په شفاهي ادب کښې هره کیسه د یوې هینداري په شان د ټولنې ټوله مناسبات منعکسوي او هره شفاهي کیسه مو د ټولنې د اجتماعي تکامل د مشخصو مراحلو په پېژندنه کښې تر لیکل سوي تاریخ لا هم کره والی لري علت دا دی چې د شفاهي کیسې نامعلوم جوړوونکی د ټولنې له کتاب سره اشنا ؤ. خو نننی افسانه نګار چې جهاني فرهنګ افاقي کړېدي، نو انفسي غفلت یې د اثر مزه او اغېزه دواړه له منځه وړي دي.

د لنډې کیسې (شارټ سټوري) ادبي فن چې پښتو ادب ته د یوروپ څخه راغلی نو بد مېلمه نه ؤ. خو وروسته بد کور به ځنې جوړ سو. د یوروپ په تقلید په پښتو کې داسې کیسې ولیکل سوې چې صرف نومونه یې پښتو وو. یعني هلته چې د قهرمان نوم "موریس" و، دلته په "انځرګل واوښت". هلته چې د قهرمانې نوم "لوسي" ؤ، دلته "ګلالۍ" سوه، هلته چې د داستان د قهرمانانو دبرخورد ځای د "ژنیو" د جهیل غاړې وي، دلته د سیند ګودر سو. په دې ډول په پښتو افسانه نګارۍ کښې یو منحط جریان راوارد سو.

په دې پسې زموږ افسانه نګار لیکوال د نویو مطالعاتو پر لار د فولکلور د اهمیت او ارزښت سره اشنا سو او د نړۍ د لویو تحقیقي او فرهنګي مرکزو څخه یې واورېدل چې پښتو شفاهي ادب د فولکلور بهترینه خزانه ده دا مهال یې نومخه دې ته کړه چې په خپلو لیکنو کښې د شفاهي کیسو طرز او شیوه تقلید کړي دلته هم له

ځورلسم

يوې لويې سهوې او تېروتنې سره مخامخ سو او د خپل شاوخوا عيني شرايط يې له ياده وايستل او ولاړ په تخيلاتو کښې نوك تر کوتيه غوټه سو. دلته نو د ګودر غاړې، کېږدۍ، د ملالۍ د پاوليو شرنګا او د جلال ګړو بريتو پسې واخيست څو د ادبي ابتذال لويې کندې ته ورولوېد. په دې برخه کښې چې زموږ پاك شفاف او اصيل شفاهي ادب ته د پراخه لاسه زيان ورسېد نو د راديو داستان ليکونکو هم کمه برخه نه پکښې درلوده، يو بل وخت را ورسېد چې زموږ باذوقه خو د روزنې څخه فارغ افسانه نګار د نويو ريالستي ادبي کيسو سره اشنا سو نو دردېدلي عواطف يې لکه د اور غرپه جوش راغلل، خو څرنګه چې د سر څخه بده پېښه وه، نو په دې برخه کښې هم لاړ ورکه سوه. افسانه نګار د بزګر خواره ورځ په قلم تصوير کړه، د ده د پښو چاودې، خواشيني ژوند، د تندي غوټې او کړاغې سترګې يې ترسيم کړې خو دا بزګر بيا هم زموږ بزګر نه ؤ بلکې يو بېګانه څوك ؤ.

په دې ډول په پښتو افسانه نګارۍ کښې يو لاړ ورکی جريان منځ ته راغلی ؤ او په دغه منځ کښې البته زموږ لايقو ليکوالانو داسې غنيمت آثار هم ليکلي دي چې زموږ د ټولنې د عينې او ذهني شرايطو معرف دي خو هغه دومره لږ دي چې د ګوتو شمېر هم پر ډېر دی.

په دغه لاړ ورکې وضع کښې پښتو افسانه نګاري د يو بل خطرناك جريان سره هم مخامخ ده چې هغه د ايراني ناولونو پر لار د اروپا د لوڅ ادب او جنسي او شهوي احساساتو د پارونې له پاره داستانونه دي، دغه شيوه په خطرناك ډول پښتو افسانه نګارو ته ننوتلې ده او کله کله لکه يو ښکلی خالداره رنګين مار زموږ د مطبوعاتو د پاڼو څخه سر راباسي.

په خواشينی بايد ووايو چې د افسانه نګارۍ له پاره موږ د ادبياتو په پوهنځي کښې نه مضمون لرو او نه استاد (دا مقاله شل کاله پخوا ليکل سوې ده) او دغه ښکلی فن چې د ملي روزنې له پاره هم يوه موثره وسيله ده، لکه يو خودرويه بوټی را زېږېدلی او په خپل سر لويږي.

د دې له پاره چې زموږ نوی او ځوان افسانه نګار وکولای سي چې يو داسې اثر وړاندې کړي چې هغه هم لوستونکی ته روحي نشاط وبخښي او هم د ذهني تنوير او اخلاقي روزنې له پاره کار ورڅخه واخيستل سي په کار ده چې لومړی د خپلې ژبې له هغو اثارو سره اشنا سي چې هغه د ټولنې د فکر محصول وي او دا

پنځلسم

نو په موږ کې شفاهي کیسې دي.

په وروستیو فصلونو کښې وروسته تر هغه چې د کیسې له جهانې جریان څخه په تفصیل خبرنه وسي نو د یوې پښتو کېسې اصلي شکل په هغه ډول راوړل سوی دی. چې زموږ په اولس کښې رواج لري او په کلیو کښې یې خلك یو له بله سره وایي.

بیا هم دغه کیسه د کیسې د قهرمانانو د نومونو په ساتنه په داسې یوه چوکاټ کښې اچول سوې ده چې د لنډې کیسې اصول پکښې مراعات سوي دي.

په دغه برخه کښې د یو شمېر کلیو او درو نومونه هم یاد سوي دي چې هغه د هلمند په شمال کښې د موجوده موسی کلا او باغران په ولسوالیو کښې واقع دي. څرنګه چې دا کیسه په زاړه زمینداور کښې پېښه سوې ده او اوس هم د همدغه د موسی کلا په مرکز کښې د موسی جان په نامه قبر موجود دی او د موسی کلا نوم هم و همدغه موسی جان ته منسوب دی. نو ما د دغو ځایونو نومونه د داستان په هغه برخه کښې اچولي دي چې د شارټ ستوري (لنډې کیسې) د ادبي فن په مراعات اړول سوې ده. د همدغه داستان د ښه لیکلو په منظور په دغو ټولو سیمو کښې زه په خپله ګرځېدلی یم او د زمینداور د زاړه ښار له کنګرو څخه مې دا وطن داسې کتلی دی لکه د کیسې په سر کښې چې اشاره ورته کېږي.

نو دی تر دې لنډې مقدمې وروسته په اصل لیکنه پیل کوو.

م. ابراهیم (عطایي)

۱۳۵۰ کال

# فهرست

عنوان مخ

## لومړۍ برخه

پر داستان لیکنه یوه لنډه څېړنه ۳
د داستان تطور د اجتماعي شرایطو په غېږ کښې ۸
ملي هنر د کلتور په هنداره کښې ۱۷
هنر څه شی دی؟ ۱۸
کلتور څه شی دی؟ ۲۵
ملی هنر څه شی دی؟ ۲۷
په کلتوري تحقیق کښې پر فولکلور یوه تحقیقي اومقایسوي کتنه ۳۲
د اجتماعي تحقیق له پاره د فولکلور استخدام ۳۴
په فولکلور کښې د روایاتو ارزښت ۳۵
فولکلور په میتولوژیك ساحه کښې ۳۸
افغاني فولکلور د یوې علمي منبع په حیث ۴۰

## دوهمه برخه

د قدیمې نړۍ معروف داستانونه ۴۵
د بناپېریانو نکلونه (د انساني فولکلور په یوه عامه برخه) ۴۷
یوناني حماسه (ایلیاډ او اوډیسي) ۴۸

هندي حماسه (راماین او مهابهارت) ۵۱
شاهنامه ۵۵
الف لیله و لیله (یو کلاسیك عربي داستان) ۶۸

## دریمه برخه

د پښتو شفاهي کیسه ۷۵
د پښتو پر شفاهي کیسه یوه تحلیلي کتنه او څېړنه ۷۶
د پښتو په شفاهي کیسو کښې د حقوقي او جزایي تعاملاتو
څرک ۷۸
جرم او جزا ۷۹
ساړی ۸۱
هډ ۸۲
بدله ۸۲
نیك ۸۳
موټ ۸۳
د پښتو یوه شفاهي کیسه د داستان لیکنې په هنداره کښې ۸۴
د موسی جان او ولیجان د کیسې اجتماعي او هنري
ارزښتونه ۸۴
د کیسې قهرمانان او کرکټرونه ۸۷
د کیسې فضا او طرح ۸۸
تصادف او بحران ۹۰
تم او نتیجه ۹۱

## څلورمه برخه

په اولسي ادبي فورم کښې د موسی جان او ولیجان کیسه ۹۵
خان (د نوی کیسې لیکنې په چوکاټ کښې راارونه) ۱۳۸
مأخذونه او مراجع ۱۹۶

# لومړی برخه

PROPERTY OF
ACKU
7665

# پر داستان لیکنه لنډه څېړنه

## داستان څه شی دی؟

داستان ته موږ کیسه یا نکل وایو. هر داستان یا کیسه یا نکل یو حکایت دی چې د یو سړي یا څو کسو د ژوند ماجرا پکښې بیانېږي

هر ولس او ټولنه د خپلو طبیعي او کلتوري شرایطو مطابق یو شمېر کیسې لري چې د دوی د ټولنې خلك ورسره اشنا دي. د اولس او ټولنې د طبیعي او کلتوري شرایطو مطابق نو دا معنی چې د ادبیاتو په تخلیق کښې محیطي شرایط زیاته اغیزه لري. د مثال په ډول هغه ټولنې چې خلك یې د سمندرونو پر غاړه اوسي د دوی کیسې هم د سمندرونو، طوفانونو او ماهوګانو د قهرماني په ماجراګانو خوندورې سوې وي. خو هغه خلك چې د ځنګو غرونو په منځ کښې اوسي نو د دوی د کیسو قهرمانان بالعموم داسې انسانان وي چې لوی پاڅونه او کندوونه تر پښو لاندې رغیتوي.

همدا ډول بېدیاوو او ځنګلونو ته نژدې خلك بیا په خپلو کیسو کښې پر هغه سختیو او تنګسو خپل قهرمانان بریالي کوي چې د دوئ د طبیعي شرایطو سره برابر وي. د بېدیاوو تندې، ګرمي، او باران د کیسو له قهرمانانو سره غاړه غړی وي. باد، ځنګلونه، پړانګان، زمریان او درنې تیارې د هغو د کیسو له ماجراجویانو سره غېږې باسي او څو ورته تسلیمېږي.

د پورتني طبیعي محیط پر اغیزو سر بېره د اولسونو په کیسو کښې د هغوئ کلتوري تأثیرات هم څرګند رول لري. عرف، عادات، عقاید او تمایلات چې د ټولنې د هري اجتماعي مرحلې په قید کښې واقع وي نو په کیسه کښې د هغو حاکمیت د ورا څرګندوي. همدا خای دی چې د فرانسې معروف لیکوال "ویکتور هوګو" وایې

چې "تاریخ په افسانه او افسانه په تاریخ کښې ده".

یعنې مونږ په یوه کیسه کښې د یوې ټولنې د ذهني او عیني جریاناتو تاریخ ډېر ښه معلومولای شو او کیسه مونږ ته د یوې ټولنې د ذهني تکامل په برخه کښې هغه څه برابرولای شي چې تاریخ په مجبوریت سره پر پټه خوله کېږي.

د داستان یا کیسې په باره کښې دې خبرې ته پاملرنه په کار ده چې په ادبیاتو کښې د داستان ټوله ترقي چې نن یې مونږ د (رومان) یا (ناول) یا (لنډې کیسې) په اشکالو کښې وینو. د همدغه ابتدایي کیسو څخه په عمل راغلي ده چې تر ډېره خایه د خرافاتو پوښونه پر را پېچل سوي دي.

په پوره باور ویلای سو چې زمونږ هر هلك او هرې نجلۍ به په کوچینوالي کښې د خپلې انا یا مور څخه (په التماس امیزه ناز غوښتي وي چې نکل راته وکه!)

زمونږ په وطن کښې نو داسې نکلونه خوراډېر دي چې اناګانې یې لمسیانو ته کوي او د کوچنیانو د ذهن با نشاطه دنیا ور رنګینوي. د دغسې نکلونو په جمله کښې نویو هم (د خزدکې انا نکل) دی چې زمونږ اکثره لویان یې د اناګانو څخه د اورېدو خاطرې لري.

د بشري دنیا د داستاني ادب لومړۍ ریښې همدغسې نکلونه تمثلوي. هغه مهال چې بشري ټولنه لا د کلتور په لومړنیو پړاوونو کښې وه نو د دوی طبیعي او اجتماعي شرایط ډېر لږ محدودوو. د بشر د لومړنیو ټولنو خلك ډېر لږ د طبیعي شرایطو په وړاندې غالب ډېر لږ څه یې پېژندل او د دغو شرایطو او پېژندنې څخه چې نو کوم نکلونه وو. د دوی تخیل جوړوی ډېر ساده او د دوی له فهم سره اشنا وو. خو کله چې د ټولنې په کلتور کښې نوي بدلونونه راوارد سول نو د هغه سره یو شمېر داسې خبرې منځ ته راغلې چې د لومړنې او بدوي انسان په عیني شرایطو کښې یې مثال نه ؤ او باید یواځې په ذهني اطمینان یې منلي وای. دغه جریان نو کیسه یا نکل د پېژندنې له عالم څخه د ناپېژندنې عالم د ماجراؤ هنداره کړه.

هغه مهال چې د پېژندنې معیار په کیسه کښې د نا پېژندلو احکامو تابع سونو یو شمېر مبالغه ګویانو ته موقع میسره سوه چې کیسې د عجایبو او غرایبو په شلاخه

چالانې کړي او له دغه جریان څخه هغه افسانې راوزیږېدې چې قهرمانان یې دیوان او بلاوې وې.

د دې له پاره چې مذهبي او مقدس خلك خپلې کیسې له دغو مبالغو څخه وساتي نو دوی بیا خپلې کیسې د (ښو کیسو) تر عنوان لاندې راټولې کړې.

پخواني مقدس کتابونه لکه تورات. زبور او انجیل دغسې ډېري کیسې لري او په "قرآن" کښې هم یوه برخه. قصص احتوا کوي.

د آریایانو قدیم کتابونه "ویدا" او "اویستا" ټوله کیسې بیانوي او هندویزم. بودیزم او حتی د سکانو "ګرنت" هم د یو شمېر کیسو مجموعه ده. کله چې پر پروني دنیا د قرون وسطی پیڅول وغوړېدئ نو د ادبیاتو د نورو فنونو په جمله کښې داستان یا کیسې هم خپل شکل مرموز کړ او په دغه وخت کښې ډېر ښه حکایتي ادبیات (د رمزونو او معجزو) تر عنوان لاندې وړاندې کېدل.

خو دغه ادبیات چې د کیسې برخه یې موږ دلته څېړو ښه ادبیات نه وو. بلکې د کلیسا تخدیر کوونکي تبلیغات وو. چې پر انساني ذهن یې تورې پردې غوړولې وې.

هغه مهال چې د رنسانس په سبا د مدني نړۍ ستر ګې را روڼې سوې او بیا په نړۍ کښې نوی انکشافات راغله. نو دا د ادبیاتو په کورنۍ کښې کیسه هم د تحول په غېږ کښې ورغله.

څونه چې نړۍ په مدنیت کښې ترقي کوله هغونه د کیسې فن د تکامل خوا ته روان ؤ.

د اتلسمې پېړۍ د علمي ترقیاتو په اړخ کښې ادبیاتو یوه نوې دوره پرانیستله او په هغه کښې نو "ناول" را وزیږېدئ. د اوولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کښې "لنډه کیسه" منځ ته راغله. د دغه ټولو جریاناتو په دورانونو کښې کیسه هغه یواځنۍ وسیله ده چې نن موږ ته د لویو څخه تر کوچنیو ټولنو پورې د دوی د کلتور په باره کښې معلومات راکولای سي.

د دې مبحث په ابتدا کښې د بشري ټولنو د ابتدایي تخیلاتو ریښې هغه

کېسي او نکلونه وبلل سوه چې د جادو او ناپېژندلو ماجراوو تر سیوري لاندې لا نه وې راغلي. دغه نکلونه او د ادبیاتو دغسې نور اقسام د یوې تولنې بنایسته میراثونه بلل کیږي او د "فولکلور" تر نامه لاندې راجمع کېږي

د یوه اولس یا یوې تولنې بهترین او ډېر اصیل ادبیات همدغه ادبیات دي چې د ملي ادبیاتو د بنسټیزو خښتو حیثیت یې پیدا کړی دی

د ملي ادبیاتو په جمله کښې کیسه ډېر ستر مقام لري ځکه په کیسه کښې د هغې تولنې د پروني هویت ډېر آثار ساتل سوي دي

په همدغه سلسله کښې د پښتو شفاهي کیسي خانته یا ارزښته ځای لري او د پښتو د فولکلوریک ادب په غېږ کښې نو موږ ته نه یواځې د ساتیرۍ یوه وسیله ده. بلکې د یوه داسې لابراتوار حیثیت لري چې په هغه کښې د خپلې پرونۍ تولنې د خلکو د ژوندانه طرز او مناسبات پوره پېژندلای سو

## د دنیا په لاته وړمه ورځ کښې

که موږ د تاریخ په علمي اصطلاح "قرون حاضره" نن "قرون جدیده" پرون "قرون وسطی" وړمه ورځ وبولو نو تر میلاد وړاندې لنډې پېړۍ چې د یونان او روم دورې په خان کښیباسي د لاته وړمې ورځې نوم خورا ښه او مناسب ورته ایسي

زموږ نړۍ په دغه لاته وړمه ورځ کښې د ادبي هنرونو یوه داسې زرینه دوره تېره کړې ده چې د (رنسانس- ادبي ویښتیا) د دورې هنرمندانو یې په ارمان لوی ادبي انقلابونه راوښورول. په دغه لاته وړمه ورځ کښې یونان د یو لوی اجتماعي انقلاب په سمندر کښې لاهو سوی و. د دغه وخت د فکر او مغزو خاوندانو په سیاسي اداره کښې د حکمت حاکمیت عملي کاوه

برابر له دغه انقلابه سره د هنر او ادبیاتو ستر جنبش را روان ؤ. د ادبي فنونو په جمله کښې تمثیلي هنر لویه برخه درلوده. په دغه وخت کښې شعر او د تمثیل فن سره ملګري وو. چې د یونان د تولنې انحرافات یې تنقیدول او د دغه وخت د قهرمانو آثارو څخه د معروف کمدیست (ارستوفان) د تفکر او تخیل محصول دی. داستان یا کیسه په هغه مفهوم چې د جلا فن په حیث وپېژندل سي په دغه

وخت کښې نه وه. يواځې د "هومير" منظوم داستانونه "ايلياد" او "اديسه" وو چې مقدس شکل يې غوره کړی ؤ او عوامو به په مخصوصو وختونو او ځايونو کښې ويل

کله چې د ميلاد د لومړی پېړۍ په دوران کښې "پلوتارك" په خپل ګرافيکي سبك کوم سرګذشتونه وليکل نو دا د "ليکلي کيسې" لومړنی بنياد ؤ. پلوتارك د دې کوښښ نه دی کړی چې واقعات د تاريخ په قيد وښېږي. بلکې د مختلفو خلکو د ژوندانه ماجراوې يې بيان کړې دي.

پلوتارك تر ډېره ځايه په واقعه نګارۍ کښې د يونان د ميلاد څخه وړاندې دريمې پېړۍ د يو اولسي شاعر (تيوکريت) د منظومو حکاياتو تقليد کړی دی. تيوکريت په نظم کښې يو شمېر ماجراوې بيان کړې وې او په دې برخه کښې يې ادبي هنرمندي تر نن پورې هم د ستاينې وړ ده. هغه په خپل منظوم کلام کښې د "هومير" په تقليد عوامي محاورې او لهجه نه هيروې چې ډېر ښه مثال يې دا دی چې په ډېرو معروفو آثارو لکه "په ميخانه کښې" چې څرنګه يو زلمی و يوې پيغلې ته شرم واړاوه يا فلانکی شپانه پر زرغونو دښتو څرنګه په خاطر آرامۍ خرامانه ځي(۱) پوره څرګندېږي.

پلوتارك د يونان د علمي لهجې تابع سوی دی او دا وجه ده چې ادبي ژبې ته يې فلسفي رنګ په نصيب سوی دی او ځينو لا د مورخينو په جمله کښې هم حسابلی دی.

پلوتارك د نړۍ په ورمه ورخ کښې يو داسې پل دی چې حکايتي ادب له يونان څخه روم ته پر ورتېرېږي. روم سره له دې چې نظامي او جنګي روحيه لري او هنر ته خاصتاً ادبي هنرونو ته هېڅ توجه نه لري. خو بيا هم داستاني ادب يې ريښه لري او لکه په يونان کښې چې "دهومير" منظوم حکايت د يوې حماسې په شان

---

- فرمان ابر. ادبيات يونان "مترجم حسينقلي حسين نژاد" تهران. ۱۳۲۹- ۱۱۶ مخ.

پاته وه نورو میانو هم د (ویرژل) (۲) حماسه (انید) (۳) نه وه هیره کړې او په تمثیلي ادبیاتو کښې یې د ویرژل له تخیل څخه استفاده کوله.

د میلاد څخه تازه وړاندې پېړۍ او د میلاد لومړنۍ او دویمه پېړۍ همدغه لاته وړمه ورځ ده چې داستان لا په خپل اصلي مفهوم نه ؤ رازېږېدلی. رومي تخیل سره له دې چې د دیکتاتورانو تر فشار لاندې واقع ؤ. خو بیا هم خپله هغه ښکلا چې د یونان څخه یې اخیستې وه. پوره لا نه وه بایللې. مسیحیت د یو پرتم په ډول د روم پر ادبي جریان غلبه وکړه او تر دغه وخت پورې چې په (۳۱۳) میلادي کښې قسطنطنیې مسیحیت د یوه رسمي دین په حیث اعلاناوه. کوم ابتکار نه ؤ راغلی او له دغې پېړۍ څخه نو د قرون وسطی دوره شروع کېږي. چې د یو طوفان په ډول هغه ټول هنرونه په خان کښې رانغاړي چې په یونان کښې یې د عظمت دوره تېره کړې وه او په روم کښې یې لا پوره خپل شکل نه ؤ تغییر کړی.

## د کیسې (داستان) تطور:

### د اجتماعي شرایطو د بدلون په غیر کښې:

کله چې تر پورتني عنوان لاندې موضوع څېړونو باید ښه پاملرنه وساتو چې تر کومه خایه داستان یا کیسه د اجتماعي شرایطو د بدلون هنداره ده او مونږ د خپلې نړۍ او حاضر ژوند قیافه څرنګه پکښې لیدای سو؟

کیسه یا داستان په ادب کښې او ادب په هنر کښې او هنر په کلتور کښې د یوې لړۍ ټاکلې کړۍ بلل کېږي او کلتور نو د اجتماعي تکامل په وړاندې هغه مؤسسه ده چې په (روبنا) اصطلاح کېږي.

دا هم دعلمي اصولو حکم دی چې دغه روبنایي مؤسسې د زماني او مکاني شرایطو په حکم هر وخت د خپلې (زېربنا) د حرکت سره متناسب حرکت کړی دی.

---

۲- ویرژل (۷۰-۱۹ ق. م) لاتین شاعر چې د (انید) حماسه ورڅخه پاته ده.

۳- انید دویرژل حماسه ده.

هغه مهال چې بشري ټولنه لا د وړوکوالي په مرحله کښې وه او اجتماعي مؤسسات يې ډېر محدود وو او بدوي کلتور حاکميت پر کاوه نو د اولني هنر په جمله کښې دغې ټولنې يو شمېر داسې د کلماتو ترکيب سوې بسيطې جملې درلودې چې دوی ته په خاطره کښې مشترك وو. دغه د حکاياتو ساحه ورو ورو پراخه سوه او د اجتماعي شرايطو له ودې سره يې برابرې کيسې يا داستانونه وزېږول.

د بشري ټولنې د اجتماعي تکامل تاريخ په خپل اولني پړاو کښې له داسې يوې انساني ټولنې سره مخامخ کوي چې لا د پوره بدويت په حال کښې ده.

د دغه وخت څخه موږ د ادبياتو يا لساني هنر څخه څه نه لرو خو تر دا نژدې وخت پورې لا داسې ځايونه ډېر موجود وو. چې د انسان پېژندنې علماوو هلته د ابتدايي ټولنې هغه کلمات ثبت کړي دي چې د دوی د مافي الضمير حکايت کوي او موږ يې نو د بشري مدني ټولنې د بدويت د وختو د تفکر او تخيل يوه نمونه بولو.

د انسان پېژندنې يو څېړونکی چې زيات وخت يې د استرليا په ليرو ټاپوګانو کښې تېر کړی د هغه ځای د بدوي بوميانو د ادبياتو څخه دا جمله د يوې نمونې په ډول را اخيستې ده.

"هغه نخود چې سپين بوستان يې خوري موږ يې هم غواړو"(۳).

د انساني ذهن او اجتماعي تکامل په نتيجه کښې چې د لومړۍ ټولنې څخه د ترقی دويم تخت ته ګام پورته سو. نو هلته د شرايطو په بدلون د نورو اجتماعي شئونو په جمله کښې هنري مؤسسه او د هغې په تحت کښې ادبياتو او د ادبياتو په چوکاټ کښې کيسې يا داستان هم خپل شکل مترقي کړ او دا نو هغه مهال دی چې بشر د غلامۍ له زنځيرونو څخه ځان خلاص کړی او د يوې نوې اجتماعي مرحلې په ګرداب ور لاهو کېږي. د ټولنپېژندنې (اجتماعياتو) او نفسياتو علما وايي چې دغې نوې اجتماعي مرحلې ته ټولنه په ناخود آګاهانه (بې خبره) ډول ورننوتله خو په دغه

۳- نژاد بشر ۱۱۸ مخ.

مرحله کښې ټیکاوه و. نو ځکه قناعت پر موجود به سو او د خپل تکامل په جریان کښې یې په ځان یو انقلاب راوپاڅاوه.

د بشري تاریخ په جریان کښې دا مثال نو د یونان هغه مثال دی چې د "قهرمانو عصر" (٭) په نامه اصطلاح کېږي.

د قهرماني د عصر ډېر ښه تصویر د یوناني رانده شاعر "هومیر" په اثارو کښې ځرګند دی. کوم وخت چې "هومیر" په هغه کښې ژوند کاوه د میلاد څخه تقریباً ۸ یا ۹ پېړۍ دمخه زمانه وه.

"هومیر" په خپلو معروفو منظومو داستانونو کښې چې د یونان له پاره د ملي حماسو حکم لري او د جهاني ادبیاتو له پاره ارزښت لرونکي میراثونه بلل کېږي د تر ځان وړاندې خلکو حکایتونه کوي. کوم خلک چې د "هومیر" په داستان کښې قهرماني کوي دا هغه آریایي قبایل وو چې وروسته یې د بشري مدنیت مشلونه لګولي او د بدوي کلتور سره په ځګړه بوخت وو. دوی پر یونان د حکمت او فلسفې سبا راخپور کړ چې سقراط، افلاطون او ارسطو یې وزېږول.

ادبیات هر کله د ټولنې د عیني او ذهني جریاناتو انعکاس دی او د همدغه اصل له مخې موږ ټولنې په خپلو کمې او کیفي حالاتو کښې د دوی د ادبیاتو په هنداره کښې پېژندلای سو که ادبیات د اجتماعي تاریخ پر پاڼو وګورو او په یوه مقایسوي تحلیل دا مساله را وسپړو نو د یونان د پنځمې قبل المیلاد پېړۍ څخه یو نظر پر لاندې خوا را شبود کړو.

د دغه وخت اجتماعي څېړه چې ادبي جریان هم په خپله غېږ کښې لري یو اجتماعي څېړونکی داسې ښیي:

تجارت د یوې لازم الوجود وسیلې په حیث د دوو تولید کوونکو په لوشلو

---

٭- د قهرمانو عصر د (هومیر) د ایلیاد او اودیسي د کیسې د ماجرا هغه افسانوي عصر دی چې په هغه کښې قهرمانان او خدایان یو ځای د ژوند په صحنه کښې ماجرې خلقوي.

پیل وکړ او د دغه جریان سره نو تاجر سخ ته راغی او د عمومي ثروت یوه لویه برخه یې خان ته وترووښوله. څرنګه چې تاجر یوې تیز چلنده واسطې ته احتیاج درلود نو پیسې ایجاد سوې.

د پیسو ایجاد نو یوه اقلیت ته پر یوه اکثریت قوت وباخښه د دغې اقتصادي معرکې سالار نو هم تاجر ؤ (۵) د دغسې یوه جریان او دېر ښه تصویر (ارستوفان) (۶) د دغه وخت یوه هنرمند په خپله یوه معروفه کمیډي "پلوتوس(۷)" کښې ایستلی دی.

پلوتوس د پیسو خدای دی چې ارستوفان د هغه کیسه په خپل کمیډي شعر کښې کوي چې څرنګه یې پیسو سترګې ورپوټې کړې وې. چې هېڅ یې خپل دوست او دښمن نه پېژندئ او پیسو ړوند کړی ؤ. خو هغه وخت چې ولویدئ او د سترګو دید یې ولاړئ نو نیت یې وکړ چې خپله شتمني وویشي خو څرنګه چې دی ړوند ؤ. نو مستحق او غیر مستحق یې نه سو سره بېلولای او یواځې چالاکه خلک پر ده را تول وو. چې په مختلفو چلونو یې پیسې ځنې اخیستې. یو وخت چې د شفا خدای پر دغه لار را برابر سو نو د ده سترګې یې وربنا کړې او کله چې ده په بنا سترګو خپل شاوخوا ته وکتل نو پوه سو چې خپله ټوله شتمنی یې وچلبازه او نالایقو خلکو ته وبشلې ده.

د ارستوفان په کمیډي کښې چې د "پلوتوس" په نامه ځنې پاته دد. سړی پوهېدای سي چې ده د خپل عصر او اجتماعي شرایطو یو واقعي تصویر ایستلی دی او د هغه داستان څرګندوي چې څرنګه د بې عدالتي په ګرداب کښې اجتماعي حقوق د اقلیت په ګټه او د اکثریت په تاوان جریان لري.

---

۵- تاریخ مالکیت د پلسین ژاله اثر (۱۸)

۶- ارستوفان د یونان کمیډي لیکونکی د میلاد څخه په څلورمه ترمخې پېړۍ کښې ژوندی و.

۷- پلوتوس د رستوفان د یوې کمیډي نوم دی چې قهرمان یې هم په دغه نامه دی

د رومي دورې (داستان) هنري او (استیتکیي "۸") صبغه ډېره کمه لري دا ځکه چې د روم اجتماعي فورم د یونان (ستي"۹) دولت تر زوال وروسته په نظامي سویه د یو داسې سیستم نماینده ګي کوله چې هلته د یونان ارستو کراسي د فساد په تعقیب نفرت پاڅوونکی یو جریان منځته راوستلی ؤ.

په روم کښې امپراتوري او جمهوریت د عمل او عکس العمل په بدله کښې حاکمیت پیدا کاوه خو دغه ډول جریان نو پر ادبیاتو اغېزه واچوله چې هغه یې زمول کړل او هم ذهن یې داسې وحشي کړ چې غیر د وحشي حیواناتو له جګړې څخه یې بل څه خوښ نه وو. روم حتی داسې بدې ډرامې درلودې چې داستان یا حکایت یې په بشریت پورې د تمسخر ابتکار ؤ. د هغو ترجمه باید په دې کلماتو وکړو "په مسکینانو پورې وخاندئ!" په روم کښې لکه د هنر نور فنون چې غیر منکشف پاته سوه. نو داستان یې هم یا د جابرو نظامي منصبدارانو د خبرو معرفي وه یا په خوارانو خلکو پورې ملندې وې. زیاتې نو د شمال له خوا د جرمانیك اقوامو چپاو او د ختیځ له خوا د مسیحیت د قرون وسطایي فشار قوت ؤ چې د روم له مدنیت سره یې د پخواني یونان ثقافت له منځه ویوست.

د منځنیو پېړیو (قرون وسطی) اجتماعي او اقتصادي نظام چې پر ملوك الطوایفي اساس راپورته سوی ؤ او اقتصادي مضمون یې فیوډالېزم ؤ نو د هنر او ادبیاتو په برخه کښې یې هم یو منحط سیر طی کاوه. هغه ښکلا چې د یونان د پېنځمې پېړۍ په ادبیاتو کښې پرته وه د روم تر برچې لاندې ژوبل سوه او د قرون وسطی کلیساوو هغه مسخ کړه او د بشري فهم له چوکاټ څخه یې خارج کړه.

کلیسا پر ادبیاتو یو د بطلان خط کش کړ او هغه یې د شیاطینو ژبه وبلله.

---

۸- Asthitic ښکلا پېژندنه یا ښکلاشناسي.

۹- City State د سیټي دولت مر اد (اتن) و چې د یونان پایتخت و او د دولت مفهوم افاده کېږي.

منځنۍ پېړۍ د مضمون په لحاظ څه په لویدیځ کښې او څه په ختیځ کښې د هنر و ادب څراغونه خاموشه کړل. په لویدیځ کښې د قرون وسطی اصطلاح د مسیحي کلیسا په قدرت افاده کېږي او دا هغه عصرونه په ځان راکښېباسي چې کلیسا د دولت اقتدار تمثیلوي او په علمي جریاناتو کښې نو نقل پر عقل تفوق پیدا کوي چې د (سکولاستیکسم) په اصطلاح یې شهرت موندلی دی. په دغه دوره کښې لکه نور اجتماعي او علمي موسسات چې خپل پخوانی عظمت بایلي نو هنر او ادب هم یوه وحشي څېره غوره کوي.

د کلیسا پیروان یواځې هغو کیسو ته اجازه ورکوي چې د حضرت مسیح یا تر هغه وړاندې پیغمبرانو په ژوند پورې اړه لري.

لکه په لویدیځ کښې چې په قرون وسطی دوره کښې د مسیحت کلیسا د پخواني یونان او روم دودو پاله نو په ختیځ کښې هم جریان له دغه قراره دی. په ختیځ کښې چین د تاریخ په لحاظ د اروپا له تاریخ سره مشابه جریانات لري.

په اروپا کښې د قرون وسطی له خپرېدو سره نژدې د چین د امپراتورۍ دوې کورنۍ د (هان) او د (تانګ) د کورنۍ د امپراتورۍ لومړي وختونه د (بودیزم) د خپرېدو له وخت سره برابر دي. بودیك کلتور په چین کښې یواځې مجسمه جوړولو او نقاشۍ ته زیاته ترقي ورکړه. خو د تفکر په لحاظ یې هغه فرهنګ چې د (کانفو چیوس) په معلمۍ راپورته سوی ؤ له انحطاط سره مخامخ کړ. لکه چې د چین انسان دوستان (هیو منستان) د اروپا د (هیومانیسم) د پیروانو په شکل چې هغوی د قرون وسطی په زوال کښې د باستاني یونان او روم د هنر او ثقافت د بیا ژوندي کېدو ارمان لري نو چینایي انسان دوست هم د (کانفوچیوس) د فکري مکتب په طرفدارۍ وایي چې یواځې (کانفوچیوس) د ژوند د لوست ورکولو صلاحیت او اقتدار لري.

هغه د خدای او شیطان څخه نه رټېږي. د دغه وخت یو عالم (هان یو "Han-yo") په احتجاج وویل چې د بودا د هدم عبادت یو بې فایدې کار دی. په عمومي ډول د قرون وسطی یا منځنیو پېړیو چپاو په لویدیځ او ختیځ کښې تر هر څه وړاندې د هغه هنر کمبله تولول شروع کړه چې هغه د تفکر سره رابطه درلوده.

د کلیسا فشار چې د ملوك الطوایفي تر یوې مشخصې دورې پورې دوام درلود. د جهاني ثقافت پر ضد یې خپله جنډه اوچته وساتله خو دا وو چې د لسمې پېړۍ په سباوون کښې د نړۍ وضع بدله سوه. د کلیسا فشار د ملي جنبشونو په بدرګه راکښته سو په فرانسه. المان او ایټالیا کښې چې د پخواني روم میراثونه یې د کلیسا له تباهۍ څخه یو څه پاتې وو لږ و ډېر رڼا وځلېده. په همدغه دوران کښې د فرانسې باچا ملوك الطوایفي ته خاتمه ورکړه او په المان کښې د جرمن نژاده رومي امپراتوري سیوري خپور سو او په انګلستان کښې باچا د قوانینو د تدوین امر وکړ چې په (مګناکارتا) یې شهرت موندلی دی منځ ته راغله. او د تجارتي روابطو په نوم قیام په نړۍ کښې یو داسې جریان منځ ته راغی چې په علمي اصطلاح "رنسانس" نومېږي. څرنګه چې د کلیسا په مدرسو کښې تولو زده کوونکو ته د تحصیل زمینه برابره نه وه نو له کلیسا څخه د باندې یو شمېر مدرسې پرانیستل سوې. چې مهم لوستونه یې (الهیات) وو. خو مشمولینویې د یو شمېر پوښتنو ازادي اخیستله. او دا د عصر او نویو شرایطو جبر ؤ چې مدرسین باید د هغو ځواب په سړه سینه ورکړي. په دغه وخت کښې ډېرې معروفې مدرسې چې وروسته یې د پوهنتونو شکل واخیست او تر اوسه هم موجودې دي. منځ ته راغلې د دغو پوهنتونو له جلمې څخه په ۱۲۰۰م کال کښې د پاریس پوهنتون. په ۱۲۱۴ کال کښې د اکسفورډ پوهنتون په ۱۲۲۴ کښې د کمبرج پوهنتون تاسیس سو.(۱) په دغو پوهنتونونو کښې بیا هم د کلیسا نفوذ موجود ؤ او په سکولاستیکي اصولو تدریس پکښې کېده. خو د تخیل له وزرونو څخه چې منځنیو پېړیو کومې بنې ایستلې وې اوس یې ورو ورو د الوتنې هوس کاوه. د منځنیو پېړیو وروستي وختونه د لویدیځې اروپا څخه په یو شمیر ملي جنبشونو را بدرګه سول چې په دوولسمه پېړۍ کښې په څرګند ډول د کلیسا د فشار پر ضد مبارزه شروع سوه د دغه وخت په ادبیاتو کښې دوه معروف اثرونه د نړۍ په ادبي تاریخ کښې خاص

---

۱- تاریخ علوم (پی یرروسو) ۱۲۰ مخ.

مقام او شهرت لري. لومړی اثر چې (د رولاند غزلې "Song of Roland") یا (Choneonde Rolnd) نومېږي دا یو منظوم حماسي داستان دی چې په ملي احساس جوړ سوی او په هغه کښې یوه داسې ماجرا بیانېږي چې په هسپانیه کښې د عربو پر ضد د لوی شارل د سپایانو د زړه ورتوب او فداکارۍ توصیف راغلی دی. دا داستان چې مضمون یې پر تاریخي واقعاتو بنا سوی کاملاً واقعیت نه لري خو د داستان قهرمان (رولاند) د یو نجیب زاده ځېره معرفي کوي چې څرنګه په فداکارۍ د پردیو پر ضد جنګېږي.(۱)

د دغه داستان اغېزې د منځنیو پېړیو د وروستیو وختونو پر ادبي تخیل داسې ولوېدې چې تمایل و ملي افتخاراتو ته را متوجه کوي.

د (رولاند غزلې) په فرانسه کښې د نجیب زاده ګۍ د اشعارو په رواج کښې پوره برخه درلوده. بل مشهور اثر چې د (ابیلارد او هیلوییز) "Abelard and Heloise" په نامه یادېږي یو داسې داستان دی چې قهرمان یې د کلیسا له اخلاقو څخه بې پروا کېږي او ښکاره مینه شروع کوي.

(ابیلارد) په دوولسمه پېړۍ کښې یو خانزاده دی چې د فرانسې د هغې ورځې د شرایطو سره یې پلار ارزو درلوده چې زورور سپایي څنې جوړ سي. خو دده ملایي ته لاس ور واچاوه. په لنډو وختونو کښې یې لاتیني او یوناني ژبې زده کړې او د مقدس کتاب په تعلیماتو کښې د لوی لاس خاوند سو. (ابیلارد) د پاریس په (ژنه-وي یو) کښې د یو ملا او معلم په حیث خلکو ته لوست شروع کړ. د ده د شاګردانو په جمله کښې (هیلوییز) یوه پیغله هم ناسته وه چې مور یې راهبه وه او د پاریس د مشهور اسقف (فولبر) تر سر پرستۍ لاندې یې دیني تعلیمات کول.

د (ابیلارد) او (هیلوییزې) مینه په دغه لوست ځای کښې سره پیدا سوه دا مینه سره توده سوه. خو دا پیغله له هغه ابیلارد نومي ملا څخه بلاربه سوه او ارامونی

---

۱- تاریخ قرون وسطی د پروفېسر کاسمینسکي تر نظر لاندې نیکنه ۹۸ او ۹۹ مخ.

يې وزېړاوه. دغه مهال نو ملا ته لويه رسوايي پېښه سوه.(۱۲)

دا دواړه سره تور سول د (فولبر) اسقف په مخ کښې محاکمه سول او په داسې حال کښې چې هيلوييزه به حاضره وه ابيلارد ته به يې د اور داغونه ورکول خو يې پر ګناه معترف کړ. وروسته نو د محکمې قاضيانو حکم وکړ چې ابيلارد دې ژوندى وسوځل سي. خو مخ کښې تر دې چې دا امر پر ځاى سي ابيلارد د خپلو مريدانو له خوا وتښتول سو. له دغې ورځې څخه نو د ده د بد بختۍ دوره شروع کېږي او له يوه دير (مذهبي ځاى) څخه بل دير ته تښتي خو وايي چې په پټه به يې کله کله هيلوييزه هم ليدله خو په دغسې مهجوره وضع کښې مړ سو. هيلوييزه چې هم راهبه سوې وه. تر مړګه پورې يې د چا مينه و نه کړه او هغه مهال چې مړه سوه نو د دې بدن او د ابېلارد هډوکي يې په يوه تابوت کښې کېښېښول او د پاريس د (پرلاشز) په هديره کښې يې ښخ کړل.

دغه داستان هم لکه د (رولاند غزلې) د رنسانس د سباوون په ادبياتو کښې ژورې اغېزې لري.

---

۱۲- World Literature (۷مخ) او (تاريخ علوم د پي يرروسو اثر۱۲٤ -او۱۲۵مخونه).

# ملي هنر د کلتور په هنداره کښې

د ملي او غیر ملي اصطلاح په باره کښې دا اصل همېشه او هر ځای د منني وړ ګرځېدلی دی چې حساب د اکثریت اواقلیت په حدود کښې ووېشل سي. عین هغه چې په اکثریت اړه لري هغه ملي او د اقلیت په پلو مربوط غیر ملي ګڼل کېږي.

ممتاز طبقات د اقلیت نمایندګي کوي او د خپل طبیعت او طبقاتي تقوی پر اساس د دوی ګرده شیان د اکثریت سره تفاوت لري نو د هنر په برخه کښې هم مسأله د دغه قراره ده یعني اصیل هنر هغه دی چې اکثریت ور سره اشنا وي.

ممتاز طبقات چې ذوق یې د اقلیت نمایندګي کوي نو د دې له پاره چې هغه ته اصیل رنګ ورکړي او خپل تفوق په وساتي نو له داسې هنرونو سره علاقه ساتي چې هغه له اکثریت نه بېګانه وي. ځرنګه چې اکثریت هم ځانته هنر لري او هم د بېګانه هنر سره نا اشنا وي نو د خپل هنر په ساتنه کښې تعصب کوي او بېګانه هنر لکه نور بېګانه شیان په نفرت ګوري او د ځان یې نه بولي.

دا (ملي) کلمه یوه سیاسي اصطلاح ده چې په نونسمه پېړۍ کښې د (ملیت) د سیاسي فلسفې له عروج سره عامه شوې ده. او ځرنګه چې دا فلسفه د ټولنو پر مادي او معنوي زیربنایي او روبنایي مؤسساتو را محیط شوې وه. نو د هنر په باب چې یوه روبنایي مؤسسه ده. هم فیصلې او احکام لري.

ځرنګه چې زموږ د بحث موضوع ملي هنر دی نو ځېړنه یې داسې راپیل

کوو چې د هنر او کلتور په باب به بېله څېړنه وکړو او د هغو په توضيح به د ملي هنر په باب نتيجه راوباسو

## هنر څه شی دی؟

هنر د انساني ذهن یوه تعبیري وسیله ده او یو هنرمند په دغه وسیله خپل تخیل او تفکر نورو ته انتقالوي. یعني کله چې یو هنر مند د خارجي جریاناتو څخه په خپل ذهن کوم حالت احساس کړي او بیا هغه ته د خپل نفسي انفعال پوښ ور واغوندي دې ته نو هنر ویل کېږي. د هنر په باب تعریفات خورا ډېر دي او دا چې د هنر په باب یو قناعت حاصلوونکی ځواب پیدا کړو نو عوام ډېر ښه قضاوت لري څکه دوی د ژوند جریانات د خپل ذهن په پاکه هنداره کښې هغسې ویني لکه تخلیق چې یې راغلی وي. د ژوند د جریاناتو په جمله کښې هنر خاص مقام لري او موږ نو د دغه پدیدې په باره کښې هغه وخت یو ثابت تعریف پیدا کولای سو چې د عوامو په ذهن کښې د دغې پدیدې انعکاس وکورو.

د نولسمې پېړۍ د اواخرو او د شلمې پېړۍ د اوایلو معروف لیکوال "تولستوی" چې پر هنر یې "دهنر څه شي دی" په نامه اثر لیکلی دی. د دغې پدیدي د تعریف په باره کښې تر هر چا د عوامو څخه استفاده کړې ده.

تولستوی وايي چې "یو عوامي سړی جداً معتقد دی چې هنر د ښکلا (زیبایی) محصول دی او بس. عوامي سړی دغومره درک کولای سي چې د ښکلا څېړني یو پوهاند په اوږدو کلماتو او اصطلاحاتو هغه ته یوه سترې لاره په مخه اخلي.(۱) تولستوی تر ځان پخوا څېړونکي د "ښکلا" په بحث کښې ډېر سترې ویني او په رښتیا چې هغه مهال له دغې مسألې څخه یوه معما جوړه سوې وه.

د یونان صوفي فیلسوف (افلاطون) د ښکلا (زیبایی) پر لاره هنر په متا فزیك شیوه څېړي او هغه یې د خپل فلسفي (مثالي) مکتب په پیروی د یوې ناپېژندونکې

---

۱- هنر چیست؟ د ل. تولستوی اثر ۱۵ مخ.

نړۍ عارضي مثال وباله.

د اروپا په کليسايي دوره کښې تر هغه وخته پورې چې د "ارسطو" تفکر پر عصر غلبه ومونده د "افلاطون" خيالي اصول د "نويو افلاطونيانو" پر توضيح غالب وو.

ارسطو په خپل منطقي تصنيف کښې چې د علومو وېش کوي نو د هنر په باره کښې بيا هم خبره له ابهامه نه راباسي او په دغه ابهام کښې نو تر نولسمې پېړۍ پورې د تفکر خاوندان لالهانده دي او کوم تعريفات چې پر دغه اجتماعي پديده روان دي په دغه شمېر کښې کتابونه ځنې جوړ سوي دي. د فرانسې تر انقلاب وروسته چې نړۍ ټښ تکان خوړلی ؤ. نو د ممتازې طبقې پر ضد د عوامو عکس العملونه په هره رشته کښې راپورته سوي وو دغو عکس العملونو د "مليت او ملي" په کلماتو کښې داسې اصطلاحات منځ ته راوړي وو چې اجتماعي ريښې يې درلودې. تردغو اصطلاحاتو لاندې ټولې مادي او معنوي شتمنۍ په ملت پورې تعلق درلود او ملت نو هغه اکثريت ؤ چې د درېيمې طبقې (عوام) ځخه يې تشکيل موندلی ؤ.

د عوامو د معنوي شتمنۍ په برخه کښې بيا هم هنر څه هېره سوې پديده نه وه. بلکې دا هم د عوامو په تملك کښې ورکړل سوې وه. د همدغې فيصلې په قرار ؤ چې د پخواني هنري مکتب "کلاسيسيزم" جابرانه اصول مات سوه او د "رومانتسيزم" مکتب منځ ته راغی. په دغه وخت کښې چې ټوله اجتماعي مؤسسې د پخواني بنديزونو پر ضد انقلابي سوې وې. نو د دغه نوي هنري مکتب "رومانتسيزم" غايه او هدف هم داسې اعلان سو چې "رومانتسيزم يعني په هنر کښې (لبراليزم)".

ځرنګه چې د فرانسې له انقلاب ځخه وروسته عوامي تفکر د سخت تضاد سره مخامخ سو نو عوامي عصبيت دوی بيا هم د مسايلو په تحليل کښې له پخواني پېچومو ځخه را و نه ايستل او نور دا وجه وه چې ځرګند هنر ورو ورو له افلاطوني ابهام ځخه يوه نوي تياره خاه ته ورغوځار سو. په دې وار کښې د هنر ځېړونکي پوهان يا د واقعيت ځخه رم وکړ او د طبيعت د وحشت سره يې الفت قايم کړ او يا يې ښکاره واقعيتونه په پردو کښې راتاو کړل چې د دغه مطلب ځرګندوی بيا هم د

هغه رومانتسیزم بقایا او میراث ؤ چې مور یې د "سمبولیزم" په نامه یادوو.

د دې له پاره چې د هنر په باره کښې د رومانتسیزم د مکتب د دغو درو ښاخونو د انحراف څخه پوره خبر و او سو نو د کلام په خلاصه به د دغه طرز تفکرونو په باره کښې د رومانتیکي مؤسسینو څخه څو کلمې را نقل کړو.

د "رومانتسیزم" په باره کښې به دا کفایت وکړي چې د یوې هنرمندې شاعرې فرانسوي "ژر ژساند" دا خیال را وړ و چې وایي: "موږ یو بد بخت نسل یو او له همدغه خاطره ناچاره یو چې د هنر په دروغو د ژوند له واقعیت څخه خانونه لیري وساتو.(۲).

فکر وساتئ! ژر ژساند د یو محروم نسل په نماینده ګی رغېږي او د دې له پاره چې د دغه محرومیت څخه یوه فراموشي راولي نو د هنر په درواغو ځان هوسا کوي.

د سمبولیزم د مکتب یو لوی شخصیت (مالارمه) وایي چې: "په شعر کښې (له دغه څخه د هنر پر نورو ښاخو هم قیاس کیدای شي) د نوم اخیستل د څلورو څخه درې برخې لطف له منځه وړي. نو له دغه لحاظه دي چې د اشارې او کنایې له پاره احتیاج پیدا کېږي. تر څو په دې وسیله د هنر اصلي ښکلا له منځه ولاړه نه سي.(۳)

د "سور ریالیزم" د خیالي هنري مکتب په معرفي کښې "رمبو" داسې وایي: "...پر دې عقیده لرم چې د خپل ذهن آشفتګي مقدسه وبولم"(۳) اګزیستالیزم د منحطو مکتبو څخه یو بل مکتب دی چې مؤسس (اندره مالرو) یې داسې تعریفوي:

---

۲- ریالیسم و ضد ریالیسم در ادبیات، ۹۵مخ

۳- ریالیسم و ضد ریالیسم، ۱۱۷ مخ.

۴- ریالیسم ۱۲۷ مخ.

"د ژوند درك بې له يوې وارخطايۍ بل څه حاصل نه لري"(٥) تر دې ځايه د نولسمې پېړۍ د علمي ټولنو هغه وارخطايي وه چې دوی د هنر په باره کښې د هغه مکتب پهٔ پيروۍ څهٔ ويل چې هغه يې په هنر کښې (ليبراليزم) باله. د هنر پهٔ باره کښې چې هر څونه بلند بالا تحليلات منځ ته راسي نو بيا هم يو (عوامي) سړی کولای سي چې د تقلبي او اصلي هنر تر منځ توپير وکړي.

"تولستوی" دغه مسئله يوه بزګر ته حواله کوي او د فکر په فراغت هغه په دې بريالیويني چې د يو تقلبي او اصلي هنري اثر تر منځ قضاوت وکړي "ل. تولستوی" يو ښهٔ هنري اثر هغه بولي چې د خلکو د ژوند سره مرتبط او متصل وي.(٦) عوام د يو تقلبي او اصلي هنري اثر له پاره دونه استدلال نه کوي لکه د هنر سانسوروونکي چې يې کوي. بلکې هغه د ځان او خپلې طبقې له پاره اصلي هنر ښه پېژني او د هغه سره الفت نيسي. خو تقلبي هنر چې د ممتازو طبقو له پاره استخدام شوی وي، نه يې پېژني او نه مينه ور سره ساتي.

د اولسونو شفاهي کيسې چې د عوامو تخليق دي نو ځکه د هغه سره علاقه د عوامو له خوا ساتل کېږي او د بهترينو ميراثونو په ډول د هېرې له چپاو څخه ساتل کېږي.

د دغو ميراثونو په جمله کښې شفاهي ادبيات او په هغو کښې شفاهي کيسې بهترين هنري او ادبي ميراثونه دي چې د اجتماعي احساس په پيروۍ له اولنيو څخه اوسنيو ته پاته دي.

اولنۍ شفاهي کيسې او افسانې د هغو اولسونو په کلتور کښې ډېر ژور ځای لري چې دوی د کلتوري تاريخ سابقه لري. د دې مطلب د ثبوت له پاره به کفايت وکړي چې يو قديم ترين اولس (يونان) په مثال کښې راوړو د قديم يونان له هنري

---

٥- رياليسم ۱۳۸ مخ.

٦- هنر چيست؟ د تولستوی اثر، ٤٣ مخ.

آثارو څخه د رانده شاعر (هومیر)(۷) "ایلیاد"(۸) "اوادیسه" هغه آثار دي چې د بشري کلتور ډېر زاړه مناسبات پکښې پېژندل کېږي. زه د دغه تاریخي او کلتوري اثر مثالونه هغې برخې ته معطلوم چې په مقایسوي ډول د پښتو او یوناني ادب شفاهي کیسو په برخه کښې تصنیف سوې ده. پورتنی توله خبرنه پر دې تکي بنا وه چې هنر د ژوند څخه بېګانه ګي نه مني. هنر څه د تعریف په ساحه کښې او څه د ژوند سره په عملي صحنه کښې یوه داسې پدیده ده چې تر هر څه وړاندې د خپل تعریف په مخ کښې ژوند ته احتیاج لري. یعني د خبرې په کامل وضاحت هغه هنري اثر چې د ژوند له پدېدې سره رابطه نه لري هغه له هر ډول ارزښت څخه خالي او عاري دی. کله چې ژوند د یو هنري اثر سره حلقه سي نو د هنر په باره کښې خبره له ابهام څخه راوزي او د واقعیت حدودو اوثغورو ته راداخلېږي.

په دې ځای کښې د یوې هنري پدېدې په اړخ کښې د "واقعیت" اصل کښېښودل سو.

اوس نو دې پوښتنې ته هم ځواب په کار دی چې واقعیت څه شی دی؟!

واقعیت یوه فلسفي معضله ده خو په هنر او ادب کښې دا مسأله یعني واقعیت هم پخوانو دغو نه سره پېچلی دی لکه د "ښکلا" (زیبایی) په باره کښې چې سرګردانه سوي دي.

واقعیت هم د "ژوند" څخه سوا نه سي څېړل کېدای. چېرې چې ژوند وي هلته به واقعیت وي. دا د فلسفي او ساینسي احکامو په پېژندنه حکم دی.

زه په دې کښې نور نه ږغېږم چې واقعیت څونه د ژوند سره رابطه لري! خو

---

۷- د یونان یو اولنی شاعر چې د میلاد څخه وړاندې په ۸مه یا د تاریخونو په اختلاف په ۱۲مه پېړۍ پورې تعلق لري.

۸- دا دوې افسانې په ادبي شیوه چې په شفاهي ډول راپاتې کېدې (هومیر) ته منسوب دي.

چېرې چې ساينس حكم كړى وي. نو د واقعيت په پېژندنه كښې له نورو حدودو څخه سرې په مشكل د تخيل د دنيا تابع ګرځېداى سي.

د هنر د هغو فلسفي نظرياتو په باب چې هنر د ژوند له واقعيت څخه شري. خبرې دېرې زياتې دي او زه نه غواړم او نه مجبوريت احساسوم چې دا نا تمامه مقايسه پسې وڅېړم. صرف دې اصل ته ځان د تسليمى په باره كښې ناچاره وينم چې هنر يوه ژوندى پديده ده او څرنګه چې د "واقعيت" سره نژديوالى نه بلكې يو ځايوالى لري نو د دې قابل ده چې پر هغه بحث وسي او د بشري ژوندانه او بشري ټولنې په بدلون كښې چې د ټولنې د ارمان مقصد اعلى دى داسې فكر وسي چې هغه په دغه ټاكلي لار كښې د خير اعلي له پاره په كار ولوېږي.

كله چې "ژوند" او "واقعيت" دواړه سره يو ځاى سي نو د "هنر" په باره كښې هره پوښتنه داسې ځواب پيدا كوي. چې اصيل هنر هغه دى چې بنياد او بنسټ يې پر ژوند او واقعيت بنا وي. دا لومړى اصل دى چې د هنر په برخه كښې د منني مقام لري او تر دې ها خوا ته هر هنر او د هغه حدود چې په نورو پېچومو كښېوزي. دلته د كلاوې سر وركېږي او دا نو هغه وركه ده چې تر ننه پورې پيدا سوې نه ده.

كه موږ د ژوند او واقعيت په چوكاټ كښې پر هنر وغږېږو نو بېله دې چې زياتو شواهدو ته پناه يوسو. پوهېداى سو چې ټولنه دا قضاوت دېر ښه كولاى سي نو ځكه ټولنه ګرده هغه آثار ساتي چې د ژوند او واقعيت سره رابطه لري او د دې دېر ښه مثال د هغو په فولكلور كښې شفاهي كيسې دي چې نه يې هېروي او حتى د زرګونو كالونو په دوران كښې يې په خپلو سينو كښې ساتي.

دا يو واقعيت دى چې د هر اولس او هرې ټولنې د هنر تاريخ د هغو د كيسې او افسانې تابع وي او د دغو هنرونو په تاريخ كښې د هغو هنرونو تاريخ د نسبتي بقا په مقايسه ژوندى پاته وي چې د ژوند او واقعيت سره نژديوالى ولري د "هومير" له "اليا" او "اوډيسې" څخه نيولې بيا تر مقدسو كېسو پورې هغه افسانه ژوندى پاتېږي چې د ژوند او واقعيت سره يې رابطه نژدې وي. د "هومير" كيسه يعني

(ایلیاډ) د یوې داسې افسانې په ډول خلکو د لیکنې تر وخت پورې په سینه کښې ساتله چې په هغه کښې د دوی افتخار ساتل کېدی. د "افتخار" کلمه یو کلتوري ارزښت لري د (افتخار) کلمه مخکښې تر دې چې مقدس ارزښت ولري د یو ساده ژوند سره یې رابطه نژدې ده. نو ځکه موږ ویلای سو چې ساده ژوند د یوې ټولنې د خلکو ابتدايي ژوند دی او په ابتدايي ژوند کښې د ژوند او د هغه د لازمي (واقعیت) اصل د مسایلو سر حلقه دي.

که د دری زره کالو په دوران کښې د تحریري ادب پیلامه پسې واخلو نو هغه اثر چې په دغه دېرشو پېړیو کښې یې بیا هم د بشر د قدیم کلتور یو تصویر ایستلی دی هغه د (هومیر) اثار دي.

دا آثار که څه هم د اساطیرو(*) په جمله کښې شمېرل سوي دي خو څرنګه چې د ژوند له ماجرا سره رابطه لري نو که څه هم واقعیتونه پکښې مغشوش سوي دي. بیا هم نسبت و نورو آثارو ته هم ژوند ته نژدې دي او هم د واقعیت څخه لیرې نه دي. نو ځکه یې خپل حیات ساتلی دی او نن موږ د قدیم بشري کلتور په پېژندنه کښې دغه فولکوریک آثار استخداموو او پوهېږو چې دغه آثار د نړۍ د ادبي فولکلور یوه قدیمه منبع ده.

دغه آثار او دغسې نور آثار زموږ د بشري نړۍ د قدیم کلتور معرف دي او په هغو کښې موږ په ټولنه کښې د خلکو د مناسباتو په کمیت او کیفیت خبرېدای سو.

دا خاصه یواځې د اولسونو د فولکلور برکت دی چې په دې جمله کښې د پښتو شفاهي کیسې هم شاملې دي او د هغو په علمي څېړنه موږ د خپلې ټولنې د اجتماعي تاریخ مختلفې دورې سره جلا کولای او پېژندلای سو.

د دې له پاره چې دا موضوع مو په عمیق ډول څېړلې وي دا پوښتنه هم خواب را څخه غواړي چې:

---

*- اساطیر: د قدیم یونان ادبي اثار چې په افسانه کښې یې خرافاتي رنګ درلود.

PROPERTY OF ACKU 7555

# کلتور څه شی دی؟

هر کله چې دا اصل قبول کړو چې انسان یو اجتماعي مخلوق دی یعني یوه داسې هستي ده چې د ژوند په جریان کښې ټولنه جوړوي او هر څوک چې د ټولنې په منځ کښې ژوند پر یو لړ مناسباتو او روابطو بنا کوي نو موږ هغه ته "د کلتور خاوند" وایو.

کوم روابط او مناسبات چې د ډیرې اولنۍ او پخوانۍ بد وي ټولنې څخه د انسانانو تر منځ موجود سوي او بیا یې د ټولنې د تکامل سره ارتقا کړې ده. نو دغه مناسبات او روابط تر یوه عنوان لاندې راجمع کېږي. چې دغه عنوان ته "کلتور" وایي.

د کلتور کلمه د "لاتیني" ژبې له ریښې څخه مختلفو اروپایي ژبو ته په بېلو بېلو اشکالو ور ننوتلې ده. چې دلته یې موږ یواځې انګریزي تلفظ راوړو چې هلته "کلچر" ورته ویل کېږي. "اګري کلچر" د کلمې په ریښه کښې تر هر څه وړاندې (وده-نمو) افاده کوي او چېرې چې د (اګریکلچر) کلمه په کرنه (زراعت) ترجمه کېږي. نو په کرنه یا زراعت کښې هم د (ودې - نمو) اصل را څرګند وي.

دا چې کلتور ولې د "اګریکلچر" له کلمې سره مترادف دی نو یو علت یې هم دا دی چې دا کلمه د بشري بدویت د هغو دورو میراث دی چې هلته کرنه د ټول اجتماعي فعالیت سرچینه واقع وه. او دغې مشغلې د خپل پراخ مفهوم په چوکاټ کښې د انساني مناسباتو (وده - نمو) د دغو تورو تابع کړې وه.

کرنه یعني (اګریکلچر) د بشري فهم او ثقافت یوه لویه پدیده ده او په هغه زمانه کښې چې د انسانانو محدودو ټولنو ته دغه نعمت په نصیب ؤ نودوی څانونه تر نورو هغو ټولنو چې دا کار یې زده نه ؤ ممتاز ګڼل.

"اګریکلچر" او د هغه په تکاملي شکل "کلچر" کښې چې کوم لوی مفهوم پروت دی هغه د بشري ذهن له انکشاف سره مستقیمه رابطه لري. کله چې موږ بشر د خپل خلاقه ذهن په قدرت پردې بریالي وبولو چې دی د اسماني کراتو په تسخیر کښې فهم لري نو د دې فهم تکامل موږ تر هر څه پخوا د ده د کلتوري سیر او

تحول په مرحلو کښې پېژندلای شو.

هغه اولنی بزګر چې دد د اهلي سويو حيواناتو د غذا له پاره په کرنه کښې د تحول پر هرد بهره او ګړی يوه اختراع کوله. نو دا يې په کلتور کښې د تکامل يو عامل وّ. يا په ساده تشريح د دغه بزګر ذهن د خپلو شرايطو په حکم بدلون مانه او دغه بدلون د يوې (ودې -نمو) باعث ګرځېده چې دغه نمو ته نو "کلتور" وايي او ارتباط يې د "کرنې زراعت" سره د "اګريکلچر" په کلمه کښې له دې خايه راغلی دی چې د (کرنې) له آغاز سره "کلتور يا کلچر" طلوع کړې ده. په برېټانيکا انسيکلوپيديا کښې د کلتور (کلچر) په باره کښې داسې ليکل سوي دي

"کلتور د خلکو عادات او طريقې دي. د هر شي نشو و نما ده چې مخصوصې پالنې ته ضرورت لري. په مطالعه سره سړی ښه کېږي او د کلتور خاوند کېږي يعني چې له علم او هنر څخه استعداد لري(۱)"

"کتلور يا کلچر په خپل پراخ تعريف کښې د يو ځای د خلکو په ماضي او حال کښې د اميالو. اعمالو. لاسي هنرونو. کرنې. مذهب. اقتصاد. رواياتو. ژبو. افسانو مجموعې ته ويل کېږي.(۲)"

دا کلمه په اجتماعي پوهنو کښې زياته استعمالېږي انسان پېژندنه (کلچرل. انتروپولوجي) زموږ په معاصرد پېړۍ کښې يود نوې پوهنه ده او د دې پوهنې پالونکي د بشر تکامل په (فزيکل. طبيعي) او (سوشل. اجتماعي) دوارو خواو کښې پلټي. د کلتوري انسان پېژندنې يو بل لوی ښاخ اجتماعي انسان پېژندنه (سوشل انتروپولوجي) ده چې په هغه کښې د يوې ټولنې د خلکو خپلوي. د ژوند اقتصادي

---

۱- د کندهار د مجلې ۷۳ ګڼه. ۱۳ مخ. د سرېز مقاله.

۲- نيو کلاج ستېندرډ ډکشنري ۲۸۱۷ مخ.

ارخونه. قوانین. عرف و عادات څېړل کېږي [۱] کلمه چې کلتور د انساني ژوند د عیني او ذهني جریاناتو یود هنداره وبولو نو د هنر نداره په دغه هنداره کښې حورا ښه کولای سو.

## ملي هنر څه شی دی؟

په پورتنی لنډه تشریح کښې د هنر او کلتور بېل ارخونه وڅېړل سول او په روانه څېړنه کښې نو د یو داسې ترکیب سره مخامخ کېږو چې هغه سر بېره د هنر پر فلسفي ارخ له یو سیاسي اصطلاح سره هم رابطه لري.

دلته چې هنر په ملي ساحه کښې څېړونو د " ملي" کلمې څخه مو مراد بیا هم دا نه دی چې په یود محدوده سیاسي ساحه کښې هنر راکښېباسو. بلکې کله چې د "ملي" کلمه د هنر سره په استعمال کښې ملګرې کوو د دې کلمې هغه اجتماعي کیفیت په نظر کښې نیسو چې پر هره بشري ټولنه یې د انطباق امکانات میسر وي.

کله چې مو د هنر له تشریح څخه وروسته کلتور تشریح کړ. نو هدف دا چې د هنر او کلتور په ارتباط کښې د مقایسې له پاره مواد ولرو اوس چې پر "ملي هنر" څېړنه شروع کوو. نو د مطلب د اثبات له پاره په پوره زړه ویلای سو چې: "هر هغه هنر چې د یوې ټاکلې ټولنې په کلتور کښې ریښه ولري او د ټولنې له ذهني او عیني جریاناتو سره اشنا وي هغه ته ملي هنر ویل کېږي. یا په بل عبارت کوم هنر چې د هغې ټاکلې ټولنې د کلتور په هنداره کښې یې کره وړه نا اشنا. نابلده او با لاخره بېګانه نه وي هغه ته ملي هنر ویل کېږي "ل تولستوی" هنر د احساس د انتقال وسیله بولي او د "ملي هنر" په باره کښې وایي:

"ملي هنر هغه وخت په وجود راځي چې د عامه خلکو له جملې څخه یو انسان د خپل هغه قوت د احساس د انتقال ضرورت پیدا کړي چې دده په خپله

---

۱ - مین این دي پریمتیبو ورلډ (انسان په قدیمه نړۍ کښې) ؛ مخ

ازمویلی او احساس کړی وي.(۳) هر کله چې "ملي هنر" د یوې ټولنې په مادي او معنوي انکشاف کښې یو مهم عامل وبولو موضوع یو لږ څه فلسفي رنګ اخلي او دا پوښتنې ځواب غواړي چې انساني ټولنې د "جمع" په حال کښې کوم هنري با ارزښته میراثو نه پرې ایښې دي؟ او د "فرد - فردیت" په حال کښې یې هنر څونه د ابتذال په غېږ وروستلی دی؟

د انساني ټولنو تاریخ موږ ته وایي چې د اولنۍ ټولنې په تشکیل کښې څکه انسان پر بقا بریالی سو چې د نورو حیواناتو په جمله کښې یې په "جمع" د قدرت د تخلیق احساس وکړ او همدغه احساس نو ده ته د مځکې پر مخ د هر ډول نا مساعدو شرایطو په غېږ کښې بقا ورکړه.

د "جمع" قوت او قدرت تر هغه وخته پورې باقي پاته ؤ چې "فرد" په ټولنه کښې د خپل شخصیت د قدرت منفي احساس وکړ چې ده ته یې د مادي وسایلو په اتکا د "موږ" پر ځای د "زه" پر لار یوه درنه خطا په نصیب کړه. د "زه" احساس هغه جنتي ژوند چې په "جمع" کښې پروت ؤ په یوه دوزخ الیش کړ په دې دوزخ کښې نو انسان چې د تخلیق حرکت کاوه هغه د یوه نوی تخریب باعث وګرځېده(۴).

د "جمع - اجتماعیت" د دورې هره پدېده چې هنر هم د هغه یو جزء دی د انساني ژوند د پوره افتخار حکایت کوي. چې په دغه جمله کښې فولکلور او په هغه کښې عوامي ادب او د عوامي ادب په غېږ کښې شفاهي کیسې د پورتني مطلب شاهدي ورکولای سي.

کله چې د پورتنۍ مقدمې په رڼا کښې د "زه" او "موږ" یعني د "انفرادیت اصالت" د "اجتماعیت د اصالت" سره په موازنه ایږدو نو دا حقیقت مو کاملاً توجه جلبوي چې د "هنر" ترقي په "اجتماعیت" کښې وي او تر دې وروسته به هم دا حقیقت ادامه ولري.

---

۳- هنر چیست؟ ۱۲۲ مخ.

۴- ادبیات از نظر ګورکي ۷۹ مخ.

خبره د "ملي هنر" ده. هنر لکه "ل. تولستوی" چې ووېل د قدرت د احساس د انتقال وسیله ده. نو د "جمعي" او "فردي" احساس په دواړو حالتو کښې دې وسیلې د استخدام دوه حالته پیدا کړي دي.

د جمعي حالت په دوران کښې دا وسیله د ټولنې د خدمت یعنې د ټولنې د فهم او غوښتنې منعکس کوونکې ګرځېدلې. خو په فردي حالت کښې یې یو مرموز شکل پیدا کړی او بالاخره په ابتذال منجر سوې ده.

ادبیات او په هغو کښې کیسه خاصتاً شفاهي کیسې چې هر څه د "جمعي اصالت" په احساس منځ ته راغلې وي. نو که پخوانی وي "فولکلور" او که نوی ادب وي په نړۍ کښې د نخبه میراثونو له جملې څخه شمېر کېږي. "ملي هنر" چې د هنر لویه کورنۍ جوړوي تر هغه وخته پورې "ملي" افتخار نه سي حاصلولای تر څو چې یې "جمعي اصالت" نه وي منلی.

د یونان د "هومریك" دورې څخه نیولې بیا د "ریالستیك" دورې تر معاصر وخت پورې چې نخبه ادبیات د ادبیاتو تاریخونو قید کړي دي په دې تفکیك یې ښه او بد بېلولای سو چې په هره ټاکلې دوره کښې د ادبیاتو د هنر د کورنۍ کومه برخه او فن د "جمعي اصالت" په احساس منځ ته راغلي دي. د "ملي ادبیاتو" کلمه په خپل نهایي تحلیل کښې د "جمعي اصالت" احساس ذهن ته ورسپاري. د دې تحلیلي خبرې په نتیجه کښې نو ویلای سو چې د هنر د کورنۍ څخه هر ښاخ او د دغو ښاخونو له جملې څخه د هر ښاخ بېل بېل اړخونه هغه وخت د ټولنې په خیر اوخدمت استخدام کېدای سي چې د "فردي اصالت" داحساس څخه عاري اوجلا وي.

دا اصل نو له هغه وخته څه په ابتدایي ټولنه کښې او څه په مترقي ټولنه کښې د ملي هنر کلمه پیدا کوي چې د ټولنې د "کل" نماینده ګي وکړي.

د بې خط او بې سواده ټولنې په هنر کښې چې کیسه یې د لومړنیو علایقو ښکاره ګندوی دی ډېر مور داسې واقعیتونه موندلای سو چې هغه د دوی د (جمعي) ارمانو معرف دي او په همدې ترتیب مور په مترقي ټولنه کښې د هنر ټولو ښاخو ته

چې يوه برخه يې ادبيات او په هغو کښې کيسه هم شامله ده. هلته په امتياز قايلېږو. چې هغه د "کل - جمع" د اصالت په احساس منخ ته راغلي وي. دغه د "کل -جمع" اصالت دی چې په هنر کښې د "ملي" طلوع پلوشې خپروي او مونږ يې په دوه حالته کښې مطالعه او څېړلای شو يو هغه حالت دی چې د ټولنو په اصيل فولکلور کښې ځای نيسي يا په بل عبارت ځان څرګندوي او دويم حالت يې د بشري ټولنې د عيني او ذهني انشکاف په مرحله کښې چې واقعي هنر يې ډېر ښه ښکارندوی دی تظاهر کوي دا دويم حالت د اجتماعي تکامل د "اجتماعيت" په مرحله کښې تبارز کوي او مونږ يې په ادبياتو کښې د "رياليسم" د مکتب د اصولو په پيروی جلا کولای شو.

نو اوس دا نتيجه ګيري کوو چې د اولسونو هغه هنر چې د "جمع" په احساس منخ ته راغلی وي که د فولکلور په ساحه کښې واقع وي او که د هنر په هر نوي پوښ کښې لويدلی وي هغه ته د "ملي هنر" افتخار ور په نصيب دی

د هنر په کورنۍ کښې ادبيات او په ادبياتو کښې کيسې او کيسې په خپل اولسي رنګ چې د شفاهي کيسو تر عنوان لاندې راځي او د فولکلور يوه با ارزښته برخه تشکيلوي د پورتني تحقيق له پاره د څېړنې ډېر ښه مثالونه برابرولای سي

د يوه ساده مثال په ډول

"په اول کښې د "زه" احساس د "مونږ - جمع" له يو ځايوالي څخه ځان جلا نه باله. ده ځان د قبلي تجربو يو مخزن احساساوه او کله چې يې دا تجربې په خپله انديښنه او افکارو واړولې نو د نويو قوتونو د تجمع او پراخولو لاره يې اسانوله.

فرد چې پر نورو د تفوق مزه وڅکله نو د دې په توخ کښې چې د قبلي قهرمانانو تصوير په ذهن کښې وساتي کوښښ يې وکړ چې هغه حقوق چې ده ته تفويض کېږي. د خپل شخصي منفعت له پاره يې په کار واچوي(۵)" دغه احساس مونږ په فولکلوريک ساحه کښې هر ځای څېړلای سو د يونان د "هوميريک" دورې آثار د دې مطلب ډېر ښه مثال دی او مونږ يې نو ځان ته نژدې شاهد د پښتو شفاهي

---

۵- ادبيات از نظر ګورکي (۱۲) مخ.

کيسې "موسی جان او وليجان" په داستان کښې پيدا کولای سو

په دغه کيسه کښې چې په تفصيل سره به يې هره برخه د اجتماعي مطالعې په رڼا کښې وڅېړل سي. وليجان او "موسی جان" دوې قهرماني څېرې دي چې د "مور" اصالت په پيروی او په ناخود آګاه ډول د هغې لارې ساررين دي چې په هغه کښې د "مور - جمعي اصالت" احساس پروت دی خو په مقابل کښې هغه بله څېره يعنې "سهيلي خان" د "فرديت - زړه" د احساس نماينده دی او کوم حقوق چې په قبيله کښې ده ته ورکول سوي وه. ده د خپلې شخصي نفعې له پاره استعمالول او د ده په دغه حرکاتو نو د نويو قوتو د تجمع او پراخېدو زمينه برابره سوه. چې هغه په دې عمل د کليوالو خوشحالي ده.

د دې مقايسې په نتيجه کښې نو ويلای سو چې دغسې فولکلوريک آثار چې د "جمع" په احساس منځ ته راغلي وي ډېر اورد ژوند لري او که څه هم د ليکنې غېږې ته نه وي لوېدلي بيا هم د "جمع" غړي "افراد" په سينو کښې ساتي او دا کار څکه کوي چې دا د دوی د ارمان نمايندګي کوي. او هر وخت چې د خپله يادده دا کيسه په ياد راوړي يا يې اوري نو د هغه څخه خوند او لذت اخلي. دغسې آثار چې شفاهي کيسه يې ډېر ښه مثال دی. د "ملي ادبياتو" په جمله کښې ځای لري او دا څکه دا ځای ورکول سوی دی چې هم د "جمع" تخليق دی او هم "جمع" د هغه سره علاقه لري.

د وروستی نتيجې څخه نو موږ دا حکم کولای سو چې زموږ ښتو شفاهي کيسې اکثراً د "جمع" د اصالت د احساس په پيروی منځ ته راغلې دي او موږ يې نو د "ملي ادبياتو" په جمله کښې ډېر ښه ميراثونه بللای سو.

د دې بحث په نتيجه کښې نو ويلای سو چې ملي هنر هغه دی چې د ټولنې د کل "جمع" د علايقو معرف وي او کله چې هنر د دغه اصل تابع سو نو د ټولنې د کلتور جز يې ګرځوي او په دې برخه کښې نو فولکلور لويه او غنې برخه لري.

۞۞۞

# په کلتوري تحقیق کښې پر فولکلور یوه تحلیلي او مقایسوي کتنه

د کلتور په باره کښې یوه لنډه توضیح په تېرو مخونو کښې ورکړل سوه "کلتور پېژندنه" نن یوه اجتماعي پوهنه ده. چې د انسان پېژندنې (انتروپولوجي) یوه په زړه پورې ښاخله تشکیلوي.

د انسان مطالعه او په ټولنه کښې د هغه د ژوند منظره نن په علمي سترګو کتل کېږي او په دې کتنه کښې نو د بشري تاریخ اجتماعي تحولات او د تکامل پړاوونه خورا ښه معلومېدای سي.

موږ پوهېږو چې "انتروپولوجي" یا انسان پېژندنه یو داسې علم دی چې په هغه کښې انسان په دوو حالتو کښې څېړل کېږي. یو پلو د انسان طبیعي ژوند دی چې په هغه کښې د "فزیکل. انتروپولوجي" تر عنوان لاندې تحقیق کېږي او بله برخه د انسان اجتماعي ژوند دی چې دا بیا د "سوشل انترپولوجي" تر عنوان لاندې تحقیق پر روان دی.

په "سوشل انتروپولوجي - اجتماعي انسان پېژندنه" کښې چې ځینې محققین یې "کلتور پېژندنه" هم بولي انسان په اجتماعي لحاظ د خپل ټول کمیت او کیفیت سره تر مطالعې لاندې نیول کېږي. د "انسان پېژندنې" علم په ساینتیفک اصولو دا اصل د یو اساس په حیث منلی دی چې په مقایسوي ډول انسان په اجتماعي تکامل کښې داسې پړاوونه راوهلي دي لکه د خپل "طبیعي - فزیکل" تکامل له پړاوونو څخه چې را تېر سوی دی.

په طبیعي ډول انسان د حیواني نړۍ یوه هستي ده. په طبیعي لحاظ هغه وخت چې انسان په حیواني نړۍ کښې تر حساب لاندې راځي نو د ده بدني

جوړښت (جسماني ساختمان) مطالعه کېږي او دا برخې يې تر څېړنې لاندې راځي چې د ده د ملا کوږوالی څرنګه د شمزۍ (ستون فقرات) په شکل تبديل سو؟ يا يې د سر کاسه (جمجمه) څرنګه د شا پر حوا را ډکه سوه. يا يې د مغزو مقدار څرنګه د حيواناتو د مغزو له مقدار څخه زيات سو؟ دا برخه تر خاصو نومونو او عناوينو لاندې نن يو شمېر پوهنې احتوا کوي چې په مجموعي ډول د انسان پېژندنې (فزيکل انتروپولوجي- طبيعي انسان پېژندنې) په چوکاټ کښې ځای لري. په اجتماعي لحاظ چې انسان د تکامل کوم پړاوونه وهلي دي هغه هم تر دغسې اصولو لاندې رديف بدي کېږي. او دغه اصول نو د کلتوري انسان پېژندنې (کلچرل انتروپولوجي) د چوکاټ حدود تعيينوي. په دغه چوکاټ کې نو موږ د فولکلور له لارې چې د کلتوري انسان پېژندنې يو ښاخ دی د انسان معنويت په قديمه نړۍ کښې ډېر ښه پېژندلای سو. دا نو د انساني قديمي نړۍ د کلتور هغه ښکلاوې په موږ ليدلای سي چې تر هر څه پخوا د دوی "فولکلور" د هغه معرف او څرګند وی دی.

د کلتور په مختلفو ښاخونو کښې (فولکلور) هغه وسيله ده چې په تحقيق يې د پوښتنې خورا ښه ځواب پيدا کولای سو. چې په ټولنه کښې انسان څرنګه له يوې مرحلې څخه بلې مرحلې ته قدم ور واخيست. په طبيعي انسان پېژندنه کښې د انسان (فزيکل - طبيعي) تکامل حالات او د حيواناتو له مختلفو انواعو سره د ده اړيکی موږ ته د يوې پوهنې له خوا راښول کېږي چې هغه ته "کامپيريټيو اناټومی مقايسوي تشريح" وايي. کامپيريټيو اناټومی د انسان د طبيعي تکامل په تاريخ کښې ډېرې پرله پېچلې معضلې حل کړې دي.

په همدغه ترتيب "مقايسوی تشريح کامپيريټيو اناټومي" چې په "فزيکل انتروپولوجي طبيعي انسان پېژندنه کښې" په ثمر بخښونکو نتيجو انساني پوهه پياوړې کړې ده. نو په کلتوري انسان پېژندنې (کلچرل انتروپولوجي) کښې "فولکلور" بيا د اجتماعي ژوندانه څرنګوالی او مظاهر په موږ پېژني. د انسان پوهنې په لار کښې دا يو مبرم احتياج دی چې موږ د خپلې يا بلې ټولنې حالات په قديمه نړۍ کښې معلوم کړو.

د داسې پوهنې ارزښت دا دی چې موږ د هغې تېرې ټولنې د افرادو د افکارو، معتقداتو، امیالو او غوښتنو څخه د دوی د اجتماعي تاریخ مادي معلوم کړو او د هغو سره د نني ټولنې جریانات مقایسه کړو او دا لار نو هغه وخت موږ په بریالیتوب تر پایه رسولای شو، چې د تاکلې ټولنې په "فولکلور" کښې څېړنه وکړو.

په "فولکلور" کښې د څېړنې مقصد له پاره تر هر څه وړاندې شفاهي کیسې ډېره ښه وسیله او غني خزانه ده.

## د اجتماعي تحقیق له پاره د فولکلور استخدام:

د اجتماعي تاریخ د غوره تحقیق په لار کښې د فولکور یوه ډېره ښه وسیله ده چې په قدیمه نړۍ کښې د انساني ټولنو داسې تصاویر باسي چې په هغه کښې سړی د خپلې ټولنې یا د نړۍ د یوې بلې ټولنې هغه قیافې ویني چې د اجتماعي تاریخ د بېلو بېلو تاریخي دورو د فارقه علاماتو حکم لري.

د اجتماعي تاریخ څېړونکي دې ته احتیاج لري چې په پروني نړۍ کښې د ده تر تحقیق لاندې ټولنې څرنګه حقوقي او جزایي احکام درلودل او تر دغو احکامو لاندې د ټولنې خلکو څرنګه تفکر او خپل تر منځ څه ډول روابط درلودل څکه ددغه تفکر او مناسباتو څېړندل یوه څېړونکي ته دا قضاوت بخښي چې د هغو د اجتماعي تاریخ مرحله پر وټاکي. د بشري ټولنې په تاریخ کښې دوې دورې یعني د "مریتوب" مرحله او "فیودالي" مرحله د خپلو خاصو مناسباتو له مخې یو څه ژوره څېړنه غواړي او دا څېړنه نو تر هر څه وړاندې د مختلفو ټولنو د فولکلور په چوکاټ کښې شفاهي کیسې ډېره ښه نتیجې ته رسولای سي.

د "وحشت" او "بربریت" دوې دورې چې د انسان د لومړني کلتور ریښې احتوا کوي، نو پېژندنې ته یې له دې لحاظه احتیاج سته چې د انسان د اجتماعي ژوندانه تاریخ کره والي ته پر رسېږي.

د اولینو انساني ټولنو اجتماعي مؤسسات او د دوی د افرادو عقاید، عنعنات او رسومات چې د دوی له مادي شرایطو او اقتصادي مناسباتو پر زیربنا یې د روبنا

حیثیت درلود. موږ ته هغه وخت معلومېدای سي چې د اولسونو فولکلور ته مراجعه وکړو. ځکه دا یوازینی وسیله او لار ده چې موږ د انسان د اجتماعي ژوندانه په کلتور کښې وارد دولای سي.

"هیرودت" چې مؤرخین یې د تاریخ پلار بولي یو واقعه نګار ؤ چې له نن څخه تقریبا (۲۴۰۰) کاله پخوا یې د خپل شاوخوا محیط یو شمېر ساده واقعات قلمبند کړل او تاریخ نو د واقعه نګارئ په مفهوم له دغه وخته را شروع کېږي. خو دا هم یواځې د یونان په خاوره اړه لري

تر دې ها خوا ته نه یونان او نه د نړئ بله کومه ټولنه د واقعه لیکلو په قید څه لري. بلکې یواځې د دوئ افسانې کولای سي چې د قدیمې نړئ تصویر وباسي.

که موږ وغواړو چې د یونان اجتماعي تاریخ او د هغه مراحل ځان ته معلوم کړو. نو حتی تر "هیرودوت" "هیومیر" کولای سي. چې په خپلو "لیریك" اشعارو کښې د یوې فولکلوري افسانې په شکل د هغې ټولنې تصویر راته وباسي. "هیرودوت" او نور د هغو په باره کښې د څه ویلو او جرئت حق نه لري. "هیرودوت" د خپل وخت په پېژندلو کښې لیرې او نژدې ګرځېدلی او د مختلفو ملتونو په باره کښې یې مطالعات کړي خو هغو نه چې (هیومیر) په خپلو افسانو کښې کوم څه ځای کړي دي. نو د ده تحقیق ورته ناچیزه دی

د "هیومیر" په افسانو کښې خاص "ایلیاډ" او "اډیسه" کښې موږ د هغو روابطو سره اشنا کېږو چې لومړنیو انساني ټولنو هغه پالل. په دغو افسانو کښې موږ تر تاریخ پخوا د ټولنې د اجتماعي تکامل لومړنی کړئ پیدا کولای سو او دغه مطالعه نو موږ ته دا بصیرت را بخښي چې په لومړنیو انساني ټولنو کښې د دوئ اجتماعي مؤسسات په خپل ابتدایي شکل و پېژنو او پر هغه د اجتماعي تکامل د تاریخ پوړئ واودو. په خلاصه د کلام باید ووایم چې فولکلور د اجتماعي تحقیق له پاره ډېره اغیزناکه وسیله ده.

## په فولکلور کښې د روایاتو ارزښت:

په پورتني مبحث کښې مو وویل چې "افسانه یا کیسه - شفاهي کیسه" د

فولکلور هغه جامعه برخه ده چې د فولکلور تر نورو ښاخو د تاريخ سره زياته مرسته کوي نو همدا وجه ده چې "ويکتور هوګو" ويلي دې "افسانه په تاريخ او تاريخ په افسانه کښې دی."

په افسانه کښې تاريخ داسې پروت دی لکه جواهرات چې د کان په زړه ډېره کښې قيد وي. دا نو د ماهر سړي کار دی. چې د کان له ډېرې څخه جواهرات راباسي. په عين ډول د اجتماعي تاريخ واقعيتونه همدغه ډول په فولکلور او د هغه په مهمه برخه افسانه کښې پراته دي او دا نو د اجتماعي ليکوال او عالم کار دی چې هغه د فولکلوريك افسانو (رواياتو او کيسو) څخه راوباسي. بشري ټولنه د خپل طفوليت په دوران کښې ډېره ساده او د ابهاماتو څخه خلاصه ده او دا خلاصوالی يې تر هر څه ښخوا موږ د دوی په افسانو کښې ميندلای سو.

د اولنيو ټولنو د افرادو ژوند ډېر ساده او خلص ؤ او دا حقيقت لکه د دوی په مادي ژوند کښې چې څرګند ؤ نو د دوی د معنوي دنيا نمايندګي هم کوي. د ابتدايي ټولنې د غړي علايق او عقايد د مادې او معنی په لحاظ بلکل بسيط او له هغو پيچومو خلاص دی چې د مادي وسايلو په انکشاف د دوی د طبقاتي علايقو په پيروی د وروستيو انسانانو په برخه سوي دي.

دا واقعيتونه او د هغو فهم يو علمي احتياج دی چې ببله فولکلور او د هغه د مهمې برخې يعنې افسانې او شفاهي کيسې څخه په بله وسيله نه سي معلومېدای.

ممکن يوارکيالوجست (لرغون پېژندونکی) موږ ته د اولنيو ټولنو د اوزارو او اسبابو په کشف دا واقعيت را څرګند کړي چې د هغې ټاکلې ټولنې غړو د خپل مادي ژوندانه له پاره څرنګه وسايل استخدام کړي وو؟

او دا وسايل د بشري ټولنې د انکشاف له کومې مرحلې سره رابطه نيسي؟

خو زموږ دې سوال ته پوره او په هر اړ خيز ډول ځواب نه لري چې د دغې ټاکلې ټولنې خلکو د خپلو اجتماعي مؤسساتو د روابطو او مناسباتو په لړ کښې

څه معتقدات او اصول درلودل او دا اصـــــول يې څرنګه د ژوندانه له پاره مرعي کړي وو؟

دغه رنګه سوالونو ته ځواب نو د اولسونو فولکلور او په هغه کښې په خاص ډول افسانې ورکولای سي. موږ په تر مخنيو مباحثو کښې د "طبيعي انسان پېژندنې" او "اجتماعي يا کلتوري انسان پېژندنې" په مقايسه يوه سلسله را تعقيب کړي وه او د "طبيعي انسان پېژندنې" په چوکاټ کښې مو "کامپريټيو اناټومي مقايسوي تشريح" د "فولکلور" سره چې د "اجتماعي يا کلتوري انسان پېژندنې" يو مهم ښاخ دی مشابه بللې وه. او د ددغې سلسلې په تعقيب که "روايات. افسانې - شفاهي کيسې" د فولکلور پر لار په "کلتوري انسان پېژندنه" کښې د "طبيعي انسان پېژندنې" د "مقايسوي تشريح" د "هډ پېژندنې - وسيټولوجي" سره په مقايسه کښېږدو نو هغه کار چې د انسان د طبيعي ژوندانه په پېژندنه کښې هډ پېژندنه کوي همدغه ترتيب د انسان د اجتماعي ژوندانه په پېژندنه کښې روايات (افسانه) هغه کار کوي.

په "هډ پېژندنه - وسيټولوجي" کښې زموږ دا پوښتنې ځواب پيدا کوي چې د انسان د بدن په طبيعي تکامل کښې د ده هډونه څرنګه له يوه حالت څخه بل بهتر حالت ته را قوي سول د مثال په ډول د دغه اولني انسان چې د حيوانيت له کورنۍ څخه يې تکامل راکاوه څرنګه يې د (شمزۍ - ستون فقرات) په مهرو کښې تحول راغی؟

يا څرنګه د ده د سر د کوپړۍ هډوکی د شا له خوا غټ سوه. چې کافي مقدار ماغزه ځای کړي؟

دغو پوښتنو ته د "هډ پېژندنې پوهنه" ځواب وايي. په همدغه ترتيب په فولکلور کښې "روايات. افسانې. شفاهي کيسې" موږ ته د دغسې پوښتنو ځوابو نه برابرولی سي چې د يوې ټاکلې ټولنې غړي څرنګه د يو ټاکلي عرف او عنعنې خاوندان سول؟

د دوی عقايدو او علايقو د دوی په اجتماعي مؤسساتو کښې څه ډول تطورات راوستل؟

# فولکلور په میتولوژیک ساحه کښې:

میت (Myth) په انګریزي کښې یود داسې کلمه ده چې د یوناني د (Mythos) له کلمې څخه مشتق سوې ده او په معنی کښې دغه کلمه یوې داسې کیسې ته ویل کېږي چې د محیطي عنعناتو په زېربنا کښې د تاریخي سلوك پر لار د یوې ټولنې د خلکو د معتقداتو، قهرمانانو او د کلتور د نورو مشخصاتو معرف او پېژندونکې وي. د میت په باره کښې چې څونه تعریفات سته بنايي مختلف مفاهیم په افاده کړي خو دا ټوله یوې مبدا ته ورتلونکي دي. چې هغه د اولسونو د ابتدايي حالت د معتقداتو تابع وي په دې سلسله کښې نو چې هر څه تعریف سوي د هغو په چوکات کښې دا اصل دورا پروت دی چې شفاهي کیسې د (Myth) دېر ښه مثال دی. عربانو (Myth) په "اساطیر" ترجمه کړ او د مذهبي تضاد پر لار یې دا میت "اساطیر" وباله او د دې له پاره چې ببخي له خیل کلتوري ارزښت څخه ولوېږي هغه یې "اساطیر اولیه" وبلل. په خاص دول "اساطیر اولیه" دوی د یونان فولکلوریك ادبیات وبلل او هغه یې داسې معرفي کړل چې یو لړ خرافات دي او په څېړنه او مطالعه نه ارزي

خو دا د نولسمې پېړۍ د علماوو بصیرت او تتبع وه چې د بشري ټولنې د ابتدايي مرحلو په اجتماعي تحقیق کښې یې دغه (Myth) یا "اساطیر" یو سانتیفك اصل وباله او ویې ویل چې دغه اساطیر (افسانې) د ټولنې د اجتماعي او معنوي ژوند د اولنیو دورو د پېژندلو له پاره یواځینۍ وسیله ده.

او که د علمي اصولو په پیروۍ دغه تحقیق سي. نو د لومړیو ټولنو ټول اجتماعي کم او کیف به ښې څرګند سي. همدا وجه ده چې پر "میت" یعني (افسانه) کار شروع سو او د دغه لارې له پاره علمي متودونه وضع سول چې هغو ته "میتولوجي" یعني (افسانه پېژندنه) وویل سوه.

کله چې د "میتولوجي" پر لاره د ټولنو اجتماعي کره وړه وکتل سوه. نو په رښتیا دا حقیقت ښې څرګند سو چې ټولنو په اجتماعي لحاظ د تکامل دغسې دورې تېرې کړې دي. لکه په فزیکي (طبیعي) لحاظ چې دوی په کوم تطور را روان وو.

په "میتولوجي" کښې د افسانې پر ارزښت یو معاصر محقق انګلیسي پوهاند

"ارنولد تاینبي" داسې وايي "موږ د هغې مسألې په باره کښې چې د انسان له روحياتو سره اړه لري په "بيولوژي ژوند پېژندنه". "جيولوژي ځمکه پېژندنه" او "زولوژي حيوان پېژندنه" پورې وصل کېږو او د خپلو علمي ترقيو د مشکلاتو په حل کښې چې په انساني نفس پورې اړه لري بېهوده په علومو پورې لاس نيسو موږ د تمدن د ظهور په برخه که پېچلي مسايل هغه وخت حل کولای سوچې انساني نفس ته مراجعه وکړو نو ځکه موږ کولای سو چې د دغو مشکلاتو د حل کيلي د "ميتولوژي" يعنې (افسانه پېژندنې) په فن کښې پيدا کړو او د دې اصلي علت هم دا دی چې د انسان تفوق او د ده د تمدن کيسه د ده په بيولوژيکي تفوق او جغرافيايي محيط پورې يواځې اړه نه لري. بلکې د ژوندانه د موانعو په برطرفي پورې اړه لري او دا نو هغه عکس العمل دی چې انسان يې د طبيعت د عمل په مقابل کښې خپله مبارزه و ظهور ته رسوي او دا چې کوم موثرات پر انسان دا تاثير لري. چې دې مبارزې ته يې راولاړوي او سمدستي يې موږ د نفسياتو و فصل ته ور حواله کوو او د دغو موثراتو تاريخ نو موږ تر هر څه پخوا د دوی په افسانو کښې پيدا کولای سو چې "ميتولوژي" يا "افسانه پېژندنه" موږ ته تر يوه حده ځواب ويلای سي"[۱]

ماکسيم ګورکي د ټولنې د تخليقي هنر په باره کښې وايي چې قديمو او لرغونو افسانو ارباب الانواع نه پېژندل. بلکې د استعداد خاوندان يې لمانځل دوی آهنګران. ښکاريان. کښني وانان. سازندګان او نجاران چې د دغو کارونو متخصصين وو ستايل هغه چې په مذهبي ساحه کښې يې د ارباب الانواعو حيثيت پيدا کاوه. په حقيقت کښې ښه وريشونکي او ښه طبيبان وو. چې له تصوف سره يې هېڅ رابطه نه درلوده او صرف د خپل هنر په واسطه يې قهرماني پيدا کړې وه[۲]

---

۱- فلسفه نوين تاريخ ۱۸ مخ

۲- ادبيات ... ۲۲۴ مخ

## افغاني فولکلور د يوې علمي منبع په حيث:

د فولکلور له انواعو څخه دلته کيسه د خپلو مثالونو له پاره څېړو. ځکه کيسه هغه څه ډېر په بر کښتې لري، چې د اجتماعي علومو له پاره د منبع حيثيت پيدا کوي.

د کېسې مطلب هغه شفاهي کيسې دي چې د اولسونو خپل ملي تخليق وي او د يوه ټاکلي اولس د کلتور ښکلاوې پکښې خوندي سوې وي. د "هومير" ايلياد او اديسه نومي کيسې چې منظوم اشکال يې نن پاته دي د يونان د قديم کلتور ډېر ښه معرف ګڼل کېدای سي. ځکه دغه داستانونه په هغه موده کښې چې د مدنيت طلوع لا نه وه سوې د يونان د خلکو اجتماعي ژوند تصويروي او په هغه کښې نو هغه څه پراته دي چې د انسان پېژندنې (انتروپولوجي) اجتماعي اساسات ښوولی سي. لکه د نورو اولسونو په ژبو کښې چې فولکلوريك کيسې او داستانونه د ملي ادبياتو په جمله کښې د علمي تحقيق له پاره ارزښت لري نو د افغانانو په فولکلور کښې هم دغسې کيسې سته چې د کلتوري ژوند په پېژندنه کښې د علمي تحقيق له پاره حياتي ارزښت لري. دا په ملي او اولسي سويه زموږ يو عام احتياج دی چې د خپلې ټولنې په اجتماعي تاريخ خبر سو يا په بل عبارت غواړو چې د خپل تاريخ په سر کښې ټولنه او خلك وپېژنو دا مهال نو موږ ته خپل فولکلور د يوه لابراتوار حکم لري. په دغه غني لابراتور کښې خوشبختانه پښتو شفاهي کيسې موږ ته هر ډول مواد برابرولای سي.

دا کيسې بالعموم د اجتماعي مناسباتو د يوې هنداره حکم لري، چې په هغو کښې د هرې اجتماعي دورې کره وره ډېر روښانه څرګندېدای سي. د مثال په ډول موږ د "فتح خان او رابيا ګلې" کيسه ګورو په هغې کښې د جهان ګيرۍ روحيه او غرور پوره معلومېږي، که څه هم د دوی جهان ډېر وړوکی دی، يعنی د کلابست(۳) څخه تر شمال لويديځ هندوستان پورې ځي او د معرکې د ميدان خلك

---

۳- کلابست: د ښکر ګډه د ښار په ۸ کيلومترۍ کښې واقع دی.

هم تر شپېتو زيات نه دي، خو د کيسې افسانوي روحيه يې ډېره سرشاره ساتلې ده.

په خاص ډول هغه مهال چې د دغو شپېتو کسو څخه چې په قهرمانۍ ولاړ سوي دي، هر يو يې تر بل ملګري ځان د مخه کوي تر څو وتوله د خپل مرام او هدف په لار کښې مري، په دغه کيسه کښې چې ملي حماسي رنګ يې نيولی دی د ټولنې د مناسباتو پلونه يې ډېر روښانه دي. مثلاً مرګه چې سپين ږيری بايد په يوه ټاکلې مسا له کښې څرنګه رول ولوبوي؟

د جنګ او جګړې ترتيب، د ځوانې ښځې او نارينه ؤ يو ځايوالی او په پاکۍ سره د هغې احترام د دغې کيسې هغه اړخونه دي چې د ټولنې مشخصات پکښې معلوميدای سي.

په دغو شفاهي کيسو کښې ډېره مهمه کيسه چې د دغې ليکنې د څېړنې محور هم هغه ده د موسی جان او وليجان کيسه ده. چې د "موسی جان او ګل مکۍ" په نامه هم معروفه ده.

په دغه کيسه کښې د خان خانۍ نظام، لوی ملاك او کوچنی ملاك او د هغو فيوډالي قيافې او دا چې څرنګه سوداګري د خان خانۍ نظام ته ننوزي او تاجر بېله دې چې د قام او قبيلې افتخارات ولري په فيوډالي ټولنه کښې نفوذ کوي دا ګرده د دغې کيسې په بطن کښې پراته مهم اجتماعي مسايل دي. په دغه کيسه کښې د خانانو جبر او د دوی له جبر څخه د بزګرانو تيښته او بيا د هغوی پر ضد قيام او بالاخره د لوی خان له پښو لويدل په خاص ډول چا چې د يوې قهرمانې پېغلې په توره يې ورمېږ ماتېږي، کيسې ته د حماسې رنګ وربخښلی دی د دې قبيله په پښتو شفاهي کيسو کښې ډېر داسې مواد پراته دي چې د علمي څېړنو له پاره نه تمامېدونکی ارزښتونه لري.

د دغو کيسو په جمله کښې يو شمير پېرياني نکلونه هم سته چې په هغو کښې ذ انساني عقل او درك څخه د باندې کرکترونه او جريانونه سره پر له راتاو سوي دي، خو هغه هم په خپل وار له ارزښته خالي نه دي او اکثره يې د رمزو په شان د ځينو حقايقو بيانوونکي دي، په دغه کيسو کښې ځينې داسې کيسې هم شته

چې هغه په قديمه زمانه کښې زموږ او نورو ټولنو د کلتوري پېژندنې او رابطې معرف دي، د دغو کيسو په جمله کښې نو د"اسيف الملوك او بدرۍ جمالې ښاپيرۍ" نکل دی، چې زموږ او د قديم چين د کلتوري روابطو په لړ کښې رواج سوې ده او د دغې کيسې سره په لږ تفاوت په چينايي ادب کښې دغسې کيسې سته.

# دوهمه برخه

# د قديمې نړۍ معروف داستانونه

د اولسونو په ادبیاتو کښې خورا ښه ادبیات هغه دي چې د هغو تخليق په خپله د اولس له خوا شوی وي، يعني د ټول اولس د فکر او ژبې محصول وي.

دغه محصول کله چې د فولکلور موضوع ده، د ادبي برخې بېل بېل اشکال يې د اولسونو د ادبي تاريخ ډېر لوی عناوين جوړوي، دغسې آثار نو په يوه ټاکلي سړي اړه نه لري، بلکې ټولنه د هغه خالق او مالك وي.

دغسې شفاهي آثار چې د بشري فولکلور غوره ذخيري تشکيلوي د هغه نوموړکي هنر مند د ذهن او پاکې ژبې محصول وي چې د انفراديت سلطې او فردي شهرت کاذب ذوق لا نه وي مسموم کړی، بلکې د اجتماعيت د حاکميت په برکت يې د ذهن چينې په کامل قوت په راغورځېدو وي.

دغسې غني ذخاير چې په هره ژبه کښې موجود وي نو د هغې ادبيات هم پاخه وي، د نړۍ په ادبي تاريخ کښې د يونان فولکلوري ذخيرې د اجتماعي تحقيق له پاره ډېرې پټې غوټې خلاصې کړې دي او نن چې د بشري اولني مناسباتو او د دوی د اجتماعي مؤسساتو په باره کښې د پېژندنې تحقيق کېږي، نو د دغه اولس فولکلور د هر ډول پېچلو پوښتنو ځواب ويلي سي.

همدا ډول د هر اولس په فولکلور کښې د هغوی د ژوند اولني اجتماعي کړه وړه ډېر ښه ځرګندېدای سي او نو دا وجه ده چې په فولکلور کښې ځېړنې په خپله د يوې پوهنې شکل غوره کړی دی.

د اولسونو اولنۍ شفاهي کيسې سره له دې چې خرافاتي پوښونه پر راپېچل سوي وي، خو د هغو د ذهنيت سره کامل تطابق لري او د دغه خرافاتي پوښونو په

مينځ کښې د اولسونو د اولنيو اجتماعي مؤسساتو په باره کښې حقايق داسې خوندي او پټ پراته وي لکه د يوه کان د زېړو ډېرو په مينځ کښې چې قيمت لرونکي غميان له نظره پنهان سوي وي. شفاهي کيسې چې د يوه ځخه بل ته سينه په سينه رانقل سوې اکثر يې پېرياني نکلونه احتوا کوي، چې د ښاپېريانو د نکلونو په نامه يادېږي، دغه نوع کيسې په ټولو اولسونو کښې پراخ رواج لري. په دې پسې يو شمېر شفاهي کيسې منځ ته راغلې دي چې هغه د هر ټاکلي اولس د قهرمانۍ تشريح کوي دغسې کيسې بالعموم په وروستيو مرحلو کښې مذهبي رنګ هم غوره کړی دی، چې ډېر ښه مثال يې په ويدا يې أدب کښې دراماين او مهابهارت کيسه ده.

دغه شفاهي کيسې د هر محيط د طبيعي او اجتماعي شرايطو تابع وي، د مثال په ډول په هغو ځايونو کښې چې د سمندرونو پر غاړه واقع دي نو د دې کيسو قهرمانان د سمندرونو پر څپو سپاره وي چې د خښم په حال کښې د سمندر د غاړې وطنونه او بېړۍ غرقوي او هر هغه مهال چې دوستي کوي نو د وطن د جنګياليو په کنار کښې دربېږي او لوی وياړونه هغه اولس ته ور په برخه کوي. همداسې د غرو او بيدياوو په شرايطو کښې د داستان قهرمانان د سمندرونو د غاړو له قهرمانانو سره توپير لري.

دغسې تخيلات د هنرمندانو يوه ښکلې عطيه ده او د بشري فولکلور لومړني اثار هم له همدغې منبع ځخه را پيل سوي او د مترقي داستان ليکنې تکامل هم له دغې لارې په عمل راغلی دی.

د دې له پاره چې په دغه ټاکلې څېړنه کښې د فولکلور له ابتدايي منبع ځخه کار را شروع کړو نو د ښاپېريانو په نکلونو به يو نظر واچوو او په ترتيب سره به په لنډ ډول د نړۍ قديم داستانونه چې لويې حماسې شمېرل کېږي معرفي کړو. دا کار به د اصل ليکنې له پاره چې د پښتو پر شفاهي کيسو څېړنه ده يوه مقدمه وګرځي او په تحليلي مقايسه کښې به دا حقيقت را سربېره کړو چې د پښتو شفاهي کيسه نه يوازې د نخبه ادبي حماسو او کلاسيک داستانو سره کاملاً نژدېوالی لري بلکې د پښتو ادب دغه سپېڅلې او پاکه برخه چې د پښتنې ټولنې د عام تخېل تخليق دی تر

ډېره ځايه له خرافاتو څخه پاکه او داستان يې د ټولنې د اجتماعي فورم په تشريح کښې له هر ډول پېچيدګيو څخه خلاص دی. دلته به لومړی د ښاپېريانو نکلونه. بيا د يونان يوه مشهوره حماسه "ايلياډ" او "اوډيسه" وروسته "راماين او مهابهارت" او په هغه پسې به د دري ادب د حماسې (شاهنامې) يوه مثالي برخه او په پای کښې بۀ د عربو پر يوه لويه معروفه افسانه (الف ليلة و ليله) رڼا واچول سي. تر څو د دغې ټاکلې څېړنې د وروستيو فصلونو له پاره چې د نورو له شفاهي کيسو سره د پښتو د شفاهي کيسې تحليلي مقايسه ده، لوستونکی ته د فهم او قضاوت پوره مواد تهيه سي.

## د ښاپېريانو نکونه:

### د انساني فولکلور يوه عامه برخه:

هر اولس يو شمېر د ښاپېرانو نکلونه لري او د دې نکلونه لويه برخه يې خورا قديم تاريخ لري، د ښاپېريانو يو شمېر نکلونه چې د ډېرو ښکلاؤ سره بيانېږي اکثره يې د يونان څخه نورو ځايو ته خپاره سوي وي.

دا نکلونه خورا ډېر دي او د هغو څخه د "زرينو ويښتانو" په نامه ډېر شهرت لري، جرمنيان دا ډول نکلونه لري چې يو جرمني ليکوال هغه را ټول کړي او د "ګريم" نوم يې پر ايښی دا د "ښاپېريانو نکلونه" په نامه هم يادېږي.

انګليسيان هم دا ډول کيسې لري او هندوستان خو نو په خاص ډول د داسې نکلونو څخه غني دی، په همدې ترتيب الف ليله و ليلة (يو زر او يوه شپه) چې اروپايان يې "اربين نايټ" بولي د عربي نړۍ د ښاپېريانو او زړو جادو ګر يو څخه مالامال دي.

دا کيسې يا د دې نکلونو اصل هغه وخت ته رسېږي چې "آرين" اولس پر يوه ځای اوسېدی او هغه وخت چې دوی په هجرت پيل وکړ، يو شمېر يې يورپ ته ولاړل، بل يې باختر ته او بله برخه يې پر هند ورشېوه سوه، نو له دغه ځايه په دې کيسو کښې هم توپېر سره راغی، دا نکلونه يو قديم فولکلور معرفي کوي، د ښاپېريانو په نکلونو کښې بدرنګه او بد عمله ځيرې د ډېرو ښايسته او مهربانه ځيرو په اړخ کښې

ځای لري. د دوی څېرې او کارونه د عمل او فهم څخه خارج وي.
مثلاً یو دېو په نکل کښې ځای لري چې لکه غر دونه وي. یو کال بېدېږي او چې پر دریاب پریوزي، نو د هغه اوبه ټوله په یوه وار څښي، دغه هولناکې څېرې ته د انسان سره شباهت و...ل کېږي، مثلاً لاسونه لري او خبرې کوي، خو کله کله چې نکل هېجاني کېږي او اکثر دغو بېروونکو هیولاؤ ته ښکران وراېږدي، لکه ورکوي او یا د دوو سترګو پر ځای یوه سترګه ورته ټاکي، همدا ډول ښاپېریانې ښیا ډېرې ښکلې او د ډېرو ښکلیو ځوانو ښځو سره یې شباهت ښیي، خو ښایسته وزرونه پر زیاتوي. دا خو د دغو افسانو کرکټرونه دي په کیسه بیا افسانه کښې د دوی حرکات هم دغسې محیر العقوله وي، مثلاً د کوه قاف څخه را الوزي او تر تور سمندر پورې په یوه الوتنه ځي. د نکل صحنه هم دغسې وي؛ غرونه ځنګلونه او لوی سمندرونه په هغه کښې ترسیم کېږي.
د کیسې د کرکټرونو برخورد هم له صحنې سره سم د انساني عقل تابع نه وي مثلاً یو دېو راولاړېږي او یو لوی غر په څټلو ویلې کوي دغسې کیسې او نکلونه په هره ژبه کښې سته چې په پښتو شفاهي کیسو کښې د "سیف الملوك او بدرۍ جمالې ښاپېرۍ" نکل عام شهرت لري، او ځینو محققینو ویلي دي چې دغه کیسه د چینایې کیسو سره ډېر نژدېوالی لري.

## یوناني حماسه:

### (ایلیاډ او اوډیسه)

ایلیاډ او اوډیسه دوه منظوم یوناني داستانونه دي چې د یونان قدیم شاعر "هومیر" ته منسوب دي، خو داسې نظریات هم سته چې دا داستانونه یوه سړي نه دی جوړ کړي او په یوه وخت کښې منځ ته نه دي راغلي او په خپله د هومیر د ژوند تاریخ هم په یوه وخت پورې یقیني نه دی ځینې یې تر میلاد اته پېړۍ او ځینې یې ۱۲ پېړۍ وړاندې بولي، یوه داسې نظریه لا هم سته چې وایي د۹ منظومې کیسې په پخواکښې جوړې سوې وې او هومیر هغه په یاد کړې وې اوهر ځای به یې ویلې.

د یونان په ادبي تاریخ کښې د "قهرمانانو د عصر" په نامه یوه زمانه قید ده چې دا داستانونه هم د هغه عصر بیانوونکي دي او دا عصر د ویاړ او افتخار زمانه هم بلل کېږي، ځکه چې په دې داستانونو کښې د قدیم یوناني اولس قهرماني او د قهرمانانو کار نامې ستایل سوې وې، نو د بښې ډېرې زمانې لۀ پاره د مقدساتو پۀ جمله کښې شمېرل کېدل او دا لمانځنه او تقدیس ؤ چې دغه قدیم ادبي آثار یې لۀ هیرېدو څخه ساتلي وو، د دې داستانونو ناظم هر څوك چې ؤ، د هومیر پۀ شمول د خپل اولس د قهرمانانو شهامتونه او شجاعتونه یې توصیف کړي، نو دا وجه وه چې اولس د هغه د اورېدو څخه خوند اخیست او وروسته نو خبره دې حد ته رسېدلې وه چې پر ټاکلو وختو د هغو اورېدنه یو سنت ؤ.

ایلیاډ او اوډېسه دوه منظوم حکایتونه دي چې د "تراجان" د جګړو بیان کوي، ایلیاد پر ۲۴ برخو مشتمل دی چې د جګړې وروستۍ ۴۹ ورځې د خپلو ټولو قهرمانیو سره پکښې توصیف سوې دي، پۀ دغه منظومه حماسه کښې د (ترای Troy) د محاصرې څخه ږغېږي(۱) او (اوډیسه) هم یو داستان دی چې ۲۴ برخې لري او د (ترای) تر سقوط وروسته داتاکا (Athaca) د پاچهی څخه غږېږي، د دغو منظومو داستانونو د لهجې څخه پوره معلومېږي چې د لهجې اختلاف یې د یوه زمان محصول نه دی(۲).

د دغې منظومې کیسې خلاصه دا ده چې د "ترای" د باچا زوی "پاریس" د یونان د باچا د کورنۍ یوه شهزاده ګۍ وتښتوله، دا شهزاده ګۍ د "لیدا" لور د "بلوکس" او "کاستر" خور اود "می لاس" ماینه وه. "اګاممنون" باچا په دې کیسه خبر سو نو غیرت یې په جوش راغی او د خپلو زورورو پهلوانانو "اچیل" او "اولیس" سره د "ترای" خوا ته روان سو، تر څو د شهزادګۍ تښتوونکو ته مجازات ورکړي.

د (ترای) باچا چې خبر سو، هغه هم د خپلو زامنو "هکتور" او "پاریس" سره

---

۱- The world literature ۲۲۳ مخ.

۲- ادبیات یونان ۴۰ مخ.

د جنګ ډګر ته راغی. هغه مهال چې جګړه توده روانه وه د "اګاممنون" باچا او د هغه د پهلوان "اچیل" تر مینځ خوا بدي پیښه سوه. او "اچیل" له جګړې څخه لاس ویوست خو هغه وخت چې د جګړې په میدان کښې د "اچیل" ملګری "پاتروکل" د "ترای" د پاچا د زوی "هکتور" په لاس ووژل سو نو "اچیل" ته هم درد ورغی او میدان ته داخل سو. دهٔ په یو ضرب "هکتور" مړ کړ او د "ترای" باچا ته یې ور وغورځاوه. د اچیل له بېرې د ترای خلك له میدان څخه ووتل او په ښار ننوتل. دروازې یې وتړلې د "اګاممنون" لښکر چې هر څه انتظار ویوست ښار خلاص نسو او د محاصرې په حال کښې پاته و. خو یونانیانو چل وکړ او د لرګو اس یې جوړ کړ او په هغه کښې د ننه کښېناستل. د ښار درو ازه وانانو و دوی ته فکر نه سو او کله چې اس ښار ته ننوت خلك ځینې را ووتل او د دروازه وانانو سرونه یې پرېکړل. ښار یې پرانیست او د ښار خلك یې ټوله تر تېغ وایستل. د یونان شهزاده ګی یې د هغو څخه خلاصه کړه او بېرته یې خپل وطن ته راوستله. په دغه جګړه کښې د یونانیانو سره د مرستې له پاره د "المپ" ټول خدایان راغلي وو او دوی "اچیل" پهلوان ته وسلې ورجوړې کړې وې.

د اچیل مور هغه ته پهٔ داسې اوبو کښې غسل ورکړی ؤ. چې بدن یې ټوله د اوسپنې سوی ؤ او یوه بجلکه یې د غوښې وه او کله چې په جګړه کښې د "ترای" د باچا زوی "پاریس" په زهرو لړلی غشی د هغه خوا ته ور وویشته نو پر دغه لځه بجلکه یې وموښت او له دغه ټپه څخه "اچیل" پهلوان مړ سو. په دغه وخت کښې د اچیل پر وسله "اولیس" او "اجاکس" پهلوانانو تر منځ جګړه وموښته او "اولیس" پهلوان د نور لښکر څخه جلا سو او د یونان پر خوا چې راته په دریاب کښې یې کښتي ماته سوه او دهٔ پر یوه تخته ځان تکیه کړ. "اولیس" یو ویشت کاله په دریاب او ټاپوګانو کښې سرګردانه ؤ. کله به یې د سمندر له څپو سره ډغرې وهلې او کله به د "سایکلو پانو"(۲) سره په جګړو بوخت ؤ. دی پس له شل کاله خپل وطن ته را

---

۲- (سایکلوپان) د هومیر په افسانو کښې هغه دیوان دي. چې یوه سترګه لري او ډېر زورور دی.

ورسېد او ویې لیدل چې ماینه یې تر دغه وخته پورې د ده پر نامه ناسته وه.

د "ترای" جګړه د ایلیاډ او اوډیسې د داستانو موضوع ده. تر هغه وخته پورې چې د "ترای" ښار فتح کېږي دا د "ایلیاډ" موضوع ده او تر هغه وروسته د"اولیس" سفر او ماجراوې د "اوډیسې" پهٔ داستان پورې اړه لري.

څرنګه چې پهٔ دغو داستانونو کښې د یونان د ملت قهرماني لمانځل کېږي نو د نړۍ په ادبیاتو کښې د حماسې لقب ورکړل سوی دی.

## رامایــن او مهابهــارت:

رامایـن او مهابهارت په هند کښې د آریایي کلتور د خپرېدو د یوې طلوع حکم لري، دا دوی حماسي کیسې چې څونه تاریخي او کلتوري ارزښت لري نو له ادبي پلوه هم د هغو نه ارزښت لرونکې دي.

څرنګه چې د قدیمې نړۍ داستانونه ما د خپلې اصلي څېړنې له داره د یوې مقدماتي برخې په حیث تر تشریح لاندې نیولي دي، نو د ادبي هنر پهٔ مقایسه او تحلیل کښې دې ته مجبورېږم چې د هغو تاریخي مبادي هم وڅېړم او هغه ارزښتونه چې په دغه برخه کښې ورحاصل دي څه نا څه خو له‌ یووو هم. که دا اصل ومنو چې اریایي اقوام په منل سوې اصطلاح له "آریانا ویجې" یعنې تر بلخ پورته ځایو څخه منشعب سوي دي، نو لکه څرنګه چې د یونان په حماسو "ایلیاډ" او "اوډیسه" کښې چې یونان ته رسېدلي اریایې مهاجرین د خپلو اسکان کېدو له پاره مبارزې کوي او د دوی دا قهرماني زمونږ د نړۍ په لومړنیو ادبیاتو کښې د حماسې حیثیت پیدا کوي. نو تر "بلخ" راکښته د آریایانو مهاجرت د هندوستان په ګور هم د حماسې په تخلیق کښې غني برخه لري.

"رامایـن" او "مهابهارت" دوې حماسې د مجردو سرودونو له مرحلې څخه وروسته مرتب داستانونه دي چې د "ویدانتي" مذهب د خصوصیاتو وروستۍ برخې یې د "سانسکریت" دورې ته رارسولې دي.

دا دوه داستانونه لکه "ایلیاډ" او "اوډیسه" په سر کښې صرف د مهاجرو

بهیرونو د قهرمانانو د کارنامو ستاینه ده، خو د زمانې په تېرېدو یې مقدس رنګ اخیستی او هغه مهال چې یې د بدوي ذهن حاکمیت حاصل کړی نو ویل اورېدل او سینه په سینه یې ساتل دیني فرض بلل سوي دي.

پر دغو داستانونو چې ډېرې زمانې تېرې سوې او د سرودونو عام فهم اصطلاحات یې د خلکو له یاده وتلي دي نو د قدیمې لهجې او کلماتو په ساتنه یې تر هغه وخته پورې بقا پیدا کړې ده، چې ویونکي او اورېدونکي به یې په ډېرو برخونه پوهېدل خو هغه به یې یادول.

د دغو مذهبي داستانونو ساتونکی په هندي ټولنه کښې روحاني طبقه (برهمنیان) وو د "راماین" او "مهابهارت" د داستانونو ارزښت یواځې دا نه دی چې د قدیمې نړۍ د ادبي ذخایرو یوه مجموعه ده، بلکې د بشرې نړۍ د مدنې راویښېدو لومړۍ ځرک ور څخه ځرګندېږي.

مغه مهال چې د آریایانانو بهیر د شمال له خوا د هندوکش تر درو تېرېږي او "بهارت ورته" یا "بهارت ویجې" ته ور شېوه کېږي. نو دوی و ځا نته عرف، عادات، عقاید او د ابتدایي اجتماعي مناسباتو بېل بېل اشکال لري چې د دوی په سرودونو کښې ځای سوي او د دغو سرودونو له لارې یې د "رامایین" او "مهابهارت" په داستانونو کښې ځای نیولی دی.

لکه څرنګه چې موږ د "ایلیاد" او "اوډیسې" په برخه کښې په اختصار اکتفا وکړه، نو دلته به هم د "رامایین" کیسه مختصراً را وړل سي او د هغې په رڼا کښې به د "مهابهارت" خلاصه او حدود هم بیان سي.

"رامایین" د "رام چندر" د ژوند ماجرا ده چې د "هندو" مذهب په مقدساتو کښې ځای لري، چې اووه برخې لري او د بیتونو شمېر یې (۵۰۰۰۰) ته رسېږي په دغه حماسه کښې "رام» او "سیتا" د داستان قهرمانان دي چې د منفي کرکټرونو په مقابل کښې د پاکۍ تمثیل کوي.

مهابهارت تر "رامایین" اوږد داستان دی چې پر اتلس برخو وېشل سوی (۲۱۵۰۰۰) بیتو ته رسېږي په دغه حماسه کښې د "کوران" او "پاندوان" د دوو کورنیو

تر مينځ اختلاف او جګړې بيانيږي او د "شکونتلا" ښکلا او د هغې د زوی "بهارت" قهرماني د داستان محور دی.

دا دواړې حماسې په هند کښې د آريايي اولس د عرف او عاداتو د موزيم حکم لري او د اجتماعي تکامل ډېرې پټې نکتې پکښې پرتې دي چې ځېړنه يې د يو اجتماعي ليکوال له پاره د لابراتوار حکم لري. مثلاً په مهابهارت کښې د پنچال د پاچا (دروپادا Dropada) لور د پېنځو شهزادګانو ماينه وه.(۳)

له دغه ټکې ځخه موږ د فاميلي تکامل په لار کښې يوه مرحله پيدا کولای سو، چې پولينډري (۴). ورته وايي.

## د "رامايڼ" خلاصه:

"راجاد شرت" د سورج بهمنسي د کورنۍ يو لوی باچا ؤ چې د شمالي هندوستان د "ايودهيا" په سيمه کښې يې پاچهي کوله. "راجاشرت" درې مايني درلودې، چې "کوشليا، سمترا، کيکي" نومېدې. له دغو درو ماينو ځخه راجا ځلور زامن پيدا کړل، چې "رام چندر، لکشن، بهرت، شتروګن" نومېدل. رام چندر چې د کوشليا زوی او تر نورو ورونو مشر ؤ، نو راجا هغه خپل وليعهد کړ او د "ګورودششټ" له رواج سره يې جنګي، مذهبي او د پاچهۍ تعليم ورته ورکړ.

د "متهلا" د راجا (جهنك) د لور (سويمبر)(۵) اعلان سوی ؤ او د هر ځای راجا زاده ګان هغه ته وربلل سوي وو، د دغو راجازاده ګانو په جمله کښې د "سورج بهنسي" د کورنۍ ځخه "رام چندر" او "لکشيمن" هغه ته ورغلل. په سويمبر کښې د رام چندر غشي تر کړی ووت او په دې ډول د "راجا جهنك" لور (سيتا) هغه وګټله.

۳- (اوپانيشاد) د ډاکتر تاراچند او جلال نايبني تعليفات ۵۸۵ مخ.

۴- (پولينډري) د هغه واده ډول دی چې يوه ښځه له متعددو مېړونو سره واده کوي.

۵- سويمبر زموږ په داستانونو او فولکلور کښې هم راغلی دی چې د باچا لور به په شرطونو واده کېده، دغه د شرطونه ډود ته هنديان سويمبر وايي.

"سیتا" دونه ښکلې وه چې شهرت یې پر وطنونو پروت ؤ. کله چې "سیتا" رام وکړه نو د راجایي مقام ته یې تر پخوا چانس نور هم زیات سو.

د "رام چندر" ورځ په ورځ زیاتېدونکې شهرت لومړۍ د ده د کشرۍ میرې (کیکی) حسد وپاڅاوه او هغه پر راجا هم ګرانه وه. نو د هغې نیت دا ؤ چې خپل زوی (بهرت) د راجا پر ځای کښېنوي.

د هغه وخت یو دود دا ؤ چې هر راجا باید خپل یو زوی ځنګل ته ولېږي چې هغه هلته دایمي عبادت وکړي. د کیکي په تحریك راجا د شرط مشر زوی (رام چندر) ته دغه وظیفه ورکړه.

رام چندر هم د پلار امر ومانه او د خپلې مایني (سیتا) او کشر ورور (لکشمن) سره ځنګلو ته ولاړ او پر هغه مخ پسې ورك سول. پلار یې لومړۍ په سترګو پسې ړوند سو او بیا مړ سو.

• د پلار تر مرګ وروسته د کیکې زوی (بهرت) ته راجایي مقام ور حواله سو خو هغه قبول نه کړ او په "رام" پسې راووت ځو چې هغه یې د "چتر کوټ" په غرو کښې پیدا کړ.

بهرت خپل مشر ورور رام ته وویل: چې د خپل پلار جانشین سي. خو هغه دا حق و بهرت ته ورو‌بخښی تر دې وروسته دیارلس کاله رام او سیتا په دغه ځنګلو کښې وو ځو یو وخت د "لنکا" راجا (راون)(٦) "سیتا" وتښتوله. "رام چندر" له "پنج وټي" څخه د خپل دوست قوم (بانر) د کورنۍ د مشر (سګریو) او د هغه د سپه سالار (هنومان) په مرسته پر "راون" بریالی سو په جګړه کښې یې هغه ته ماتې ورکړه او تر فتح وروسته یې د "لنکا" راجایي د هغه ورور (بهي هیګشن) ته وسپارله او چې خپل ملك ته راغی نو "بهرت" د "ایودهیا" راجایي هغه ته حواله کړه.(٧)

---

٦- راون د افسانوي دیو شکل لري. د راماین په کیسه کښې هغه لس سرونه سل لاسونه لري ټویوالی نی د غره په شان دی او چې وښوري سمندر په څپو راولي (اوپا نیشاد) ٥٢٤ مخ.

٧- رهبر تاریخ هند (اردو) ٣٣ مخ.

"راچندر" چې خپل وطن ته راغی پر "سیتا" بدګومانه سو او خیال یې کاوه چې هغه په بې عصمتۍ له ده سره خیانت کوي. رام ښکلې سیتا وشړله او هغې د "والکي" سره عزلت اختیار کړ خو کله چې یې د "کونر" او "لو" په نامه زامن وزېږول او هغه وخت چې رام دا خپل زامن ولیدل نو په خپله خطا پوه سو او "سیتا" یې بېرته راوستله او هغې ته یې عذر وکړ خو "سیتا" د ډېره ګرومه ناروغه او مړه سوه. د "سیتا" تر مرګ وروسته "رام" هم په هغې پسې ولاړ. په بهشت کښې سره یو ځای سول.(۸)

## شاهنامه:

په دري ژبه کښې د "شاهنامې" حماسه د نړۍ په ادبیاتو کښې ډېر شهرت لري. شاهنامه لکه ایلیاډ او اوډیسه مجهول او یا لکه راماین او مهابهارت د نامعلوم ناظم یو اثر نه دی، بلکې د نظم او ناظم هویت او تاریخ یې معلوم دی. د دې منظوم حماسي داستان کیسه په آریانا کښې د پهلوانۍ د دورې حکایات احتوا کوي.

"فردوسي" د غزنوي دورې یو هنرمند شاعر عوامي کیسې چې تاریخي هویت یې هم ورک نه دی، په نظم کښې اچولې دي. ځرنګه چې شاهنامه د اولسي داستان تمثیل کوي نو ما یې یادونه د هغو داستانونو په جلمه کښې راوړې ده چې جهاني شهرت لري.

دا معروفه حماسه په (۶۰۰۰۰) بیتو کښې بیان سوې ده او د دغه داستان څېړونکو ویلي دي چې د هغې واقعات د (۳۶۰۰ق م) څخه بیا تر (۶۵۱م) پورې د تاریخ افسانه په ځان راکښېباسي(۹). د ادبیاتو او عوامي کیسو څېړونکي وایي چې دا حماسه درې برخو ته وېشل سوې چې هغه عبارت له افسانې، پهلوانۍ او تاریخ څخه

---

۸- اوپانیشاد د ډاکټر تاراچند او نایینی تعلیقات ۵۲۳ مخ.

۹- World Ltirerature ۱۶۷ مخ.

دي. (١٠)

په دغه منظومه کيسه کښې داسې واقعات ثبت سوي دي چې هغه د تاريخ پټ ګوټونه په قوت روښانه کوي. سره.له دې چې دا واقعات د تاريخ په قيد نه دي خو عوامي حافظې هغه د شاعر تخيل ته را نقل کړي دي. که څه هم د (شاهنامې) محور د "سهراب" او "رستم" په نامه دوه پهلوانان احتوا کوي خو کيسه په هره برخه کښې ځان ته جلا جلا ماجراوې لري، دلته د شاهنامې د منظومې حماسې له کيسو څخه يوه کوچنۍ برخه "رودابه او زال" چې د هېواد لوی ليکوال عبد الرحمن پژواك په دري نثر کښې له نظم څخه رااړولې ده په پښتو ترجمه کېږي.(١١)

❁❁❁

(سام) جهان پهلوان پر خپل تخت ناست ؤ چې د زوی زېږی ورکړل سو او له تخته راکښته سو د "نوبهار" څخه "شبستان" ته راغی.

❁❁❁

څنګه چې د "زال" ټول وېښتان سپين وو، نو هغه يې اووه ورځې "سام" ته ښکاره نه کړ او دغه لمر يې اووه ورځې په شبستان کښې پټ ساتلی ؤ، څو دا ؤ چې د "نريمان" دايي دا حقيقت سام ته ووايه. سام چې خپل زوی سپين سری وليد د جهان څخه يو مخيزه نامينده سو. لاس يې پورته کړ او د هغه د مرګ نياز يې وکړ.

هلك يې لکه د اهريمن زوی داسې تر نظر سو. د جهان له پټو او ښکاره خنداوو څخه وبېرېد. وې فرمايل چې زال له دې ځايه لرې کړئ.

دا ستم پر شير خوره کوچني روا وبلل سو، هغه يې د يو لوی غره پر ککرۍ کښېښود او دوی څنې راغله، تر دې منځ وختونه تېر سوه، د جهان واکمن پر سام په قهر سو او هغه يې د رنځ منګولو ته وسپاری. هغه يې په ناروغۍ از مايه او د نړۍ له طبيبانو څخه يې دارونه پيدا کېدل، کوچنۍ شپه ورځ پر هغه ځای بې پنا پروت و،

١٠- اکاډمي علوم، کليات اطلاعات عمومي ٣٢٧ مخ.

١١- "افسانه هاى مردم" د پژواك ليکنه ٧٥ مخ.

کله به يې د ګوتو سررودی او کله به له ځان سره خروښېدی ځو د سيمرغ بچی وږی سو او سيمرغ راوالووت. ويې ليدل چې شير خوره خروښيږي او هېڅ يوه مور نسته چې د هغه اواز واوري ځان يې لڅ او شونډې يې وچې دي.

دايي يې خاورې او زانګو يې ځوزان دي. سيمرغ راکښته سو او کوچنی يې له غرو څخه راپورته کړ دا کوچنې يې په ښکار او وينو روزي او د خپلو بچيانو سره يې يو ځای کړی ؤ.

کله د هوا مرغان هم تر خلکو زيات محبت او زړه سوی لري. ښه او بد پټ نه پاتېږي.

د زال ازانګه پر نړۍ خپره سوه او دا خبره سام نريمان ته هم ورسېده. په دې ډول يې رنځ يو مخيزه له منځه ولاړ.

يوه شپه د شپو څخه سام د کار او روزګار څخه ستړی ستومانه بيده ؤ او په خوب کښې يې وليدل چې د هندوانو د ملك يو سړی پر اس سپور ده ته نژدې راکښته سي او د يوه زورور لښکر زېری ورته ورکړي.

چې راويښ سو او خپل د خوب معنی کوونکي يې راوغوښتل خبرې يې ورسره وکړې او خپل خوب يې ورته ووايه. زاړه او ځوان ټولو پهلوان ته وويل هر څوك چې يزدان وساتي هغه د سړو او تودو څخه نه تباه کېږي، تياری ونيسه او پلټنه يې شروع کړه.

په خوب کښې يې وليدل چې د "هندوکوه" يوه لويه رڼا پورته کېږي او يو ښکلی ځوان را رهي سپا تر شاه په پسې پر راسته لاس يې نامتو هوښياران او پر چپه لاس يې پوهان روان دي، د دې خلکو څخه يوه پر سام منت وکړ او د زوی له حاله يې خبر کړ.

جهان پهلوان وارخطا له خوبه را پورته سو، هوښياران يې را وغوښتل. د لښکر و مشران يې ځای پر ځای کړل، په ډول او نغاره د غره خوا ته روان سو. تر څو خپل غورځولی زوی را وغواړي، باچا غر داسې وليد چې سر يې تر "پروين" تير ؤ او د شاهين وزر ورته سوځل کېدی. يو ښوی لاښ ځنې پورته سوی ؤ. چې د

کیوان لار ورته وه.

سام یو ځل ښوی لاښ ته وکتل چې قوتمن سیمرغ پر هغه خاله جوړه کړې وه او بیا یې په خپل کردار برابر یو ځوان ولید چې د ګرځېدو لارې ته یې مخ راواړاوه خو ورکه یې نه میندله. نو تندی یې پر خاورو کښیښود او بایللی زوی یې بیا وغوښت، د ده خواست قبول سو.

سیمرغ له پورته ځخه وکتل او لاندې دسام په لښکر پوه سو. نو زال ته یې وویل:

زه ستا پر ورښت درکوونکی یم. ما پر تا د "زند" نوم ایښی دی. سام جهان پهلوان پلار دې راغلی دی. دا به بده نه وي چې وادې خلم او بې زحمته دې د هغه مخ ته کښېږدم.

زه تا په دښمنۍ له ځانه نه لیري کوم. د باچا مخ ته دې ایږدم ستا اوسېدل ما ته تکلیف نه دی خو تا ته هغه ځای تر دې ځای بهتر دی.

سیمرغ وزرونه خلاص کړل او زال یې راپورته کړ، را یې ووړ د پلار مخ ته یې کښته کړ. پلار چې خپل زوی ولید ویې ژړل او د مرغانو د باچا د قدرت، همت او هنر ستاینه یې وکړه.

د سام زړهٔ لکه جنت وغوړېد. لهٔ غرهٔ ځخه راکښته سو، باچایي جامې یې راوغوښتې او د زال بدن یې د پهلوانۍ په کالو ور وپوښی او ورته ویې ویل چې هېڅ ارزو به دې په زړه کښې در پرې نږدم. لښکرې سام ته راغلې او نغارې ووهل سوې، د زرینو ږغرغو اوازونه اوچت سول او د سپرو غرېو پورته سو. خرامان پر لار راروان سول او په خوشحالۍ ښار ته را ننوتل. د زابل ځخه یې "منوچهر" ته خبر ورکړ او د سام او زال افسانه یې ورته وویله شهزاده "نوذر" ته فرمان ورکړل سو چې سام او زال د باچا حضور ته راولي. چې منوچهر ته نژدې ورغلل باچا پر پلار او زوی آفرین ووایه. د منوچهر زړه د زال په لیدو ښاد سو او ویې فرمایل چې هغه ته د رزم چل او د بزم د مستۍ طریقه وروښیاست، ځکه زال غیر له مرغانو، غره او خالي ځخه بل څه نه دي پېژندلي او د باچایي آیین او نامه سره بلد نه دی. سام وویل: له ده سره مې تړون

کړی چې په زړه کښې به يې هېڅ مراد نه ورپرېږدم. باچا دا پيمان وستايه. دا مهال نو باچا جشن جوړ کړ. د سرو زرو په کيزو ښکلي سوي اسان. هندوستانی توری او وريښمين اتلسان يې په سوغات ورکړل. رومي مريانو د زرو او پېروزو جامونه په سرو ميو ډک کړل او وړاندې يې راوړل.

چې جشن جوړ سو تړون يې وليکی چې د چين له دريابه څخه بيا د سند تر روده د زابلستان څخه بيا د بست د ها خوا تر برخو پورې د پېروزې له تخت او د زرو له تاج سره يې سام ته ور وبخښل.

نغاره د پيل پر شا وتړل سوه. سام او زال د زابلستان خوا ته را روان سول. وختونه تېر سول. خو زال د باچاهانو او پهلوانانو هنرونه زده کړل. کله چې سام د ګرکساران او مازندران خوا ته د جګړې آهنګ خپور کړ. نو د زابل تخت او سرداري يې و زوی ته وروسپارله.

زال يو څو وخته په زابل کښې داسې عدالت وچلاوه چې خلك او مېلمانه به تول ورته خوشحاله وو خو د پلار سفر پرې دروند سو. پوهان يې راوغوښتل بيا د سپرو او پوهانو خلکو سره کابل ته روان سو. د کابل بختور باچا مهراب نومېدی. چې خبر سو مخې ته يې ورغی. زال هم د هغه هرکلی وکړ.

د پهلوانی ستر خوان يې هوار کړ او خوشحاله پر کښېنستل. مهراب چې د سام زوی ته وکتل. له ليدو څخه يې ښاد سو او زړهٔ يې ورته ګرو سو. چې مهراب د زال له د سترخوان څخه ولاړ سو. زال خپلو مهترانو ته وويل: د دې سړي په شان مې بل ښکلی نه دی ليدلی. هېڅوك نه سي کولای چې تر ده ښهٔ ملا وتړي.

يوه له ملګرو څخه مهراب وستايه او خبر يې ورکړ چې په کور کښې يې داسې پېغله ناسته ده چې مخ يې تر لمر روښانه او لکه جنت داسې دی. بدن يې لکه سپين زر داسې بريښي. که مياشت غواړې د هغې مخ دی او که مشك بويوی نو د هغې زلفانې دي.

د زال مينه د هغې سپوږمۍ مخې په ياد راڅومبېده او د هغې په ياد غمجن سو. شپه يې د ستورو سره تېره کړه. چې سبا د جهان مخ د لمر په پلوشو

سپین سوپه زرینو کمر بندونو ښکلو زلمیانو د زال دربار جوړ سو.
په دا بله ورځ د کابل باچا د زابل باچا خیمې ته راغی او د زال له خوا یې په سر بلندۍ هر کلی وسو او زال یې کور ته وروغوښت. د سام زوی د تخت زغرې. تېغ او خول څخه هېڅ درېغ ونه کړ او په دې نامه چې مهتران یې میګساري کوي کور ته یې ورنغی. مهراب د ده پر اندیښنه آفرین ووایه. مهران بیا د مهراب د پېغلې صفتونه یو په یو ورته ووېل اودومره خبرې یې په دې باب وکړې چې زال یو مخیزه لیونی سو او عقل ورڅخه فراره سو.
فلك څرخېدی او د زال زړه یو مخیزه د مینې څخه ډك ؤ. په لویو اندیښنو کښې غوټه ؤ. خو نه یې غوښتل چې د پوهانو په مخ کښې رسوا سي. زال هر څه درلودل خو هغه ټوله د هغې سره برابر نه وو.
یوه ورځ مهراب شاه چې د زال څخه راګرځیدلی ؤ شبستان ته راغی. ویې لیدل چې په مانۍ کښې یې دوه لمرونه شغلې وهي. چې یوه سین دخت د ده داینه او بله یې لور روداېه وه. روداېه لکه د پسرلي باغ په رنګ او بوی آراسته او لکه یوه جنتي په وریښمو او جواهرو ښکلې سوې وه. د مور سره یې پلار ته وروځغستل.
مهراب د دې په لیدو سره د خدای ستاینه وکړه سین دخت ورته ووېل دا د سام سپین سری زوی څرنګه سړی دی. څرنګه ښه او څه شېوه لري؟ د تخت خبرې کوي یا د سیمرغ او ځالې سندرې وایي؟
مهراب ورته ووېل: پر دا غوړولی یو پهلوان یې هم د پښو په ګرد پسې نه سي رسیدای د زمری زړهٔ او د پیل زور لري. په کردار کښې یې لاس د نیل رود دی. پر ځای زرینندونکی دی او په جګړه کښې هم سربندونکی دی ویښتان سپین خو څیره یې د لمر په شان ده. کله چې روداېې دا خبرې واورېدې سره وخروښېده او مخ یې سور واوښت. ارامي ځنې ولاړه او زړهٔ یې د زال په مینه ډك سو. ارزو یې د عقل ځای ونیوه. پخوانیو هوښیارانو ښه ویلي دي چې د ښځو په مخ کښې د نارینه ؤ یاد مه کوئ!
روداېې ځان پرستونکې درلودې چې ځان یې ورته قرباني کاوه. راز یې د

هغو سره په منځ کښې کښيښود او اجازه يې وغوښتله. د دې لمانځونکي حيران سول ويې ويل: د نړۍ د بيبيانو افسرې. تا له هندوستان څخه تر چين پورې لمانځي. د مخ ښکلا دې ختيځ ته درومي. د کابلستان د پاچا روښانه ګوتمۍ يې. څرنګه هغه څوك په غېږ کښې نيسي چې هغه پلار هم له غېږې څخه غورځولی. هغه د مرغانو پرورښت ليدلی دی.

رودابې هغه په خښم پټه خوله کړل او ويې ويل: زما زړه د ستوري څخه تباه سوی دی. څرنګه کړای سي چې بې سپوږمۍ ښاد سي زال زما زړه او زما روح دی. د رودابې پرستش کوونکو چې د دې د سترې زړهٔ آواز واورېده د دې په راز پوه سول او تسلي يې ورته ورکړه. رودابه يې د دغه راز په ساتلو مجبوره کړه او ويې ويل چې باچا به ورته راوتلی وي.

د پسرلي لومړۍ مياشت وه. زال د سيند پر غاړه دربار جوړ کړی ؤ. مينځيانې راغلې او د سيند پر غاړه يې ګېډۍ ګېډۍ ګلان ټول کړل.

پر دوی چې د زال سترګې ومونښتې پوښتنه يې وکړه: دا څوك دي؟

ځواب ورکړل سو: دا د رودابې مينځيانې دي. دوی دغه خبرې کولې چې د سيند پر سر يو مرغه پورته سو. زال خپله ليندۍ وغوښته او هغه يې د هوا څخه پر مځکه راوغورځاوه او ويې فرمايل چې ښکار مې راوړئ.

مريی په بېړۍ کښې تر سيند پورې ووت او يوې مينځې د هغه څخه د ښکاري پوښتنه وکړه.

وروسته پوه سوې چې دا د سام زوی او د زابلستان شهزاده دی. د هغه ښکلا او هنر څخه يې ګوته په غاښ ونيوله او.ويې ويل: غېر له رودابې څخه د ده په شان بله داسې ښکلا خدای د مځکې پر مخ نه ده پيدا کړې. مريی راغی او زال هغه وپوښتی او د هغه مريی په خبره يې زړه ځوان سو. مينځيانې يې راوغوښتې او د هغو څخه يې د رودابې په باب افسانې واورېدې. مينځيانو ته يې بې شمېره در و ګوهر وبخښل او هغه ګوتمۍ چې د منو چهر څخه ور سره وه هغه يې رودابې ته ولېږله. د رودابې ملګرو دا فيصله وکړه چې زال به د رودابې په ديدار ښادوي.

د سام زوی په دې ډول سرګرم سو. زړه یې له غمه خلاص او د خوښیو او ارزوګانو څخه ډك سو. رودابه سترګې پر لاره او د مینځیانو د قدمو سره یې د زړه دربهار پورته کېدی. کله چې هغه راغلې او کیسه یې ورته وکړه. د سپوږمۍ په شان یې وخندل او ویې فرمایل: چې دا نن شپه د سام زوی ته دا خبره ور ورسوي، چې د مهراب لور د ده د دیدار ارزو لېونۍ کړې ده. ورځ پر بیدیا را خپره سوه. کله چې لمر د شپې تر تور پلو لاندې پټ سو د سام زوی د مینې او ارزو و خوا ته ګام پورته کړ. رودابې د لوړې کلا څخه د ده لار کتله چې سترګې یې پر زال وموښتې د شاباس آواز یې له خولې ووت، زال دوه چنده ځوان سو.

رودابې خپلې کوځۍ د کلا له کنګرو څخه راوځړولې چې د زابلستان شهزاده په دغه مشکي کمند پورته کړي. د زال لاسونو د دې له ویښتانو د مینې مچه واخیستله. کمند یې د زین له شا څخه را خلاص کړ او پر کلا ور پورته سو.

دواړه یو د بله مست د زرنګار خونې ته ننوتل. رودابه لکه جنتي داسې سینګار سوې وه. زال د هغې ښکلا او چاغښت په حیرت کښې واچاوه. رودابې په غلا غلا هغه ته کتل. د دې سترګې د زلمي افسر پر مخ وبرېښېدې. بوس وکنار او د مینې پیمانې پورته سوې. زال وویل: که هر څو منوچهر دا کیسه واوري او سام هم هر څومره راباندې وغړومبېږي، زه به هېڅکله تر خپلې وعدې تېر نه سم. په دې شرط که ته را سره یو ځای سې، رودابې څواب ورکړ چې د جهان پیداکوونکی مې دې پر ژبه شاهد وي چې غېر له تا څخه به بل څوك پر ما باچا نه سي. هر څونه چې مینې غلبه پر کوله په هغه اندازه عقل ځینې لیرې کېدی او ارزو پسې را مخته کېدله.

همداسې وه، تر هغه وخته چې سبا راخپور سو. سپین سبا د کابل پر غرو راوغوړېدی او لمر سپوږمۍ رخصت کړه. زال د هغې مانۍ څخه په کمند را کښته سو، پر اس سپور سو او لښکرځای ته راغی.

کله چې لښکر ځای ته راغی مشران او موبدان یې راوبلل او خپل راز یې د هوښیارانو سره شریك کړ او د هغو مصلحت یې وغوښت. د هوښیارانو پر شونډو خبره وچه سوه. څنګه چې مهراب د ضحاك له بازماندګانو څخه ؤ د سام او منوچهر

له ګومان څخه هم وبېرېدل. زال د دوی د پټې خولې څخه پوه سو او د خلاصی لاره يې وځارله.

موبدانو په پای کښې زال ته په آرامی ووېل چې مهراب هر څو نه پر تازيانو باچا دی، خو اصل يې د اژدهار څخه دی. لوی سړی دی بايد په کوچني نظر ورته و نه کتل سي. لار دا ده چې سام جهان پهلوان ته دې ليك ولېږل سي. وروسته يې ليکونکی راوغوښت ورته ويې ويل پلار ته مې زېری او پيام ولېږه او بيا ورته وليکه چې ای د جوغې او کمربند خاونده! روزګار زه هغسې وزېږولم لکه و چې دې ليدلم. هغه مهال چې پلار په ناز او نعمت کښې ؤ ما ته يې د هندوکش په غره کښې د سيمرغ تر وزر لاندې ځای راکړ. د شيدو پر ځای مې ويني خوړلې تر څو چې د هغې ځالې څخه و تخت ته راغلم. اوس يو مهم کار راپېښ سوی دی چې په انجمن کښې د هغه راز پاش نه سي. د مهراب باچا د لور د مينې په جال بند سوی يم. د تورو شپو او ستورو سره مې سر و کار دی، د سيند پر غاړه پروت يم. غر شاهد دی چې جهان پهلوان ويلي وو چې هېڅ ارزو به دې په زړه کښې در پرې نږدم.

کله چې ليك د سام لاس ته ورسېد د زړه له انديښنو څخه يې سر دروند سو، د ځان سره يې ووېل د چا چې مرغان استادان وي هغه ته بايد د روزګار څخه همداسې کام واخلي.

موبدان يې راوغوښتل، ستورو پېژندونکو له آسمان څخه د دغه کار راز وپوښتی. ويې ويل د دغو دوو څخه به يو داسې يل (اتل) ونړی ته راسي چې په مېړانه به ملا وتړي، بدان به د نړی له مخ څخه ټول کړي چې د سکسار او مازندران نوم به پاته نه سي او خپل وطن ته به نيکي ورسوي.

د سام زړه ښاد سو، و زوی ته يې پيغام ولېږی. زال چې په دې پوه سو چې پلار يې خوشحاله دی، نو ويې ويل چې اوس نو منوچهر بايد خوښ وساتي.

د زال او رودابې په منځ کښې يوې شيرين کلامې ښځې پيغام وړی او راوړی، دواړو مينانو يو و بل ته د مينې پيغامونه سره لېږل.

يوه ورځ چې يې د زال پيغام رودابې ته راووړ. سين دخت پرې بدګومانه

سوه چې په دې پوه سوه، چې زال او رودابې یوه شپه تر سهاره سره تېره کړې ده او د مینې تړون یې سره کړی دی. ناچاره سوه. آه یې وکیښې.

سین دخت له دې بېرې چې مبادا مهراب په خبر سي په زړه رنځوره او غمجنه سوه. کله چې مهراب پوښتنه ځنې وکړه. سین دخت ماجرا ورته وویله. مهراب توری ته لاس کړ بدن یې وریږدېدی او مخ یې د لاجورد په شان واوښت.

سین دخت وژړل په زاریو او هوښیارۍ یې هغه نرم کړ او د یوه نیك انجام څخه سره وړغېدل. کله چې منوچهر د مهراب له کور او د سام له کیسې څخه خبر سو "نو ذر" راواستاوه چې سام ته ووایي چې زابل ته تر تلو پخوا د منوچهر دربار ته راسي.

سام جهان پهلوان د نوذر له لیدو څخه ډېر خوښ سو او د منوچهر دربار ته را روان سو. منوچهر په لار کښې په لویه سپاه سره د سام هرکلی وکړ چې پاچایي ماڼۍ ته ورسېد. هغه یې له خپل اړخ سره کښېناوه.

منوچهر د مازندران د جنګ په باب له هغه څخه پوښتنه وکړه. سام د خپلو پهلوانانو د پهلوانیو او کامیابیو په باب هغه ته معلومات ورکړل. څرنګه چې باچا د مهراب په باب څه و نه ویل نو سام هم په دې باب پټه خوله سو.

بله ورځ مځکښې تر دې چې سام په خبره خوله پورې کړي باچا منوچهر ته فرمان ورکړ چې د اژدهار تخم باید د مځکې له مخ څخه ورك کړي او کابلستان خراب کړي.

سام جهان پهلوان د باچا فرمان په تعجب او خواشینۍ کښې غوټه کړ خو په پاك زړه یې هغه قبول کړ. دا مهال یې له دې چې د خپل زړهٔ یا د زوی له درد څخه څه ووایي د اس کېزې یې د کابل خوا ته کش کړې. زال چې د پلار څخه خبر سو مخې ته یې ورغی خپله کیسه یې ورته وکړه او د هغه قول یې ورياد کړ. د زابل برپهلوان د خوا خوږمن زوی او د بلې خوا د باچا فرمان لکه دوه غرونه را چپه سول. سام په دې کار کښې حیران پاته سو. د ځان سره یې رې وواهه. وروسته یې زوی ته امر وکړ چې په خپله منوچهر ته ورسي. ښایي د ده ځواني او هنر د باچا د

خوښی باعث وګرځي او د کابلستان له تباهی څخه سترګې پټې کړي. زال د پلار پر سنجش آفرین ووایه. لیکونکی راغی او د سام نریمان پر امر یې ولیکل.

دا لیك د هغه ګرز لرونکی جهان پهلوان سام له خوا و شهریار ته رسېږي. چې قوت یې هر وخت د پاچا د ارزو له پاره کار کوي. باچا ته د مازندران د شرمښانو او وینو خوړونکو د ماتې او د هغو د فتح یادونه کوم او وایم چې د پاچا فرمان به هر وخت پر سترګو منم خو باچا په خپله زما او زال پر تړون شاهد دی. زال مې دروليږي چې خپل حال درته ووايي ښايي شهريار به د خپل پهلوان خبره پر ځمکه وا نه چوي او په دې به راضي نه سي چې دښمن شکن پیمان شکن سي.

د سیمرغ زوی زال د منوچهر خوا ته روان سو تر څو هلته خپل هنر وازمویي او د منوچهر زړه د مهراب له کینې څخه پاك کړی تر څو د رودابې سره د خپلې مینې په تړون کښې صادق پاته سي.

کله چې په کابل کښې دا کیسه خپره سوه د مهراب سرو پړسېدی. او په خښم یې د سام سره د جګړې خبره د سین دخت سره په مشوره کښېښوده.

سین دخت ورته وویل: اجازه ورکړئ چې دا سام ته ورسي او هغه د کابلستان له تباهی څخه راوګرځوي.

سین دخت د مهراب د استاځي په نامه د ډېرو ښونتنو سره سام ته ورسېده. په داسې ډول چې ښاییدله د پهلوان هوښیاري یې وستایله او سام یې نرم کړ. کله چې خبرې پای ته ورسېدې. ورته ویې ویل: چې دا سین دخت ده او پهلوان په تعجب کښې سو او د هغې سره یې تړون وکړ. چې کابلیانو ته به زخم نه رسوي او توره شپه به نه پر راولي.

سین دخت په خوشحاله زړه راوګرځېده. مهراب ته یې زېری ورکړ او د هغه زړه یې خوشحاله کړ او ورته ویې ویل چې سام نریمان به ډېر ژر د دې پر ځای چې پر خښم راسي په مینه بهٔ د مهراب میلمه سي.

زال چې د منوچهر دربار ته ورغی باچا آفرین پر ووایه کله چې یې د سام لیك ولوست. ستوري پېژندونکي یې وګومارل چې ستوري پیدا کړي. درې شپې په

آسمان کښې د زال او رودابې په ستوري پسې وګرځېدل تر څو یې هغه په نیکمرغۍ پیدا کړ. شهریار خوښ سو بیا یې وفرمایل چې زال په هوښیارۍ او پوهه وازمایي. موبدان یې را وغوښتل یوه موبد پوښتنه ورڅخه وکړه: "په هغه دوولسو سروو پسې ګرځم چې هره یوه یې دېرش څانګې لري".

بل وویل: "په هغو دوو اسانو پسې ګرځم چې هر یو یې د برېښنا په شان تیز دی. یو یې لکه تور سیند او بل یې د بلور په شان سپین دی. خو دوی یو له بله سره نه ویني."

بل وویل: "هغه دېرش سپاره نه پېژنم چې د باچا په وړاندې تېر سي. یو یې کم سي، خو کله چې بېرته وشمېرل سي، پوره دېرش وي".

بل وویل: "یو زرغون د وښو ډک چمن دی چې ویالې هم پکښې بهېږي. یو سړی د تېره لور سره راځي وچ او لانده ټول رېبي. نه نیازمني نه زاري داچمن چیرې دی او دا سړی څوک دی".

یو بل یوه وویل "هغه دوې سروې چې مرغۍ ځالې پر جوړه کړې ده څه شی دی؟ دا مرغۍ سبا پر یوه او ماښام پر بله کښیني د یوې څخه چې والوزي پاڼې یې زمول سي او پر بله چې کښیني د مشکو بوی ځنې ولاړ سي یوه سمسوره او بله پژمرده وي."

یوه بل پوښتنه وکړه چې: "دا یو داسې ښار دی چې خلک یې د هامون څوزانوته تللي دي. ناڅاپه لوخړه پورته کېږي او ټوله بناوي تر سپوږمۍ پورې نیستې کیږي."

زال د دې پوښتنو څخه په اندېښنه کښې ولویدی بیا یې ناڅاپه خوله خلاصه کړه او لومړي پوښتنه کوونکي ته یې وویل "کال دوولس میاشتې دی او هره میاشت دیرش ورځې ده او ژوند همداسې تیرېږي"

بل یوه ته یې وویل: "شپه او ورځ یو په بل پسې دي هو یو دبله نه سره ویني ژوند همداسې روان دی "بل یوه ته یې وویل: "دوې سروې د فلک دوه بازوګان دي هغه مرغۍ لمر دی چې د نړۍ بیره او هیله د هغه څخه ده"

بل ته يې وويل: "شارستان د ژوند سرای دی چې ځوزان يې غم دی چې هم ناز لري او هم غم لري د نيستي باد راوالوزي هره خوښي له منځه يوسي".

بل يوه ته يې وويل "روزګار لوګری (لوکوونکی) دی او موږ وابنه يو، اسمان ځوان او زاړۀ ته نه ګوري اوزاري هيڅ اغيزه نه پرې لري."

باچا ډېر خوشحاله شو، دستي جشن ونيول سو او داسې مسته مې خوري وسوه چې د پهلوانانو تر سترګو نړۍ يو د ساز آهنګ سو.

سبا چې لمر راوخوت او نړۍ لکه د بدخشان غر وځليدله. زال ملاوتړ له او د باچا حضور ته ورغی. د شهريار په امر ګرزوانان او پهلوانان را ټول سول.

زال راغی ګروز پوري ځړېږی او غشي ورسره دي. ليندۍ چې يې کش کړه غشی يې تر زړې ونې ووت.

پهلوانانو شاهدي ادا کړه چې د ده سره هيڅوك پهلواني نسي کولای.

وروسته نو منوچهر د سام د ليك ځواب د زال د زړۀ سره سم ورکړ. زال سام ته حال واستاوه او په سبا سام ته ورسېد، سام د زابل باچا ته خبر ورکړ چې مېلمستيا يې قبوله کړه او ښار دې ځراغان سي.

زال چې پلار ته ورسېدی تېرې خبرې يې ور سره وکړې، کابل ته يې بل پيغام واستاوه او د کابل ښار لکه جنت داسې اراسته سو او زرين تخت د مانۍ په منځ کښې کښېښول سو.

رودابې په زرنګار کښې ځان جوړاوه د کابل څخه د خوشبوبی ځپې پورته کېدې. پيلان په صفونو ودرېدل او مځکه په رومي وربښمينو ټوکرانو وپوښل سوه.

سازيانو نغمې شروع کړې د اولينو په دود يې زوم او ناوې پر يوه تخت کښېښول، د غميانو امېلونه او د مرغلرو لاړونه د دوی د ځان ښکلا جوړه کړې وه، په دې ډول د کابل د باچا لور د زابل د باچا و زوی ته واده سوه او دا د دوستۍ او مينې افسانه و روزګار ته وسپارل سوه چې ويې ساتي.

# الف ليله و ليله

## يا د يو زر و يوې شپې نكل:

د ختيځې خوا ډېر شيرين او معروف نكل دى چې تاريخ يې تر اوسه نه دى معلوم شوى او له ډېرو كلونو را په دې خوا متداول دى. فقط دومره معلومه سوې چې د دې نكل واقعات د ختيځ پاچاهانو د يوه پاچا په دربار كښې واقع سوي او د باچا شخصيت او مملكت هم نه دى معلوم. ظاهراً داسې ښكارېږي چې دې نكل لومړى ځل له چين څخه هند ته انتقال كړي او وروسته يې په لږ زياتوالي يا تغيير سره په افغانستان، پارس، عرب او اسلامي عالم كښې نفوذ كړى او بيا هر ملت خپل ذوق ته يو څه په هغه كښې علاوه كړي او ټولې دنيا ته شايع سوى دى. د نكل محور او منشا ښځې مجهوله ده. خيالي قوت او ادبي قيمت يې ټولې نړۍ ته مسلم سوى دى او د نړۍ په ټولو ژونديو ژبو كښې هم ترجمه سوى دى.

خلاصه، د هغه سبب چې دا نكل يې څرنګه منځ ته راوستلى داسې بيانوي چې په تېره زمانه كښې د هند له پاچاهانو څخه يوهٔ پاچا د عشق له رهګذره فريب خوړلى ؤ او له ښځو سره يې اعتماد سلب سوى ؤ؛ نو هره شپه به يې يوه نجلۍ واده كوله او سبا ته به يې وژله. په دې ډول په ښار كښې په لږه موده كښې نجلۍ پيدا نه سوه. نو يوه ورځ يې خپل وزير ته امر وكړ چې حتماً به د ده لپاره يوه نجلۍ پيدا كوي. وزير د شهزادۍ په نامه يوه لور درلوده. دې نجلۍ چې كله خپل پلار سراسيمه وليد نو حاضره سوه چې هغه شپه له پاچا سره تېره كړي. شهزادۍ وروسته له هغه چې ځان يې سنبال كړ او خپلې جامې يې واغوستلې نو خپلې وړې خور ته يې توصيه وكړه او داسې يې ورته وويل چې زه به په هغه نيمه شپه كښې تا راوغواړم او ته به د ساعت تيرۍ له امله له ما څخه د يوه نكل اصرار كوې. شهزادۍ د خپل پلار سره د پاچا قصر ته ولاړه كله چې پاچا خلوت شو نو په ژړا يې پيل وكړ. پاچا د هغه د سبب پوښتنه وكړه. شهزادۍ وويل يوه كوچنۍ خور لرم د ژوند په وروستۍ شپه كښې مې و نه كولاى سواى چې له هغې سره خداى پاماني وكړم نو ځكه ډېره خپه يم. پاچا اجازه وركړه چې دا خپله خور له ځان سره مانۍ ته وغواړي څو هغه

مانۍ ته راوستله سوه. څرنګه چې شهزادۍ هغې ته توصیه کړې وه. د کیسې او افساني په ویلو یې ټینګار وکړ شهزادۍ له پاچا څخه اجازه او مرسته حاصله کړه او د خپلې کیسې په ویلو یې پیل وکړ او دغه کیسه یو زرو یوه شپه اوږده سوه او دغه راز د یو زرو یوې شپې کیسه منځ ته راغله او څرنګه چې ویل کېږي. نوموړی پاچا هم خپل عادت پرېښود.

دا دی دلته د دغې کیسې څخه د نمونې په ډول د یوې شپې یوه کیسه یې رانقلوو(۱)

پر آسمان نښې ښکاره شوې د سپېدو    شهزادۍ یې کړه کیسه پر بسېدو

(پینځمه شپه)

دنیا زاده راپورته سوه او ویې ویله: خورې که بېده نه یې نو هغه پاته نکل به راته وکړې. شهزادۍ په نکل خوله پورې کړه او ویې ویله: ښاغلی ټولواکه! نکلچي داسې بیان کوي چې وایي د یونان پاچا خپل وزیر ته مخ واړاوه ویل یې ته لکه چې په دوبان کلیم باندې سوځې او غواړې چې په ماباندې یې مړ کې. سبا به داسې کانه راباندې سوې وي. لکه چې سیند باد پاچا په باز مړ کی او بیا یې نو ارمان پسې کاوه. وزیر ورته وویله د سیند بادپاچا نکل څرنګه دی؟

دې وویله:

## د سیند باد پاچا نکل:

په پخوا کښې له باچهانو څخه یو باچا ؤ چې سیند باد نومېدی. د دې باچا د ځکر سره خورا جوړه وه او بې له ښکاره یې بل کار نه درلودی. دې پاچا د خپلې ساتیرۍ د پاره یو باز ساتلی ؤ. شپه ورځ به یې په روزنه بوخت ؤ او له ډېره ګرانښته یې پر لاس باندې ګرزاوه. لکه چې به د باندې وتی نو دی به یې هم ورسره بیوی او په ګړۍ یې یوه ګړۍ له خانه څخه نه بېلاوه.

د دې باز په غاړه یې یو ښځ د سرو زرو کټوری ورځړولی ؤ او په هغه کښې

---

۱- پښتو اریانا دایرة المعارف. څلورم ټوک. ۳۰۵۸مخ

يې اوبه څښلې، يوه ورځ باچا ناست دی، ياران پر راګرځېدلي دي، باره يې يو له بله سره وويله درځئ چې ځو، نن ولا ښه د ښکار ورځ ده؛ خورا به مو ډېر سات تېر سي، باچا هم خوښه کړه او نوکرانو ته يې وويله چې د ښکار سامان درواخلئ او د باندې دروازې نوکران چې سره تيار سوه، نو باچا هم د انډيوالانو سره يو ځای راووتئ باز يې ورسره را واخيستئ ځو چې و يوې درې ته راورسېدل. دلې يې ورته واړو له اوتلکه يې وهوسيو ته کښېښوه. لا يوه ګړی نه وه تېره سوې چې په دې تلکه باندې يوه هوسۍ بنده سوه باچا وويله چې پر دې هوسۍ به چارپېره راوګرځو او ژوندۍ به يې ونيسو، که د هر چا تر سر وغورځېده او ځنې ولاړه هغه به په ځای مړ کم. پس له دې نو ټوله پر تلکه باندې شاوخوا راوګرځېدل او باندې راټول سول.

څه سر دې ګرزوم هوسۍ چې د باچا و خوا ته راغله او پر ګونډو د باچا په مخ کښې پرېوته د سړي به دا خيال کېدی چې اوس و باچا ته ځمکه موچوي، باچا داسې پسې کوږ سو. ده لا سر نه ؤ ټيټ کړی چې هغه لکه لمبه د باچا تر سر وغورځېده او ځنې ولاړه.

دلته نوکرانو سره پوس پوسی کئ چې هغه ده د ده څخه په خپله ولاړه اوس نو بايد ځوك مړ کي. باچا وليده چې نوکران يو له بله سره سترګې وهي او خاندي، نو يې وزير ته وويل چې دوی وايي چې تا ويله د هر چا ته تر سر چې وغورځېده، د هغه سر به پرې کم. دا دی په خپله له ده څخه ولاړه باچا وويله خدای ده کې پسې پرېږدم، ځو چې دغه هوسۍ مې په سر سره نه ده راوستلې، نو په هوسۍ پسې پر اس باندې سپور سو هوسۍ په مخ کښې ده او ده اس په تراټ پسې ايله کړی دی. د دې هوسۍ په مخ کښې يو لوی غر دی چې هر څه ځغلي هغه نه پې کېږي، نو يې وغوښتله چې يو غار پيدا کړي او په هغه باندې ننوزي په دې وخت کښې باچا باز پسې ايله کی باز ورغی د هوسۍ پر سر باندې کښينستی ځو منبوکې چې يې په سترګو کښې ووهله هوسۍ ځای پر ځای باندې ړنده سوه لاره يې نه ليده او له ځغستا څخه پاته سوه.

د نکل کار دی هوسۍ چې يې لاندې کړه په نيزه يې ووهله او له اسه ورتا

سو حلاله يې کړه، پوست يې ځينې وکښي او د زين په کونجوغه کښې يې وتړله نو بېرته مخ د خپل ځای پر خوا باندې را وګرزېدئ. دا وخت تکنده غرمه ده، خورا هاړ دی، د ګرمۍ له لاسه اور بلېږي او په يوه اوږده دره کښې رهی دی، چې يو غوړېپ اوبه نه پکښې پيدا کېږي. او سر تر پايه يو سپېره چول دی. نو باچا سترې سو او اس يې هم له تندې پر خوله موښلی پاچا ارياني واخيسته. شاوخوا ته يې سترګې وغړولې که ګوري چې له ليرې يې يوه ونه په سترګو سوه چې له هغې څخه څك څك غوړ ميچکې اوبه را څڅېږي نو باچا ور رهي سو. تر ونې پورې يې ځان ور ورساوه، د باز له غاړې څخه يې کټوری خلاص کی را وا يې خيستی، دونې له اوبو څخه يې ډك کړی او خپل مخ ته يې کښېښود. ده لا د څښلو د پاره ځان نه ؤ سم کړی چې باز راغی وکټوری يې په وزر وواهه او چپه يې کئ. باچا دويمه پلا بيا را ولاړ سو او کټوری يې ډك کی او دا خيال يې وکړ لکه چې باز تږی دی نو يې د باز و مخ ته کښېښاوه، باز بيا کټوری په وزر وواهه او چپه يې کئ. باچا درېمه پلا بيا راولاړ سو او کټوری يې تر دوو څوکو پورې ډك کی نو يې ورو ړی و اس ته يې کښېښوئ، باز بيا راغی او کټوری يې نسکور کئ. باچا ته درد ورغی او ويې ويله: نه دې په خپله وڅښلې او نه دې زموږ د څښنك د پاره راپرېښولې. نو يې توره وکښه او د باز وزرونه يې غوټ ور پرې کړل.

باز ځړېدلی مغزی اشاره وکړه چې يو وار پورته ونې ته وګوره چې څه حال دی، باچا چې داسې سترګې واړولې که ګوري چې يو مار دی او د غوړميچکی د زهرو اوبه يې له خولې څخه را بهېږي. باچا چې دا ولېدل نو د باز د وزرو پر پرې کولو باندې پښېمانه سو او ارمان يې وکئ.

لنډه دا چې بېرته پر اس سپور سو، څو چې خپلې خېمې ته را ورسېدئ، هوسۍ يې ورکړه چې ښه سور کباب ځنې پوخ کړي او دی پر څوکۍ ورته کښېنستئ. باز يې پر لاس باندې درولی دی، يوه پلا نابېره په باز مغزی و ځړېدی او بوخ راواوښتئ، چې راپورته کاوه يې، بيا دی مړ ؤ. باچا له ډېره غمه يو سوړ اوسيلی وکيښ او ډېر يې ارمان سو.

يونان باچا و خپل بد مخې وزير ته وويله چې په سيند باد نو دغسې کانه وسوه چې ښه روزلی باز يې له لاسه وايستی او بيا يې بند نه سوای تړلای. وزير چې

د یونان خبرې واورېدلې نو یې ورته وویل ښاغلی ټولواکه زه پر تا پېرزوینه لرم او د دوباند سره مې هېڅ دښمني نه ده پاته. خو زه دا درته وایم چې و دې نکل ته سر سري و نه ګورې او پسې ویې پلټې که ما درواغ درته ویلي وو د هغه وزیر په شانې دې مړ سم چې د باچا زوی یې پرچم تېر ایستلی ؤ او باچا وواژه. یونان باچا ورته وویله ته ووایه چې د هغه وزیر قصه بیا څنګه وه؟

وزیر وویله:(۲)

❀❀❀

---

۲- د ضوء افغن څخه دا نور نومیالي د ترجمې اقتباس.

# دریمه برخه



# پښتو شفاهي کيسه

په پښتو ژبه کښې لکه د نورو ژبو په شان شفاهي کيسې سته چې د پښتني کلتور او د پښتنو د ژوندانه بېل بېل اړخونه پکښې تصوير سوي دي.

د پښتو شفاهي کيسې ارزښت دا دی چې ډېر لږ د هغو شيانو او جرياناتو سره برخورد کوي چې هغه انساني ذهن ته نا اشنا وي. البته يو شمېر د پېريانو او ښاپېريانو نکلونه لري خو اصلي شفاهي کيسې يې د هغو ماجراوو تمثيل کوي چې د دوی ژوند ورځخه متأثر سوی وي.

مثلاً د "فتح خان او رابيا" کيسه چې اساساً بايد يوه ملي حماسه ورته ووايو د يوې ټولنې د ځوانانو او پېغلانو احساسات تمثيلوي. چې د خپلې سوبې تر سره کولو له پاره تر هغه وخته پورې جنګېږي تر څو يې د وينې وروستی ځاځکی په بدن کښې تمامېږي.

يا د "موسی جان او ګلمکۍ" په کيسه کښې د لوی خان. کوچني زميندار او د پښو لوېدلي تاجر زاده کرکترونه ټوله په ټولنه کښې په هر اړخيز ډول پېژندونکي عناصر دي. د دوی برخورد او د مناسباتو څېره په کيسه کښې پر هېڅ ځای نا اشنا نه ده.

په همدغه ترتيب د "آدم خان او درخانۍ" په کيسه کښې سر شاره مينه چې د قومي او قبيلوي مناسباتو تر بدو تأثيراتو لاندې غمجن رنګ اخلي. مور ته بېګانه

نه ده. بلکې اوس هم د دغسې روابطو ناوړه جريانات او ترخې نتيجې تر ډېره خايه په پښتني ټولنه کښې ليدای سو.

د دې قبيله د "ظريف خان او ماہی". "مومن خان او شيرينو". "جلاد خان او شمايلې". "دلی او شهو" او نورې ټوله هغه کيسې دي چې د واقعي ژوندانه له مختلفو اړخونو څخه د حکايت او شکايت هنداره ده. ددې له پاره چې پر دغه موضوع ښه رڼا لوېدلې وي نو تر لاندينيو کوچنيو عناوينو لاندې به يې وڅېړو.

## د پښتو پر شفاهي کيسه يوه تحليلي کتنه او څېړنه:

د پښتو شفاهي کيسې د نثر او نظم يو خاص ترکيب دی چې په نورو ژبو کښې چندان مثال نه لري په دغو کيسو کښې اصل ماجرا په نثر بيانېږي خو کله چې د کيسې قهرمانان او کرکټرونه د خپل مقصد حساس ټکي ته رسېږي، خو څرگندوي نو هلته بيا مطلب په منظوم ډول بيانوي او د کيسې دغه ځايونه د احساساتو او عواطفو څخه مالامال وي.

دغه شفاهي کيسې ډېرې اوږدې نه دي بلکې که يې د نوې داستان ليکنې له لنډو کيسو سره برابرې وبولونو بده مقايسه به مو نه وي کړې. خونه چې دا کيسې د فورم په لحاظ په نوي ادبي چوکاټ کښې برابرېدای سي نو د مضمون په لحاظ د يونان د قديمو منظومو شفاهي داستانونو سره نژدېوالی لري. د مثال په ډول "ايلياډ" د "هومير" يو منظوم داستان دی چې د يوې قديمې جگړې منظره ترسيموي او د دغې جگړې په دوران کښې د يوې قديمې ټولنې د خلکو عرف او عاداتو څخه هم داسې څه بيانوي چې هغه د اجتماعي تاريخ او تحولاتو په باره کښې زموږ معرفت ته مرسته کوي.

په همدغه ترتيب لکه څرنگه چې په "ايلياډ" کښې د ماجراوو جريان په ترتيب ځای لري نو د پښتو شفاهي کيسې هم د دغه ارزښت درلودنکې دي او په مقايسه کښې يې د "فتح خان او رابيا" کيسه ډېر ښه مثال کېدای سي.

د "هومير" په معروفو داستانو "ايلياډ" او "اوډيسه" کښې مهم ټکی دا دی

چې په دغو داستانونو کښې د اولس افتخارات خوندي سوي او دا په زغرده څرګندوي چې د اولس خلك د خپلې ټولنې د موجوديت ساتلو له پاره قهرماني کوي او دغه قهرماني دوی ته لوی وياړونه وربخښي. د پښتو په شفاهي کيسو کښې د "فتح خان او رابيا" کيسه هم وياړنې لري او موږ يې د ملي حماسې په حيث لمانځنه لرو.

د پښتو شفاهي کيسې د پښتنو د اجتماعي تکامل په پېژندنه کښې د ټولنې د تحول د يوې مشخصې دورې ښکارندوی دي. دغو کيسو ټوله د قبيلوي او فيوډالي مناسباتو علايم په ځان کښې ساتلي دي او د همدغه مشخصې دورې د نا آرامې وضعې څخه يوه لويه غوغا ده چې په غير مستقيم ډول د اولس له حنجرې څخه پورته سوې او د همدغه خښم د سرېدو په غرض غېر شعوري د هغو سره علاقه ساتل سوې څو يې تعميم پيدا کړی او له هېرېدو څخه خوندي سوي دي.

په نوي علمي داستان ليکنه کښې "واقعيت پالنه" د لومړي اصل په حيث منل سوې ده او کله چې دغه اصل د پښتو په شفاهي کيسه کښې ګورو نو هلته د کيسې حادثه. د حادثې محيط. د قهرمانانو کوښښ او د مطلب په لار کښې نه ستړی کېدونکی زيار او بالاخره د کرکټرانو برخورد په هر اړخيز ډول د واقعيت له احاطې څخه نه وزي.

د پښتو له شفاهي کيسو څخه د "فتح خان او رابيا" کيسه يوه حماسه ده. چې څو کسه پښتانه ځوانان غواړي خانته افتخارات وګټي او د دغو افتخاراتو د ګټلو په لار کښې ټوله مري او يواځې رابيا د داستان قهرمانه پاتېږي او هغه د فتح خان پر نامه ناسته وي او کله چې سپين سرې کېږي بيا د هغو شپېتو برېښو کيسې و کوچنيانو ته کوي.

د دغو کيسو په جمله کښې د مينې او محبت قهرماني هم تمثيل کېږي چې غوره نمونه يې د "آدم خان او درخانی" نکل دی چې د کيسې قهرمان زمين او زمان ته اور وراچوي او په توره ځان د خپلې مينې غېږې ته رسوي لکه چې په يوه ناره کښې هغې ته داسې وايي:

خان یم آدم خان یم زه په خپله مینه کړم غره په ځان یم
که مو مرګ نسو له میانه درخانیه زه به زوم د تاوز خان یم

د پښتو په شفاهي کیسو کښې د نامرادۍ او مظلومۍ مناظر هم شته. چې د دغو کیسو څخه د "مومن خان او شیرینو" کیسه ده چې تر اوږده هجران وروسته مومن خان له سفر څخه راځي او ناڅاپه وژل کېږي او په دهٔ پسې زهیره مینه چې کله خبرېږي نو په خپل مین پسې یې زهره چوي او په دې ډول کیسه د یوې خواشینې تراجیدۍ تمثیل کوي. خو د دغو شفاهي کیسو په جمله کښې کومه چې په هر اړخیز ډول د یو واقعي داستان له ټولو اصولو او ښکلاو څخه برخورداره ده هغه د "موسی جان او ولیجان" کیسه ده.

په دغه کیسه کښې د خانخانۍ پر ضد مبارزه د کیسې معنوي ښکلا ده. که څه هم د کیسې قهرمانه (ګل مکۍ) او قهرمان (موسی جان) د نا آرامه ژوندانه په پای کښې زهره چاودې کېږي خو د "تانو" په قهرمانۍ چې د لوی قاتل خان (سهیلی) غاړه پرې کېږي د اورېدونکي د انتقام جویۍ احساس ور سړوي.

په عمومي ډو ل پښتو شفاهي کیسې د هنري لحاظه دونه د پاکو او خالصو ادبیاتو نمونې دي چې زموږ په نوې داستان لیکنه کښې د هغو څخه هر ډول استفاده ممکنه او میسره ده.

## د پښتو په شفاهي کیسو کښې
## د حقوقي او جزایي تعاملاتو څرك:

حقوقي تعاملات او جزا د یوې ټولنې د اولني او ابتدایي مناسباتو ډېر ښه مثالونه دي. د انسان پېژندنې یوه لویه څانګه نن په دغه کار مصروفه ده او د ټولنو د کلتور معیارونه پر همدغه حقوقي او جزایي تعاملاتو څېړنې کوي او د اجتماعي تکامل د تحول او تطور پړاوونه پرې معلوموي.

په افغاني ټولنه کښې د حقوقي او جزایي تعاملاتو څرك په ډېر زحمت ایستل کېږي. ځکه د دوو زرو کالو څخه زیات پر دغه سیمه مختلف ادیان او مذاهب راغلي

دي. څو د هغو په اړخ کښې حقوقي او جزايي تعاملات له منځه تللي او په اکثره ځايونو کښې د شريعت او مدني قوانينو تعميم هغه له رواجه اچولي دي. بيا هم په هغو ځايونو کښې چې طبيعي شرايط يې سخت وي. نو تر اوسه لا هم حقوقي او جزايې تعاملات سته.

دغه حقوقي او جزايي تعاملات پوره څېړنه غواړي او يواځې چې تر اوسه کوم چا په دغه مسأله خوله وهلې ده هغه عبد الرحمن "پژواك" دی چې تقريباً دوه پنځوس کاله پخوا يې د "احمدزيو" په قبيله کښې دغه اصل تحقيق کړی او يوه مفصله مقاله يې د هغه وخت په کالنۍ کښې خپره کړې ده.

څو نه چې حقوقي او جزايي تعاملات موږ نن په ليرې قبايلو کې پيدا کولای سو نو دا د دغو ابتدايي محلي قوانينو تقريباً تازه شکل دی څکه حقوقي او جزايي تعاملات چې څونه د مدني قوانينو په تعميم له منځه ځي. نو په خپل بدوي حال کښې هم پر يوه حال نه پاتېږي. د دې له پاره چې د دغسې قوانينو ابتدايي اشکال په لاس راوړونو زموږ شفاهي کيسې ډېر غنيمت منابع دي.

په دې ځای کښې په ډېر اختصار سره دغه اصل د پښتو په يوه شفاهي کيسه کښې څېړو او دا کيسه د موسی جان او وليجان[۱] شفاهي کيسه ده چې استاد اسلانوف يې د "انتوګرافی موزيم" بولي.

په دې برخه کښې زه د حقوقي او جزايي تعاملاتو تصنيف نه کوم. بلکې په نوموړې کيسه کښې "هد او ساری" چې دوه مهم اصلونه دي. له حقوقي او جزايي نګاه څخه څېړم او په دغه ترڅ کښې به په عوامي ادب کښې د "بدلې - موټ او نيك" اصطلاحات هم تشريح کړم.

## جرم او جزا:

د ابتدايي ټولنې په حقوقي او جزايي تعلاماتو کښې هغه چې پر دوی

---

۱- د موسی جان او وليجان کيسه اکثرا د موسی جان او ګل مکی کيسې په نامه هم شهرت لري.

حاکمیت کوي "مړی ګول" یعني (قتل نفس، خون) خورا لوی جرم دی او څوك چې د دغه عمل مرتکب سي، نو د ده له پاره په مقابل کښې مجازات سته او د مقتول ورثه حق لري چې بدله واخلي.

په عوامي اصطلاح کښې دغه ته "پور" وايي او که د "ننواتې" یا "جرګې" په وسیله فیصله نه سي د مړي پور نه اخیستل یوه بې غیرتي ده.

پور په اصطلاحي لحاظ "دیت" ته نژدې او د پارسي له "خون" سره معادل دی(۲)

"هډ" او "ساری" چې د موسی جان او ولیجان په کیسه کښې راغلي دي هم پر قاتل د مقتول د ورثې له خوا یو "پور" دی چې په اخستلو یې خانونه مکلف بولي.

هغه مهال چې د دغې شفاهي کیسې دریم قهرمان (ولیجان) د کیسې د منفي کرکټر (سهیلي خان) له خوا مسموم کېږي نو د ځنکدن پر حال خپل زوی (میرولي) ته داسې وصیت کوي:

"میرولیه! پر سر سمه کړه بګړیه(۳) یومې (ساری) د سهیلي واخله
موسی لره بل راوړه ګلمکیه"

یعني زما "پور-خون" د سهیلي څخه واخله.

میرولي پر دغه وخت و پلار ته په دې ناره ډاډ ورکوي:

"بابا پلاره دا وصیت به دې خوار نه‌کم یو به دې ساری د سهیلی واخلم
بل به "هډ" او "ساری" وکم"

هډ او ساری تر هغه (پور) قدیم معلومېږي چې پژواك د احمدزیو په قبیله کښې تحقیق کړی دی. څکه پژواك وایي په احمدزیو کښې د (پور) خونبها (دری نیم زره کابلۍ) دی. په داسې حال کښې چې کابلۍ د پولي سکې په خاص نامه د محمد

---

۲- د ۱۳۱۸ سنډمې ۳۵ مخ د پژواك مقاله.

۳- پګړی پر سر سمول اصطلاح ده. یعني د پلار قایم مقام کېدل.

زیو د سلطنت سره رواج پیدا کړی دی. خو د (ساري) او (هډ) حقوقي او جزایي اشکال ډېر قدیم دي او په هغو وختونو پورې اړه پیدا کوي چې هلته دا بدله په جنسي یا پولي جبیره نه تر سره کېده.

کله چې موږ د پښتني قبایلو د هجرت لار ګورو. نو د غور ځخه د زمینداور او له هغه ځایه پر ارغسان او له دغه ځایه نو د هجرت وروستی پړاو او د پښور سیمې دي چې پښتنو کوچ ورته کړی دی او تر نن پورې په پښور او شاوخوا کښې چې د کوم پښتون ځخه پوښتنه وسي چې دوی له کومه ځایه هلته تللي دي نو وایي چې موږ له غوړې مرغې ځخه تللي یو. غوړه مرغه د ارغسان یوه سیمه ده.

د همدغه هجرت سره دغو قبایلو خپل عرف او عادات هم له ځانه سره نقل کړي دي.

هر کله چې دغه هجرت موږ ومنو نو زموږ د ځېړنې شفاهي کیسه چې د پیښې ځای یې د "زمینداور" موسی کلا ده. دغه عرف قدیم معلومېږي او ښایي چې دغه د "ساري" او "هډ" اصطلاح په وروستیو هجرتونو کښې بېل اشکال موندلي او پر مخ تللی رنګ به یې هم دغه (پور) وي چې د پکتیا په احمدزیو کښې رواج دی اوس به دغه دوې لاندې اصطلاحوې وځېړو.

## ساری:

ساری د برابر په معنی راغلی دی خو زیاتره د ذیروح له پاره استعمالېږي. مثلاً "توریالی د ننګیالي ساری دی" یا "سور اس د سپین اس ساری دی".

په تعاملي ډول دغه ساري د "بدلې" په وخت کښې داسې اصطلاحي شکل هم غوره کړی‌دی‌چې په ذیروح(ژوندي)کښې بدله باید دبرابری تر قانون لاندې وي.

کله چې په نوموړې کیسه کښې "ولیجان" د خپل زوی "میرولي" ځخه غواړي چې زما "ساری" واخله نو معنی یې دا ده چې نه یواځې زما ساری واخله بلکې په برابری زما مړی پکښې وکه یا د لفظ په عمیقه اصطلاح په خپله "سهیلي خان" مړ که.

## هډ:

د لفظ په لحاظ هډ (استخوان) دی خو په عامیانه اصطلاح کښې پلرګنۍ ته ویل کېږي

مثلاً وایې "د زمریالي هډ د بریالي سره شریك دی" یعني په پلرګنۍ کښې یوې قبیلې ته سره منسوب دي.

لکه د کورنۍ سلسله چې د "وینې، کولمو، او اینې" په نامه یادېږي او وایي چې د خوریي وینه له ماما سره شریکه ده، نو معنی یې دا ده چې په مورنۍ لار کښې سره شریك دي.

یا یوه مور وایي: "که نه وای د کولمو، رنګ دې نه و د کتو" (متل) یا په عامه اصطلاح کښې وایې چې: "زمریالی او بریالی داسې سره ورته دي ته وا پر یوه اینه یې سر سره ایښی دی." دغه اصطلاحات ټوله د مورني روابطو ښکار ندوی دي په همدغه ترتیب د پلرني روابطو په مرحله کښې "هډ" یوه وروستۍ اصطلاح ده.

هغه مهال چې "میرولي" خپل پلار ته د ده د وروستي وصیت د پر ځای کولو له پاره هغه ته ډاډ ورکوي چې "بل به هډ او ساری وکړم" نو د "هډ" ځخه مراد دا دی چې "سهیلی خان" زما په قبیله کښې "هډ" مات کړی نو د هغه بدله به په "هډ" واخلم. د (هډ او ساري) په اصطلاح کښې میرولی پر (سهیلي خان) پور لري. په دې برخه کښې د حقوقي او جزایي تعاملاتو پیروان خپل هدف نه خطا کوي.

مثلاً ولیجان د یوې زړې ښځې له خوا مسموم او وژل سوی خو میرولی په هغې کار نه لري، بلکې هغې ته تحریك ورکوونکی یعنې اصل دښمن په نښان نیسي، تر څو دی هم په دې لار کښې مړي خو د دوی ټولو بدله د ولیجان خور (پېغله تانو) له سهیلي څخه اخلي.

## بدله:

بدله یا بدل د "ساري" سره ورته دی خو ساری قدیم دی او بدله وروستی شکل دی. څکه بدله جبیره کېدای سي او دا جبیره اکثره په نقد سره هم صورت نیسي. د بدلې په باره کښې یو څه چې هېڅ نه بخښل کېږې هغه د بدلې پرېښونه ده.

په قبيلوي مناسباتو کښې که کوم څوك بدله وانخلي هغه د بې غيرتو په جمله کښې شميرل کيږي او په مشکل د قبيلې په منځ کښې ژوند ته ادامه ورکولای سي.

## نيك:

نيك د يوې بدی په جبيره کښې يوه تاديه ده چې يا په پيسو تر سره کيږي او يا د ښځو په ورکولو عملي کيږي، خو نيك که څه هم رواج دی، خو د نيك اخيستنه چندان ښايسته نه ايسي صرف د بې واکه خلکو له پاره يوه پرده ده.

په (ږوب)(۴) کښې د "جانان او رابيا" يوه تازه عوامي کيسه سته چې د جانان قهرمانۍ له انګليسانو سره هلته ډېر شهرت لري. د جانان پلار د ده په کوچنيوالي کښې مدعيانو مړ کړ او اکاګانو يې (نيك) واخيست کله چې جانان ځوان سو نو چې خپلې ښځې (رابيا) ته يې د واده بلنه ورکړه هغې ناره پر وکړه:

پلار دې سود کاوه مرداره
تا يې نيك واخيست جانانه!

جانان چې دا واورېدل نو "را بيا" ته يې په دې ناره ډاډ ورکړ:

که مې مړ نه کړ سبا
بيا مې نو بد بوله رابيا

## موټ:

موټ تقريباً د هډ معادل دی او په کاکړستان کښې تر اوسه پالل کيږي. د جانان په کيسه کښې چې رابيا د جانان په وروستۍ ناره ډاډ حاصلوي نو هغه ته په ناره کښې داسې وايي:

زما يقين دی پر لالا
چې "موټ" به واخلي د کاکا (۵)

---

۴- ږوب په جنوبي پښتونخوا کښې د کاکړو يوه سيمه ده.

۵- اولس د کوېټې چاپ د ۱۹۶۳ کال د اکتوبر- نومبر ګڼه. ۱۶۰ مخ.

# د پښتو یوه شفاهي کیسه
# د داستان لیکنې په هنداره کښې

د دې کتاب په ترمخنیو مخونو کښې دا خبره زیاته څېړل سوې او قناعت ته رسېدلې ده چې د پښتو شفاهي کیسې اکثراً داسې جوړې سوې دي چې کله یې سړی اوري یا یې لولي نو د کیسه لیکنې په فن بلد سړی پوهیږي چې په هغو کښې د داستان لیکنې دفن اصول مراعات سوي دي دا اصول په شعوري ډول په دغو کیسو کښې نه دي ځای سوي بلکې ولسي تخلیق هر ځای دغسې کمالات لري.

زه پوره باور لرم چې که دغه کیسې په نوې نړۍ یوه په اصول بلد د داستان لیکنې استاد ته ور وړاندې سي نو هغه به کاملا داسې فکر وکړي چې دا د یوه پاخه لیکوال او داستان لیکونکي د فکر او قلم شاهکار دی.

ددغو کیسو په جمله کښې یوه کیسه چې د "موسی جان او ولیجان" په نامه شهرت لري او ددغه کتاب څېړنه هم هغه ته وقف ده تر تحلیل لاندې نیسو. که څه هم په تر مخنۍ برخه کښې د حقوقو او جزایي تعاملاتو له نګاه څخه هغه وڅېړل سوه، نو دلته دغه کیسه چې په ربښتیا د "اتنوګرافي" یو موزیم دی د داستان لیکنې له پلوه څېړو او دا څېړنه به په لاندې ډول په کوچنیو عناوینو وویشو:

## د موسی جان دکیسې اجتماعي او هنري ارزښتونه:

په اجتماعي لحاظ د دې کیسې ارزښت د افغاني کلتور په ساحه کښې د افغاني فولکلور محقق مستشرق "م-ګ-اسلانوف" بیان کړی دی. هغه وایي چې داد

"اتنو ګرافي(۱)" د یو موزیم په شان دی موږ ته په افغاني "اتنو ګرافي" کښې مطالعه او څیړنه د یو خاص علمي ضرورت پر بنا مهم کار دی د پوهنې په صلاحیت یې باید تر سره ورسوو.

آیا موږ به دې پوهېدنې ته څونه ضرورت لرو چې د خپل اجتماعي تکامل تاریخ راته معلوم سي؟ په پوره زړه ویلای سو. چې هر څونه په دغه لار او لوی مقصد کښې بریالي هدف ته ورسېږو هغونه بهٔ مو یو علمي خدمت سر ته رسولی وي.

ددغه ستر هدف له پاره ممکن موږ مختلف منابع د خپلې څیړنې او تحقیق له پاره ولرو په دغو ټولو کښې شفاهي ادب ډېره سالمه لار ده. دا کار چې موږ کوو نو نن د علم په نړۍ کښې یو عام رواج دی او پر علمي متودونو بنا ددغې نوې پوهنې په رڼا کښې د انساني قدیمې دنیا د کلتور مطالعه او څیړنه د پوهانو له خوا روانه ده.

یوناني "هومیر" ته منسوب داستانونه چې د قدیمې دنیا له پاره یوه داسې منبع ده چې په هغه کښې د بشري کلتور په کړۍ کښې د فامیلي تحول او تکامل ډېر پټ رموزات حل کېږي.

د "مورني حق" څخه "پلرني حق" ته د انتقال د بدلون په باب نه تاریخ سته نه نېټه خو د بشري فولکلور په قدامت کښې دا خبره تر ډېره ځایه حل سوېده.

صلبي قرابت او د وینې اشتراك په بشري کلتوري مناسباتو کښې د فامیل د لوی تحول وروستۍ مهره ده چې د "مورني حق" مراحل په بیلېږي.

په دې باب د "هومیر" په "ایلیاډ" کښې دا برخه ډېره جالبه ده هغه مهال چې "کلایتمستر" خپل مېړه (اګاممنون) چې تازه د "ترای جان" د جنګه راستون سویدی د خپل مین (اجسیتس) په خاطر وواژه خو ددې زوی (اوریستیز) چې د "اګاممنون" څخه ؤ د خپل پلار د وژلو په انتقام کښې خپله مور مړه کړه. پر دې خبره نو د "مورني حق" د عفریتي مدافعینو (ایرنیز) له خوا دې تعقیب سو څکه د

---

۱- افغانستان‌نشنلسټي د مسکو چاپ (۸۳) مخ.

"مورني حق" سره سم د موروژنه نهايتي بد کار او له غير قابل کفاره جرايمو څخه ګڼل کېږي.

کله چې په محاکمه کښې "اتينا خداى" د حکم په نيت ناست دى نو "کلايتمستيرا" د "اګاممنون" په قتل ډېره محکومه بولي خو د "اورستيز" جرم ډېر درونډ بولي ځکه هغه د "وينې په ارتباط" کښې بې احترامي کړېده. (۲)

ښه اوس به نو په دغه ترتيب زموږ ځېړنې په وړاندې شفاهي کيسه د ښتني نظام له پلوه و ځېړو خو دا ځيړنه مو ځرنګه چې د اجتماعي تحقيق له پلوه تر مخه کړيده نو يو مختصر نظر به دلته پر واچوو. د کلام په اختصار بايد ووايو چې د "موسى جان او وليجان کيسه" زموږ د اجتماعي مناسباتو د تاريخ داسې مراحلو ته ور نژدې ده چې هلته د يوې مشخصې دورې څخه ټولنه ويوې بلې مشخصې دورې ته ور تحويلېږي. په دې کيسه کښې ځرګند مسايل نه دي تشريح سوي. خو زموږ د بدويت څخه و نيمه مدنيت ته د ټولنې انتقال دور را معرفي کوي. موږ د حقوقي او جزايي تعاملاتو په برخه کښې يو لړ حاکم عادات وښوول چې هغه د دغه مطلب شاهدي وايي.

په عمومي ډول ددغې شفاهي کيسې له فحوا څخه معلومېږي چې په دغه وخت کښې داسې مناسبات حاکميت لري چې هغه د "نيم غلامي" او "فيوډالي" دورې معرف دي.

تر دې ځايه خو د کيسې هغه ارزښت بيانېږي چې هغه د يو اجتماعي محقق له پاره په درد خوري اوس به يې پر فني ارزښتونو يو څه رڼا واچوو.

## دموسى جان او وليجان کيسه دهنري ارزښت له مخې:

په هنري لحاظ ديو داستان ښه والى دا دى چې په لومړي سر کښې د داستان قهرمان، د داستان فضا، د کيسې موضوع او بالاخره د هغه تم د واقعيت پر

---

۲- د فاميلي شخصي ملکيت او دولت ميداد انګليس څخه د نوميالي ترجمه ۱۹ مخ (تيپي نسخه).

محور وڅرخي.

د واقعيت څخه مراد دا نه دی چې حتماً به د کيسې قهرمان د ماجرا او محيط څخه زيږېدونکی کرکټرونه او يا به د کيسې فضا او موضوع په يوه مشخص جريان پورې اړه لري. که په يوه کيسه کښې دغه ياد سوي خصوصيات يو ځای سی او بيا يې يو ليکوال‌دداستان ليکونکي په حيث په هنري پوهښ کښې واچوي دا خو يو خورا ښه کار دی او دا اثر به واقعاً يو نخبه اثر وي. خو د واقعيت پالنې څخه يواځې محدوده او منحصره ساحه نه ده بلکې هر داستان چې که هر څونه د تخيل څخه زيږېدلی وي خو که په ټولنه کښې د واقعيت څخه مأخذ ولري يا په ساده ژبه د ټولنې د مناسباتو واقعي منعکس کوونکی وي هغه داستان د واقعيت پيرو بلل کېږي.

اوس به نو د "موسی جان" د کيسې هنري ارزښتونه وڅېړو.

## د دغې کيسې قهرمان او کرکټرونه:

د "موسی جان او وليجان" په شفاهي کيسه کښې د متضادو اړخونو جنګ د يو شمير مثبتو او منفي کرکټرونو تر منځ روان دی او د تضاد تر اصل لاندې د خصوصيت يو شمېر داسې ماجرا وې منځ ته راوړي چې په هغو کښې د کيسې له قهرمانانو سره هر اړخيزه مينه پيدا کېږي.

د خانی په نظام کښې چې کوم ټاکلي علمي حدود او مشخصات پېژنو هغه په دغه شفاهي کيسه کښې په ډېر ښه وضاحت معلومولای سو. نو دا سبب دی چې دغې کيسې ته د اسلانوف په اصطلاح د اتنوګرافۍ د موزيم لقب ورکړل سويدی.

په دغه کيسه کښې سپېڅلې کليوالي مينه د سرسخته انتقام او طبقاتي مجادلې سره غاړه په غاړه ځي او د دغه ماجرا قهرمانان ټوله د فيوډالۍ نظام تر جبر لاندې سره لاس او ګرېوان دي.

موسی جان يو کليوال تاجر زاده د سهيلي نومي لوی خان تر چپاو لاندې دی. وليجان يو خرده مالك دی چې په ځوانمردۍ پېژندل سويدی. سهيلي ټبل د ډېرو بزګرانو او غلامانو بادار خان دی چې د وطن هره ښايسته پيغله د ده د شهوت

ملعبه ګرځي.

ګلمکۍ د يوه مرفه کليوالي سوداګر لور ده چې د موسى جان په نکاح ورکول سوې او د خپل نامزاد با وفا مينه ده چې خان يې د خپل شهوت قرباني ګرځوي.

"تانو" د وليجان پيغله خور ده چې د کيسې ماجرا ته په خپله قهرمانۍ خاتمه ورکوي او د سهيلي خان سره د تن په تن جنګ پر وخت هغه وژني "ميرولي" د وليجان نوی ځوان سوی زوی دی چې د خان سره په جنګ کښې په غدر وژل کېږي.

په دې کيسه کښې يو مشخص قهرمان نه دی ځای سوی. بلکې يو شمېر قهرمانان دي چې هر يو صحنې ته راځي او په قهرمانۍ سره د خپل رول تر ادا کولو وروسته له صحنې ځخه وزي.

د دغې کيسې د قهرمانانو په اړخ کښې يو حيواني وجود هم وصف سوی او دا نو د "پړانګي" په نامه يو اس دی چې زلمی قهرمان "ميرولي" د جنګ پر ميدان و افتخاراتو ته رسوي.

لکه ځرنګه چې اروپايي نوي ناولونه په خاص ډول لنډې کيسې چې د خپلو قهرمانانو او کرکټرانو په رول کښې د هغو په تمثيل کښې پر اسلوب برېالي دي. نو د پښتو دغه کيسه هم د دغې ارزښت درلودنکې ده او د کيسې اجتماعي ارزښت هم د هغې د قهرمانانو کرکټرونو او د هغو په برخورد کښې ځرګندېږي.

## د کيسې فضا او طرح:

په يوه اجتماعي ادبي داستان کښې د فضا طرح ډېر اهميت لري. د فضا ځخه مراد هغه زماني او مکاني شرايط(۳) دی چې د داستان ماجرا پکښې خلق کېږي.

---

۳- غلط ننويسم. د فريدون کر اثر. بعد از مقدمه ۲۷ مخ.

په داستان ليکنه کښې د اجتماعي اسلوب له پلوه (فضا) د هغو حدودو ممثل ده چې د يوې ټولنې د اجتماعي مرحلې ممثل او معرف وي. د دې له پاره چې د خپل ټاکلي تحقيق څخه د ادبياتو د اجتماعي مکتبو فروعاتو ته سرګردانه سوي نه يو نو پر دې به قناعت وکړو چې د "واقعيت پالنې" د مکتب په شېوه د يوه داستان لوی ارزښتونه په "فضا" کښې پراته دي.

د "وليجان او موسی جان" د پښتو شفاهي کيسه د "زماني" او "مکاني" شرايطو له لحاظه ډېره غني ده. د دغې کيسې فضا د خانخانی د نظام تر حاکميت لاندې د يوه لوی کليوالي تاجر او کوچني زميندار (خورده مالك) تر مينځ د عادي مناسباتو هينداره ده. د عادي مناسباتو څخه زما مراد د طبقاتي تقسيم پر لار د دغې کيسې د هر کرکټر د فکر او عمل حرکت دی چې ساينتفيك مأخذ لري. د دغې کيسې د فضا د کوريشن د يو لوی خان تر کلا لاندې يو زرغون وطن دی چې د يو لوی چپاو تر ورانی وروسته په محلي استعداد يو څه ژوندی سويدی.

خان خپله خاني کوي. بزګر خپله بزګري کوي خو د دغه حال د ډينامك بدلون له پاره دوه عنصره د تکوين په حال کښې دي. خورده مالك (وليجان) او محلي تاجر د (ګلمکی پلار او اکا) د "سهيلي خان" (محلی فيوډال) د منافعو دښمنان دي. خو دغه دښمني علانيه او ځرګنده نه ده. بلکه د کيسې يا (داستان) د فضا طرح داسې راغلې ده چې دوی بايد يو د بل په مقابله کښې غير شعوري حرکات داسې انجام کړي لکه څرنګه چې د يو علمي اجتماعي او ادبي داستان طرح اجازه ورکوي.

"ادګارالن پو" وايي: "د يو ناول ليکونکی کولای سي چې د يوه داستان او طرح د هغه د کرکټرونو سره په پرله پيچلي ډول يو قسم اغېزې په لوستونکي کښې پرېږدي".

اوس به نو وګورو چې د پښتو دغه شفاهي کيسه د خپلې طرحې په لحاظ د خپلو کرکټرونو سره څرنګه اغېزې په يوه اوريدونکي کښې پرېږدي.

مثلاً د يو متجاوز خان هغه تېری چې د ناموس حدود هم پايمالوي د څه

ډول عکس العملو سره مخامخ کېږي، په دې پسې په يوه ډراماتيکه صحنه کښې د خان ګېرېدل چې د يوې پيغلې (تانو) له خوا يې د تن په تن جنګ په ميدان کښې سر پرې کېږي، يوه داسې اغيزه لري چې پس له ډېرو هيجاناتو څخه يو اوريدونکی مطمئن انتقام ته وصل کوي.

کليوالي ژوند او د هغه سادګي او دغه په تخريب محکوم حالت په دغه شفاهي کيسه کښې د يو اجتماعي ليکوال له پاره بې شمېره مضامين لري، دا کيسه په يوه فيوډالي فضا کښې سره پرله پېچل کېږي او سره خلاصېږي او طرحه يې ډېره طبيعي ده.

## تصادف او بحران:

په داستان ليکنه کښې تصادف او بحران د داستان د حرکت تمثيل کوي، څرنګه چې تصادف او بحرانونه د ژوندانه په عادي جريان کښې ښه برخه لري نو په داستان کښې د هغو تمثيل هر اوريدونکی او لوستونکی تر خپل تأثير لاندې راولي او هر څونه چې يو ليکوال د عادي ژوند له مسايلو سره د ذهنيت له لحاظه اشنا وي هغونه دغه برخه په داستان کښې ښه ځايولی سي.

د يوه ښهٔ داستان او کيسې په څرګندو علايمو کښې د تصادف او بحران تثميل پوره اغيزه لري.

خو د ډېرې توجه وړ خبره دا ده چې تصادف له عادي حال څخه خارج نه سي، يعني د لوستونکي ذهن په متا فزيکي څرخ کښېنباسي، بلکه که تصادف هم واقع کېږي د هغه علل که واضح نه وي ابهام يې بايد دونه ورك نه وي چې د لوستونکي ذهن سره وپاشي.

بحران هم دغسې دی. په داستان کښې بحران د لوستونکي ذهن او احساسات په مد او جزر راولي او د داستان کيفيت په بحران کښې پروت وي، خو دا بحران که د ثابتو علتونو پر بنا نه وي راپورته سوی او بې نتيجې و پای ته ورسېږي داسې وضع د داستان کمزوري ښيي.

د نړۍ نخبه داستانونه د تصادف او بحران له لحاظه علمي حیثیت لري. نو ځکه یې ارزښت د نړۍ په ادبي او علمي ټولنو کښې دوام پیدا کړی وي.

د پښتو د "موسی جان او ولیجان" په شفاهي کیسه کښې د تصادف او بحران دواړې برخې داسې ځای لري چې د اورېدونکي ذهن د ماجرا د علتونو او نتیجې څخه کاملاً قانع ساتي. د "ولیجان" او "موسی جان" سره اشنا کېدل او د "ولیجان" په کور کښې د موسی جان د کاکا د لور او د معشوقې ګلمکی د خور "شابیبنې"(۲) سره د هغه لیدل یو تصادف دی خو دا تصادف داسې نه واقع کېږي چې د عادي ژوندانه له جریان څخه خارج وي یا یې علتونه د ژوند په عادي صحنه کښې مأخذ و نه لري.

د دغې شفاهي کیسې بحران په بېلو بېلو برخو کښې اوج ته رسېږي. خو بیرته په عادي ډول هوارېږي. "سهیلی خان" د ظالمانه قضاوت په مقابل کښې چې کوچنی مالك (خورده مالك) ولیجان یاغي کېږي او د "سهیلي خان" ماینه تښتوي. د کیسې د یوه کرکټر (شابیبنې) په ژوند کښې دایمي تغییر واردېږي او دا بحران هم ځانته ثابت علتونه لري.

## تم او نتیجه:

تم د هغه فکر په معنی تعبیر کېږي چې د داستان شا ته ځای کړه سوې وي. د داستان لیکنې په فن بلد او پاخه لیکوالان پر دغه کار موفق کېږي. یو داستان لیکونکی خپل مطلب د داستان د قهرمانانو او کرکټرانو په خوله بیانوي او د دې له پاره چې د واقعي محیط او ماحول ښه وښیي نو په الفاظو کښې د دیکوریشن کار کوي. په دغه جریان کښې د کرکټرانو برخورد او د محیط او فضا طرح باید داسې ترسیم کړي چې د طبیعي او عادي حال څخه دباندې نه سي او هغه فکر چې د داستان لیکنې په فن کښې په تم سره اصطلاح کېږي د داستان په پای کښې هغو

---

۲- د موسی جان او ولیجان په کیسه کښې دا ښځه د بیبی او کله د "شابیبنې" په نامه یادېږي.

نتيجو ته ورسيږي چې د داستان جوړوونکي مقصد وي او د ده فکر په غير مستقيم ډول د داستان د اوريدونکي له ذهن سره ارتباط پيدا کوي. ښه داستان هغه دی چې د تم نتيجه يې په واقعي ډول سره د لوستونکي په ذهن کښې خپله اغېزه وښندي. زموږ د څېړنې په شفاهي داستان کښې دغه برخه پوره ځای لري. د موسی جان او وليجان داستان چې يو شفاهي داستان دی او د تخليق افتخار يې په اولس اړه لري. د تم او نتيجې په لحاظ ډېر غني دی. د دغه داستان شا ته چې کوم فکر ځای کړه سوی دی هغه پر ډېرو عالي او مترقي بنيادونو ولاړ دی.

د طبقاتي تضاد تصوير او د هغه څخه زېږيدونکې اجتماعي نتيجې د داستان شمزۍ جوړوي. د خانخانۍ د نظام خصوصيات او د هغو په مقابل کښې څوانمردانه مبارزه د لوستونکي او اوريدونکي روحيه ډېره عالي مدارجو ته رسوي. بالاخره د داستان تم و داسې مترقي نتيجې ته رسېږي چې حق په نه پخلا کيدونکې مبارزه خپل ځای نيسي.

# څلورمه برخه



# په اولسي ادبي فورم کښې
# د موسی جان او ولي جان کيسه

لکه چې په مقدمه کښې مې ليکلي وو چې د دغې څېړنې، نه پای کښې به د موسی جان او وليجان کيسه په هغه رنګ کښې وړاندې سي چې په ټام اولس کښې رواج لري او بيا به دغه کيسه د "شارټ سټوري" د ادبي فن د اصولو په مراعات وليکل سي:

نو دا دی لومړی نوموړې کيسه په خپل عام اولسي رنګ کښې وړاندې کېږي:

## د موسی جان او ولي جان کيسه:

ته وابنه !!! په پخوا وختو کښې يو باچا ؤ. د دې باچا نوم سهيلی ؤ: څلويښت ماينې يې درلودې. د دغه باچا په وختو کښې دوه ورونه وو چې د يوه نوم فيروز ؤ. د بل نوم نوروز ؤ. د دې فيروز اووه لونې وې. د نو روز اووه زامن وو. دوی دواړو سوداګري کوله. خورا ماړه او دولتمن وو. خورا ډېره دنيا يې درلوده.

يو وخت فيروز او نو روز دواړه په سوداګری ولاړل دوی چې تله د دواړو ماينې حمل دارې وې. دوی پر لارې سره ووېل چې هر يوه ته چې خدای ﷻ زوی

ورکی او هغه بل ته یې لور ورکړه د هغه لور به یې د دې بل د زوی وي. دوی نو پرېږده. خیر بله ورځ سهیلی باچا په خپله بنګله کښې ولاړ دی دوربین یې اچولی دی. شاوخوا ګوري خپلې تماشې کوي. کارونه د خدای دي یو وار یې نابېره د دې فیروز کور ته دوربین برابر ...، د فېروز یوه داسې ښایسته لور ده چې ګل پورې مبتلې په غاړه کښې یې اوبه ښکار ږي. نازك نري شونډان. تورې بادامي غټې سترګې یو سپین بشر یې دی. چې څه درته ووایم دا هم پر بام ناسته ده. سر یې غوړولی دی ږمونځوي یې. تر دې نورو شپږو خوندو دا کشره ده نوم یې "ببی" ده. څوك وايي "شاه بیبنه" وه. دا سهیلي ولیدله.دروه پرې مین سو. د توانه یې ووتله. طاقت یې نه کېږي. خو هغه کور او ماله یې نښاني کړه د بامه څخه راکښته سو. دستي یې خلق ورولېږل چې تاسې وګورئ دا د چا کور دی. د چا لور ده. څوك ده! سړي راغله څرك یې وایستی. بېرته باچا ته راغله ورته ویې ویل چې دا ښځه د فیروز لور ده. نو یې دستي مرکه ورته راولېږله. خلق چې راغلل. د فیروز دروازه یې وروټکوله. هغو ورته وویل چې زموږ باچا پر ببی مین سوی دی. در څه غواړي یې. دا نقل یې ورته وکئ...

ښځو ورته وویل چې نارینه مو پر کور نسته او پلار یې هم په سوداګری تللی دی. تاسې دونه صبر وکئ چې پلار یې راسي.

مرکه چیان بېرته راغلل باچا ته یې دا حال ووایه باچا هم زور نه سوای پر کولای. پرې یې ښووله.

که څه هم ډېر بې توانه ؤ. خو پر ځان یې تېروله دا یې مناسب نه ګڼله چې په زوره یې وغواړي.

خیر! یوه موده چې تېره سوه. فیروز او نو روز د سوداګری څخه راغلل. سهیلی په خبر سو. دستي یې فیروز هورې وروغوښت ډېر دار و مدار یې ور سره وکئ. اخر ته یې ورته وویل چې: دغه ستا کشره لور ببی نامې به ما ته راکوې! فیروز ورته وویل چې زه ګوره. ته ګوره! زه مسکین سړی یم. ته باچا یې زما و ستا سره څه دي. یه نه یې درکوم!

سهيلي ډېرې زارۍ ورته وکړې. خو فيروز يې نه ورکوي. آخر ته سهيلي ورته ووېل چې ښه دی نه يې راکوې. نو تا به هم مړ کم. لور به دې هم په زوره راولم. فيروز فکر وکړ چې د باچا سره خو هېڅ نه کېږي. هم به تا مړ کي او هم به دې لور بوزي. اخر ته ناچاره سو. ويل ښه دي در کوم يې.

بله ورځ سهيلي بيا مرکه ور واستوله. ببۍ يې ورکړه. ببۍ يې په ډېر عزت ور واده کړه، هره رنګه واده چې ؤ ؤ به. و فيروز ته يې ډېره دنيا ورکړه. نهايتي يې خوشاله کړ. ببۍ يې کور ته راوستله. تر څلوېښتو مياښتو يې غوره کړه او تر ټولو پر ګرانه ده، خورا عزت يې کوي. ببۍ هم د باچا په حق کښې خورا راسته ده، چې باچا د باندې څخه راسي، دا يې دروه پر مخ دسمال ور تېر کي. موزې او مچنۍ يې ور پاکې کي (دوی دلته پرېږده عيش دې کوي).

نوروز او فيروز بيا په سوداګرۍ ولاړل، خو د هغې خوا چې راتله، خورا ډېره دنيا يې پيدا کړه د ماينو يې هم د حمل موده نه مياشتې نه ورځې نه ګړيه پوره سوې دې، د دې فيروز بيا لور و زېږېدله. د نوروز زوی پيدا سو د فيروز د لور نوم يې "ګلمکۍ" کښېښود او د نوروز د زوی نوم يې "موسی جان" کښېښود. دستي يې د ګلمکۍ او د موسی جان نکاح سره وتړله.

خير! عمر دی تېرېږي، نو لس دوولس کاله په دې منځ کې تېر سول. موسی جان او ګلمکۍ د وړوکوالي څخه سره مين دي، يوه ګړۍ يې توان نه سره کېږي. مګر زړونه يې ښغمه دي، چې په حلاله نکاح يې سره ورکړي يو نو نن يا سبا به مو سره واده کي.

کارونه د خدای دي فيروز مړ سو، فيروز خو زوی نه درلود. نو د موسی جان مور و نو روز ته ووېل چې ورسه دا نجلۍ ځنې را ولاړه که سبا به يوه بده ويرانه پېښه سي.

نو روز د ګلمکۍ کره ورغی چې زموږ ښځه په لاس راکه ګلمکۍ خو په کوچني والي پلار زما و زوی ته را کړې ده او فيروز هم دغسې وصيت کړی دی، د ګلمکۍ خوند و او مور يې ورته ووېل چې يه! د مړه خبره په مړه پسې ولاړه - که

تاسې ومور ته پوره ولور راکوئ خوښه که نه وي نه سره رسېږي. دوی نا علاجه سوه ولور یې ورکئ څه یې پاته سو وې ویل که هر وخت دې دغه نور ولور راکئ نو به یې وادہ کې

د موسی جان تول وروڼ سوداګري کوي. دی هېڅ نه کوي یوه خاشه پر بله نه ایږدي په دې ماین کښې نوروز هم مړ سو- دا موسی جان ورسره په تکلیف سو ورونو ته یې وویل چې ماته ویش راکئ ورونو یې فکر و کئ چې موسی جان تر مور تولو کشر دی کوچنی هلك دی مبادا سبا به یې یوه بده وبیرانه د لاسه ختلې وي تول به پورې حیران یو ورته - ویل یې چې ښه دي ویش درکوو څو ویش یې ورکئ موسی جان جلاسو د ګلمکی دمینې اور یې په زړه کښې بل دی مګر د پښتني غیرته څخه څه نه وایي - موسی جان ډیر ښه زلمی او سخي سړی ؤ موسی جان هره شپه ساز او صحبت کوي. مجلس وي ورونه یې هم څه نه ورته وایي خو موسی‌جان په پنځو شپو کښې هغه د پلار ګټلي ګرده سره وبازله الفي الا سو هغه یاران چې دده سره به یې ډوډۍ خوړله او عیشونه یې کوله هغه توله ورځنې بیزاره سول.

یوه ورځ د موسی جان مور وزوی ته وویل ورسه خپله ماینه دې را واده که دی چې راغی هغو ورته وویل روپۍ راوړه ده روپۍ نه درلودې هغو ښځه په لاس نه ورکوله.

موسی جان ته غیرت ودریدئ دا یې مناسبه نه ګڼله چې په زوره دښځو څخه ګلمکۍ راوباسي او بل یې سهیلی زوم او اخښی دی زه یواځې یم نو یې فکر وکئ چې ګورم خو طبیعت یې خته دی چې دا څنګه چل پیښ سو. نو یې دا مناسب وګڼله چې ددې وطن څخه ورك سم نو رارهي سو - هله هله راغی مزل په مزل تر خپل وطن راووت یوې بلې علاقې ته ورغی ډېر وړی دی د یوې کلا د مخه سره څو کسه بازي کوي مجلس دی. دی راغی سلام یې ور واچاوه هغو ستړي مشي ورته وکړه زیاتي یې چرت نه پکښې وواهه. موسی جان ورته وویل چې خانانو زه مزدوري کوم خلکو چې دده رنګ ته وکتل په نظر یو شازاده ورغی ولې د ده ډېره ښه سکه وه نازك بدن یې ؤ فکر یې وکئ چې دا سړی مزدوري نه سي کولای نو یې

ورته وويل چې يه - نه ته مزدوري کولای سې او نه موږ مزدوري درکوو.

خير! د غيرته يې غږ ونه کئ هيڅ يې ونه ويل ددغه ځای څخه رارهي سو خو دغسې وړی تږی بلې کلا ته راغی بيا څو کسه سره ناست دي بيا ده ورته وويل چې مزدوري کوم هغو هم فکر وکئ چې ګوروان نه لرو ګوروان به يې کو. ګورم په بيايي - ورته ويې ويل که ګورواني کوې خوښه دي زموږ ګوروان هم وتلی دی. موسی جان ويل ښه دي - ابس کلي هم ګورم په لاس ورکئ خپل ګورم پيايي هره ورځ يې يوه چمن ته بيايي - راولي يې ماښام ټوکان ټولوي خو فکر يې ډېر بد او طبيعت يې خته دی.

بله ورځ يې يوه بل چمن ته ګورم بوت که ګوري په دې چمن کښې يوه د خاشو کوډله ولاړه ده په دې کوډل کښې يو ملنګ ناست دی يو رباب ورته څرېږي.

موسی جان ورته راغی سلام يې ور واچاوه ملنګ سترې مشي ورته وکړه. ويل څوانه د کم ځايه راځې - ده ورته وويل چې زه ددې کلي نوی ګوروان سوی يم - خو راځېه يم که يوه ګړی دغه رباب راته ووهې! ملنګ هم رباب راواخيستی سر يې کئ - داسې رباب يې وواهه چې تو به د دې موسی جان او ملنګ سره اشنايي سوه. موسی جان هره ورځ دغه چمن ته بوده راولي پيايي يې. د موسی جان او ملنګجان سره اشنايي سوې ده او ملنګ خپل رباب سره وهي. اخر ته موسی جان هم رباب زده کئ سات يې پرې تير دی "دوی نو دالته پرېږده!"

يو سړی چې وليجان نومېږي د وليجان يو څه مځکه وه د يو سړي سره يې پر دغه مځکه دعوه وه خو دغه دعوه تر سهيلي پورې ورسېده. دا سړی ډېر دولتمن ؤ د باچا سره هم تيار و شاوخوايې رشوت و پاشه څو سهيلي پر وليجان حکم وکی چې ملامت يې که څه هم باچا په خبر ؤ چې حق د وليجان په جانب دی.

د وليجان خورا طبيعت خراب سو ويل خير! زه به هم خپل واري ته ګورم کور ته ولاړ. هلته د سهيلي د ماينو اوقات تريخ سو. باچا هېڅ کاته نه ورته کوي يوازې دبې سره خپت دی.

دې ماینو یې سلا سره وکړه چې راسئ ددې یو بندوبس وکو. خپل بند یې سره وتاړه چې ببی. به بوزو داسې به په وکو داسې ...... آخر ته یې ببی. ته وویل چې دادونه عمر وسو په دې څلورو دیوالو کښې بندي ناسته یې . صورت دې سره وخوړل سو. اوه یې کړه.
دې ورته وویل نو څه وکم؟
دوی وویل چې چم یي داسې دی چې نن سهیلی د دربار څخه راسي ته بالکل چرت مه پکښې وهه او مه ور ولاړیږه مه یې سلام کوه . بلکه دلاسه لا شا وروګرځوه. تندی تریو ونیسه. خود به دی پوښتنه در څخه وکي چې ولې داسې خوا بدې ناسته یې؟
ته به ورته ووایې چې داد پسرلي وخت دی، تازه هوا، نوي ګلان د بلبلو نارې. په شنو باغو کښې د اوبو شرهار او شرهار او سره ګلان. وطن ټول ګل ګلزار دی. او ته مدام تللی یې خپلې میلې او تماشې کوې، چکرونه او ګشت وهې موږ مسکینانې، عاجزې د بند بندی. تمام عمر په دې څلورو دیوالونو کښې ناستې یو، هېڅ ځای مو نه دی لیدلی نو خود به خپه ناسته یم، ته هېڅ زړه سوی نه لرې چې د دې خوارانو هم دغسې زړه دی لکه زموږچې هوا کیږي ددوی به هم داسې هوا کیږي نو که یې تا ته یواځې رخصت درکئ. خود به ته ورته ووایې چې ودې بنو ته مې هم رخصت ورکه چې سات مو سره تېر وي!
په دې سهار چې باچا ولاړ مابنام چې بیرته د دربار څخه راغی ببی. هیڅ خیال نه پکښې وواهه. نه یې سلام ورواچاوه ، د خونې په دروازه کښې ناسته ده شا یې وروګرزوله.
د باچا خورا طبیعت خته سو چې دا ولې نن هیچا زموږتعظیم ونه کئ. خو دغسې ولاړ دی د ببی. څخه یې پوښتنه وکړه چې چا جنګ درسره کړی دی. چا ښکنځل درته کړي دي ولې داسې جوته ناسته یې. دې ورته وویل چې ولې به جوته ناسته نه یم دا د پسرلي موسم دی دابنه هوا ځنګه و ځنګه خو هغه تقریر یې ورته وکئ باچا یې په حال خبر کئ:

باچا وویل خدای دې نه کوي څنګه به زه تا خپه کوم زرکرته خو لاړه سه! اخیر خو د هغو نورو ځلوبنتو ماینو رخصتي یې هم ځنې واخیسته !!!

په دې سبا باچا دمخه خوجګان وایستل په یوه لوی دښت د غره په لمن کښې یې خیمې ودرولې. خواجه ګان یې شاوخوا پر ګوبنه ودرول چې هوبنی کوئ هېڅوك مه پرېږدئ خواجه ګانو هم هاخوا بندرونه ونیول د باچاځلویښت ماینې دي یوه شابیبنه (ببی) ده راغلې په دښت کښې په خپلو خیمو ننوتلې. کښینتلې خپل عیش او عشرت کوي بازی کوي پوړني یې غورځولي دي.

هغه ولي جان چې سهیلي پر مځکه ملامت کړی ؤ، په ښکار را وتلی دی، هوسی یې پسې را اخیستې ده، هوسی د باچا د ماینو د خیمو و خوا ته الا کړه. چې ده اس پسې ور وځغلاوه. خواجه ګانو منع کئ ویل دورې مځه حرم راوتلی دی حکم نسته!

ولیجان چې په خبر سو. وخت یې غنیمت وګانه چې څنګه ښه موقع خدای په لاس راکړه. بس اس یې را پونده کئ. د خواجه ګانو څخه په زوره را تېر سو، راغی برابر د ښځو خیمې ته د ښځو پوړني پر سر نسته. دی جلې ورته ودریدئ. خو هغو (یوې یوې) سیده کی. ولیجان پکښې وکتل. وکتل دا ببی یې تر ټولو خوښه کړله. "څکه چې دا تر ټولو ښایسته وه" اس یې ورته را تېر کئ. توره یې پسې را وکښله ببی ته یې ویل چې ژر کوه سپرېږه. که نه وي اوس به دې سر غوڅ پرې کم. هغه هم خواره چټکه تر شا پسې سپره سوه. څو خواجه ګانو ځان ښوراوه. ولیجان ببی یووړه.

خواجه ګانو فکر وکئ چې د سهیلي هغه ګرانه ماینه یې بوتله که موږ ورغلو یو به ژوندی نه پرېږدي، خو دوی هم پر هغه مخ وتښتېدل.

ښځې که څه هم نهایتې خوشاله سولې. لیکن اوس د سهیلي څخه بېرېږي. چې ببی تاسې وژلې ده. یا مو څه کړه. موږ به څه ځواب وایو.

آخر ته "ښځې دې مکرونه یې ډېر زده دي" دا پلمه یې سره جوړه کړه. چې موږ کورته ورسو. ټوله به سره ژاړو. باچا چې راسي دی به وایي ولې ژاړئ. موږ

به وايو چې افسوس دی. هغه ستانيکی او د ببی بې شرمي چې مور سهار دښت نه ولاړو دې د مخه لا د يوه ځوانه سره قول کړی ؤ. د مخه يې لکه چې تار ور سره اچولې ؤ. چې مور په بازيو اخته سوو. يو ځوان پر آس سپور توره کښلې په زوره تر خواجه ګانو را تېر سو راغی دا يې دستي تر شا سپره کړه. ولاړه. تا ته يې هم ښکنځل وکړه. مور ته يې هم پوچ وويل. دا بانه يې جوړه کړله. ماښام چې ښځې کور ته راغلې. په کلا کښې ځوك نسته د سهيلي هم زړه فارغ دی هلته په دربار کښې ناست دی وايي چې کور ځوك نه سته نو څه کوم چې ورځم. خو تېر ماسختن کور ته راغی که ګوري د ماينو يې سنګهار دی. يوه هلته ناسته ده. ساندې وايي يوه دلته ناسته ساندې وايي. دوباره سهيلي شاو خوا وکتله ببی نسته پوښتنه يې ځنې وکړه. چې ولې ژاړئ. او ببی چېرې ده؟

دې ماينو يې دا نکل ورته وکئ. چې داسې يار يې درلود. ځنګه او ځنګه او خواجه ګان د بېرې وتښتېدل ببی ولاړه.

د سهيلي نهايتی ډېر طبيعت خته سو. زړه يې حورا تنګ سو. خو څۀ يې ونه ويل. دا خو لاړه، او بل ځونه بد نامی ده.

سهار چې دربار ته راغی. د باچا ښه پر بله اوښتې ده. مخ يې تك سور دی. عملې يې پوښتنه ځنې وکړه. چې صاحب ستا قربان ولې دې طبيعت خراب دی؟ څه در پېښ سوي دي؟

سهيلي دا تېره قصه ورته وکړه چې: ببی ورکه ده!

دې عملې يې ورته ويل دا اسانه امر دی. فکر مه خرابوه. هغه به هم خدای پيدا کي او بله به تر هغې ښايسته ښځه وغواړې! و باچا ته يې د زړه ډاډ ورکئ. دستي يې شا وخوا سړي پسې ولېږل. چې ګوندې کوم ځرك يې پيدا کي.

دلته د ګلمکۍ خپلوانو فکر وکئ. چې ببی خو ځنې ورکه سوه او دا ګلمکۍ خو مېړه لري. باچا دی که يې يو واړې وويل چې زه ګلمکۍ غواړم. نو مور به څه کوو. د لاسه مو څه نه ور سره کېږي. نو يې ګل مکۍ په زېر زمينۍ کښې واچوله دا انګروزه يې ګډه کړه چې ګل مکۍ ناجوړه ده. دوې درې ورځې چې

تېرې سوې. نو يې يو پنډ تير لکه سړی په سپين کفن کښې ونغښته. يو څو ښځې يې پر راټولې کړې ژاړي. يو ارځك څکه سوله چې ګل مکۍ ناجوړه وه. مړه سوله
خېر! جنازه يې جوړه سوله. دا تير يې يووړئ په قبر کښې يې ښخ کئ. د ګلمکۍ پاتا يې واخيستله.

هغه سړي چې په ببۍ پسې تللي وو. ببۍ يې نه کړه پيدا. دې وزيرانو يې ورته وويل چې بله ښځه به در وغواړو. يو چا وويل چې د ده وره ګلمکۍ ده. د ببۍ خور. سهيلي وويل چې چپ که هغه خوارکۍ خو لا د وخته مړه ده. يوه زړه کاپيره بوډۍ ده. راغله وباچا ته وايي چې ستاسې اختلاف دی زه بۀ د ګل مکۍ حال درته راوړم. خو ما ته به ډېرې روپۍ راکوې. ګل مکۍ ما ته معلومه ده. باچا ډېر خوشحاله سو. خورا ډېرې روپۍ يې ورکړې. دې بوډۍ ته يې درك معلوم ؤ.

باره راغله د هغې زېر زمينۍ د خولې سره کښينستله. سر يې پټ کئ. په زوره پزوره په کوکارو ژاړي. د ګلمکۍ پکښې فکر سو.

دوباره يې تر دربچې وکتل زړه يې پر وسو. ابوډۍ ادې!! داسې ژاړې خير دی! بوډۍ د مکر پاڼې راپورته کړې. ويل يې اې زويه! څه درته ووايم په پخوا وختوکښې زه لا کوچنۍ وم. پلار مې ببسده خان ؤ. زه به تل مدام لا له ګانو پر اوړو ګرزولم چې لږ څه غټوکې سولم. نو دوې مينځيانې راته مقررې سولې. چې زما خدمت يې کاوه. بيا چې لويه سولم. نو يې و پلاني خان ته ورکړم. په څه درب او دروب يې واده کړلم. بيا الله تعالی زامن راکړل. (يوارې شنه د ژړا ولاړه سي خان د مځکې ووهي. سر وشکوي) تولهٔ زامن مې مړه سوه. مېړه مې مړ سو. د نيا مې دربدره سوه اوس پر يوه ګوله ډوډ ی قدرت نه لرم پکر ته اړه سوم. پکر کوم يوه لور لرم. د هغې خوا اختر راغی. لور مې کالي غواړي. هره ګړۍ راته ژاړې زه پيسه نه لرم او نه جامه لرم. اوس اريانۍ اخستې يم. نه پوهېږم چې خدايه! څه وکم.

د دې ګل مکۍ ډېر زړه پر وسو. دوباره يې هغه خپل اغوستي يوه جوړه کالي ورکړه. چې دغه دې لور ته يې يوسه.

بوډۍ کالي را واخيستل. برابر يې و سهيلي ته په وچ تاخت راوړله. دا تېر

نقل يې او د دې نخښې يې ورته وويلې چې نه ده مړه، دغه يې کالي دي.

پاچا د گل مکۍ خپلوان را وغوښتله. ويل دا ښځه مو ولې پټه کړې ده. دوی هغه نقل ورته وکئ چې دا خو مړه لري. مړه يې هم ورك دی. موږ فکر وکئ چې مړونه ښځه ده. سبا به سهيلي په زوره بيولی وي.هم به زموږ غاړې بندې وي. هم بۀ د ده. نو خود مو پټه کړله.

سهيلي ورته وويل چې خدای خبر هغه مړ وي. چېرې وي. که بالفرض راغی. زه به.ښه ښځه وروغواړم.

خپلوانو يې ورته وويل چې ته باچا يې. څه مو د لاسه نه در سره کېږي. په گل مکۍ موږ کار نه لرو. ورسه هر څه چې ورسره کوې. خپله خوښينه دې ده رضا يې که.

سهيلي په خپله د گلمکۍ کره راغی. گلمکۍ ته يې وويل چې ته مخ راښکاره که چې ودې گورم. د دې صفت خو د مخه لا ورته سوی ؤ چې تر ببۍ دا ښايسته ده. دې گلمکۍ فکر وکئ چې زورور دی. هېڅ نه ور سره کېږي او زما مړه هم ژوندی دی. نو زه څنگه مخ تور کم. دوباره يې ورته وويل چې ډېر ښه دي، ته شپېته گزه دار جلۍ که. پر سر يې درې کټوري د سرو زرو ورکښېږده. هر چا چې دغه درې کټوري په غشو را واچول نو زه به تا مړه کم. (په دې کښې يې مقصد دا دی چې گوندې په دې ترخ کښې موسی جان پيدا سي) خير! دې سهيلي هم شپېته گزه دار جلۍ کئ. درې د سرو زرو کټوري يې پر سر ورکښېښول. نو يې د وطن ښکاريان را ټول کړل. حکم يې وکئ. چې هر چا که دغه کټوري را واچول. دونه روپۍ يې انعام دی. اوس نو هر څوك راځي. ولې يې څان پر گوري.

د وليجان د ببۍ څخه زوی پيدا سو. خلکو زيری پر وکئ. يو گړی چې وسو بيا سرو زيری پر وکئ چې هغه ستا ماديانه هم لنگه سوله. نر کرنگی يې وزېږاوه. وليجان خوشاله سو. د زوی نوم يې مير ولی کښېښود. او د بهاڼ نوم يې پړانگی کښېښود. نو يې وويل چې دا پړانگی د ميرولي دی. چې دواړه سره لوی سي. نو به مير ولي پر سپرېږي.

سهیلي فکر وکړ چې هېڅوك دا کتوری نه سي را اچولای. زه به تر ځو پورې دا د غم شپې تېرومه. ویل یې چې ګلمکۍ به په زوره راولو. یوه ښځه ده. ولې دا دونه تکلیف پر ځان تېروو. دوباره یې جوپان او سړي ورولېږل. چې ورسي رایې ولي. ګلمکۍ چې خبره سوله. چې نه کېږي. بیایي مې. نو یې یوه خورا تېره چاړه ور سره واخیستله. خلق راغله. ګلمکۍ یې په زوره په جوپان کښې یووړه. وریې وستله د پاچا په حرم سرای کښې یې کښېنته کړله. چې ماښام سو سهیلی راغی. چې خونې ته ور ننووت. ورنژدې سو. ګلمکۍ مخ ځنې پټ کړ. سهیلی ور تېر سو. ګلمکۍ وژړله. ویل مه کوه مه را تېرېږه. زه بل مېړه لرم. موسی جان نومېږي. ته یوارې دغه موسی جان پیدا که. رایې وله. یا یې مړ که. یا مې په طلاقه که. یا دغه کتوري په غشي راواچوه. تر هغه ساعته زما دید پر تا حرام دی. یوارې یې چاړه راوکښله خپل لړمانه ته یې ونیوله. ویل که را تېر سوې. زه ځان په دغه چاړه وهم او که مې پر تا لاس بر سو. تا وهم. زما په ژوند والله که لاس راوړې. مګر زه مړه سولم. یا دې بله چاره و نه کړه.

سهیلي فکر وکړ چې موسی جان نه پیدا کېږي او که پیدا سي په لاس نه راځي. خیر نا علاجه سو. په موسی جان پسې یې خلق ولېږل. وکتوریو ته یې هم ښکاریان وفرمایل.

یو ملنګ دی را رهی سوی. دا دی هغه چمن ته چې موسی جان ګورم پکښې پیایي راغی. هغې کوډلې ته. موسی جان سترګې مشي ورسره وکړه. دوباره یې پوښتنه ځنې وکړه. چې سړیه! د کومه راځې؟ ده ورته وویل چې د سهیلي د ښاره راځم. موسی جان وویل ګلمکۍ جوړه وه. باره ملنګ ویل چې هغه خو سهیلي په زوره بېولې. دا نکل یې ټوله ورته وکړ. باره ملنګ پر خپله تړه ولاړ.

موسی جان خورا ډېر خوا بدی سو. خو رباب یې راواخیست سر یې کړ. داسې یې وواهه چې هغه خپل انډیوال فقیر ګوته په غاښ ورته ونیوله. فقیر دغه رباب موسی جان ته ور وباخښه. وروسته موسی جان ویل فقیره د دې پای یې څه؟ فقیر ورته ویل چې دا د بل چا د لاسه نه کېږي. په دا بل کلی کښې ولیجان

نومېږي. په اصل ترین دی چې خورا یو زبده بهادر غښتلی او توریالی او ډېر وفادار ځوان دی، که هغه څه در سره وکړه. خوښۀ که نه وي د لاسه دې څه نه دي پوره. موسی جان ګورم پریښود. رباب یې و څنګ ته واچاوه. د فقیر څخه یې دعا او رخصت راواخیست. را رهي سو. هله هله دا دی ارنایي ته راغی. برابر پر پوښتنه د ولیجان مهمان خانې ته ورغی. د ولیجان سره یې روغبړ وکئ. ډوډی چې یې وخوړله. ولیجان ورته وایي چې ځوانه. ته خو یوه ګړۍ دغه ستا رباب راته ووهه. چې لږ څه مې طبیعت ښه سي. بیا به پوښتنه سره کوو.

موسی جان هم رباب د کڅوړې څخه راویوست سر یې کئ. داسې رباب یې ورته وواهه چې ټوله داسې منګ ورته ولاړل. خیر خلك چې سره ولاړل. ولیجان پر رباب او د ده پر ځوانۍ عاشق سو. ویل سړیه! ته به نه خې. هر څه چې غواړې. زه یې درکوم. او اوس نو پوښتنه در څخه کوم. چې څنګه راغلی یې موسی جان ورته وویل چې زما نوم موسی جان دی او د ګلمکۍ نکل یې ورته وکئ. "ولیجان ته خو ببۍ ټوله نکلونه سر تر پایه کړي وو" یو وارې یې سره وپېژندل ولیجان ویل چې هغه ببۍ نامې خو زما څخه ده. موسی جان یې کورته بوته. د اکا لور یې هم خپه وه. سره ویې لیدل. خورا خوشاله سول. روغبړ او پوښتنه یې سره وکړه. اوس نو سره اخښیان سول. خورا سره ګران دي. لاس د وروری یې سره ورکئ. د ولیجان یو اس ؤ. چې نوم یې اتم پر اینبی ؤ. دایې و موسی جان ته‌وروباخښه. یوه جوړه یې غشي و لینده ورکړه. ولیجان ورته وویل چې خدای به یې اسانه کي. خدای د کرارې مل دی. وارې ته به ګورو. خوا مه بدوه. موسی جان او ولیجان هره ورځ ښکار ته ځي او راځي خورا یې سات سره تېر دی.

یوه ورځ دوی په ښکار تللي دي. سهیلي د دوی ځرك وایستی. چې موسی جان او ولیجان نومېږي. ډېر ګنده پهلوانان او ښکاریان دي. چا ورته وویل چې دا کتوری ببله دوی څخه بل ځوك نه سی را اچولای. نو خود اووه کسه سپاهیان یې ور ولېږل. چې ورسي موسی جان او ولیجان راولي. که په رضا نه راتله په زور یې راولي. سپاهیان هم را رهي سول. ویل دا دوه کسه دي څه لحاظ یې کوو. چې ور

سو دواړه به يې زند و بند وتړو راکش به يې کو.

خير باره چې راغله، د وليجان د کلا د مخه ودرېدل. مير ولي د وليجان زوی کوچنی هلك دی په بجلو او بازيو اخته دی، دا سپاره چې يې وليدل، راغی سلام يې واچاوه، ورته وې ويل تاسې کښته سئ په مهمان خانه کښې کښينئ. ډوډی به وخورئ، هر څه چې وي، خدای به يې اسانه کي، خو سپاهيان خورا پيشرو وهي، نه کښتنه کېږي.

تر دې مابين موسی جان او وليجان را ورسېدل، د لېرې څخه يې دا سپاره وليدل، چې ولاړ دي، موسی جان و وليجان ته وويل چې ميرولي د دې ميلمنو عزت نه دی کړی، چې ولاړ دي، وليجان قسم واخيست، که يې د مېلمنو عزت نه وُ کړی، که يې بې مرګه پرېږدم. چې را نژدې سول، که يې کتل ميرولي زاری وړته کوي چې کښته سئ، دوی نه کښته کېږي، وليجان چې خپل زوی وليد ډېر څښې خوشاله سو ويل افرين بېشکه زما زوی يې پښتون يې، دوی چې بيخي را نژدې سول، که ګوري اووه کسه سپاره دي، د دې وليجان يوه خور وه تا نو نومېږي، دا پر بام ولاړه ده، ګوري چې کله به دوی راسي، موسی جان تانو وليدله چې پر بام ولاړه ده، وپوهيدئ چې يو څه تکه سته. نو موسی جان پر تانو باندې ناره وکړه، (څه بې ويلي وي؟) (هر څه چې وي وا به يې ورې!).

که پوځې د تانو خولګی مې پوځې.

ما په خدای قسم درکړی تانو خورې دا راغلي سپاره څوك دي.

تانو چې دا واورېده، د بام د خوا يې ناره پر وکړه، چې پوه سي:

موسی جانه تا په خدای کړم بزه ګاره.

په هغه خدای زما قسم دی دا راغلي سپاره د سهيلي دي.

د موسی جان خو د مخه لا زړه خوړين وُ، يو ټوپك يې درلود، چې نوم يې همدم پر ابښيي وُ، چې د سهيلي نوم يې واوريدئ، دستي يې سترګې چپه سولې، ټوپك يې ورته کښيښود، پايې يې په ځمکه ونجتلی او اوربکري يې پر ووهله ټك يو يې ځنې وويشت، د دې سهيلي سپرو فکر وکئ چې اوس به ګرده دلته قتل کي.

نو یې پر موسی جان ناره وکړه:
که همدم دی موسی جان ټوپك همدم دی.
تی پایی د ځمکې کاږه مور په سپین قرآن له تا سره قسم دی

موسی جان و دې ته غوږ و نه نیوئ. خو ورته سنګر سو. شپږ تنه یې ځنې وویشته. یو سپاهي په تاخت ځنې ولاړئ. سهیلي ته ورغئ. ساه یې لنډه لنډه کېږي. راغی. سالنډی په دربار ورننووت. دا کیسه یې ورته وکړه. چې هغه داسې خلك دي چې توبه ته یې نه سې راوستلای او ببې هم هلته وه.

د باچا ډېر طبیعت خراب سو. چې تا خو به پټ راته ویلی وو. په عام دربار کښې داسې خبره ځوك نه کوي. خو مغزی په وځړیدئ. چې د دې پای څه. مجلسیانو یې ورته وویل چې د زور یاري خو نه کېږي. فایده نه کوي. ته قرآن شریف مهرکه. ور ویې لېږه. ګوندې راسي. بیا هر څه چې په کوې.

سهیلي هم قرآن شریف مهر کئ. د سیدانو او ملایانو په لاس یې ور ولېږئ ورته ویې ویل چې ورسئ. رضا یې کئ. رایې ولئ.

دا مرکه چې راغله. موسی جان او ولیجان د ولیجان د کلا د مخه پر دېواله هګی کتار کړې دي. یویې د یوه سره په غشي ولي. او بل یې د بله سره یوه هګی ولي. خپله. سترګه پخوي. دې سیدانو د ولیجان او موسی جان په غېږ کښې قرآن شریف ور واچاوه. هغو قرآن شریف واخیست مچ یې کئ. نو یې ورته وویل چې څه نکل دی او څه دي. دوی د سهیلي او ګلمکی بیان سر تر پایه ورته وکئ. خیر خو د دوی عزت یې وکئ. سیدان یې رخصت کړل. چې ښه دی. بیا به مور پسې درسو.

سیدان چې ولاړل. دوی دواړه کور ته راغلل سلا یې سره وکړه. چې ورسو که یه؟ د ولیجان خور تانو ورته وویل چې یه مه ځئ. چې دښمن دی. "د دښمن دا اول کلام پسې تیغونه" د دښمن په قرآن او قسم باور نسته. ځوك دې باور نه په کوي. هر څه د لایل چې تانو او نورو ورته وویل دوی نه پاتېده. ویلې یه مور ځو ځکه چې دا به بیا یو لوی پېغور را پاته سي او بلکه زموږ و نسل ته به خلك پېغور ورکوي. چې هغه مو پلرونه وو چې د سهیلي د لاسه په کور کښې د ښځو تر پلو

لاندې پټېدل او چپ له دې د باچا سره هم څه نه کېږي، چې سبا به يې په کلا کښې د ښځو دمخه لاسونه راټرلي وي او کشوي به مو. موږ ته کار را جوړ کړ. سبا ځو. خو کار و بار يې جوړ کړ، بيده سول. دغه تانو تمامه شپه ويښه ده. نه بيدېږي وايي که بيده سوم، بيا به يې نه ووينم. خو په دغه چورت کښې دا پرېشانۍ يووړه. بېده سوه. خوب ويني چې "زما د لاسه څخه يو باهو مات سي" خو راويښه سوه. چې خدای دې فضل کوي. سهار وختي وليجان اس را تېر کړ چې ځو به. زينوی يې د اس ششنی دی تانو واوريدی، دوباره يې ناره پر وکړه:

وليجانه برايی مې خوب ليدلی

چې په لاس مې دوه باهو وي — دغه يو له بله ومنبلو. يو مات سي

چې يعني ما خو دا خوب وليدی. مه څه يوه واقعه او ډکه به در پېښه سي. خير خو دوی چې راووتل. د ښځو سره ژړا سوله. کوڅې ته چې راووتل. وليجان و موسی جان ته اس ورکړ. چې دا يو ګړی تکيه که چې زه ورسم. دغه ښځې د لاسا کم. وليجان کور ته را ننووت خو يوه ګړی وځنډېدئ. هلته و ښځو ته نصيحت او دلاسايي ورکوي، چې مه ژاړئ خدای مهربانه دی. بېرته به راسو. موسی جان په دروازه کښې ودريدئ ناره يې وکړه:

وليجانه دا د ښځو په قول نه سې

وليجانه ژر راوزه — د کړوسو به مو پېغور سي

چې يعني پاته نه سې، وليجان هم دستئ د کور څخه راووت. پر اسانو سپاره سول. تانو پسې راووتله ناره يې پر وکړه:

وليـجانـه مخ را ستون کـه

زما جانه په ديدن دې مړه نه سوم

ورځـئ ورځـئ پـه مخ مـو ښه سه

وليجانه غائبانه سپاره مو مله سه

تانو فکر وکړ چې د موسی جان خوا بده نه سي چې ګوره دی خور لري زه څوك نه لرم. نو پر ده يې هم ناره وکړه:

که توره د موسی قبا ده توره

د دار خمکې له چې ورسې          د دار لاندې ځمکه ګوره

چې یعني تر دار لاندې یې ځاه نه وي کیندلی پکښې و نه لوېږې. پام کوه. بیا یې بله ناره پر وکړه:

موسی جانه چې په پښو دې کج موزې دي

د دښمن خواړه و نه خورې          وا نیولې مو د ایام فرضي روژې دي

یعنې که یې ډوډۍ درکوله ورته ووایه چې زموږ روژه ده. هوښ کوه. چې ویې نه خورې. نه بایده دښمن دی. چې زهر یې نه وي پکښې اچولي.

خیر خو د کوره ځخه را رخصت سول. را رهي سول. خپله وسله یې پوره تر غشي اولیندۍ پورې را واخیستله. هله. هله. هله. دا دي ښار ته را ورسېدل. هغه د مرکې خلک چې په دوی پسې راغلي وو. باچا ته ورغله (چې ګوندې انعام راکي یا نور څه) حال یې ورورئ چې دا دی موسی جان او ولیجان مو راوستله. سهیلی خوشحاله سو. د دوی مخې ته را ولاړ سو پر اس سپور سو. خو هغه هم راغلل. په دربار ور ننوتل. موسی جان او ولیجان فکر وکئ چې اوس به مو بېځایه دواړه دلته خپ و چوپ مړه کي یه راسه چې د سهیلي رموز معلوم کو. نو ولیجان ناره پر وکړه:

که ورو(۱) که نیلی واګې(۲) را ورو که

که په زړه څه لرې سهیلیه په نري رموز مو پو که

سهیلي فکر وکئ چې دوی لکه چې بېرېږي. اوس به په سم دربار کښې فساد جوړ سي. نو سهیلي ناره پر وکړه:

که را ورو که موسی جان نیلی را ورو که

چې نیلی دوه قدمه اخلي          دا دریم دې د سهیلي پر لیمو که

خیر خو زړه یې سره وموښت. نژدې راغله. نو کرانو اسان ځنې ونیول. دوی یې په څوکیو کښینول. پس له روغبړه او ډوډۍ خوړلو د سهیلي د کور د څنګه

---

۱- ورو که یعني سستې یې که.(۲) واګې: جلوونه

يو د ده مخصوص باغ دی و دې باغ ته سره ولاړل چکر وهي. ليکن سهيلی يې نه پېژني. چې کوم يو موسی جان او کوم يې وليجان دی. په دې ترڅ کښې ګلمکۍ خبره سوله. چې موسی جان او وليجان راغلي دي دستي پر بام وختله که ګوري دواړه يې وليدل. موسی جان يې وپېژاند. ګلمکی ناره پر وکړه:

سهيله ستا په باغ کښې سپاهيان څوك دي

يو موسی دی بل ولي دی موسی څونې غوړې کړې توکي توکي

سهيلي هم وپېژندل او د ګلمکۍ مينې په زړه نو يو الله خبر دی. خو مازيګر سو. شپه تېره سوله. سهار راغی. د دار ميدان ته راغلل. شپيته ګزه دار جګ ولاړ دی. په سر کښې يې درې د سرو زرو کټوري ور ايښي دي. وليجان کښېنوست.

سهيلي ډولچيان ورته را وغوښتله. ساز ورته کوي. موسی جان غشی او لينده را واخيستله. پر اس سپور سو. راغی و دار ته. مخلوق د خدای راوتلی دی. سيل کوي، چې دا دونه عمر چا و نه ويشتل اوس دا څنګه ځوانان دي. چې کټوري را اچوي. موسی جان غشي اولينده په ګروت کښې ورته سم کړل (ټاك سو) په اوله پلا يې يو کټوری را واچاوه. بيا يې بل کټوری د لاندې را واچاوه. تر دې مابين د ښار د ښکاريانو زړه درد وکئ چې دونه عمر يې ځانونه پر سترې کړي وو. ليکن هېچا و نه ويشتله. نو يې لاس پورته کئ. د موسی جان په حق کښې ښيرا کوي. دې موسی جان فکر وکئ چې دا لکه چې و ما ته دعا کوي ده هم لاس پورته کئ امين امين کوي چې پاتا خلاصه سوله.

موسی جان و دې دريم کټورې ته غشی سم کئ. خو چې راکش يې کئ. بلا يې پر غشي سوله. غشي يې په موټه کښې غوټ مات سو. موسی جان راغی پر وليجان يې ناره کړه:

وليجانه! د ترينانو په سرو زو کښې

دغه دوه وارې مې وکړه

پر دريم مې غشی مات سو په قبضه کښې.

وليجان پر موسى جان ناره وکړه:

که ګل کې موسى جان ورور مې ګل کې

د سرو زرو يې کاني نظر يې نه کې دغه زما غشى در واخله

موسى جان د وليجان غشى را واخيستى راغى. دغه بل کټورى يې را واچوئ. يو وارې چوکه چې که سوله. نغاره وډنګېدله. هشت و مشت سو. سهيلى ډېر خوشحاله سو. ګلمکۍ يې هم پر بام سيل کوي.

موسى جان او وليجان باچا ته وويل چې اوس نو موږ رخصت که. خو هغه دې کټورى هغه يې ته. کار دې وسو. سهيلي هر څو خرې پوړې ورته وکړې. چې پاته سي. خو دوى نه پاته کېدله. سهيلي هم رخصت کړل.

دلته ګلمکۍ خبره سوله. چې دوى ولاړل. دستي يې مخې ته سړى را ولېږئ. چې ورسه ورته ووايه مه ځئ. ګلمکۍ مو غواړي. د ګلمکۍ مېلمانه ياست.

سړى راغى. ورته يې وويل چې ګل مکۍ مو غواړي. مه ځئ. وايي زما مېلمانه ياست.

موسى جان خورا ډېر خوشحاله سو. ليکن وليجان هوښيا سړى ؤ. و موسى جان ته يې وويل چې د دې وارې يې پرېږده. بل وار به يې بيا ګورو. چې يو وار خپل بندوبست ورته ټينګ کو دغسې خو يې نه پرېږدو. که يې اوس پرېږدو ښه به وي. د دې وارې خطر راپېښېږي. زياتي اختيار لرې!

موسى جان خو عاشق ؤ. د توانه يې وتلې وه. ويل يه. زه پاتېږم. نه ځم.

خير. خو وليجان هم ناچاره سو. پاته سو. دواړه پټ د ګل مکۍ کره راغلل. ميلمانه سول. دې ګل مکۍ يوه ګوښه تنها خونه ور وټاکله. پټ يې پکښې کښېنول. چې سهيلى او بل څوك خبر نه سي. ډوډۍ او خواړه په خپله ورېخوي. ځکه چې دا په هېڅا باور نه لري. دا خو پوهېږي چې سهيلى د دوى په مرګ پسې دى. هرکله چې په هر چم يې چمبه پر صافه سوله وژني يې مابنام سو. د ګلمکۍ د توانه څخه ووتله. نو يې يوه مينځه ورولېږله چې ته ورسه ويې ګوره. چې کم يو ښايسته دى. مينځه چې راغله وليجان د ځراغ و خوا ته ناست دى وار د واره يې وليجان وليدى.

خورا يې خوښ سو. راغله پر ګل مکۍ يې ناره وکړه:

موسی جان تور ګردی سړی دی
وليجان بريتونه يو تر بله تير دي شين زمری دی

ګل مکۍ ته درد ورغی. چې زه څوك غواړم. ته د چا صفت راته کوې. بله مينځه يې ورولېږله. دا مينځه هوښياره وه. چې راغله پر ګل مکۍ يې ناره وکړه:

بي بي جانې ولې ژېړ د مرګو دی
ګلمکيه موسی ستا د غېږې وړ دی

يعنې موسی جان ښايسته او ستا د غېږې وړ دی.

ګلمکۍ خو را څنې خوشاله سوله. زړه يې څنې ښه سو. په دې مينځې يې هم اعتبار وسو. ورته ويې ويل چې ډوډۍ به هم ته ور وړې. مينځې ويل ښه دي. خير خو دغه مينځه ډوډۍ وروړي. ليکن ګلمکۍ ډېر ټېنګار پر کوي چې هوښ کوه چې چا ته دا ډوډۍ او غوری ښکاره نه کې. که هر چا در څخه ليدلی ؤ. بې مرګه به دې پرې نه ږدم. ډېر پام کوه.

سهيلي وغوښته چې اوس ورسم. دوی خو ولاړل. يو سړی ورته راغی. چې دوی نه دي تللي. دواړه د ګلمکۍ کره دي. د سهيلي خورا طبيعت خراب سو. چې دا څه معنی زما دا دونه عمر و سو هېڅ مې لاس ته نه راغله. نه مې د ګلمکۍ مخ وليد. نه نور څه او دوی دواړه هغه دي د ګلمکۍ کره ناست دي او دواړه زما دښمنان دي ((د لاسه يې هم څه نه کېږي څنې ښربړي)) خو دا خپله عمله يې را وغوښتله ورته ويې ويل چې د دې علاج يې څه؟

که اوس هلته ورځو او نيسو يې وژنو يې ګلمکۍ هم ځان ورسره وژني او دوی هم غښتلي ښکاري. پهلوانان دي خوامخوا نام بدي او لوی پسات پيښېږي او که نه نو پای يې څه. دا کتوري چې دوی د دار د سره څخه•را واچول نو ګلمکۍ لکه چې دوی و خپل ځان ته وګټله او ګلمکۍ هم په دې رضا ده. دا هسې يوه بانه ده. چې کړې يې وه. اوس يې څنګه کوې.

مجلسيانو پر دې رايه وکړه چې ته يوه بوډۍ پيدا که. چې ډېره مکاره

وي. چې په کراره يې دلته په زهرو علاج وکي. مړه يې کې. ته ډېر شور مه لټوه!

سهيلی په بوډۍ پسې وګرځېدئ آخر ته يې يوه داسې شيطانه مکاره بوډۍ پيدا کړه چې د دواړو د مرګ ذمه يې واخيسته او که دواړه نه وي يو خو به خوامخوا وژني. سهيلي هم ډېرې روپۍ ورکړلې. خوشحاله يې کړه.

دا بوډۍ راغله. د دوی معلومات يې وکړ. چې چېرې دي او څوك ورورې وروړي. چې دا حال يې خان ته معلوم کئ. چې داسې مينځه ډوډوۍ پټه وروړي چا ته يې نه ښکاره کوي. نو راغله. يو خورا زوروز زهر يې خورا ميده کړل. و يې چوڼل نو يې د نوکانو او اوريو په مينځ کښې تخته کړل. نو راغله. د مينځې د ډوډۍ د وړلو په لار کښې کښېنستله. ماښام سو. ګلمکۍ بيا ډوډوۍ پخه کړله. په خپل لاس يې غورۍ جوړ کئ. د مينځې په لاس يې ورکئ. نو يې ډېر ټينګار پر وکئ چې هوښ کوه چا ته يې ښکاره نه کې. مينځې ويل ښهٔ دي.

مجمه يې پر سر راواخيستله. راووتله و سراچې ته په لار کښې بوډۍ ناسته ده. په زوره زوره ژاړي. مينځه چې راغله. بوډۍ په ښنو کښې ورولوېده. او په ښنو کښې يې ور ورغښتله. ښې يې ورمچ کړې. شنه د ژړا و لاړه. مينځه وايي ولې ژاړې. بوډۍ وايي چې اى زويه! دا شل کاله کېږي. چې زما يو زوی دی د باچا پر لور عاشق دی. را څخه ورك دی. هورې ورته پروت دی. چې آيا څه حال به يې وي. نن سهار خبره سولم چې دلته د دوو مينو خواړه پخېږي او مينه يې په خپله ورپخوي. ورلېږي يې. نو را رهي سولم (په دې ترخ کښې يواړې بغارې کي) چې دا د دوو مينو خواړه وګورم چې څنګه دي او هغه زما چيچې ته به هم دغسې خواړه پخوي که يه.

مينځې د رد پرو کئ وې ويل چې څه ورکه سه. اوس به بي بي خبره سي. دواړې به دلته مړې کې. هغه وايي چې هوښ کوه چې بل چا ته يې ښکاره نه کې. څوك يې درڅخه و نه ويني. بوډۍ لاسونه ور ښکاره کړل په هوا يې خلاص ورته ونيول چې ها په لاسو کښې مې هېڅ نسته. يو وارې يې راښکاره که چې زه يې وګورم. چې زړه مې لږ څه په ښه سي.

خو وروسته تر ډېرو زاريو يې د غوري څخه پلو پورته کئ، چې د پلو پورته کېده وو د دې د نوکانو څخه بيا د زهرو دوړيده وو مينځه نه وپوهېده. بوډۍ کافرې بيا وژړل، اوه يې کړه د غوري پلو يې ايله کئ پر خپله تړه ولاړه، مينځې هغه غوری راوړی د وليجان او موسی جان په مخ کښې يې کښېښود. وليجان ډېر هوښيار سړی ؤ، څه شك يې ورسيدئ و موسی جان ته يې وويل چې دا خواړه مه خوره، دی کښې زهر دی، موسی جان ويل: عجيبه ده، ګلمکۍ يې په خپل لاس راپخوي، د دې د لاس خواړه دي، ته وا مه يې خوره.

تر دې مابين يوه سپۍ ولاړه ده، و دې ته يې ګوله واچوله، د موسی جان د توانه ووتله، خو يوه ګوله يې جوړه کړه، چې اوس به يې خوړله، وليجان د ده لاس وواهه ګوله يې څنې واچوله، وليجان د موسی جان د مخه لا يوه ګوله اخيستی وه، خوړلې يې وه، نو ځکه يې د ده لاس وواهه، ويل يې چې ما خو وخوړه، که مړ سم، خو مير ولي غوندې زوی تر شا لرم، که دی مړ سو، خو ولاړه راغله هېڅوك نه لري ورونه يې دونه مېړونه نه دي، زما کسات به ميرولي واخلي، د ده کسات به څوك واخلي، بوډۍ شاوخوا څارو ده، ګوري چې څه کېږي، هغه سپۍ دستي مړه سوه، دلته وليجان بيده سو، بوډۍ چې دا حال وليد، دستي يې سهيلي ته حال وروړی، چې يو مې در مړ کئ، زياتي نه يمه خبره، چې کوم يو دی.

مينځې چې دا حال وليد، اريانۍ واخيستله، چې يا خدايه زما خو نو هم اجل پوره سوی، نو يې ناره وکړه:

لويه خدايه اوس به څنګه ځم تر کوره

دغـــه ژېـړ ولـيــجـان پروت دی دغه تور موسی جان ګرځي لور د لوره

د ننه په حرم سرای کښې ګلمکۍ دا ناره واوريدله، دغسې يې را الا کړه چې ولچې يو پسات پېښ سوی دی، چې راغله مينځې چې دا حال ورته ووايه چې داسې يې وکتل ولي جان يې وليد چې پروت دی پر موسی جان يې ناره وکړه:

موسی جانه دا پر سر دې لونګۍ توره

چـــې د ورور پـــه خـولـه دې نـه کـړه په تمام ترين دې وليدم سرتوره

چې یعني که ولیجان مړ سو. نو تا به هم مړ کي. خو یوازې سوې نو خود سرتوره سولم. ولیجان پر ګل مکۍ ناره وکړه:

یو که ټك سو د مکو د کوښو ټك سو

ستا د لوري خواږه راغلـه دا خواږه زموږ اجل سو

ګلمکۍ ناره پر وکړه:

که ابتر سو نن زما عقل ابتر سو

ستا په ډېرو دښمنانو زما د مینځي په لاس باور سو

د ولیجان ښه پر بله واوښتله. د ډېره غیرته څخه یې ځان ټینګ کړی دی. وایي چې زه تیار یم. تاسې یوه ګړۍ خپل مجلس او دیدن سره وکئ. خوا مه بدوئ. مطلب یې دا دی چې دوی دوه عاشقان دي. چې یوه ګړۍ سره کښیني هم غنیمت دی. خو نه کیدله. آخر ته ولیجان ناره کړه:

که ټك سو تر تالو لاندې مې ټك سو

ما د دې ځایه در واخلئ دا زړګی مې د کوټلو وینو ډك سو

بیا یې ورته وویل چې تاسې بېغمه کښینئ. زه تیار یم. خیر خو ډېر په عذاب سو وخت د صبح کاذب بیا ولیجان ناره کړه :

که سرې سوې دا سمان کنارې سرې سوې

موسی پښه اخله سپربږه چې پر زړه مې د مرګي خولې خپرې سوې

ګلمکۍ وژل چې دا څه پسات وسو. ولیجان چې دا ژړا واوریدله. نو په دغه وخت کښې یې د ګلمکۍ د زړه ډاډ ورکئ ناره یې وکړه:

ګل مکیه ته ورځه اوس دلې اوسه

که موږ دوه پر دنیا وو ګل مکیه د دې ځایه به دې یوسو

خو لنډه دا چې موسی جان را پورته سو. دستي یې اسان زین کړل. ولیجان ورته وویل چې وروره دښمنان مو ډېر دي. نو که سهیلي زموږ په حال خبر سوی وي. تا به یوازې وګنې تا به هم مړ کي. ما به هم مړ کي. یه ته داسې وکه چې ما یوزای پر اس ټینګ وتړه چې نه غوزارېږم او زما غشي او لینده په غاړه را وځروه. نو که

بالفرض په مخ کښې دښمنانو لار راته نیولې وه. زه به جلګ پر اس سپور یم که مې د لاسه کیده خو ځو وارې به پر وکم. ته به خپل وارې پر کوې او که نه ګوندې وبېرېږي. موسی جان هم دی پر اس ټینګ وتاړه. نو را رهي سول. مخ د کور پر خوا. بوډۍ پته خوله ولاړه ده ګوري. ګلمکۍ ورته ژاړي ناره یې پر وکړه:

خورې وخورې دا د تورو سترګو کسي

دا ولي او موسی جان د بڼ طوطیان دي دا بـــه ځـــوك پـــه دا مـــو نسي

بوډۍ راغله سهیلي چې یې خبر کئ. دستي یې سپاره د دوی په مخ کښې کښېنول چې یو خو مړ دی دا یو به تاسې مړ کئ. چې ژوندی در ځخه ولاړ نه سي. موسی جان او ولیجان چې را رهي سول سهار وختي لا خړه ده. که ګوري په لار کښې یې سپاره ولیدل. ولیجان وپیژندل چې دا دښمنان دي. لیکن و موسی جان ته یې رغ و نه کئ وایئ نه بایده چې وارخطا نه سي. خو په دغه حال کښې یې د موسی جان په نیامت یوه دوه غشي ایله کړل. هغه به په سړي کښې ومښتله موسی جان ته به یې ویله چې زه ځان اټکلومه چې ځنګه یمه.

خو لنډه داچې هغه سړي پر راغله. دلته ولیجان پر موسی جان ناره وکړه:

موسی جانه چې ما ویل هغه بیا وسوه

دغـــه زمـــا غـــشـــي در واخـــلـــه پـــه ګـــډېـــره ببـــره مـــه کـــړه

چې یعني ما د مخه درته وویل چې مه کوه. درځه دا وار دې وي. ګلمکۍ پربړده. بیا به یې پر کراره اټکلوو. تا ویل یه زه پاتېږم. اوس نو زه مړ سوم. یعني بې مرګه نه پاتېږم. ته پام کوه! موسی جان هم داسې دلاورانه جنګ ته پیل وکئ چې ټول یې په ځان پورې اریان کړل. ځوك یې مړه کړل. ځوك ځنې وتښتیدل. تیت او پرك یې کړل. دې سپاهیانو سره وویل چې سهیلي موږ خطا ایستلو. ده ویل چې یو سړی دی. دا خو دواړه دا دي جنګ کوي. جوړ دي. لنډه دا چې ټوله ولاړل وتښتیدل. موسی جان او ولیجان بیا سره را رهي سول. خیر هله. هله. هله دا دی لمر ځرك را ورسېد ل خپلې کلا ته نژدې سول. ولیجان ډېر په عذاب دی. خو چې غوږ یې ونیوی د ننه په کلا کښې درب او دروب دی سازونه. دربی دی هشت و

مشت دی. ولیجان و موسی جان ته وویل چې ما دلې کښته که کور ته مې مه وروله، چې دوی خپل هوس وکي او په ښادی کښې غم ور ونه لوېږي (دا ښادي میرولي جوړه کړې ده، چې پلار دوی مې ولاړه. دی هم ولاړ د یوه خان لور یې په زوره راوستلې ده، نو ګویا واده یې دی).

ولیجان و موسی جان ته وویل چې کور ته به ورسې. فقط یوازې د میرولي مور (شابیبه) را خبره که. هوښ کوه بل څوك مه خبروه!

موسی جان هم دروه راغی کلا ته. د ولیجان ماینه یې پټه خبره کړه چې راسه ولیجان دې غواړي، هغه هم پټه راغله. څوك یې نه کړه خبر. خو چې ولیجان ته نژدې راغله، دی ښسده پروت دی، په ژړا یې دا ناره پر وکړه:

ولیجانه سر راپورته که د خوبه

خبره نه یم چې زهر چا در کړي دینه

ولیجان هم سترګې را روڼې کړې پر ببی یې ناره وکړه:

راسه راسه زما پر غم شریکې

زهـر یـوې بـوډوکـی راکـړه په تندی کښې مې نوشته د ازل ټکي

خو چې یوه ګړی سره کښیناسته، ولیجان ښرته دا رخصت کړه، چې ولاړه شه مبادا دا نور خبر نه سي په ښادی کښې غم ور ونه لوېږي.

ببی چې کور ته راغله، ډېر یې فکر خراب دی، توان یې نه کېږي ګاهې په خونه ننوزي کله ښرته د باندې راووزي، په خونه چې ننوزي وژاړي، چې د باندې راوزي سترګې تورې کې وایي نه باید څوك راونه پوهېږي چې دغه نن یې په ښادی کښې غم ور پېښ نه سي، پر خپل زړه زور تېروي ږغ نه کوي.

د میرولي په دې خپله مورکی فکر سو، چې دا څه کوي، دغسې وزي ننوزي، چې ننوزي ژاړي، چې را ووزي سترګې پاکې کې، نو یې پر مور ناره وکړه:

که لولیه د فیروز لورې لولیه

چـې دنـنه سـې ژړا کـې چـې راووزې سـترګې تـورې کـې نـریه

چې یعنې ته څه وزې ننوزې یوار وژاړې بیا سترګې پاکې کې.

دې مور يې هر څه بانې ورته وکړې. چې پر سر مې درد دی. خو ميرولي ورته ويل چې (خدای يو مالکې تروې) که دې پرېږدم خو چې رښتيا راته ونه وايې. مور يې مجبوره سوله. اخر يې دا نقل ورته وکئ. چې داسې پېښه سوې ده. خو چې دوی را ووتله. تانو په خبره سوله راغله پر موسی جان يې ناره وکړه

موسی وروره چې پر مخ دې سپيرکی ګرز دی

دا ولې ورورکی خو مې مړ دی که ژوندی دی

خير خو تانو او نور ټوله خبر سول. ښادي پاته سوله ښځې او نور ټوله غمجن سول راغلل. ولي جان ته کښېنستل. په غم او په ژړا دي. وليجان چې سترګې راروڼې کړلې. ميرولي يې وليدی نو پر ميرولي يې ناره وکړه:

ميروليه پر سر مه تړه بګړيه

يو مې ساری د سهيل واخله موسی جان لره بل راوړه ګلمکيه

دا وصيت يې و زوی ته وکئ چې د سهيلی څخه زما ساری واخله او د موسی جان د پاره ګلمکی راوله. پس له دې ميرولي ناره پر وکړه:

بابا پلاره دا وصيت به دې خوار نه کم

يو به دې ساری سهيلی واخلم بابا پلاره بل به هډ او ساری وکم

چې يعني ستا د هر هډ په عوض به يو ساری واخلم!

دلته وليجان سختي وکړه. خدای وژلی ؤ. مړ سو "خدای دې وبخښي" زيات سوال و ځواب يې نه سره وکئ. نو وليجان ته يې دالته غسل وکفن ورکئ او دالته يې پر هغه ځای ښخ کئ. راغله سره کور ته پاتا يې واخيسته. د پاتا دری ورځې چې تېرې سولې. د پاتا څخه خلاص سوله. دستي ميرولي و موسی جان ته سيخ سو. چې ژر کوه. درڅه چې د سهيلی سره جنګ وکو.

موسی جان ورته وايي چې مه کوه. اوس لا ته کوچنی يې. پاخه هډ ته نه يې رسيدلی. چې يو کال تېر سي. ته به هم لږ څه زوورسې. خير خو په دې مابين کښې دوې دری مياشتې تېرې سولې. د غم د خوا هم لږ څه پر کراره سوله. بيا يوه ورځ ميرولی وايي چې کاکا جانه. درڅه چې ځو زياتي نه ګورم. يا به زه هم خان

پسې مړ کم. یا به د پلار کسات ځنې واخلم. دستی ورغی اس یې زین کئ، غشي و لینده یې را واخیستله. هغه خپل پړانګي اس یې را رهي کئ. موسی جان هم ناچاره سو. خو دواړو خپل سامان پوره ور سره راواخیست رخصت یې د ښځو څخه واخیست رارهي سوله دادي راغله راورسیدله. دي ګلمکۍ دا ګرده عمر سهیلي په نن سبا خطا ایستئ چې ګوندې د موسی جان او ولیجان څه درك معلوم سي آخر ته یې صبر سو چې اوس نو نه کېږي لکه چې مړه دي نو خو یي د اړتیا څخه حال و سهیلي ته ورکئ چې اوس مې نو واده که. په دغه شپه یې د ګلمکۍ د واده بنا کړې. دې میر ولي و موسی جان ته وویل چې زه به په ښار ورګډ سم ته به دباندې هېڅ شی ژوندی نه پرېږدې. که انسان وي که حیوان وي سرېې وهه. زه به حرم سرای ته هځه کوم وربه سم ګلمکۍ به پیدا کم راوبه یې باسم! هغه ویل ښه دي بس موسی جان د ښار د باندې توره وکښله چې په مخه یې ورځي هغه وژني څو خلك سره وتښتیدله تر باچا حال ورغی چې بیا ولیجان او موسی جان راغلي دي مخلوق یې تباه کئ باچا سره وار خطا سو چې دا لکه چې ولیجان بېرته جوړ سوی دی چې فوج ور وباسي. هغه څوك وتښتي څوك څه خو سهیلي په خپله راووت د ښار د باندې په جنګ اخته سو موسی جان په یوه سر جنګ کوي میرولي ته میدان چغالي پاته سو. راغی. یوه بوډۍ یې په کوڅه کښې پیدا کړه. ویل او بوډۍ زه به روپۍ در کم ته به د ګلمکۍ کور را وښیې. بوډۍ ویل: یه زه خپلې ډېرې روپۍ لرم. ما ته سهیلي ډېرې روپۍ راکړې دي. میرولي پوښتنه ځنې وکړه چې کم خدمت دې کړی دی؟ بوډۍ ویل چې ما دلته یو ولیجان نامی ؤ. هغه مې په زهرو مړ کئ. ما ته یې خورا ډېره دنیا راکړه. نو زه روپۍ څه کوم. میرولي چې دا واورېده. ناره یې پر وکړه:

بوډوکۍ یې زما دې داسې پلار وژلی

خو پر سر باندې دې جوړ نه کمه ځلی        تر هغو به دې پرې نه ږدم

خیر. خو توره یې ورسره لښته کړله. د بوډۍ سر یې غوټ پرې کئ. بیا را رهي دی. یوه بله بوډۍ یې پیدا کړه. د دې بوډۍ څخه یې لار و لیکه وپوښتله. د حرم سرای لار یې ور وښووله. دی هم راغی په حرم سرای ور ننوتی. توره یې کش

کړه، چې څوك په مخه ورتله سر يې څنې پرې کاوه، په حرم سراى کښې يوه بله سپين سرې ده، چې ميرولي پيژني پر ميرولي يې ناره وکړه:

ميروليه زويه ولې فهم نه کړې
ميروليه ته د خدايه وهم نه کړې — مانديني دې کړې بې ستره

ميرولي پر دې راحمله کړه، چې ته چېرې ما ته نصحيت کوې، سر يې غوټ څنې پرې کئ، ميرولي ګلمکۍ پيدا کړه، د اس تر شا يې را سپره کړه، د سراى څخه را ووتله، ګلمکۍ يې په دوړه د ښار څخه را وايستله، که ګوري موسى جان په يوه کله جنګ کوي، ميرولي چې وليدئ، دغسې يې اس وځغلاوه، ګلمکۍ يې بوتله، پر يوه غونډۍ يې کښېنوله، بېرته دستي راغی، توره يې وکښله، د جنګ په ميدان ورګډ سو، د سهيلی لښکرو فکر وکئ، چې د مخه پو سړی ؤ، چاره يې نه کېدله، اوس چې دوه سوه، نو چېرې به يې مات کو.

په دې مابين کښې ميرولي و موسى جان ته سترګه ووهله، چې څه ګلمکۍ هغه ده، ناسته ده، ورسه بيايه يې، موسى جان هم ستړی سوی ؤ، خو د جنګ د ميدان څخه ووت، راغی ګلمکۍ يې تر شا سپره کړه "پاشاه ولات" مخ د کور پر خوا رارهي سو، ميرولی يوازې لکه زمری جنګ کوي، دلته سهيلي ګلمکۍ وليدله، چې هغه ده بو يې تله او خبر هم ورته راغی، نو وارخطا سو ناره يې وکړه:

لويه خدايه د سهيلی ورا يې مسخره کړه
چې ګلمکۍ يې پر را دار نيلي سپره کړه

ګلمکۍ چې دا وا ورېده دې ناره پر وکړه:

که توزن دی، دا سهيلی دووس توزن دی
سهيليه پر مابل مېره حرام دی — چې موسى جان پر دنيا وينه

ميرولي خپل جنګ کوي، موسى جان او ګلمکۍ سره را رهي سوله، پر هغه هدېره راغله چې وليجان يې پکښې ښخ کړی ؤ، په دې هدېره کښې شنختې او نورکانې جګ جګ، ولاړ دي ګلمکۍ ورته وګوري، وخاندي موسى جان ورته وکتل، ناره يې پر وکړه:

ګل مکۍ يې خوله دې وړه کې وخاندې
دغه مې ولې ورور دی    کاڼي بوټي کوټه کړي دي بانـدې

موسی جان وژړل. د اس څخه دواړه راکښته سوله. يو ګړۍ دالته سره تکيه سوله. ګلمکۍ ناره وکړه:

که چاك سو نن زما په زړه کښې چاك سو
دا خو دې داسې ورور خوړلی موسی جانه    دغه ټول صورت مې بې واك سو

دوی دواړه دلته په هديره کښې سره ناست دي. د وليجان و قبر ته ژاړي. دعا کوي. د مازيګر بهير دی. مير ولي د سهيلي لښکر مات کړی دی. خورا قتل يې په ايستلی دی. "ميرولي نه ؤ يو زمری ؤ" پر لار را راهي سوی دی. څه ګورمونه او رمې چې په مخه ورځي هغه يې ټوله پسې را واخيستله. برابر يې د خپل پلار هديرې ته راوستل. که ګوري موسیٰ جان و ګلمکی لا دالته سره ناست دي. ميرولي چې وليدل ناره يې پر وکړه:

موسی جانه چې پر سر دې لنګۍ توره
موسی پښه اخله سپر بړه
اوس د ګور د مړو پربړده مجلسونه

ګلمکۍ تر مزله (کور ته) ورسوه. ته څه کوې. چې دلې ناست يې.

د ګلمکی په خيال کښې ورغله چې دا ميرولي لکه چې سهيلي پسې راخيستی دی. چې اوس موږ ته وايي چې کور ته ولاړ سئ.

ميرولي پوه سو. چې د ګلمکۍ طبيعت خراب سو. نو ميرولي د دې د زړه د پاره ناره پر وکړه:

که غورځي د توري زړګی مې غورځي
و سهيلي ته به دې ورنه کم    ګلمکۍ څو ميرولي پر دنيا ګرځي

خير خو موسی جان ګلمکۍ بوتله کلا ته يې ننه ايستله. د ګلمکی خور (بيبي) خورا خوشحاله سوله. روغبړ يې سره وکړ. موسی جان بېرته هديرې ته راغی که ګوري. ميرولي بيا په غويو او پسو چړ اوګډ کړی دی. عام خلق راځي. غوښې

يې وړي د وليجان قبر يې خالص د حيواناتو په ښکرو پټ کئ. دا خيرات چې خلاص سو. دواړه کور ته راغله. ميرولي. د پلار وصيت پر ځای کئ. کرار سره کښېنستل. خپل عيش کوي. څو ورځې باد د دې موسی جان په خونه کښې د هوسۍ سرونه ځړېږي. ګلمکۍ و موسی جان ته ويل چې دا سرونه څنګه تورې سترګې لري. څنګه ښه ايسي. دا د څه شي سرونه دي. دا چې ژوندي وای. نو به ښه وو.

موسی جان ورته وويل دا د هغه وخت د هوسيو سرونه دی چې وليجان ژوندی ؤ او زه و دی به په ښکار سره ولاړو. نو به مو دغه هوسۍ ويشتې. دا سرونه د هغو دي. ګلمکۍ ويل: ته خو يوه دا نه ژوندۍ راوله. چې زه سات په تېروم. دا پر موسی جان ډېره ګرانه وه. ناز يې پر مځکه نه اچاوه. بس دروه يې خپل غشي ولينده و توبره و غاړې ته واچول. را رهي سو. دښت ته را ووت. هغه لار يې را واخيستله. چې دی او وليجان به پر تله ور په ياد سو. شين به د ژړا ولاړ. څو چې له دغه غمه او ژړا لېونی سو. خو پر دښتو ګرځي. نه ښکار کولای سي او نه کور ته راتلای سي.

يوه ورځ يې يوه هوسۍ وليده. پر دښت ګرځېدله. ده چې ورته وکلته. ګلمکۍ يې ور پياد سوله. نو يې ناره وکړه:

لويه خدايه پر دامان ګرځي هوسيه

لويه خدايه دغه سترګې د ګلمکـــيه نـــــور صورت يې د هوسۍ دی

د موسی جان څخه نوره ورکه سوه. يو شپون يې پيدا کئ. د دې شپانه سره يې اندېوالي واچوله. ليونی ورته ګرځي. د ورځې پر دې خزه ولاړ ژاړي دلته ولاړ ژاړي (( دی نو هورې پربېږده چې ژاړي)) دلته سهيلي فکر وکئ چې دا وليجان ببرته جوړ سوی دی. که بل څوك دی. او دا سړی خو تر وليجان چالاك دی. نو يې يوه بوډۍ پيدا کړه. ورته ويل يې چې ولاړه سه. درك يې معلوم که. دا سړی څوك ؤ. او موسی جان دوی چېرې دي. بوډۍ يې خوشحاله کړه. لکړه يې را واخيستله. پر ملا کړوپه کېږي دا ده راغله د وليجان دوی د کلا دېواله ته کښېنستله. په زوره زوره ژاړي. د ننه په کلا کښې ښځو د دې ژړا او فرياد او بلغاکې واورېدې. دغه

بوډۍ بیا ګلمکۍ ور وغوښتله. زړه یې پر وسو. بوډۍ چې ورغله. دغسې د ګلمکۍ په پښو کښې ورغوزاره سوله. ویل د خدای د پاره یو زوی مې درلود. پر ګرده دنیا مې بل هېڅوك نه درلود. هغه یو زوی مې سهیلي باچا په زوره را څخه بوتئ. اوس څوك وایي وژلی یې دی. څوك وایي چې بندي دی. څوك وایي ځنګه دی! څوك وایي چې ځنګه! خو ما چې هر څه چرت وواهه غیر له خدای او بې ولیجان او موسی جان څخه په بل چا یې سر نه سره ورځي اوس مې خاص د خدای په هیله و دوی ته پنا راوړې ده. چې ګوندې دوی مې په داد ورسېږي.

دې ګلمکۍ ساده پټانې ورته وژړل چې ولیجان خو مړ دی او موسی جان دا څو عمر کېږي چې لبونی دی پر کور باندې نسته.

بوډۍ چې دا واورېده یوه ناره یې وکړه چې څه پسات راوسو. په زړه کښې خورا خوشحاله سوله. وې ویل خدای زه داسې پیدا کړې یم - خو دستي یې خدای پاماني واخیستله. د کلا څخه راووتله برابره سهیلي ته راغله ورته ویې ویل چې کور یې هېڅوك نسته میدان چغالي دی مه راګوره ولیجان مړ دی موسی جان لبونی سوی دی. سهیلي هم دستي سپاره سره ټول کړل په دې سهار وختي رارهي سول دلته میر ولي په خبر سو ده هم خپل د جنګ اسباب راواخیستل پر اس سپور سو راووتئ د جنګ په میدان کښې لکه د زمري د بیري هیڅوك و جنګ ته نسي ورته راپرمخ کېدای هر چاته معلوم ؤ. ویل یې چې خدای خبر چې ژوندي به ځنې ځو.

دې سهیلي رغ وکئ چې څوك به ټنډه (ونده) واخلي او جنګ ته به ورسي هېچا رغ ونه کئ یو سړی و چې "آزادي" نومېږي د میر ولي د ترور زوی دی ده ویل چې زه جنګ ته ورځم باچا ویل ودې ګورم ښه دي ورسه.

آزادي و جنګ ته راغی. میر ولي چې ورته وکتله چې ته خو مې د ترور زوی یې جنګ مه راسره کوه دا وړ نه ده که نه وي مړ به دې کم خو آزادي یې خبره نه وارویده خو حملې یې پرې کولې میر ولي یې په سپر د ځانه څخه توره ګرزوي او امله نه پر کوي.

خیر ټوله ورځ یې په دغه چم سره تېره کړه مابنام چې کور ته راغی خورا

سترې هلاك دى و مور ته يې دا كيسه وكړله چې نن تمامه ورځ د ترور زوى د لاسه دغه ډول سترى يم جنګ يې راسره كاوه. كه د خپلوى لحاظ نه واى ما به يې د وخته لا سر غوڅ پرې كړى واى. مور چې يې دا وارويده نو يې پر مير ولي ناره وكړه:

مكړه ميره زويه ګونډيمه كړه

چې ستا په مخ درځي         كه زما زوى يې صرفه مه كړه!

يعني هر څوك چې په مخه درځي كه خپل دې وي كه بل څوك وهه يې!

وژنه يې! مير ولى چې سبا جنګ ته راووت بيا آزادي جنګ ته راغى- مير ولي هم توره ورسره لښته كړه خو دده څخه چپه سوله د اس پر اوربوز يې ومښتله د اس شونډان يې غوڅ ور پرې كړه "اس يې داسي ايسي لكه چې خاندي " آزادي فكر وكړ چې دا وار دې وژني مخامخ يې الا كړه برابر ښار ته ولاړ. مير ولي په پسې دى مير ولي دسراى په دروازه كښې پسې ورسيدئ توره يې ورسره لښته كړه وي واهه په دغه دروازه كښې يې سر غوڅ ځني پرې كئ.

د مير ولي ترور راووتله چې داسې يې وكتله زوى يې مړ دى نو يې پر ميرولي ناره وكړه:

مير وليه زويه تلي دې درنې سه

په دروازه كښې دې دربى دى         مير وليه دروازې در پورې سرې سه

مير ولي دغه ترور هم پسې مړه كړه خو چې په مخه ورځي هغه وژني. خو هر څومره چې يې مړه كړه هغه يې مړه كړه مانبام سو بيرته كور ته راغى. سهيلي وويل چې د دې چاره يې څه؟ يوه سرې ورته وويل چې په لار كښې سپرغي ورته پرې كه پر سر يې خاشې او خاورې ور واچوه سهار چې دى نا خبره وى پر اس سپور وي چې راسي درب پكښې وبه لوېږي. مور به يې ژوندي ونيسو. د سهيلي هم خوښه سوله دستي يې سړې ته امر كړ په لار كښې يې درى ژورې كندې پرې كړلې پر سر يې خاشې او خاورې ورواچولې.

سهار بيا د جنګ نغاره وډنګېدله         مير ولي پړانګى زين كئ رارهي سو دا

پړانګی داسې هوښیار او مست دی چې په یوه ټوپ د دې کندې او سپرغو غورځي خو تر دې کندو او سپرغو راتیر سو ورغی د جنګ ځای ته بیا یې تر ماښامه جنګ وکئ فتح یې په نصیب سوه ماښام بیا پر کندو راتېر سو په خیریت کور ته راغی.

په دې بله ورځ یې مور ورته وویل چې دا پړانګی ستړی سو، دغه د پلار نیلی دې بوزه پړانکی کورنګی دی چې مات نه سي، ده ورته وویل چې دی جای بنده دی یو پسات راپېښ نسي. دې ویل ته یې نن بوزه چې څه کوي، ده هم پړانګی پرېښود نیلی یې رارهي کئ چې پر کندو ورغی لکه برېښنا داسې تر وغورځېدئ تمامه ورځ یې داسې جنګ وکئ چې خوري یې پر وایشولې څرنګه چې دا نیلی جای بنده ؤ ماښام خواته چې رارهي سو راغی تر دوو سپرغو راوغورځېدئ په دریمه سپرغه کښې یې دشا پښې ولاړې پکښې ولویدئ د میر ولي پر تشي د زین د مخه بوڅکی برابر سو تشي یې سوری سو نس یې څیرې سو کلمې یې راووتلې خو اس د زوره وغورځېده. د کندې څخه راوخوت. میر ولي خپله لنګوټه خلاصه کړه کلمې یې بېرته په نس کښې واچولې په لنګوټه یې ټینګ نس وتاړه په یوه زحمت د کندې څخه راوخوت اس دمخه دی دی پیاده پیاده په پسې دی د کور پر خوا رارهي سو.

(مور به یې هره ورځ تر هغو پر بام ناسته وه څو چې به میر ولي بېرته د جنګ څخه راتئ) نو پر هغه عادت یې مور پر بام ناسته ده لار یې ګوري یو وار یې میر ولي ولیدی چې پیاده کرار کرار راځي اس دمخه دی مور وپوهېده چې لکه چې زخمي سوی دی یو څه چې نژدې راغی مور یې ناره پر وکړه:

لویه خدایه نن مې کم کاني پر کور دی

میر ولـي زوی مې د مخه لویه خدایه نیلی اس مې په پســې دی

بیا یې بله ناره پر وکړه:

میر ولیه په کوڅه کښې پیاده نه تلې

نازولی نیلی ولې کوتل بیایې د دښمن د لاسه څرنګه پیاده سوې

د دې خوا میر ولي ناره پر وکړه:

## ادې مورې د پړانګې څخه دې ګيلې کړه

نيــــلى تر دوو کندو راتير سو پر دريمه يې زما غوټې کلمې پرې کړې

مور يې دستي د بامه څخه را کښته سوه خو مير ولي يې کور ته بوت پرې يې ايستئ اوس موسی جان پر کور نسته دوی دوهمه پر چا اعتبار نه کوي چې خبر يې کي وايي مبادا چې سهيلى به خبر کي چې مير ولي د کاره لويدلى دی.

د دې مير ولي ترور چې خورا ډېره قابله ښځه وه دستي يې دده ټپ پاك پرېولی غټ غټ ښانګور مېړيان يې ونيول رايې وړه د ټپ خوله يې سره نژدې کړه نو يې د مېږي خوله په ور ولګوله مېږي بهٔ خوله را ټينګه کړه دې به مېږی پر مينځ غوټ په غچي پرې کئ د مېږي سر به پورې پاته سو - د ټپ خوله يې سره ورغله د مير ولي ټپ يې په دغه چم ور وګانډه نو يې ورته وويل چې ته به دا شل ورځې پر اړخ نه اوړې.

دلته د موسی جان نور اووه ورونهٔ دي دا سره را ټول سول سهيلي ته راغلل، چې يعني موږ ته به انعام هم راکي او د شره به يې هم په امان سو. هو عرض يې پر وکئ چې راسه ګلمکۍ بوزه! سهيلي پوښتنه څنې وکړه چې تاسو څوك ياست، دوی ورته وويل چې موږ د موسی جان ورونه يو.

سهيلي فکر وکئ چې موږ د يوه موسی جان څخه په عذاب وو دا خو اووه نور موسی جان پيدا سوه. دوی بيا وړته وويل چې موږ د موسی جان ورونه يو موسی جان لېونی دی نسته او مير ولي ناجوړه دی د کار نه دی موږ ستا دوستان يو- خو سهيلي نه منل بيريدئ چې مبادا يوه ټنډه ټولنه به يې راته راکړې وي ورونه وګوره د خپل ورور بدخواهي او بد نامي د ناموس وګوره.

دستي يې حکم پر وکئ چې د اوو سرو غوږونه ور پرې کي. ويې شړي د دربار څخه يې وباسي.

دستي سر جلات غوږونه ور پرې کړه. په ډېره بې عزتی يې د درباره څخه را وايستل، د باچا د موسی جــــــان د ورونو په قول اعتبار و نه سو خو په زړه کښې يې شك پيدا سو چې ته خو يې درك معلوم كه. يوه بله بوډۍ يې پيدا کړه.

چې ته ورسه وګوره. چې موسی جان او میرولي چېرې دي. دا بوډۍ راغله. په خپل مکر سره یې معلومات وکړ. بېرته ولاړه. سهیلي ته یې وویل چې موسی جان نسته لېونی سوی دی او میر ولي تپې سوی دی. ناجوړه پروت دی. سهیلي چې خبر سو. دستي یې د شپې د ولیجان پر کلا کوچ راوکړ. چې سهار سو. ښځې پر بام وختلې. که ګورې. شاوخوا خیمې نجتې دي. دغسې یې سره وویل چې دا خو سهیلي راغلی دی او د میر ولي تپ هم نه دی لا جوړ سوی. درې ورځې یې لا سته. په راسئ چې میرولي نه کو خبر. ډېر به ښه وي؛ هر څه که سهیلي غوښته ور به یې کو. د ټولو دغه سلا وسوه.

خود سهیلي ته یې حال وکړ. چې پام کوه په کلا به نه ننوزې. خپل مطلب وایه. چې په لاس یې درکو. دې سهیلي د تانو د ښایست صفت اورېدلی ؤ. ولې تانو نهایتي ښایسته وه او سهیلي یې هم خورا ډېر امته داروو. لیکن زړه یې مښل کېدئ. خو دید یې نه ور حاصلېدئ. خود یې سهیلي ته ښکاره کړه. سهیلي چې ورته وکتل. ښه ترا پر عاشق سو.

آخر ته یې وویل چې ګلمکۍ په لاس راکړ. تانو ورته وویل چې مه کوه. هغه زما ورینداره ده. د هغې په عوض کښې ما‌بوزه. هغه مه بیایه. د سهیلي هم زړه وغوښت چې ښه دی. لیکن د ده سره یو ډم (ډولچي) ؤ. دې فکر وکړ چې ګلمکۍ پاته سوله نو یې پر سهیلي ناره وکړه:

سهیلیه تانو سره ده مکۍ سپینه

تـانـو سـره کـوتـلـې زر ده        مـکـۍ لاړ د مـرغـلـرو ده یقینه

یعني چې ګلمکۍ سپینه ده. تانو سره ده. ګلمکۍ مه پرېږده. یوارې سهیلي هم ټینګ سو. چې زه ګلمکۍ غواړم. خیر آخر مجبوره یې کړله. ګلمکۍ یې په ژړا په لاس ورکړه. ګلمکۍ ته خو د سهیلي زړه ډک ؤ. لڅې پښې یې د اس سره په وچ تاخت څغلوي. د کلا پر بام د میرولي یوه کوچنۍ خور وه. ولاړه ده پسې ګورې دې چې دا ګلمکۍ ولیدله. زړه یې درد وکړ. دغسې یې را الا کړه. راغله د میرولي په خونه ورننوتله. پر میرولي یې ناره وکړه:

که درنه ده د کلا خونه درنه ده
گــــل مکــی پلـې ځغلوینــه میرولـیـه پـر تـا څـه بـلا پرتـه ده

میرولي سترګې روښې کړلې، چې څه نکل دی. دې کوچنی خور یې دا کیسه ورته وکړه، چې و سهیلی ته تانو مخ ورښکاره کئ او ګلمکی یې هم لځې پښې بوتله، اوس نو د میرولي تپ جوړ دی، فقط دوې ورځې لا غواړي، خو د توانه یې ووتله د غیر ته څخه راپورته سو چې واخ زما ښځې دښمن یووړې، دا زما په کلا کښې دښمن راتوی سوی ؤ، یه زما نور هم ژوند غیم دا بې غیرتي او دا ژوند نه قبلوم، دستي را پورته سو، پر نس او تپ یې رښکې وپیچلې پړانګی یې زین کئ نو یې پر مور ناره وکړه:

ادې مورې حق را خپل که ان مې تمام دی
زه خو ځـــم د جنـــګ پـــر لـوري دا ناویانې تولې پاته پر میدان دي

چې یعنې پلار مې مړ سو، موسی جان ورك سو، اوس نو زه ځم، خدای خبر چې بیا به ژوندی راځم، تاسې نو یوازې په کور کښې پاته یاست. را رخصت سو، تر کلا را ووت، سهیلی پیاده ګلمکی تر شا پسې ځغلوي، دې چې تر شا وکتله، چې د کلا د مخه د وړه پورته سوله د دې زړه خوشحاله سو، نو یې ناره وکړه:

که دوړه د کلا پر درګا دوړه
مـا د خـــدای تـــر خدایـي جار کې مـیــرولی و پړانګی راولې په دوړه

بله ناره یې پسې وکړه:

که لوټه د میدان په سر کې لوټه
کــه بــه خــواست د مـکی اخلې میرولی و پړانګی راولـې لم غوټه

سهیلي چې تر شا وکتله چې دا ګلمکی څه نارې کوي، که ګوري تر شا یې دوړې دي، ځوك پسې راځغلې، فکر یې وکئ چې زه خو یې خطا ایستلم. دا یې لکه چې چم راته کړی ؤ، خو هغه دی میرولي راغی، دغسې یې ګلمکی تر وزرو ونیوله پراس یې سپره کړه، لار یې چپه کړه، ولاړئ په یوه مانده کښې یې خیمه ونجتله. میرولي ناجوړه ؤ، چابك یې اس نه سوای وهلای، خو راغی، لار و ګودر ورځنې ورك

سوه، چې دوی چېرې ولاړه، د يوه مانده غاړه يې را اخيستی ده، خورا ستړی هلاك دی دوباره يې ناره وکړه:

لويه خدايه يو مانده ډك دی په درګو

خـدايــه دونــه عـمـر راکــې چې سهيل و مکۍ ووينم په سترګو

د دوی خيمه هم دالته نژدې ولاړه وه، سهيلي چې دا ناره واورېده، فکر يې وکړ چې دا دی درغی، څوك هم نسته، مړ يې کړلې، په کونه کاړه څه، خو ګلمکۍ يې دالته پرېښووله، مخامخ په تراټ شاهي ولات ته ولاړ.

ميرولي چې راغی ګلمکۍ يې وليدله، سهيلی نسته مانده ته ورشوه سو، ګلمکۍ ته يې وويل چې زما تر شا سپره سه، دې ورته وويل چې يا ته ناجوړه يې، بيا به په عذاب سې، زه بېرته پياده در سره ځم، ميرولي ورته وويل چې په سپره سه، ميرولي چې رکيب ورخالي کئ، د ښځې ذات دی چې ور پورته کېدله، يو وارې وځرېدله، د ميرولي و شا ته يې ور حمله کړه، د ميرولي د ټپ څخه د مېږيانو خولې وختلې ټپ يې سره وشليده، دغسې يې کلمې را ايله سولې، د اس د لاندې راولويد، نفس يې وخوت، مړ سو. (خدای دې دغسې زمريان مړونه ټوله وبخښي))!!!

ګلمکۍ يو ګړۍ وژړل، بيا يې فکر وکئ چې دا خو هم مړ سو، وليجان هم مړ سو، موسی جان ليونی او ژوندی ورك سو، هېڅوك نه سوه راپاته، اوس به نو سهيلي ته د نا علاجۍ ځان ور وسپارم.

نو يې ميرولي د مانده څخه را وکيښ، سهيلی لا نه دی نيهام سوی، نو يې و سهيلي ته ناره وکړه:

که ولاړه د سهيلي خيمه ولاړه

ســپيه مــه تښتــه را درومـه د مـيـرولي سا مې د زين پر کوپي ولاړه

نو يې د ميرولي پښه پورته په هوا ونيوله، چې دا دی ميرولی مړ دی، راسه بو مې څه، سهيلي فکر وکئ چې دا لکه چې ګلمکۍ مړ کئ خوشاله سو، راغی، ګلمکۍ يې د اس تر شا سپره کړه، رايې وستله خپل کور ته، ميرولي يې هورې په خاورو کښې پټ کئ ((ګلمکئ و سهيلي نو دالته پرېږده چې خپل سات تېروي))

موسی جان پسې راواخله. موسی جان په غره کښې د ورځې ښکار کوي، که یې یو څه وویشتله. هغه راوړي، ماښام یې د شپانه سره و خوري. کله به یې پر هغه ځای چې ده و ولیجان به ناسته پر کړې وه، ژړله. خو تیار لیونی دی ګرځي.

یوه ورځ رهي سو په ښکار ولاړ، یو نرکښ یې وویشت، لیکن ځنې ورك سو. موسی جان پسې ګرځي، شپانه ولیدئ پر موسی جان یې ناره وکړه:

موسی جانه د ببري په شانې توره

هغه نرکښ چې تا ویشتلی        د چنډن و ببخ تې ګوره

موسی جان پسې رهي سو، چې پیدا یې کئ، که ګوري، یو کبلی په غره کښې په مخه ورغی، موسی جان غوښت چې دا کبلی وولي، غشي و لینده یې ورته سم کړه. هغه کبلی خدای تعالی پر خبرو رااووست ورته وې چې ای مسکینه ته بهٔ زما د غوښو څخه څه وخورې. ولاړ سه، چې ښایسته مینه ګلمکۍ او میرولي دې څه سول.

د موسی جان ګلمکۍ او کور په یاد سوه، بېرته راوګرځېدئ ورغی پر شپانه یې ناره وکړه:

په وچ غَره کښې یو کبلی راته ګویان سو

ویل ته به څه خورې زما د غوښو        موسی جانه ګلمکۍ کورکی دې وران سو

دستي یې د شپانه څخه رخصت را واخیست. برابر کور ته راغی. د کلا په دروازه چې ورننوتئ د میرولي ماینې ناره پر وکړه:

ای خسره کاکا ته ښه یې که غولی

زړه زمـــا پـــه اور کبـــاب ســـو        نـــه وبه کم میرولي غوندې همزولی

چې یعني میرولي خو مړ سو. خیر خو هر څه ژړاوې چې یې سره کړې وې، کړې به یې وي. په دې ټولو نکلو یې موسی جان خبر کئ چې دا ګردهٔ شیطانت ستا ورونو ولټاوه.

موسی جان شپه تېره کړه. سهار سو، زړه یې خورا نری سوی دی. د کلا څخه راووت اوه سره ورونه یې د کلا و مخ ته ناست غوړونه یې پرې دي. موسی

جان چې وليدل، د زړه د جوش څخه يې ناره پر وکړه:

لويه خدايه موسى جان دي اوه ورونه

کــه بــه خــواســت د مــوسـى اخلې   د اسمان د لور پر واچوې تندرونه

يعني خدايه تکه پر واچوې، د عاشق خواست دی قبول سو اووه سره ورونه يې ځای پر ځای مړه سوه.

بېرته موسى جان کور ته ولاړ، اس يې زين کئ، چې ځم! د کور ښځو که هر څو ډېرې زارۍ ورته وکړې، چې مه ځه دی نه پاتېدئ، چې دا اوس بې غيرتي ده چې کور کښېنم. خورا رهي سو، پر لارې راځي، راغی، يو ځای که ګوري يو بزګر دی، پرتوګ کښلی يوم پر غاړه اوبه لګوي. موسى جان را ولاړ سو. فکر يې وکئ، چې اوس چېرې ځې، خپل اس يې دالته حلال کئ، مرغانو ته يې په خيرات کښې پرېښو، غښي و لينده يې هم راوغورځول. بزګر د ځان سره وويل چې دا وګوره، څنګه ليونی سړی دی چې خپل اس يې حلال کئ، سامان يې وغورځاوه. موسى جان راغی، د ولې بند يې چپه کئ، اوبه يې ايله کړې، بزګر ورته ويل ولې دا خو بيا يوازې نه ترلې کېږي؟ موسى جان ناره پر وکړه:

شا بزګره اوبه ولاړې پر ورخونه

هغه به يې ترينه شابزګره   چې تر شا لري مړونه

موسى جان ورته وويل چې دا مې تا ته ځواب درکئ، يعني ته که نر يې يوازې به يې وترې، زما هم دغسې مړونه وه، هغه مړه سول، نو خود مې اس حلال کئ، غښي و لينده مې وغورځوله، خو راغی د بزګر سره يې بېرته بند وتاړه.

د موسى جان د اس نالونه د سرو زرو وو، بزګر راغی، دا نالونه د اس د پښو څخه کاږي، موسى جان چې ورته وکتل دغسې يې ور الا کړه چې زما د ګران اس نالونه کاږې پښې دې خوږ کړې، خو چې را ورسېدئ، بزګر يې پورته کئ، د ځمکې يې وويشت، پر هغه ځای يې مړ کئ، بيا را رهي سو، پر لارې يو کوچنی پلک هلک دی چې د دې هلك نوم هم موسى جان ؤ، پر دې يې ناره وکړه:

شاپوکيه چې کوچني مرغومي پيايې

دغه سل روپۍ به در کم شاپوکیه زما سلام پر مکی وایه

پك ته درد ورغی چې ولې مې پك بولې، دغه پك هم ناره پر وکړه:

که ته موسی یې زه هم موسی نومېږم

نه دې سل روپۍ کوم نه دې سلام تر ګلمکیه رسوم

د دې پك ځخه تېر سو، راغی، یو ډنډ دی، نجونې پکښې لمبېږي، موسی جان پر را ورسېدئ، دستی د ښځو پر کالو کښېنوست، ښځو هر څه زارئ ورته وکړې، چې زموږ کالي راکه، دی یې نه ورکوي، په اخر کښې موسی جان ورته وویل چې سبا به ګلمکۍ خبروئ او راولئ به یې ښځو ویل ښه دي، خو قسمیانۍ کړلې، وروسته یې کالي ورکړه، کالي یې واغوستل، راوختلې ولاړې.

په دې ښځو کښې یوه پکه ښځه وه، دا په پټه ورغله، سهیلی یې خبر کئ چې موسی جان راغلی دی، دا نقل یې ورته وکئ، دې نورو ښځو ګلمکۍ خبره کړه، سهیلي فکر وکئ چې بیا خبره خراپه نه سي، په راسه چم ورسره وکه، موسی جان خو پر ګلمکۍ عاشق دی، لنډه دا چې سهیلي د ګلمکۍ کالي واغوستله د دې پوړنی یې پر سر کئ خنجر و پېشکوزه یې ور سره واخیستله، چې یعني موسی جان به د ګلمکۍ خیال راباندې وکي، زه به یې دروه په خنجر ووهم، سهیلی چې را رهي سو، د ګلمکۍ د لاسه نور هېڅ نه کیدله، پر بام پسې وختله، ناره یې پر موسی جان وکړه:

موسی جانه چې دا درځي دا سهیلی دی

موسی جانه خطا نه وزې دا پر سر یې سور سالو د مکۍ دی

موسی جان په خپلو خولو کښې ډوب دی، نه یې واوریده، خو چې داسې یې وکتله، کټ مټ هغه ګلمکۍ ده، مخ یې پټ دی، "سهیلي هم هغه کالي اغوستي وه، چې موسی جان ورکړي وه" موسی جان چې ورته وکتل، ده چې ویل ګلمکۍ ده دغسې یې ور الا کړه، غېږ یې پر راوګرځوله، موسی جان و سهیلي غېږ په غېږ سول، موسی جان چې ځان سره ښوراوه، سهیلي په نس کښې په خنجر وواهه، موسی جان په دغه حال کښې په توده وینه کښې ؤ، سهیلی یې پورته کئ، ویې ویشتئ د ځمکې د سهیلي په ځګر کښېنستئ باندې سپور سو، نو یې ناره وکړه:

رب دې وچ که سهيليه غونډه منډه
اوس بــه دې پــه خــپله چاړه مړ کم ګلمکۍ به کم په تورو پيکو کونډه

يعني زه خو دې خلاص کړلم. بې مرګه نه پاتېږم. نو تا ولې وژنم. ګلمکۍ به بيا کونډه سي. دا خبره يې وکړه، د سهيلي د سينې څخه غوزار سو. نفس يې وخوت مړ سو. (خدای دې وبخښي).

سهيلي کور ته راغی، ګلمکۍ يې خبره کړه، چې موسی جان خو مې مړ کئ، اوس خو نو بل څوك نه سو در پاته، يه اوس نو خپل آن ومنه.

ګلمکۍ و سهيلي ته وويل چې هوکې اوس دې نو خاص وګټلم، خپل عيش بۀ در سره کوم، ليکن دا دونه خوارۍ دې وکښلې دا يوه خبره لا زما د زړه د پاره پر ځای که، چې پر موسی جان به يو ښه زيارت جوړوې، ځکه چې موسی جان خو مې يو د اکا زوی هم دی او بل په مسافرۍ له ارمان سره مړ سو.

سهيلي ويل ښه دی.

سهيلي دستي حکم وکئ، چې ښه زيارت پر موسی جان جوړ کئ، په خو ورځو کښې يې پر موسی جان ښه زيارت جوړ کئ سهيلی راغی و ګلمکۍ ته يې وويل چې اوس خو مې ښه زيارت پر جوړ کئ. اوس به نو خوشحاله يې.

ګلمکۍ ورته ويل چې هو، مګر دا يو عرض لا لرم چې موسی جان مې دا پلا ژوندی و نه ليد او دا نوی ښه زيارت دې هم باندې جوړ کئ؟ يو وار مې د ده زيارت لره ورولهِ، چې زيارت يې وکم. بيا به نو هغه دې زه و ته يو، بل څوك نه سو را پاته کرار به سره کښينو.

سهيلي: ويل ښه دی.

سهار يې ګلمکۍ را رهي کړه، سهيلی ګلمکۍ سره له څو کسو نوکرانو د موسی جان زيارت لره راغله، ګلمکۍ چې په زيارت ور ننوتله، ور الا يې کړه، د موسی جان پر قبر غوزاره سوله، دعا يې وکړله، چې الهي زياتي ژوند نه غواړم!!! د ګلمکۍ نفس پر هغه ځای وختئ مړه سوله ((خدای دې وبخښي)) دا يې هم هلته ښخه کړله.

سهیلی اریانی واخیستئ چې دا څه پسات را وسو. د ده د نوکرانو څخه یوه ناره پر وکړه:

لویه خدایه په سهیلي دوه پساته وسوه

یوه یې سپینه مکو ولاړه، لویه خدایه بـــل یـــې خـــوِن د لاســه وُســـو

سهیلي ته درد ورغی، پر خپل نوکر یې ناره وکړه:

ای سرِیه ته پر څه او زه پر څه یم

چـې مـوسـی جـان و مـکی ولاړه ای ســرِیــه دریـم تـا پـسـې لـبـړم

چې یعنې زما څه حال دی، ته لا پر زړه مالکې را تویوې، ځو دا یې هم وواهه، دالته یې مړ کئ، خو د سهیلي ډېر فکر بد دی، کور ته راغی کښینستئ چرت یې وهئ، چې اوس نو څه وکم.

بس یو څو د غم شپې یې تېرې کړلې، یوه ورځ یې چرت وواهه چې د ولیجان پر کور خو هېڅوك نهٔ سو پاته. په راسه دې تانو ته مرکه وکه، دا د زمري کهونی ده، ګوندې خدای یو دغسې بادر زوی ځنې راکې، "اول خو پر هغې هم مین سوی وُ" مرکه یې ورولېږله، چې راغله، دا بیان یې وکئ، تانو هم هوښیاره وه، دویمه خبره یې هېڅ پکښې و نه کړه، څکه چې دې فکر وکئ چې هېڅ څوك نر ګاړی مو په کور کښې نه سور را پاته، اوس خو مو د لاسه هېڅ نه ور سره کېږي، دستي یې مرکې ته وویل چې ډېر ښه دی، سهیلي ته ووایاست چې درېمه ورځ زموږ و ستاسې سره وعده ده، درېیمه ورځ به راسې ډېر درب و دروب مه جوړوه، په پټه خوله به خپله نکاح سره وتړو، مرکه چیان بېرته ولاړه، راغله، و سهیلي ته یې دا بیان وکئ چې تانو ډېره خوشحاله سوله، ویل یې چې درېیمه ورځ دې سهیلی راسي.

دلته تانو په دې دری ورځې کې د کور وتولو ښځو ته تورې او سپرونه پهٔ لاس کې ورکړه، د جنګ تعلیم یې په شروع کئ او ټوله ښځې یې خبرې کړلې، چې سهیلی راسي هوښ کوئ، چې ژوندی در څخه ولاړ نه سي، زموږ نارینه یې ټوله مړه کړه، اوس یې و موږ ته ننګلي دی او په سپیتانه او چم به یې هم نه وژنو، چې بیا مو نوم بد نه سي، په هر څه چې ما کول هغه به تاسې کوئ، ښځو ویل ښه دي، یوه

تانو ده، يوه د وليجان مانيه ده، يوه د ميرولي مانيه ده، دوه درې يې مينځيانې دي، دې پينځو شپرو په درېيمه ورځ سهيلي ته ښه ځان تيار کړې. د باچهي جامې يې اغوستې دي، څو کسه معتبرين ور سره دي دا دى مازيګر د تانو کره راغى، کښته سو، هغوى هم ښه عزت وکئ، مابنام سو، ډوډى يې وخوړله، سهيلى حرم سراى ته ننوتئ چې اوس نو تانو ته ورځي، تانو مخې ته ورغله، سهيلى يې راوستى د کور په خونه کښې يې کښېناوه، تانو د باندې راووتله، توره او سپر يې راوړه، د سهيلي دمخه يې کښېښوله، تانو ويل چې دغه دې توره دغه دې سپر زما وراره او وروڼه دې وژلي دي اوس نو زما وار دى، يا به دې مړ کم، يا به مې مړه کې!

وروسته يې نو ناره پر وکړه:

سهيليه توره‌اخله را ولاړېږه ‌ ‌ ‌ سـهيـلـيه د ښـځې خيـال را باندې مه کړه

سهيليه ښځه نه يم مه شرمېږه

خير آخر سهيلي چې هر څه زارى ورته وکړى، هغې نه منلې، سهيلى هم ناچاره سو، چې وژني مې، ده هم توره و سپر واخستله خو جنګ يې سر ومښلاوه، د تانو او د سيهلي سره جنګ سو، هلته نورې هم دوې درى ښځې پر را وغورځېدلې، هله هله سره جنګ جنګ څو تانو سهيلي تر را تېر کئ توره يې ور سره لښته کړه، سهيلى يې پر مينځ دوه خياره کئ، مړ يې کئ، ښځو نوکې نوکې غوښې و هډوکې يې په جوال کښې واچوله، د باندې يې را وايستله، پر هغو نورو مېلمنو ملګرو يې يو يو ټوکر ور وغورځاوه، نو تانو ناره پر وکړه:

سردارانو تاسې وينې ياست که بيده ياست

سـر را پـورتـه کـئ د خوبه ‌ ‌ ‌ سهيلي خو مو اوس خوري د لحد خاورې

سردارانو چې سر راپورته کئ، که ګوري، د سهيلي ککرى په ميدان کښې پرته ده، سردارانو فکر وکئ چې باچا يې وژلى دى، موږ به نو چيرې پرېږدي، څو دوى کونه ښوروله ښځې په ورګډې سولې سره جنګ جنګ څه سر دې ګرځوم خو هغه سړي چې د سهيلي سره راغلي وو، څه يې مړه کړه ولاړه، چا الا کړه، څوک څو دالته وو، په زاريو يې ځان خلاص کئ، وروسته تانو په دغو خلکو کې ادنى يو

غریب سړی و پر حکومت یې کښېناوه ببغمه سوله بس!
کیسه ولاړه پورته زه راغلم کورته

❀❀❀

# د موسی جان د نکل د نارو وزم

دا ناري په لومړي سر کښې (اویه الا) وايي او د ناري لومړی مسری یې خوا مخوا دوه واره غبرګېږي او بیا په هر ځای کښې عند الموقع (وی) یا ای (وی وای) خو ور سره ویل کېږي او د هرې ناري وروسته دا مسری وايي:
"چې هر چېرې دوه مین وادیدن خو دې وسي"
مثلاً (اویه لا) که پوځې د تانو (وی وا) خولګی خومې پوځی (ای) که پوځې د تانو "وي وای" خولګی خو مې پوځې.
"ای ما په خدای قسم در کړی تانو خورې په درګاه (وی وا) سپاره ځوك دی"
اصله ناره خو دا ده که پوځې د تانو خولګی مې پوځې.
دغه نورې د قوسینو کلمې خاص د وزم د پاره ور سره ویلی کېږي.
مثلاً یا دا:
"اویه لا" موسی جانه تا په خدای "وی وا" کړم بزه ګاره "ای" موسی جانه تا په خدای "ای" کړم بزه ګاره "ای" موسی وروره په در ګاه کښې دا سپاره "وی وای د سهیلي دی.
ځنې خلك د دویمې مسرې لومړی برخه هم دوه واره وايي. لکه پورته دا بله د دویمې مسری "په درګاه کښې دا سپاره د سهیلي دی" چې دوه وار ویله کېږي.(۱)

❀❀❀

---

۱- د محمد ګل نوري له سپي هیندارې څخه واخیستل سوه.

# خان

د یوې پخې کلا د راسته لاس پر شا برج څلور پينځه کسه د نيمې دايرې په ډول ولاړ وو. د دوی په منځ کښې يو چار شانه څونور سړی ولاړ ؤ. چې د کالو ټوکر او جوړښت يې تر هر څه پخوا ليدونکی په دې پوهاوه چې دا يو هډور "خان" دی.

خان پر خپلو سترګو يو اوږد يو ميله دوربين نيولی ؤ. اواز بستې چې د دور بين فشار يې پر تندي او سترګو راغلی ؤ. نو د پلنې او ببرې ږيرې ويښتان يې د ځيګر پر چکن(۱) خپاره پراته وو.

د خان وضع د مخامخ منظرو په ليدو وار په وار مشتاقانه معلومېده. او کله چې به يې دوربين له سترګو را لېرې کړ. نو په يوه قهقهه خندا به يې حاضرين مخاطب کړل او وبه يې ويل: "عجيبه ښايسته وطن دی" د اوربخې بيا سخته ښې ايسي! د خان په وړاندې هغه فضا چې له دوربين څخه ده کتله واقعاً ډېره رنګينه وه.

د لويديځ خوا ته د اسمان د څنډې تر نيمې پورې د پسرلي تربړي را خپرې وې. د لمر ټکی د اسمان له نيمې څخه د لويديځ خوا افق ته ورکښته کېده او د هغې د پلوشو انعکاس په وربخو کښې داسې رنګين سوی ؤ. تا به ويل اسمان يو د وينو توفاني سمندر دی او د لمر ټکی لکه د اور يوه ببړۍ د هغه په منځ کښې روانه ده.

د خان د دوربين د ښيښې پر ښي او کيڼ اړخ د غنمو کښتونه داسې معلومېدل لکه يو داسې زرغون فرش چې غوړېدلی وي. چې د څنډو آشې يې په خړو وړيو اوډل سوې وي. او دا آشې نو د کښتونو د شمال خوا ته هغه خړې شېلې

---

۱- چکن: په وربښمو او هېندارو ګنډل سوی د کميس ځيګر.

وې چې شمال خوا و غرو درو ته ور ننوتلې وې.

خان چې په طفلانه هوس د خپل دوربين سمت ژر ژر بدلاوه. يو ځل يې مخ په وړاندې داسې متوجه سو چې څو واره يې دوربين له سترګو ايسته کړ او بيا يې پر سترګو برابر کړ.

ده يو ځل خپله اوږده لمن را پورته کړه او پسله هغه چې د دوربين هنداره يې په پاکه کړه، بيا يې هغه سترګو ته ونيوله. دا ځل ده ښه لس دوولس دقيقې دوربين سترګو ته نيولی ؤ. وروسته چې يې دوربين له سترګو څخه را لېرې کاوه، يو څه جدي او ضمناً يو څه خواشينی معلومېدئ. په دې وار کښې ده دوربين په خپله په پوښ کښې واچاوه او په داسې حال کښې چې د شا د خوا يو سړي ته يې ورکاوه، وويل مابنام کېږي درځئ، چې مسجد ته ځو. دا يې وويل خان تر مخه او هغه نور کسان په پسې وه. له شا برج څخه را کښته سول.

✿✿✿

د خانی د کلا ميانخانه (مهمانخانه) په پنډو کور بچو فرش وه. د هرې کور-بچې سر ته او د ديوالو مخ ته پنډ او غټ بالښتونه پراته وو. د کوټې په سر کښې خان تکيه لګولې وه او مخې ته يې يوه سپينه توکداني پرته وه. په کوټه کښې د خان سره يوازې يو سړی ناست ؤ او د مجلس وضع داسې معلومېده لکه يوه خصوصي موضوع چې تر بحث لاندې وي.

خان وويل:

"ملا بارانه دا د پردل د پټيو چپه خوا ته د چا کلا ده، چې بادوانونه يې جلټ جلټ معلومېږي؟"

خان ته مخاطب سړي په داسې حال کښې چې سپين پټو يې پر ځان را سماوه، يو ځل وټوخل، بيا يې غاړې تازه کړې او ويې ويل: دا خو د نوروز او فيروز

کلا ده. دا خو هغه کلا ده چې آ پروسږ کال ته د فیروز او نوروز له خوا پر لاندي(۲) هلته ښلمه وې.

خان یو ځل بیا په تعجب ده ته وکتل. بیا په داسې حال کښې لکه چې یوه هېره چې یې په یاد سوې وي. په اطمینان سر وښوراوه او ویې ویل:

ښه! ښه! دا د نوروز او فیروز کلا ده؟ عجب زما هم عجیبه یاد دی. په رښتیا اوس مې را په زړه سوه. چې دا خو د نوروز او فیروز کلا ده.

خان چې د خپلې خبرې وروستنۍ جمله پای ته رسوله نو جیب ته یې لاس کړ او د نسوارو یو کوچنی کدو چې خوله یې د سپینو زرو په کړۍ کښې نیولې سوې وه. را و ایستئ او د هغه څخه یې یوه خوله نسوار وکړل. بیا یې هغه ناست سړی مخاطب کړ ویې ویل:

ملا بارانه! ته خو. نو اوس ما ته داسې سړی یې لکه د کور سړی. ستا څخه زما هېڅ شی پټ نه دي. ده یو کوچنی مکث وکړ او پسې زیاته یې کړه. ملا بارانه د نن مازیګر څخه په ځان نه پوهېږم. اندامونه مې سستي راته کوي. ستا به فکر ؤ. چې نن مازیګر مې د کلا د شا برج څخه دوربین اچولی ؤ د دوربین سترګه مې د نوروز او فیروز د کلا پر بام برابره سوه.

خان دوه درې واره سر وښوراوه. نسوار یې تف کړل. بیا یې وویل:

ملا بارانه د فیروز او نوروز پر بام مې داسې یوه ښاپیرۍ ولیده چې زړه او ایمان یې دواړه را څخه یووړل. یوه مسته پیغله وه که مړوښې. خو د ځوانۍ پسرلی یې په خېره کښې داسې را ځلانده سوی ؤ چې کافر یې پر ځان مسلماناوه. سر یې غوړولی ؤ او وېښتان یې لکه ښاماران پر اوږو پرله اوښتل. ناست سړي چې د خبرو په وخت کښې خپلې سترګې د خان پر خوله ګنډلې وې او منتظر ؤ چې د خبرې نوبت ور ورسېږي. نو کله چې د خان د خبرو وروستۍ جمله پای ته ورسېده. په یوه داسې لهجه چې تلوسه د ورا پکښې څرګندېده وویل:

---

۲- د پسه وچې سوې غوښې

های خانه! ستا د بلا مخ ته دې وطن ودرېږي. په رښتيا د نوروز او فيروز په کور کښې داسې پېغلانې ناستې دي چې مخ يې لمر او شا يې سپوږمۍ ده او ما چې هر څه فکر کړی دی. دا ښاپېريانې په وطن کښې غېر له تا څخه والله که د بل چا لايقې دي.

کله چې ناست سړي د خان د خوښې له پاره په کامل ډاډ دا خبره کوله. نو په خان کښې هم يو وجد پيدا سو او په داسې حال کښې چې پر ږيره يې لاس تېراوه ويې ويل:

ملابارانه. اوس نو چاره ښيه چاره! چې نه په ځمکه پوهېږم او نه په اسمان. که مې دا ټوله خاني پر ولاړه سي او په دوهه(۳) کښې په يوه لنګ او کند(۴) کښې ور سره پاته سم. هم به مې ارمان پاته نه وي.

ناست سړي چې د خپلو خبرو څخه پوره راضي ايسيدئ ويې ويل:

يه خدای دې خانه داسې ورځ نه راولي. چې خاني به دې ځي. دا پېغله ستا ده. ته پوهېږې چې په وطن کښې به داسې څوك وي چې هغه دې ستا په دوستۍ خوښ نه وي. د فيروز او نوروز به خدای ورځ راسته کړې وي. چې ستا دوستي يې په نصيب سي.

خان چې دا خل د دوو غټو بالښتونو په منځ کښې ځان ځای پر ځای کاوه ويې ويل:

ملا بارانه! بس نو دا نن به زه د دوږخ شپه پر ځان تېره کړم. خو سبا به په مرکه ځې او که دې سبا ماښام ته زما د بازيو(۵) لار برابره کړه. نو بګړۍ دې پر ما پور ده.

---

۳- دوهه زيړت ته نژدې هغه ځای چې منګن پکښې اوسي.

۴- کند. د منګنو هغه چپنه په رنګارنګ ټوکرانو يې ګنډلې وي. او دهررنګ يو ټوکر پکښې وي.

۵- بزي. د پلار پر کور د نوې سرد د زوم يو ځای کېدو ته وايي. کنداريان يې (ګردنی) بولي.

ناست سړی چې له دې ماموریت څخه ډېر خوښ ایسیدی او ویاړ یې په خپل نصب باله ویې ویل:

پر دواړو لیمو خان صاحب! خو نن شپه دې خدای د دوږخ شپه کوي نه. اوس هم ستا حرم باغ ارم دی.

خان چې یوه اوږده خندا کوله. ناڅاپه یې ناړې په ساه ووهلې. او توخي پسې واخیستی او په اشاره یې د ناست سړي سره خدای په اماني وکړه. او هغه له کوټې ووت.

❁❁❁

د خان د کلا اړخ ته د ماجت څخه تر لمانځه وروسته مقتدیان یو په بل پسې راوتل او د دوی په مخ کښې غټ هډور خان چې لویه دوپټه یې پر سر اچولې وه. په غټو ګامو د کلا د دروازې خوا ته روان ؤ. په ده پسې چې کوم ګړ ویښتی(٦) سړی رهي ؤ. نو د ښې څخه یې داسې معلومیده لکه د مخ سړي ته چې یو مهم پیغام لري. ور سره پر اړخ سو. نو د ښېرته را پر شا کېدو څخه به یې بیا هم سړی پوهیدئ چې د مخ سړی حاضر نه دی چې د لارې پر سر د هغه خبرې واوري.

دوی دواړه د کلا لومړی دروازې ته ننوتل او د راسته لاس پر لار یوې د انارو باغچې ته داخل سول کله چې د انارو په باغچه کې پر یوه هوار تخت د مخ سړی کښېنوست. نو د شا سړی تر ده را تاو سو او په ګونډو یې مخ ته کښېنوست. ده ښېله دې چې خان پوښتنه ځنې وکړي. وویل: صاحبه زه خو د نوروز او فیروز کره ورغلم. بس کار خلاص ؤ. خو کله چې مې د دوی پوښتنه وکړه. نو په کور کښې یې ښېله ښځو بل څوك نه وو او هغو را ته وویل چې فیروز او نوروز دوې ورځې د مخه په سوداګرۍ هندوستان ته ولاړل.

ده چې خبره و دې ځای ته ورسوله او غوښتل یې چې بله جمله پسې

---

٦- ګړ ویښتی: اصطلاحاً په پارسي کښې یې ماش و برنج بولي. هغه کسان چې په سر او ږیره کښې یې تور او سپین ویښتان سره ګډ سوي وي.

ووايي د خان تر خوله يو تود اسويلی ووت او ويې ويل:

"او دا هم زما بخت دی چې نی غواړې نه دې درپېښېږي"

خان سر وښوراوه. څو چې خوله يې خبرې ته خلاصوله. ناست سړي بيا وويل:

خانه ته ولې داسې اسويلې. دا چې فيروز او نوروز نسته بلا په پسې. نن شپه زه او ملا شاه پسند او ناظر ورځو او په هر چم چې وي دا ښځه راولو. ملا شاه پسند به نکاح وتړي او هر وخت چې نوروز او فيروز راغلل. نو باور وکه چې په دې دوستی به ډېر خوشحاله سي. خان بيا سر وښوراوه. خو مخ کښې تر دې چې تر خوله يې خبره را ووځي ناست سړي وويل:

د فيروز او نوروز به خدای ورځ په راسته کړې وي. چې دا دوستي يې په نصيب سي. پر وطنو وطنو به يې نوم ولاړ سي. چې (سهيلي خان) دوستي ور سره کړې ده.

خان سر وښوراوه او ويې ويل:

ملا بارانه! دا منم چې هغه زما په دوستی خوشحاله کېږي. خو دا چې دوی نه وي او زه يې د کوره ښځه راوباسم نو دا هم ما ته نا مناسبه ده او هم به هغه خوا بدي سي.

(عجيب)؟ دا ته څه وايې؟ د هغو خوابدي به څه شی وي؟ بيا نو ته څه د دوی پروا لرې؟

تا د ګلبدين خان د کوره په سپينه ورځ ښځه را وايستله او نکاح دې پر وتړله او د هغه شمله دې په دغه وار ور ونړوله پروا دې و نه ساتله. نو اوس دا فيروز او نوروز بيا څوک دي چې ته يې دونه پروا ساتې؟

سهيلي خان چې پخوا په افقي ډول سر ښوراوه. دا وار يې په عمودي ډول دوه درې واره سر وښوراوه او ويې ويل:

ملابارانه! کشکې دا وار زه د يو خان سره مخامخ وای. د خدايه به مې ارمان نه کولای.

ده لا جمله پوره پای ته نه وه رسولې چې ملاباران وویل:
ښه دا فیروز او نوروز څه زور تر ملا لري چې ته د خانانو پروا نه ساتې او د دوی هغې ساتې والله عجیب؟
سهیلي خان پیوس... ‌ېسې وویل:
ساده سړیه، خبره د‌ ده چې فیروز او نوروز د دې وطن سوداګران دي او نغدې روپۍ ټوله د دوی سره دي، نو ته پوهېږې چې زه وخت او نا وخت روپیو ته احتیاج پیدا کوم، نو دوی مې په درد خوري او که نن دا کار وکړم نوروز او فیروز به زما سره د بدۍ توان و نه لري، خو که د وطن څخه ولاړ سي نو ته پوهېږې چې زما کار به د یوه سره تر بله سره ګډوډ سي، سر بېره پر دې دا داسې جادوګر سوداګران دي چې په خدای قسم وطن یې ټوله د پیسو په اعتبار رانیولی دی.خو زه یې د لارې خنډ یم او زه خو نو هم په خپل کار کښې بد پهلوان نه یم داسې مې دا دوه ورونه په خپل جال کښې کښېستلي دي چې هېڅ کښ نه سي کولای. مګر اوس چې تا ته د زړه حال وایم، خدای مې شاهد دی چې په خپلو پیسو یې زه هم رانیولی یم، صرف خان مې تکیه کړی دی، مطلب مې دا دی چې د دوی په پیسو زما شل مشکله اسان دي، نو که نن د زوره کار واخلم، ښایي ډېر بې حده تاوانونه دې راته تکیه سي. خان چې خپله خبره په پوره تفصیل پای ته ورسوله، نو ملاباران وویل:
بس نو چې داسې ده، نو خانه دا خو ورځې دې غاښ وچیچه او کله چې فیروز او نوروز د هندوستان د سفر څخه وطن ته راوګرځي په هغه شپه به ستا هم د واده شپه وي.

❁❁❁

خان صاحب ته خو د ټول وطن مشر یې او موږ غریب خلک یو، ستا سره زموږ دوستي موږ ته لوی ویاړ دی، خو موږ ستاسې کفوه(۷) نه یو.

---

۷-کفوه: هغه چې په قوم او دارایی سره برابر وي.

د خبرې کوونکي خبرې لا دوام درلود چې خان خپله لویه لمن را پورته کړه او په داسې حال کښې چې خوله یې په پاکوله وویل:

ګوره فیروزخانه! نوروز خانه ته یې هم واوره. تاسې زموږ د وطن کم خلك نه یاست، خدای هر څه در کړیدي زما سره ستاسې دوستي عین کفوه دی.

خان چې خپله خبره پای ته ورسوله. نو نور څه یې و نه ویل او یوه سنګینه خاموشي یې اختیاره کړه. په دغه وخت کښې فیروز وویل:

خانه! موږ څه نه وایو او خپله ښځه به در کړو، خو موږ په دې وطن کښې قوم نه لرو تا ته به دا خپل قوم و نه وایي چې د اوپره و (۸) څخه یې ښځه وغوښته؟

(یه) د دې څخه پوره باور ولرئ. تاسې که دلته قوم نه لرئ. خو اعتبار لرئ. تاسې سوداګران یاست او پیسې لرئ.

خان د خپلې پورتنۍ خبرې د جملې د وروستۍ برخې له ادا سره یوه نیمه خوله خندا وکړه او پسې زیاته یې کړه. (تاسې پیسې) لرئ. پیسې! د دې کلمو له استعمال سره حاضرینو ټولو په پرق وخندل او ملا باران ږغ وکړ. بس لاس پورته کړئ. خدای دې مبارك کړي.

ده په خپلې خبرې پسې زیاته کړه: مولوي صاحب. لاس پورته کړه او د عقد دعا یې وکړه!

په دې وخت کښې چې نو روز سر کښته ځړولی ؤ او داسې معلومېدئ لکه په ژور فکر کښې چې غوټه وي. ناڅاپه یې سر راپورته کړ او په یوه داسې لهجه چې نسبتاً قاطعیت پکښې ښکاریدئ ویې ویل:

یه! یه! مولوي صاحب د نکاح دعا و نه وایې زموږ دا دوستي نه سره کېږي. زه په دې ښه پوهېږم. چې په دې خیښۍ کښې به په پای کښې خان را څخه خوابدی سي، نو تر وروستۍ خوابدۍ یې لومړۍ خوابدي ښه ده.

---

۸- اوپره: بې ځمکې په یوه نوې قبیله کښې د بل قوم سړی. په کندهار کښې غلجي ته هم دا کلمه استعمالېږي.

نوروز چې لا خپله خبره پوره پای ته نه وه رسولې، چې مولوي او ملاباران په دوارو د دې دوستۍ د ښو اړخونو په باره کښې خبرې ورته شروع کړې. مولوي خو واره د بسم الله په شروع د دغسې دوستۍ په باره کښې څه مقدس اقوال هم بیان کړل. خو نوروز یو ځل بیا هغه خپله تر مخنۍ خبره تکرار کړه او د دوستۍ څخه یې نټه وکړه.

په دغه وخت کښې چې د خان تندی غوټې سوی ؤ، په قهر قهر یې دوی ته وکتل او ویې ویل: نوروز خانه زه په ټینګه درته وایم چې ستاسې سره مې دوستي زړه غواړي، تاسې ښه خلك یاست او کنه په وطن کښې ښځې ډېرې دي. چې زه وغواړم بې پوښتنې یې هم خلك راته راولي.

ملا باران او مولوي د خان په تایید پسې زیاته کړه:

خان رښتیا وايي، څوك دی چې په دې وطن کښې د خان په دوستۍ نه وي خوشحاله؟

زیاتي نورې خبرې مه کوئ او دا یو ښه مبارك کار دی، خدای به نور برکتونه هم پر کښېږدي.

نوروز په کراره د خان سره سر وښوراوه او ویې ویل:

خدای دې د خان د پاره دغسې دوستي مبارکه کړي، خو مور دغې دوستۍ ته حاضر نه یو او چې هر څونه په دې باره کښې خبرې وسي زموږ هغې یوه وه چې ومو کړه.

دا مهال د خان څخه لکه زخمي سوی پړانك داسې شی جوړ سوی ؤ. سترګې یې تر کولکو راوتلې وې او په یوه داسې رږغ چې د توپ غړومب ته ورته ؤ په زوره یې وویل:

ښهٔ چې دوستي نه کوئ، نو دښمنۍ ته مو زړه کېږي، دا یې دوستي نه دښمني یې... زما په خدای قسم دی چې دا ښځه به زه کوم. خو په دوستۍ یې تاسې نه راکوئ نو په دښمنۍ به یې در څخه راولم او ستاسې سرونه به نو هم درکتوم. بس په مخ مو ښه.

د خان د غړومبا سره د فیروز رنګ والووت. شونډې یې وچې سوې او په داسې حال کښې چې خبره یې په ستوني کښې ومښته ویې ویل:

خان صاحب تا دې خدای نه خپه کوي. موږ د خپلې ښځې غم نه کوو. موږ ستا په دوستۍ سر لوړي کوو. خو څه چې وایو هغه د دې د پاره چې یو وار ته را څخه ازار نه سې. بل مو ښځه چې تر اوسه نجلۍ ده او پوره د ښځې ځای ته لا رسېدلې نه ده. یوه داسې بې ادبي ځنې و نسي چې خدای دې نه کوي. ستا به زموږ څخه زړه بد سي.

مولوي په چابکۍ سره په خبرو کښې مداخله وکړه ویې ویل: تاسې هم ښه وایاست. خو خان صاحب چې څه وایي هغه هم ستاسې په خیر ده. بس خدای دې دا دوستي نیکمرغه کړي. ملا باران چې د نکاح د پاره لاسونه پورته کول خان وویل:

فیروز خانه تاسې هوښیاران خلك یاست. او ستاسې د هوښیارۍ او آبدارۍ لحاظ مې کړی. په دې چې دا دوستي در سره کوم. او کنه بیا باید ووایم چې په دا ټول وطن کښې که زه وغواړم چې ښځه وکړم که مړوښې هم وي څوك به یې را څخه وسپموي؟

د خان جمله چې په یوه سوالیه ختمیده مولوي او ملا باران یو ځای وویل:

(یه) هېڅوك بۀ ستا د امر څخه سر و نه غړوي.

په دغه وخت کښې مولوي د نکاح دعا وویله او ملا باران د جیب څخه پر یو دسمال ستن او تار جك کړي وو. هغه یې فیروز ته ورکړه. او فیروز په ډېر احترام و خان ته ور وړاندې کړه.

د فیروز سوداګر له لور سره د سهیلي خان واده په ډولو او نغارو ته ؤ بلکې په پټه خوله یې وکړ. خان څلوېښت ماينې نورې درلودې او تر څلویښتو ماینو وروسته چې یې هره یوه کوله هغه به یې په پټه خوله کورته راوستله.

د خان کلا لکه د ګله یانو قفس(۱) داسې سوی وه. او د وطن هره ښایسته

---

۱- د ګنیانو قفس هغه دی چې په هغه کښې په جنګ کښې مات سوي مرزان (کرګان) اچوي.

او ښکلې چې به پیدا کېده نو ځای به یې دغه قفس ؤ. خو د فیروز لور (شابیبېه) چې کلا ته راوستله سوه. نو تر نورو یې ښه او جلا ځای ورکړ او خان به هم په خپله د هغې سره اوسیدئ.

(شابیبېه) یوه هوښیاره نجلۍ وه او د کور په روزګار ډېره ښه پوهېده. دې د سهیلي خان زړه ډېر ښه ساتئ او هر وخت چې به خان د باندې تئ نو کالي به یې پاك ورته ایښوول او موچنې به یې ورته سمولې. پر خان هم دا تر ټول کور ګرانه وه او هر وخت چې بهٔ د باندې څخه راغی نو بیا بهٔ تر سبا پورې له کوره نه وتئ. وروسته ماجت ته هم ډېر لږ ورتئ او لمونځ به یې په کور کښې کاوه. د میان خانې (مهمانخانې) د عزت دارۍ کار یې هم خپل ناظر (ملاباران) ته سپارلی ؤ.

د شابیبنې د کمال اوازې په وطن کې دونه اوچتې سوې لکه د حسن او ښکلا صفت چې یې خور سوی ؤ.

څونه چې "شابیبېه" د خان په خدمت کښې راسته وه. نو خان هم د دې د رایې او طبیعت څخه نه اوښتئ او کله کله چې به په کلا کښې ډېر مشکل او داسې کار پیدا سو چې چا به نسوای کولای. نو د (شابیبنې) په یوه یادونه به خان د هغه کولو ته حاضریدئ.

خان د خپلو خسرخېلو عزت هم ښه کاوه او هغه هم سودا ګر خلك وو. نو هر وخت چې به د سوداګرۍ څخه راغلل. دونه سوغاتونه به یې خان ته راوړل. چې کیسې به یې د کلي په کورو کښې په میاشتو میاشتو کېدلې.

د بیبنې د واده شپې او ورځې وې چې د فیروز او نوروز مایني امینداورې سوې. او دوی دواړو ورونو هم د سفر نیت وکړ.

په دا بله هفته کښې چې دوی سفر ته تله نو یوه هفته دمخه یې په کور کښې یوه ښه مېلمستیا جوړه کړه او په هغې کښې یې د خپلوانو په مخ کښې سره وویل چې که مونږ یوه ته خدای زوی ورکړ او دا بل ته یې لور ورکړه نو دا مو یوه د بله سره ورکړې دي. پر دې خبره یوه بله خوشحالي پسې جوړه سوه. یوه هفته چې پوره سوه. نو فیروز او نوروز په سوداګرۍ هندوستان ته روان سول.

دوی ښه ډېر عمر تللي وو، کله چې وطن ته راستانه سول، نو خبر سول چې د فیروز لور او د نوروز زوی زوکړي دي، دوی، بیا خوشحالۍ جوړې کړې. پر هلك يې د "موسی جان" نوم کښېښود او پر جلۍ يې د "ګلمکۍ" نوم کښېښود. او دستي يې ملا راوغوښت. نکاح يې سره ور وتړله او يوه خوشحاله ښادي يې پر جوړه کړه.

فیروز او نوروز خپله سوداګري کوله په دې منځ کښې دیارلس څوارلس کاله تېر سول او څرنګه چې د سفرونو خواریو ځپلي وو، نو دواړه ورونه په نژدې فاصله کښې سره مړه سوه، موسی جان او ګلمکۍ د کوچنیوالي څخه یو پر بل سره مین وو. خو په دې يې زړه پوره ؤ چې په حلاله نکاح سره ورکول سوي دي نو خوامخوا به سره یو ځای کېږي.

د فیروز او نوروز تر مرګ یو کال وروسته موسی جان د ورونو سره وېش وکړ او هغه خپل حق چې ور رسېدلی ؤ، په لږ وخت کښې يې په مجلسو او مېلو له لاسه ووت، په دغه وخت کښې يې مور ورته وويل چې ورسره د اکا مايني ته دې ووايه چې ښځه دې په لاس درکړي، موسی جان هم راغی او د اکا مايني ته چې يې وويل هغې نته وکړه او ورته ويې ويل:

د مړو خبرې په مړو پسې ولاړې.

موسی جان چې هر څه کوښښ وکړ، خو چا "ګلمکۍ" په لاس ورنکړه او دی هم ګروم ځګیره سو. د غیرته هم څه نه سي ویلای، او وس يې هم نه رسېږي، وروسته يې د ځان سره فیصله وکړه، چې له وطن څخه فراره سي، موسی جان په ډېره نامیندۍ له کلي څخه راووت او مخ يې د (بغنۍ) ناوې ته ونيوئ شپې شپې يې مزل وکړ څو يوه کلي ته را ورسېدئ. د کلي په سر کښې څو کسه سره ناست وو، ده ورته وويل:

څوانانو، زه مزدوري کوم که کوم کار لرئ! دوی یو له بله سره وکتل او د ناستو کسانو څخه يوه ورته وويل:

ته خورا ښه څوان معلومېږې، خو مور بې له ګوروانۍ بل کار نه لرو ګوروان

مو وتلی دی نو که دې خوښه وي، دغه خواري خو حاضره ده او موسی جان ورسره قبوله کړه.

اوس نو هره ورځ موسی جان د کلي ګورم راباسي او د کلي سر ته چمن ته یې بیايي دغه چمن ته نژدې یوه کوډله ولاړه وه او په هغې کښې یو ملنګ اوسیدئ. د موسی جان له دغه ملنګ سره اشنایي سوه. ملنګ یو رباب هم لري او خورا ښه رباب وهي، نو موسی جان چې ګورم چمن ته ورخوشی کړي، په خپله راشي، د ملنګ سره کښېني او ملنګ رباب ورته شروع کړي، په دغه منځ کښې ښې څو میاشتې تېرې سوې، او په خپله موسی جان هم رباب زده کړ.

په پای کښې یې د کلي ګوروانې پرېښووه او په مزدورۍ یې چې څه پیدا کړي وو، هغه یې ملنګ ته ورکړل او ملنګ هم خپل رباب و ده ته ور وبخښئ او موسی جان بیا مخ بلې خوا ته ونیوئ[۶]

❁❁❁

د (ګردی باغران) د (سیاجوی) په کلي کښې یو سړی اوسیدئ چې "ولیجان" نومیدئ. ولیجان یو ټوکر ځمکه درلوده او نور یې یوه غوا او مېږې هم درلودې چې ګوزاره یې په کېده.

ولیجان یو مېړه او غښتلی او مېلمه پال سړی ؤ[۶]. په خپله تنګه ګوزاره یې بیا هم بې مېلمه ډوډۍ نه خوړه. د کور او وطن په معاملو کښې هم یو راستمن سړی ؤ او د کلي خلکو هم د هغه ښهٔ عزت کاوه. یو وخت د "چیخالی" د کلي یو ملك د ولي جان په ځمکه دعوه وکړه. دا دعوه په مرکو فیصله نه سوه او خلکو سر ډېرې ته نیولې ؤ، وروسته د دوی دعوه پسې اوږده سوه. څو په "داور" کښې لوی خان ته ورسېده او دوی دواړه هم هلته ورغلل. ولیجان په دې ښغمه ؤ چې ځمکه خو زما ده او ملك نا حقه دعوه کړې ده. نو خان به ده ته منت وکړي. خو ملك موك (رشوت) تېر کړ یوه ورځ چې سهیلي خان دربار جوړ کړی ؤ او د وطن شاوخوا خانان پکښې حاضر وو ولیجان او د هغه مدعي ور پیش سول.

سهيلي خان د دوارو خواؤ خبري واورېدی. وروسته يې حکم وکړ چې ځمکه د ملك حق ده او وليجان ملامت دی.

وليجان په تعجب وويل چې دا فيصله ناحقه ده. خو سهيلي خان مخ ځنې واړاوه او ورته ويې ويل: "فيصله خو دغه ده نور که دې نو څه په وس پوره وي لاس دې ازاد".

د سهيلي خان دا خبره پر وليجان داسې پريوته لکه مردك چې يې د کوټې کاسه ور وچاوده. د خان له درباره څخه راووت او په داسې حال کښې چې له ملك څخه جلا کېدئ هغه ته يې وويل:

"نور زما مدعا ستا سره پای ته ورسيده. زما مدعي راته معلوم سو او نور به يې نو د هغه سره معلوموم". وليجان په پټه خوله خپل کلي ته راغی. د شپې يې کډې بار کړې. ځمکه يې و ملك ته ور ايله کړه او په خپله يوې نامعلومې خوا ته فرار سو.

❁❁❁

د پسرلي خوشحاله او بانشاطه شپې او ورځې وې د "داور" دښتونه لکه زرغون فرش داسې معلومېدل او د لالې سرو ګلانو پر يوه ښکلا بله ښکلا زياته کړې وه. د وطن خلکو د پسرلي ميلې کولې او پېغلانو به د دښت ګلان په پيکي کښې ايښي وو.

په دغسې شپو او ورځو کښې د سهيلي خان د کلا ښځو له(شابيبۍ) څخه وغوښـتل چې خان ته ووايي:

چې دوی په ګډه يوه ميله وکړي.

"شابيبۍ" هم يوه شپه په داسې حال کښې چې خان د خوښۍ او مستۍ په ټال کښې زنګيدئ په ناز هغه ته د ميلې خبره وریاده کړه او خان هم د هغې ناز قبول کړ او ورته يې وويل چې سبا نه بل سبا به بار خانه د دښت هغو برخو ته ولېږو چې د هلمند سيند ورته نژدې دی او د سيند سيل به هم وکړئ.

شابیبنې په خوشحالۍ د خان تر غاړه لاسونه تاو کړل او هغه هم خپل قوي متان پر راتاو کړل او یوه کلکه مچه یې خنې واخیستله په سبا شابیبنې د کلا ښځو ته زېرې ورکړ چې میله جوړېږي او هغو هم په دې تعجب وکړ چې موږ دې کلا ته راننوتلي یو بیا مو د باندې مخ نه دی لیدلی او دا چې خان د شابیبنې ناز قبول کړ نو په رښتیا چې ډېره پر ګرانه ده.

د هلمند سیند لکه یو خر وښیدلی ښامار پر له تاویدئ داوبو د خړو باډاسکو پر سر سپین کبان پر له اوښتل رااوښتل.

د برایي شپې تېر سوي باران په اثر د دښت زرغون او باطراوته مخ پاك پریوله سوی ؤ او د دښتې ګلانو خوشبویي هرې خواته خپره کړې وه د یو زرغون تل پر مخ د سیند له لاندې ساحل څخه لس دوولس ګزه لوړ د سهیلي خان د حرم د ښځو تجیر ولاړ ؤ او په هغه کښې شابیبنه د ځلوېښتو ښځو سره په خندا او مستۍ اخته ده. ساز وهل کېږي، ایشلي کېږي او ټوکې ټکالې روانې دي. د تجیر څخه ور ها خوا د سهیلي خان خواجه ګان او پېره داران لار څاري چې د خان حرم ته څوك ور نژدې نه سي په دغه وخت کښې یو ځوان غښتلی سړی پر یو مست بهاڼ سپور د تجیر خوا ته په یوه ټوپ راروان ؤ کله چې پېره دارانو ته رانژدې سو نو هغه مخې ته ورولویدل او ورته ویې ویل:

اجازه نسته چې نور مخته لاړ سې!

سپور پوښتنه وکړه څه پېښه ده؟

پېره دارانو په آمرانه لهجه ورته وویل چې دلته د سهیلي خان حرم په مېله راوتلی دی.

سپور د خپل ملاوستني څخه په چټکۍ توره راوایسته چې د لمر په پلوشو یې ځلا ددوی سترګې ور وبریښولې او ویې ویل:

د مخې مې ایسته کېږئ زما هم د دغه حرم سره کار دی.

پېره داران وېېرېدل او سپور لکه برېښنا راغی د ښځو په مینځ کښې له اسه راکښته سو او په ډېر تلوار یې شاوخوا وکتل.

ښځو نارې کړې يوې او بلې خوا ته يې الا کړل خو شابيبنه پر ميدان ودرېده او په ډېر جرئت يې پېردارانو ته نارې کړې چې د انا محرمه ځوك دى چې دلته راغی ګير يې کړئ. سپور اول په نرمه خندا او وروسته په قهر پر هغې نارې کړه. «پورته سه اس ته. بله خبره دې تر خوله راونه وزي".

ده بيا هم په چابکی توره په تيکې کښې واچوله په يوه کلکه ټيله يې شابيبنه زين ته پورته کړه او په خپله هم وروغورځېد پر اس سپور سو او چې نرۍ شلاخه يې تر سر تاو کړه. اس لکه پنرو غورځېد او ديوان له مخې په داسې حال کښې چې د حرم ښځو پيره او پيره دارانو په حيرت ددښت خوا ته کتل اس ورو ورو ځينې ليرې کېدئ ځو د دښت د شمال د غرو خواته پر دښت د دوی له نظره غايب سو.

پيره داران په وارخطايی راغلل او خان ته يې ټوله کيسه وکړه او د حرم ښځې په بيره خپلې کلا ته ولاړې.

❁❁❁

سهيلي خان خپل ناظران او د ماجت مولوي راوغوښتل او په داسې حال کښې چې له قهر څخه يې لاندې شونډه تر غاښونو لاندې کړې وه هغو ته وويل:

نور زه نه پوهېږم که دا "مطلب يې شابيبنه ده" پيدا نه سي نو دا وطن ته به اور واچوم. دا زما د ناموس خبره ده او تر هغه وخته پورې به تاسې هم و نه بخښم چې دا پيدا کېږي. له دې خبرې سره خان چوپ سو او ملا باران چې د ناظرانو مشر ؤ په لوړ آواز وويل:

خانه دا يواځې ستا د ناموس مسئله نه ده دا په ټوله وطن اړه لری. زه به لېوه(۱) او سړي خور(۲)دا اوس دستي د نورو خلکو سره پسې ولېږم او دښمنان به لاس تړلي ستا حضور ته راولم. دا يې وويل او د کوټې څخه ووت. مولوی چې خو دقيقې پټه خوله ؤ، کله کله به يې د خان بنې ته وکتل خان چې له خپل اولني قهر څخه يو څه

---

۱)- ۲) دا د ناظر هغه نوکران وو چې ډېر بد نغامه خلك وو او نه دغه خاطرد دغه نومونه پر ايښوول سوي وو.

راسوړ سوی ؤ. نو مولوي جرئت وکړ او ورته ويې ويل:

خان صاحب. ښځه خو د چپې پوښتۍ څخه پيدا سوې ده او شيطان يې هم ژر په هډو کښېوزي. خدای دې نه کوي چې داسې نه وي سوي چې دې ؤ هغه سړي يو لام ترلی وي؟

د خان پر سترګو يو ځل بيا سرې کړۍ را تاو سوې او کله چې مولوي د ده وضع ته متوجه سو. نو پر خپلو خبرو پښېمانه معلومېدئ.

مولوي هر څه به ومنم خو دغه به و نه منم ځکه د هغې د بې پيره له لور سره ما هېڅ بد نه وو کړي نو پر څه به يې دا بدنامي را اړوله؟ مولوي د خان له لهجې څخه پوه سو چې د هغه هم و تښتېدلې ښځې ته يو څه قهر راغلی دی. نو د دې له پاره چې په مسئله کښې خان صاحب نظر وښيې ويې ويل:

ممکن زه په خطا وتلی يم. خو دا چې په دا کلو کلو د حرم ښځو ميله نه پېژندله او دې چې د دغه کار غوښتنه ستا څخه وکړه. دلته د سړي يو څه اشتباه راځي چې کوم نيت به يې درلود.

خان تر ښه ډېره وخته په فکر کښې ؤ او داسې معلومېده چې د مولوي پر دا وروستۍ خبره فکر کوي.

ده وروسته سر وښوراوه او کرار يې د ځان سره وويل: "ښايي دغسې دې وي په ښځه اعتبار نسته" مولوي د ده د خبرې په تأييد وويل: هو. په ښځه. ځمکه او زرو اعتبار نسته او دغه درې شيه د فساد منبع دي.

خان په يوه داسې نګاه لکه د مولوي څخه چې د يوې معنوی مرستې غوښتونکی وي. هغه ته وکتل او ولاړ سو. کله چې د کوټې څخه وتئ. مولوي ورته وويې: خدای مهربانه دی. ته خوا مه بدوه. پيدا به سي. خو که نه وي نو خدای تا ته لويه خاني درکړې او دا نعمت دې خدای نه زوالوي.

❋❋❋

د شابيبې د تېښتې په باره کښې په وطنو کښې ډول ډول خبرې خپرې سوې. چا به ويل چې يو اشنا يې درلود او د هغه سره وتښتېده. چا به ويل چې خان

لوی بدیدار پیدا کړیدی او هغه ځنې وتښتوله. چا به ویل چې تورو غرو ته یې بېولې ده او هر چا یو څه ویل. په دې منځ کښې میاشتې تېرې سوې خو هېچا د شا بیبنې پته و نه ایسته.

لېوه او سړي خور هم ناکامه را وګرځېدل. او خان هم نه پوهېدئ چې دا پر کومه لار ولاړه؟

یوه ورځ خان خپلې میانخانې ته مولوي او ملاباران وغوښتل او په داسې حال کښې چې اوقات یې ډېر تریخ ؤ هغو ته یې ووې: زما شابیبنه خو پیدا نه سوه. بدنامي را پېښه سوه اوس څه وکړم؟

ملاباران په یوه داسې لهجه چې انفعال او مبالغه د ورا پکښې ځرګنده وه وویل:

خانه ته باور وکه د هغې ورځې څخه چې دا پېښه منځ ته راغلې ده. نو نه مې د شپې خوب کړی دی او نه مې د ورځې ارام. دا زموږ او ستاسې وطنونه مې ګرده تر پښو لاندې وکښل خو داسې معلومېږي لکه څمکه چې چاودلې وي او دوی په ننوتلي وي.

خان څو واره سر وښوراوه او وروسته پټه خوله سو. دوی په چورت کښې وو چې مولوي وویل: خانه ته ولې په دې خبره خپل زړه خورې. خدای لویه خاني درکړې ده. ګرد سره هغه هېره که او داسې یې فرض کړه چې تا هغه نه وه لیدلې. د دې د پاره چې غم دې غلط سي یوه بله ښځه وکه. خان بیا هم په چورت کښې ؤ چې ملاباران وویل: د فیروز فقیر یوه بله لور هم سته او ما اوریدلي دي چې دا تر هغې هم ښایسته ده.

خان چې تر دغه وخته په فکر کښې غوټه ؤ په دې خبره سر وښواروه او په داسې حال کښې چې ملاباران ته یې کتل ویې ویل:

زه دا بیخې ډېر وخت د هغو حال نه لرم. رښتیا یوه بله لور یې هم درلوده. خو خدای خبر هغه به بیا څرنګ وي. خو څرنګه چې د شابیبنې خور ده. نو که یې وغواړم بده به نه وي او ښایي په دې باره کښې دا بدنامي چې پېښه ده هم یو څه

را لړ سي. مولوي وويل:
هو. والله ملابارانه ته خو عجيب مشكل كشا يې بس پوره چاره دې پيدا كړه.
پر دې خبره د ټولو سلا راغله او خان دوى ته هدايت وركړ چې په كار شروع وكړي.

❀❀❀

د جمعې په شپه د خان لوى ناظر ملاباران او مولوي د فيروز كره راغلل، دوى ته د فيروز فقير سپين سرې ماينې دستي پسه حلال كړ او ډوډۍ يې ورته وكړه. كله چې ډوډۍ وخوړل سوه، نو مولوي هغې ته ووېل: خورې ته خو نو خبره يې چې شابيبنه ولاړه او مورِ چې دا ټول وطن تر پښو وكښښ د هغې درك مو پيدا نه كړ. خان هم په هغې پسې ډېر خپه دى. خو څرنګه چې ستاسې سره دوستي ته يې نوره هوا هم كېږي، نو تاسې يوه بله پېغله لرئ او دا به خان ته په نكاح وركوئ.
سپين سرې ښځې په نا آرامۍ ووېل: هغه خو هم ناجوړه ده او هم مېړه لري نو دا خو تر خداى او رسول پورې بزه ګاري ده.
مولوي ورته ووېل: مېړه يې چېرې دى؟ هغه دا ښه څو وخته كېږى چې ورك دى.
مولوى كرار وخندل، بيا يې ووېل: خداى خبر هغه به څه وخت پيدا سي، مولوى غوښتل چې نور څه ووايي چې سپين سرې ښځې خبره د خولې څنې واخيسته او ويې ويل:
دا خو مورِ او په خپله خان ته بدنامي ده، چې د مېړه ماينه څانته كښېنوي.
په دې وخت كښې ملا باران چې تر اوسه پټه خوله ؤ، ووېل: لويه بدنامي پښنه ده او د هغې پخوانۍ بدنامۍ چاره هم په دې كېداى سي، چې د سره خپله دوستي نوې كړئ.
دوى په دغه شپه ډېرې خبرې سره وكړې، وروسته سپين سرې ښځې ورته

وويل.

ښه دی. مور څه نه وايو. خان هم زموږ څخه بېګانه نه دی. را دې سي او په خپله دې د خپلې خوښيني رضايت حاصل کړي. زه خو د هغې اختيار نه لرم.

مولوي او ملا باران دا ور سره قبوله کړه او را رخصت-سول. دوی خان ته راغلل او ټوله کيسه يې ورته وکړه او په دا بله شپه خان د شپې په تياره کښې د خپل مرحوم خسر کره ورغی.

خان ته خپلې خوابې هر کلی ووايه. په دننه دالان کښې کښېنوست وروسته تر دې چې د شابيبې د ورکېدو خبرې پای ته ورسېدې. نو خان د خپلې نوې دوستۍ سوال منځ ته کړ.

سپين سرې ښځې خپلې لور ته وويل: لورې دا دی خان په خپله راغلی دی. هر څه چې دې په زړه کښې وي ورته ويې وايه.

خان مخ کښې تر دې چې هغه يو څه ووايي وويل: زه ستا په مقصد پوهېږم. زه دا کار د دې د پاره کوم چې زما او ستاسې دوستي باقي پاته سي او د بلې خوا هغه بدنامه خبرې چې اوس په وطن کښې خپرې دي ورکې سي.

نور دا چې ته يې مېړه ته ورکړې يې او مېړه دې هم ورك دی. نو زه تا ته داډ درکوم چې اول خو هغه نه پيدا کېږي او که هغه پيدا سي. نو هغه ته به زه بل واده ور وکړم.

د خان تر معقولو خبرو وروسته هغې وويل: ښه دی خانه تا خو زما د خبرو ځواب تر هغو د مخه ووايه چې ما ويلی. خو ستا سره زما واده يو شرط لري او دا شرط که پر ځای سي نو زه به هم تا ته ځان در تسليم کړم.

خان په يوه اميدوارانه خندا ځو واره سر وښوراوه وروسته يې هغې ته وويل:

ووايه ګلمکۍ ستا شرط ته زه حاضر يم. ګلمکۍ وويل: خانه شرط دا دی چې يو ځلوېښت ګزه دار به جګوې او د هغه پر سر به يو د سرو زرو کټوری اېږدې او د وطن غشي ويشتونکي به راغواړې چې هر چا هغه کټوری راواچوئ هغه ته به انعام ورکوې او په دغه شپه به زما او ستا واده سره جوړېږي. خان بيا وخندل او هغې

ته یې وویل: د دې کار څخه دې نو مقصد څه دی؟

مخ کښې تر دې چې ګلمکۍ خان ته ځواب ورکړي مور یې وویل: خانه دا خو نجلۍ ده او په دې ډول پر تا یو ناز کوي او د خپل زړه تسلا کوي.

خان وویل:

ښه دی، ګلمکۍ دا ناز دې پر ما. خو ته د هېڅ شي غم و نه کې. زما په کلاکښې به هغه اختیار ټوله ستا وي چې شابیښې درلود.

خان په دغه شپه د فیروز فقیر له کوره راروان سو او پر لارې چې ملا باران پوښتنه ځنې وکړه، نو خان هغه ته وویل چې د ګلمکۍ شرط مې ومنئ. ته به سبا یو څلوېښت ګزه دار زما د کلا مخ ته جلټ کړې او شاوخوا وطنونو ته به حال ورکړې چې ښکاریان راټول سي او په مسابقه د دار له سر څخه د سرو زرو کټورې په غشي راواچوي.

ملاباران هغه ته د امر د اجرا ډاډ ورکړ خو ورته ویې ویل:

خانه په دې پوهېږې چې ګلمکۍ ولې دا شرط ایښی دی؟ او د دې کار څخه یې مطلب څه دی؟

خان په یوه داسې لهجه لکه دغه کار ته چې په هېڅ ارزښت قایل نه وي هغه ته وویل:

دا د ځوانۍ یوه بوالهوسي ده. ملا باران چې خپل اس د خان له اس سره غوږ په غوږ روان کړی ؤ، یوه منافقانه خندا یې وکړه او بیا یې وویل: یه خانه دا ټول هوس نه دی. په دې کښې د ګلمکۍ دا مقصد دی چې د دې شرط ډنډوره بهٔ په وطنو کښې وګرځي او "موسی جان" چې دا یې هغه ته په نکاح کړې ده، چې هر ځای وي، خبر به سي او ځان به را ورسوي. اصلي مطلب هم دا دی. پوه سوې خانه! خان چې دغه مطلب ته پخوا متوجه سوی نه ؤ، اوس یې خپله وضع د ملاباران په مخ کښې داسې وساتله چې په دې پوهېږي. نو ویې خندل او ملاباران ته یې ځواب ورکړ: ملابارانه! زه خو هم ګرګ باران دیده یم. غواړم چې د سبا معامله نن خلاصه کړم. دا ښه دی موسی جان چې هر ځای وي ځان به را ورسوي او مو

به يې په ارامه دلې خوله ور پټه کړو.

خان د خپلو موزو ماميزې د اس په خېټه کښې ووهلې او اس دوه ګامه مخ ته وغورځېده. خان يوه غټه قهقهه خندا وکړه او پسې زياته يې کړه: هر وخت چې موسی راورسېد دا نو ستا د ليوه او سړي خور کار دی. چې حساب يې ور جوړ کړي.

خان چې دا خبره پای ته رسوله. نو ملاباران سمدستي پسې ور درسته کړه: ياره خانه په رښتيا چې ستا عقل ته موږ نه رسېږو. هغه چې وايي چې کلی په نامه لري يو خوی تر نورو ښه لري. نو ستا تدبير تر موږ ډېر پوخ دی. په دې کار کښې به زه په خپله د لېوه او سړي خور وظيفه اجرا کوم.

خان ته د ملاباران خبرو ډېره مزه بخښلې وه او په يوه خاص غرور يې هغه ته ور غبرګه کړه: ملا بارانه که زه دا د عاجزو (ښځو) حساب هم برابر نه کړم. نو دا دونه د وطن کار به څرنګه په ما جوړ سي. ملا باران په خندا وويل: بېشکه خانه ستا کوټی د عقل خزانه ده. خان ته دې خبرې هم ډېر خوند ورکړ. خو په دې خبره پسې ملاباران د سواليې په ډول د شابيبنې ورکېدو ته اشاره وکړه او ويې ويل:

خانه څه فکر کوې چې دا د شابيبنې په تښتولو کښې خو به دغه ورک سوي موسی لاس نه درلود؟

خان د دې خبرې څخه يو سخت ټکان وخوړ او يوه شيبه پټه خوله ؤ. وروسته يې په داسې لهجه چې يو اضطراب څنې څرګندېدئ وويل:

ګومان نه کوم خو که يې دغه کار کړی وي. چې دی يو ځل زما په لاس راسي. نو د ده د سر په وهلو به شابيبنه هم بېرته لاس ته راوړم.

د خان خبره لا پای ته نه وه رسېدلې چې د ملاباران له خولې څخه په بې فکرۍ او بې سنجشه ډول راووتل: خانه که شابيبنه پيدا سوه. نو ګلمکی به څرنګه کوې؟ دوې خوندې خو په يوه نکاح کښې نسي راتلای. دا مهال خان په قهقهه يوه لويه خندا وکړه او ويې ويل:

های! ملابارانه خدای دې وبخښه. دا څلوېښت چې مې کښېنولې. د دې ځواب چې ورکوم. نو د دوو خوندو حساب به هم ورکړم.

ملاباران یوه تصنعي خندا وکړه او څه یې و نه ویل او نوره لار نو دوی خبرې و نه کړې. څو خان و کلا ته ورسېدئ او د کلا په دروازه کښې یې خپل اس مهتر ته وسپاره او بېله دې چې د چا سره خدای په اماني وکړي کلاته ننووت.

د "باشلنك" دره د ښه ـ ډېره وخته را په دې خوا بنده وه او څوك نه پوهېږي چې دا دره چا نیولې ده. د باشلنك د غره د درې لوی غارونه د نامعلومو خلکو له خوا نیول سوي او په شاوخوا کلیو کښې اوازې خپرې سوې دي چې په دې غارو کښې داسې یاغیان اوسي چې د سهیلي خان بدي یې پر سر اخیستې ده. یو و نیم به ویل چې د دغو غارو سنګرونه د (ګردي باغران) د (سیاجوی) ولیجان نیولي دي او هغه لوړه کړې ده چې د سهیلي خان خاني به ورچپه کوي.
دا خبره رښتیا وه. له هغه وخته چې پر ولیجان د ځمکې په معامله کښې سهیلي خان د ده د مدعي له خوا موك وخوړ او پر ده یې د ملامتې حکم وکړ. نو ولیجان ځمکه خپل مدعي ته پرېښووله او په خپله را بار سو. د باشلنك په غارو کښې یې ځای ونیوئ او د سهیلي خان ماینه شابیبنه هم ده را وتښتوله. او هغه یې اوس دلې ځانته کښېنولې وه.
ولیجان یو بهادر باغي ؤ. ده د وطن خلکو ته ازار نه ورکاوه. خو هر وخت چې به د سهیلي خان قافله د (داور) څخه (غور) ته تله یا به د غور څخه قافله (داور) ته راتله نو هغه به یې نه پرېښووله او دې وضع په خپله سهیلي خان هم وارخطا کړی ؤ. سهیلي خان له دغو باغیانو او داړه مارانو څخه خبر ؤ. خو په دې نه پوهېدئ چې دا څوك دی. سهیلي خان څو واره د دې نیت کړی ؤ چې باغیان په خپله سزا ورسوي. خو د باشلنك دغه غارونه ده ته معلوم وه چې هغه څوك نه سي فتح کولی.
د باشلنك غارونه چې د لارې پر سر یې حاکمیت درلود. سربېره د غره په یوه ډېره کښې جوړ سوي وو. او د موقعیت یو ښه والی یې دا ؤ چې د هېڅ خوا څخه یې د فتح لاره نه درلوده او سر بېره یې د اوبو چینې هم درلودې او موقعیت

يې د لارې پر سر داسې راغلی ؤ چې که پېنځه کسه پر دغه ځای کښېنستلي وای، نو بسته پلټن هم مقابله نسوای ور سره کولای. د باشلنک د لارې د بندېدو خبرې په ټول وطن کښې خپرې وې. خو چا دغــه ځای ته د دې جرئت نه درلود چې ورسي. د شا وخوا وطن خلکو دا مهال هېڅ تکلیف نه درلود. ځکه باغیانو په هغو هېڅ کار نه درلود. خو د سهیلي خان په نامه قافله نور هېڅکله له دې لارې نسوای تېرېدلای. په وروسته کښې د وطن خلکو هم د دوی سره مینه پیدا کړه او وخت ناوخت به يې د غلې او دانې مرسته ور سره کوله.

❁❁❁

يوه شپه ښه ناوخته ولیجان خپلې میانخانې ته چې د باشلنک د غارو په یوه غار کښې يې جوړه کړې وه راغی. ده د نورو خلکو په جمله کښې یو تور غټ خمټ زلمی ولید چې ناست دی او تر شا يې دېوال ته رباب تکیه کړی دی.

ولیجان روغبر وکړ او کله چې يې پر دغه ناشناخته زلمي سترګې ولګېدې نو یو ځل يې بیا هغه ته ښه راغلی وویل او پوښتنه يې ځنې وکړه چې د کومه ځایه راځې؟ دې ناشناخته ځلمې ورته وویل: یاره که دې د پوښتنې پوره ځواب درکړم نو کیسه به ځینې جوړه سي، خو زه غریب سړی یم. په دا وطنو کښې په خوارۍ پسې راورك يم دا څو عمر مې په هابل کلي کښې ګوروانې کوله. د هغه ځایه سره مې جوړه نه سوه، نو راروان یم. وطن پر وطن ګرځم او په اصل کښې د خپل زړه غم سړوم. ولیجان چې ډېر سترۍ معلومېدئ او د دې نوي مېلمه څخه يې واورېدل چې د خپل زړه غم سړوم او د بلې خوا يې د هغه شا ته رباب ولیدٔ نو په یوه سنګینه خندا يې ورته وویل:

ځوانه د دنیا غمونه ډېر دي ورك يې که. ته دې دا رباب را واخله او یوه پنجه رباب راته ووهه، چې زموږ د زړه څخه یو څه غم را لیري کړي.

مسافر ځوان هم بله ونه کړه او خپل رباب يې راوخیست او یو داسې سور يې ورغاوه چې ولیجان يې پر مستۍ راووست. خو چې ولیجان غوښتل څه ووايي او خبره وکړي نو مسافر مېلمه موقع ورنه کړه او رباب يې یو بل داسې سور ته واچاوه

چې هغه خلاصېدئ ولیجان ورته ببده سو.

ولیجان ببده ؤ. چې ډوډی راغله. ډوډی په پټه خوله وخوړل سوه او چې لاسونه پریوله سول. ببله دې چې نورې خبرې وسي ولیجان ولاړ او کور ته ننووت.

نور هم هر یو پر ۵۰۰ لار ولاړل او مسافر ته یې په مهمانخانه کښې ځای ور هوار کړ.

دا شپه تېره سوه. سبا د وخته ولیجان مهمانخانې ته راغی او د مبلمه څخه یې وغوښتل چې یوه پنجه رباب ورته ووهي. مبلمه هم بیا رباب له پوښه راویوست او دا وار یې بیا داسې رباب وواهه چې ولیجان یې پر خپل هنر او ځان مین کړ.

ولیجان مبلمه له ځان سره روان کړ او راغی د یوه سنګر پر سر کښېنوست او د مبلمه څخه یې پوښتنه وکړه چې ته څوك یې او له کومه راځې؟

مبلمه ورته وویل: زما نوم موسی دی. د (داور) د یو سوداګر چې نوروز نومېدی زوی یم. پلار مې مړ سو. زما معشوقه چې په کوچنیوالي کښې لا اکا فیروز را کړې وه. خوابښې او اخښیانو راڅخه وګرځوله. زما هم څه په وس ور سره پوره نه وه. نو د وطن څخه را فراره سوم. دا دی. وطن پر وطن ګرځم او دغه رباب مې غم را غلطوي. ولیجان د موسی تر خبرو وروسته په فکر کښې سو. مبلمه ته یې څه و نه ویل او ماښام چې مهمانخانې ته راغی نو چې ډوډی یې وخوړه سمدستي کور ته ولاړئ.

✿✿✿

موسی لا په مهمانخانه کښې ببده ؤ چې ولیجان د هغه سر ته کښېنوست او په کرار یې ږغ پر وکړ.

عزیزه، سره غرمه ده کښېنه.

موسی سترګې را روڼې کړې او په ډېره چټکی پر خپل ځای کښېنوست او په دغه وخت کښې ولیجان په یوه نیمه خندا ورته وویل:

موسی جانه! ته خو نور هم زما خپل سوې.

موسی په تعجب پوښتنه څنې وکړه. د خپلوی څخه دې مطلب څه دی؟

ولیجان په خندا ورته وویل: موسی جانه اخښی مې یې اخښی!!

موسی جان بیا په حیرت وپوښتئ، زه نه پوهېږم له دې خبرو څخه دې مطلب څه دی؟

ولیجان ورته وویل: موسی جانه. نورې خبرې پرېږده چې اودس لمونځ وکړو نو د ننه کور ته راسه. موسی جان غوښتل چې د هغه څخه یو څه نورې پوښتنې وکړي خو ولیجان ولاړ سو کورته ننووت او موسی جان ولاړ اودس یې تازه کړ، لمونځ یې وکړ راغی او پر لویه پرښه کښېنوست هغې لارې ته یې چورت بند کړ چې له دغه ځایه د داوړ خوا ته تېرېده.

دی لا د ولیجان د تېرو خبرو په چورت کښې ؤ، چې ولیجان بیا را ووت او هغه یې تر لاس ونیوه او ورته ویې ویل: موسی جانه. شابیبه دې غواړي راځه کور ته. د ولیجان دا خبره لا پوره پای ته نه وه رسېدلې چې د موسی جان فکر یې په شور راووست او بې اختیاره یې تر خوله ووتل:

(شابیبه)! هغه دلته څه کوي؟

ولیجان وخندل او ویې ویل: شابیبه دلې ده او هغه تا غواړي.

موسی جان په حیرت حیرت کښې ولیجان ته وکتل او ویې ویل: هغه زما د اکا لور شابیبه یادوې؟ ولیجان په خندا ځواب ورکړ: هو هغه یادوم او هغه تا غواړي!

موسی جان په تعجب شاوخوا وکتل او بیا یې ولیجان مخاطب کړ او ورته ویې ویل:

هغه خو د سهیلي خان څخه وه، هغه دلته څه کوي، ولیجان په یوه قاطع لهجه ورته وویل:

دا خبرې نو ته پرېږده خو (شابیبه) تا غواړي، راځه نورې خبرې پرېږده.

موسی جان لکه تر جادو لاندې انسان نور څه و نه ویل او په ولیجان پسې سو. دوی دواړه د څو غارو پر سر و یوې دکانچې ته ورسېدل او هلته یې ولیدل چې (شابیبه) په انتظار ولاړه ده، کله چې یې موسی جان ولید نو شنه خوله د ژړا ولاړه دهغه په غاړه کښې یې لاس ور واچاوه او موسی جان چې هم هر څه ځان تکیه کاوه، خو زنه یې ورېږدېده او یوه روښه سپینه کړی یې د سترګو پر مرغلانو راتاو سوه.

دوی څو دقیقې دغسې وو، وروسته سره کښېنستل او هغې د موسی جان ښځه د کور پوښتنې کولې او هغه ټوله کیسه ورته وکړه او د خپلې فرارۍ د ورځو نکلونه یې ورته وکړل.

وروسته ولیجان موسی جان ته وویل چې زه ورور نه لرم ته زما ورور یې، د دې وروسته دا کور ستا خپل کور دی او دا به نو پر ما پور وي چې ګلمکۍ به تا ته راولم.

دوی دواړه په ملګرۍ او وروري کښې ورو ورو دونه سره نژدې سول چې اکثره به ولیجان ورته ویل: موسی جانه که ته پر دې دنیا نه یې نو زه هم له خدایه ژوند نه غواړم.

ولیجان او موسی جان په دغه غره کښې اوسي او څو کسه نور ملګري هم لري چې هغه هم د خانانو پوروړي بزګران دي چې دلته یې پناه راوړېده.

دوی د باشلنك پر لار د غور لویه لار بنده کړې ده او څو واره چې د داور له خوا سهیلي خان لښکرکشي پر وکړه خو د دغه لښکر ښځه ځوانان را ښېل سوه او ولیجان ته به یې پناه راوړه او باقي لښکر به مات سو.

د ولیجان او موسی جان نوم پر وطنونو پروت ؤ او د سهیلي ښځه ناراضه وطن به د دوی سره مرسته کوله.

یوه شپه دوی په مهمانخانه کښې ناست وو او موسی جان و رباب ته شهباز وراچولی ؤ، چې د دوی د پټو ملګرو ښځه یو سپور له داور ښځه را ورسېدئ او د نور حال احوال په جمله کښې یې وویل: سهیلي خان د شابیښې له پلټنې ښځه لاس اخیستی دی او د هغې بلې خور ګلمکۍ ته یې مرکه کړېده، د راغلي سړي جملې لا پوره سوې نه وې چې موسی جان په بې اختیاره ډول پر نارې کړې. هغې هم ور سره منلې ده؟ سړي وویل:

یه، هلته په وطن کښې خبرې کېدلې چې ګلمکۍ یو شرط ور سره ایښی دی. موسی جان په داسې حال کښې چې پر ژبه یې لکنت راغلی ؤ، پوښتنه ځنې وکړه: څه شرط یې ورسره ایښی دی؟ سړي وویل:

شرط يې دا ايښى دى چې هر چا د څلوېښت ګزه دار څخه د سرو زرو کټورى په درو غشو را واچوئ نو ګلمکۍ به د سهيلي سره واده کوي.

موسى جان چې دا خبره واورېده بې اختياره ولاړ سو او کور ته دننه ولاړ او هلته يې شا ببڼې ته کيسه شروع کړه. دوى لا دا خبرې کوي چې وليجان پسې ورننووت او هلته په دغه باره کښې خبرې شروع سوې. وليجان وويل:

چې دا لېوه (مطلب يې سهيلى ؤ) لا څه غواړي؟ موسى جان وويل:

ګلمکۍ به ځان مړ کي.خو د بل چا سره به واده و نه کړي. شاببڼې وويل:

له دغه شرط څخه يې دا مطلب دى چې موسى جان هر ځاى وي خبر سي او ځان را ورسوي. وليجان په تلوسه وويل:

بس کار جوړ سو په رښتيا دغسې ده. نو څه بايد وسي؟ وليجان وويل:

په نابلده کالو کښې هلته ورځو او ځان داسې ښکاروو چې موږ هم ښکاريان يو او په دغه وخت کښې لار جوړوو او که خداى کړې وه نو ګلمکۍ به هم دلته راولو.

د وليجان يوه پېغله خور هم په دغه مجلس کښې ناسته وه. هغې وويل:

سهيلي خان شيطان سړى دى او ښايي دا شرط يې هم د دې د پاره منلى وي چې موسى پيدا سي او په خپل لاس يې مړ کړي.

وليجان يوه نرۍ خندا وکړه او بيا يې موسى جان پر اوږه وواهه ويې ويل:

ښه چې سهيلى شيطان سي. نو موږ يې و لا حو له يو زما د خداى سره وعده ده چې د ګلمکۍ لاس به د تور (مطلب يې موسى ؤ) په لاس ورکوم.

وليجان خپل ديارلس کلن زوى (ميرولي) ته ور نارې کړې او چې هغه راغى نور ورته ويې ويل: ميروليه زويه. سبا به زما او موسى جان اسان را تياروې او موږ به ځو چې د سهيلي کافر سره بيا يو وار غېږ وباسو.

ميرولي په چابکۍ د ښه دى. ځواب پلار ته ورکړ. وروسته يې وويل:

بابا زه خو به هم در سره يم.

وليجان وخندل او ويې ويل:

دا سیاسرې نو پر چا وسپارو؟
میرولي خپلې پیغلې ترور (تانو) ته وکتل او بیا یې وویل:
زه خو در سره ځم.
پلار یې په یوه قاطع لهجه وویل:
بس زویه په دې کښې نورې خبرې مه کوه. مور ځو او ته به دلې یې.

❁❁❁

په (داور) کښې د لوی خان د کلا په مخ کښې پر لوی میدان یو لوی دار حلګ دی پر سر یې د سرو زرو کټوری پروت دی. د وطنو وطنو څخه ښکاریان راغلي دي او هره ورځ د کټوري د را اچولو د پاره بې شمېره غشيّ له کمانۍ خطا کېږي خو کټوری څوک نه سي را اچولی ښکاریان چې راځي د خان مېلمانه وي او هره ورځ د خان له خوا ډوډۍ ورکول کېږي.

لویه مېله جوړه ده. ډولونه وهل کېږي. اتڼونه کیږي. له سهار څخه تر ماښامه د نښان مسابقه په خپله لوی خان ځاري او خلك يې اچولي دي چې موسی جان وپېژني.

په دغو ورځو کښې یوه ورځ اوازه سوه چې دوه کسه ښکاریان د پورته خوا ـخه راغلي دي چې ډېر په ځان غره ښکاري.

سهيلي خان خپل جاسوسان واستول او هغوی چې د دوی د رنګ او قیافې نښانې ورته راوړې نو لوی خان په دې ډاډه سو چې موسی راغلی دی.

په دغو ورځو کښې خان د فیروز فقیر ټوله کورنۍ خپلې کلا ته رانقل کړې ده او ګلمکۍ هم د دغې کلا په یوه برج کښې اوسي او هره ورځ له دغه برج څخه ښکاریان ځاري. ګلمکۍ هم هغه مهال چې موسی جان او ولیجان دنښان میدان ته راتله. لیدلي وو او موسی جان یې پېژندلی ؤ. ګلمکۍ د خپل پلار له کوره یوه مینځه چې د دې ملګرې وه له ځانه سره راوستلې وه نو کله چې یې موسی جان وپېژندئ. خپلې مینځې ته یې پټ وویل چې ته ورسه او هغو دوو کسو ته جلا ځای جوړ کړه.

کله چې مینځه راغله او موسی جان او ولیجان یې د نورو ښکاریانو څخه را جلا کړل او یواځې یې په یوه کوټه کښې ځای ورکړ نو ولیجان موسی جان ته وویل:

توره اندیواله! پوهېږې چې دا کار ولې سوی دی.

موسی ورته وویل:

ولیجانه په هېڅ نه پوهېږم چې دلته راغلی یم لکه لېونی داسې یم. زما فکر او سترګې بل څه نه ویني او هر دېوال ته چې ګورم وایم اوس به وچوي او زما ګلمکۍ به ترې راووزي.

ولیجان په لېږدمې وویل: موسی جانه کار سره رسېدلی دی. مور ګلمکۍ پېژندلي یو او دغه ځای ته زموږ راوستل هم د دغه مطلب له پاره دي چې خان په ګیر راکړي. که خدای کول دوې ورځې وروسته به کور ته در سره ورسېږو.

موسی جان په رښتیا لکه لېونی داسې ؤ. څه یې و نه ویل د موسی حرکات لېوني ته ورته وو. کله کله به یې بې موقع و خندل او کله به یې بې اختیاره لاسونه په هوا کښې ښورېدل.

دوی دغه خبرې کولې چې ماښام سو او د لوی خان له کوره د هغې مینځې په لاس یو غوری ډوډۍ ورته راوړل سوه.

مینځې چې ډوډۍ کښېښووله ویې ویل:

په تاسو کښې کوم یو موسی جان نومېږي؟

ولیجان په خندا موسی جان ته مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل: ما نه درته ویل!

موسی جان مېنځې ته ور وغورځېدئ هغه یې په غېږ کښې ونیوله. هغې خان ځنې خلاص کړ او په تلوار او وارخطایۍ یې ورته وویل داسې مه کوئ. ما ته مې بي بي ویلي دي چې ته وګوره په دوی کښې موسی جان سته او کنه.

ولیجان ورته وویل: هو دغه موسی جان دی. ستاسو بي بي څوك ده. مینځې خپل مړوند مخې ته و نیوی او کرار یې وویل:

زما بي بي ګلمکۍ ده. زه هغې رالېږلې یم او راته ویلي یې دي چې زما

دوې سترګې ستا پر لار څلور سوې. پر خان پام کوه. سهيلي خان لوی دام غوړولی دی. وليجان ورته وويل:

بې بې ته دې ووايه چې موږ په تا پسې راغلي يو د سهيلي پروا نه لرو د دې لار جوړوه چې څرنګه را سره ځې؟

مينځه ولاړه دا شپه تېره سوه. سبا بيا هغه حال دی. څوك نښانونه ولي. څوك غورځي او ډولونه وهي. سهيلي خان دوی ته حال راوستاوه چې نښان وولي خو وليجان ورته وويل:

چې موږ دوې ورځې دار او نښان ګورو او سبا نه بل سبا به مو د نښان ويشتلو وار وي.

په مېله کښې چوك چوکه سوه چې پاخه ښکاريان راغلي دي او دوی به وکولای سي چې کټوری راواچوي.

سبا د کلا د مخه په ميدان کښې خورا ډېر خلك را ټول سوي دي او لوی خان هم په سره بخملي تجير کښې ناست دی.

د نښان ويشتلو وخت نژدې ؤ. دا مهال موسی جان او وليجان را ورسېدل. موسی جان پر اس سپور ؤ. چې ليندۍ ته يې غ ـي ور واچاوه او کله چې غشی له ليندۍ څخه ووت نو سمدم ورغی او پر کټوري وموښت. کټوری را ولويدئ. ميدان موسی جان يووړ.

لوی خان را ولاړ سو او دوی ته يې ډېر آفرينونه وويل او انعامونه يې ورکړل. دوی ورته وويل چې اوس نو موږ رخصتېږو. خو خان هغو ته اجازه ورنه کړه او د يوې بلې شپې د پاتېدو ست يې ورته وکړ. اوس نو دوی په داسې وخت او وسيله پسې ګوري چې ګلمکۍ له کلا راوباسي او د سهيلي خان څخه يې بوزي.

سهيلي خان اوس موسی جان پېژندلی دی او د ملا باران په مصلحت يې داسې دام ترلی دی چې نن ماښام ګلمکۍ هغو ته ډوډۍ ور استوي نو به په هغو زهر ګډه کړي خو په دې وسيله موسی جان له منځه يوسي. خو دا مشکل ؤ چې دا زهر څرنګه د دوی په ډوډۍ ورګډه کړي. خو دا کار هم د مولوي په مصلحت وسو

مولوي يوه زړه مكاره بوډۍ پيدا كړه او بوډۍ هم دغه كار پر اوږه واخيست.

ماښام چې ګلمكۍ ډوډۍ تياره كړه او خپلې مينځې ته يې وركړه چې هلته يې يوسي نو كله چې مينځه د كلا څخه را ووته په لار كښې يوه زړه بوډۍ ورته ودرېده او په ژړا يې ورته وويل:

ستا بلا واخلم د دغه غوري څخه يوه ګوله را كه چې خداى ثوابونه در كړي.

مينځې هغې ته ځواب وركړ او ځنې رهي سوه. بوډۍ پسې وروځغستل او هغه يې تر لمن ونيوله او ورته ويې ويل:

زه هم خبره يم چې دا د دوو مينو خواړه دي. دا ګلمكۍ و خپل مين موسى جان ته لېږي او په خپل لاس يې سم كړي دي. دا ټوټكه زما لالى هم خپلې مينې ته رسوي، يوه ګوله ځنې راكه چې خداى زموږ ارمان هم تر سره كړي.

مينځه په فكر كښې ودرېده او بوډۍ مكر شروع كړ. وروسته مينځې د غوري څخه پوښ ايسته كړ او بوډۍ يوه غټه ګوله واخيسته او د خپلې ګولې پر ځاى يې نورې وريجې را هوارې كړې.

بوډۍ مينځې ته دعاوې وكړې او له دغه ځايه لرې سوه.

مينځه را روانه سوه. خو په دې پوه نه سوه چې مكارې بوډۍ دغه خپل لاس په زهرو لړلى وو او د ګولې د اخيستلو په وخت كښې يې د لاس زهر په ډوډۍ كښې ګډ كړل.

مينځه راغله او ډوډۍ يې وليجان او موسى جان ته كښېښووله او بېرته ولاړه.

وليجان چې لاس پريوئ او ډوډۍ ته را دمخه سو موسى جان ورته وويل:

وليجانه راځه چې دا ډوډۍ نه خورو زما زړه پر ارام نه دى.

وليجان وخندل او ورته ويې ويل:

دا خو ستا د مينې سوغات دى ولې به يې نه خورو.

موسى جان چې په فكر كښې ؤ بيا يې وويل: وليجانه ته باور وكړه چې زه بيخي بې باوره يم او ستا د خور تانو هغه خبره مې سمه ستركو ته ولاړه ده چې

راتلو ویې ویل چې پر ځان پام کوئ سهیلی ډېر شیطان سړی دی.

موسی جان لا دا خبره پوره کړې نه وه چې ولیجان لستوڼي بډوهلې او یوه غټه ګوله یې واخیستله او ویې ویل:

موسی جانه هر څه چې دي ستا د محبوبې خواړه دي. زه خو یې خورم. موسی جان نور څه و نه ویل او په خپله یې په ډوډۍ پیل وکړ. یوه ګړۍ وروسته دستر خوان ټول سو. د نیمې شپې وخت ؤ چې ولیجان موسی جان راویښ کړ او ورته ویې ویل:

اندېواله زما د ژوند وروستی وخت دی. زړه مې رېږدي او کولمې مې درد کوي او داسې فکر کوم چې زهر مې خوړلي دي.

موسی جان په وارخطايي ورته وویل: خطا وتلی یې که زهر وای. نو پر ما یې هم باید اثر کړی وای. ولیجان په زګیروي ورته وویل:

دا شیطان لکه چې تا ته دام غوړولی ؤ. خو زه په بند سوم او دا ښه سو چې زه په بند سوم. اوس به مې څه کولای چې ته دغسې وای.

موسی جان د ده خبره پرېکړه او ویې ویل:

زهر نه دي. کنه زه یې هم باید دغسې کړی وای.

ولیجان دا وار په زګیروي او داسې لهجه چې کلمات یې شمېرلي ادا کول وویل:

دغوري په هغه خوا کښې یې زهر اچولې وو چې ستا خوا ته برابر ؤ. خو دا هم د خدای فضل دی چې هغه ما وخوړل او ته پاته سوې.

موسی جان وکتل چې دملګري حال یې وار په وار خرابېږي نو ورته ویې ویل:

ولیجانه اوس نو څرنګه وکړو؟

ولیجان دا وار څه خاموش ؤ. بیا یې وویل زما اس په خپل اس پسې ایدك (د سپارلی په اس پسې اضافي اس) کړه او ما په خپل اس تر مخ ونیسه او په دغه شپه حرکت وکړه او درځه چې څو پر تا کومه ټکه وا نه چوي. موسی جان هم

دغسې وکړل او د شپې وروستۍ ګړۍ وې چې وليجان په نيم ځانه صورت موسی جان پر خپل اس د مخه ونيوئ او د هغه اس يې په خپل اس پسې ايدك کړ.

دوی په پټه خوله د داور کلا څخه راووتل او د شمال خوا غرو ته يې پر دښت خپل حرکت ته دوام ورکړ.

لمر داسې ښه يوه نېزه را پورته سوی ؤ چې موسی جان او وليجان د باشلنك کلاۀ ته ځان را ورساوه سر ببره د غره له غارو څخه ښځو او هلکانو وليدل چې دوه اسان راځي او پر يوه اس دوه کسه سپاره دي.

د وليجان خور (تانو) چې يوه هوښياره پيغله وه، په دې پوه سوه چې په وليجان يا موسی جان يو څه سوي دي او په وارخطايۍ د کور مخ ته را ووتله او په دې پسې (شابيبنه) هم راغله.

دوی ساندې نارې کړې چې موسی جان اس ودراوه او وليجان يې په غېږ کښې راواخيست را يې وړ او پر بستر يې پرې يوست.

هغو ته وليجان په زګيروي وويل چې زما د ژوند وروستۍ لحظه مې مه نا آرامه کوئ او خپل زوی ميرولي يې راوغوښتئ، په ميرولي پسې سړي ولاړل او د موسی جان څخه (تانو) او (شابيبنې) پوښتنه وکړه چې دا څه ور پېښه سوه. موسی جان چې هم ډېر خپه ؤ او د وليجان حال يې زړه او سترګو ته د تحمل وړ نه ؤ. په غمجن ډول دوی ته وويل:

مور خو يو ګډ دښمن لرو چې سهيلی خان دی، وليجان ته هم د هغه په ټوپك زهر ورکړل سوه او مور نه پوهېدو.

دوی ټولو اوښکې توېولې چې ميرولي راغی مخ کښې تر دې چې ميرولي د پلار بستر ته ور تېر سي (تانو) په غاړه کښې لاس ور واچاوه او په زوره زوره يې ساندې ور سره نارې کړې. هلك چې وارخطا وارخطا يې کتل لار ځينې ورکه معلومېده. څو د پلار بستر ته ورنژدې سو. ده چې پلار وليد او د هغه سترګو ته يې

وکتل. چې تور یې پورته او سپین یې پر کښته راغلي وو نو په چټکۍ راغی و اړخ ته یې کښېنوست او د پلار سر یې په غېږ کښې ونیوئ.

ولیجان په دغه تکان سره سترګې را روڼې کړې او د یوه اوږده (آه) سره یې په شمېرلو کلماتو وویل:

میرولیه! زویه زه سهیلي مړ کړم. ته به زما زوی نه یې که د هغه ښځه زما ساری (په برابری) وانخلې. زویه زما بل وصیت دا دی چې ګلمکۍ به موسی جان ته راولې او موسی جان به خپل خوا خوږی اکا بولې، میرولي چې خپلې سترګې د پلار پر سترګو برابرې کړې وې، په داسې کلماتو کښې چې غاښونه یې یو پر بل ټینګ نیولي وو او خبرې یې د غاښونو تر پیوستو راوتلې وویل:

(بابا) زه به د سهیلي ښځه ستا ساری او هډ واخلم او ګلمکۍ به هم موسی جان ته راولم او ستا دا وصیت به پر ځای کړم.

کله چې میرولي خپله خبره خلاصه کړه. ولیجان سترګې روڼې کړې او راسته اوږه یې دوه واره پورته او کښته سوه او د دې سره سم میرولي د پلار پر سترګو دواړې بتې ګوتې ونیولې او دروه یې مخ موسی جان ته ور واړاوه او ورته ویې ویل: خلاص سو!

موسی جان چې سرکښته ځړولی ؤ، په ناڅاپي یې سر را پورته کړ او سترګې یې لکه د وینو پیالې داسې سوې وې او یو اوږد (آوف) یې تر خوله ووت.

تانو چې تر دغه وخته خپلې شونډې تر غاښو لاندې نیولې وې، یوه اوږده چغه یې تر خوله ووته او شابیبۍ هم وېښتانو ته لاس ور واچاوه او یوه غونچه یې د لاس په پنجو کښې پاته سوې.

په خونه کښې یو زړه ریبونکی زوږ پورته ؤ. خو میرولي په یوه قهرناکه لهجه نارې کړه، بس نور مو اواز باید پورته نه سي. بابا ولاړ خو ما غوندې زوی لري او زه به د ده په توپګ د سهیلي کلمې ور بادوم.

ښځې له کوټې ووتلې دوی او د دوی سره اوسیدونکي ځوانان راغلل او ولیجان یې واخیست د باندې یې یوور هلته یې غسل ورکړ په کفن یې کړ او د خپلو

کورو پر سر د غارو څخه ور پورته يې د غره پر يوه څوکه ښخ کړ.
درې ورځې يې فاتحه واخيستله او په خيرات يې يو تور غويی هم حلال کړ.

❁❁❁

د وليجان مرګ هغه ټوله ځوانان چې د شاوخوا ملکونو د خانانو د لاسه را فراره سوي وو، داسې پارولي وو چې هره ورځ به يې ميرولي ته تحريك ورکاوه چې پر سهيلي ورسي او خپل کسات ځنې واخلي په دې منځ کښې درې مياشتې تېرې سوې او دا درې مياشتې ميرولي او نورو ځوانانو ځانونه ښه تيار کړل.

په دغه وخت کښې بيا دوی ته يو خبر ورسېد چې سهيلي خان پر ګلمکی هره لار تړلې ده او هغې هم د ده سره د واده موافقه کړې ده او د راتلونکي جمعې په شپه يې واده دی او داسې واده يې په خيال کښې دی چې ټوله وطن ته مېله ورکړي.

په دغه وخت کښې ميرولي و موسی جان ته وويل چې اوس پوره وخت دی، ميرولي او موسی جان د نورو ملګرو سره داسې لام وتاړه چې پر اسانو به داور ته ځي دوی به د داور له ښار څخه د باندې خپل اسان دوو ملګرو ته سپاري او نور ملګري به د ملنګانو په کالو کښې ورځي او په دې پلمه چې ملنګان د ناوې څخه قلنګ غواړي لوی غالغمال به جوړوي. ميرولي به په دغه وخت کښې کلا ته ننوزي او هلته به توره راباسي نور نو هر څه چې پېښه سوه خو ناوې به راولاړوي او د باندې خوا څخه چې ميرولي ناوې کش کړه نور ملنګان به هم تورې باسي او ځان به د ښار څخه د باندې اسانو ته را رسوي.

دا پلان ټولو منظور کړ او د داور خوا ته را روان سول.

❁❁❁

د داور ښار لکه د اختر اوښ داسې رنګين سوی دی، هرې خوا ته ډولونه وهل کېږي، اتنونه کېږي، غږې ايستل کېږي او يوه لويه مېله شروع ده. ماښام ته نژدې د سهيلي خان د کلا څخه يو څه ور هيسته په هغه بله کلا کښې د وطن پاخه او سپين ږيري د سهيلي خان سره ناست دي ساز کېږي او هلوکان ناځي.

ترغونی ماښام دی چې يوه ډله ملنګان د سهيلي د کلا دروازې ته ودرېدل او نارې يې کړې چې راوړئ ملنګان د ناوې قلنګ غواړي. د کلا پيره دارانو د هغو سره مسخرې (ټوکې) شروع کړې خو دوی دغه نارې وهې چې د خان د نوې ناوې قلنګ موږ پر نېك فال نيولی د پيره دارانو مسخرې ورو ورو جدي سوې او د ملنګانو سره يې لاس واچاوه.

ميرولي په دغه وخت کښې پټ خان ور تېر کړ او کلا ته ور ننووت کله چې د کلا غولي ته ورغی د کلا د لوی دالان مخ ته ګلمکۍ پر تخت ناسته ده او شا و خوا ښځې پر راټولې دي.

ميرولي په زوره نارې کړې:

ګلمکۍ را ولاړېږه!

د ميرولي دا ناره وه چې ګلمکۍ شال له سره وغورځاوه او لڅې پښې يې راوځغستل په دې وخت کښې يوې سپين سرې ور حمله کړه او تر لاس يې ونيوله او نارې يې کړې:

څه کوې د ميرو ماينې تښتوې؟

د دې خبره لا پای ته نه وه رسېدلې چې د ميرولي توره يې د پوښتيو تر پوست ور ووته او زړه يې ورخيرې کړ.

نورو ښځو کوټو ته وځغستل، ميرولي ګلمکۍ تر لاس ونيوله او يوه پالتو ګودړۍ (د ملنګانو چپنه) چې يې پخوا لا د خان سره راوړې وه پر سر ورواچوله او د کلا څخه يې راوايستله د کلا مخ ته لا تر دغه وخته د پيره دارانو او ملنګانو تر منځ ساده حملې وې خو کله چې ميرولي او ګلمکۍ تر دوی تېر سول نو يو ښه آن وروسته نارې سوې چې يوه ملنګ ښځه وتښتوله.

کله چې پيره دارانو د ميرولي خوا ته د راځغستلو نيت وکړ ملنګانو تورې را وايستلې او څو کسه پيره داران يې ځای پر ځای مړه کړل او نور له بېرې څخه پر شا ولاړل.

میرولي ګلمکۍ د اسانو ځای ته را ورسوله. موسی جان ته یې وسپارله او ورته ویې ویل چې ته دا دروله. تکیه کېږه مه. کور ته درځه زه به هغه نورو ملګرو ته ورسم.

میرولي چې بېرته راغی. ملګري یې په توره جنګ کوي او د ښاره را وزي، دی مخ ته ورولوېد.

کله چې د سهیلي لښکریانو وکتل چې نه ور سره کېږي نو دا هم پر شا ولاړل او د میرولي ملګري هم راغله هر یوه خپل خپل اس واخیست او په چټکۍ د باشلنګ خوا ته را روان سول.

سهیلي خان د وطن د سپین روبو په منځ کې ناست ؤ چې یو پېره دار وځغستل او ورته ویې ویل:

ناوې ملنګانو وتښتوله! سهیلي خان را وغورځېد او پېره دار یې تر ستوني ونیوئ پر نارې یې کړه چې ولې خنزیره، څه پېښه سوه؟ پېره دار چې تر مخنی وارخطایی لا هېره کړې نه وه چې د خان منګولې یې ښارګونه ونیول وروسته چې یې څو واره کنځارې سو. په دربدلې اواز یې وویل:

ملنګانو ناوې وتښتوله!

خان لڅې پښې خپلې کلا ته راغی او هلته یې ولیدل چې ښځې او نر سره راتاویږې او یوه زړه ښځه په وینو کښې غرقه پرته ده. خان په یوه داسې اواز چې د غوایی رمباړې ته ورته ؤ نارې کړه: څه پېښه ده؟ ښځو په وارخطایی ځواب ورکړ. ګلمکۍ یې بوتله! خان چې څو واره سر وښواروه یو وار د کلا د دروازې خوا ته ولاړ او بېرته راوګرځېدئ او لکه لیونی د کلا په مخ کښې یو دېوال او بل دېوال ته دریدئ څو خپلې خونې ته ننوتئ.

❁❁❁

د شپې توره لمن له ختېځ څخه لویدیځ ته ورو ورو، ورټولیده او د سبا سپین څادر د باشلنګ پر غرو راغوړېدلی ؤ. د سبا سترګه لا لکه د ناوې په تور پیکي کښې

چارګل داسې ځلېدله چې فاتح ځوانان د (ولاخور) څخه د باشلنګ غونډيو ته ور پورته سول.

ميرولي او نور ځوانان مخ کښې روان دي او کله کله يو نيم ځوان يوه لنډۍ وايي چې ... او نيم بند يې دا نور ورسره اخلي. موسى جان او ګلمکۍ پر دوو اسانو يوه ځل ور هيسته روان دي.

يو وار چې د ګلمکۍ اس مستي وکړه او په ششنهاري د شا پر دوو پښو ودرېدئ او د مخ پښې يې پورته کړې نو ګلمکۍ د هغه ملونې کش کړې او چې ملونې يې بېرته ورخوشي کړې نواس يو غټ ټوپ وواهه خو ګلمکۍ بېرته تکيه کړ څو د موسى جان اس پسې ور ورسېدئ.

ګلمکۍ په خندا ورته وويل: موسى جانه دا ستاسې اسان هم دغسې دي لکه تاسې څوك پر ځان نه پرېږدي!

موسى جان چې د لېونيو جذباتو په دنيا کښې لاهو ؤ هغې ته ځواب ورنه کړ، خو هغې بيا پوښتنه ځنې وکړه.

که تاسې نه واى را رسېدلي نو نن شپه به ما او دا لېوه خان يو ځاى د مرګ مېلمانه واى.

موسى جان بيا هم ځواب ور نه کړ څو ګلمکۍ پټه خوله سوه، دواړه اسان غوړي په غوړي له يوې غونډۍ څخه کښته کېږي او پر بله غونډۍ پورته کېږي څو د باشلنګ د غره ډډې ته را ورسېدل.

ميرولي او نور ځوانان يوې خوا ته ولاړل، د موسى جان او ګلمکۍ آسان پورته سول، څو په ډډه کښې غارو ته ورسېدل، هلته د کور ښځې مخ ته ورته راوتلې وې.

کله چې شابيبې ښپله خور ګلمکۍ وليده نو په يوه غورځنګ يې ځان ورته را ورساوه او په غېږې کښې يې له اس څخه راکښته کړه، چې يې د خور سره په غاړه کښې لاس واچاوه او په ژړا ژړا کور ته ننوتلې.

په کور کښې خوشحالي سوه، دستي پسونه حلال سوه او مابنام ته د ټولو

ځوانانو ملګرو او د هغو د کورنیو په ګډون یوه مېله جوړه سوه.

د موسی جان او ګلمکۍ د یو ځای کېدو شپه په ډېرو خوشحالیو بدرګه سوه او میرولي د ځوانانو په مخ کښې په لوی اواز وویل:

دا دی اندېوالانو د پلار یو وصیت خو مې پر ځای کړ اوس به یې نو د ساري او هډه وصیت پر ځای کوم.

د دې سره یې څو د ټوپک ټکان هم وکړل.

شپه چې تېره سوه، نو سبا ټوله په ګډه د ولیجان قبر ته راغلل او ګلمکۍ چې د بېدیا د وحشي ریدي د ژړو ګلانو یوه ګېډۍ د ځان سره راوړې وه هغه یې د ولیجان پر قبر کښېښووله.

د ولیجان پر قبر ډېر ښکران پراته وو ګلمکۍ پوښتنه وکړه چې دا ښکران د څه شي دي؟

موسی جان ورته وویل چې ولیجان خو داسې ښکاري ؤ چې ګل یې نه خطا کاوه. دا ټوله د ده د ښکار سوي هوسیو ښکران دي.

ماښام چې بیا موسی جان او ګلمکۍ سره یوځای سول، نو ګلمکۍ په خوشحالۍ ورته وویل چې زما ژوندۍ هوسۍ ډېره خوښه ده که دې هر ځای ښکار کړه ما ته یې راوله.

موسی جان چې سبا راکښېنوست ببله دې چې د نورو سره ووینې ګلمکۍ ته یې وویل: زه ځم تا ته هوسۍ راولم او د دې سره را روان سو.

موسی جان د خپل ملګري ولیجان مرګ ډېر غمولی ؤ او د هغه ورځې چې ولیجان مړ سوی ؤ، نو د ده پر خوله بیا چا خندا نه وه لیدلې او کله کله به د لېونتوب علامې هم پکښې ښکارېدې.

په دغه ورځ چې موسی جان د هوسۍ په ښکار پسې روان سو، ماښام رانغی، دا سبا هم معلوم نه سو، دا بله شپه او دا بله ورځ هم دغسې وه، څو خلك پسې ووتل او د هغه پته هېچا ته معلومه نه سوه. په دې منځ کې میاشت او دوې ووتلې او د باشلنك د غره د ځوانانو په کور کښې دا یو بل نوی ویر ؤ.

موسی جان چې د کوره را روان سو، تر څو درو را تېر سو او څو وارې يې په هوسيو پسې منډې ووهلې غشي يې پسې ووېشتل خو وروسته لېونتوب زور پر وکړ او هرځاى چې هوسۍ ووينې بس ژاړي او پسې ځغلي، په دغه ځاى کښې يو شپون غيلې (رمه) پيايي او ډېرې ډېرې وينې چې سهار تر ماښامه د غره له يوې پرښې څخه بلې پرښې ته ورغورځي او ډرې وهي، ده وويل دا لېونی دی او پسې ورغی کله چې ده پ خبرې ورسره شروع کړې، نو پوه سو چې په رښتيا لېونی دی، شپانه اشنايي ورسره واچوله دی خوا ته ميرولي هم نا آرامه دی خو هر څه چې يې وکړل د موسی جان درك معلوم نه سو او د بلې خوا سهيلی اوس پوه سوی دی چې دښمنان يې چېرې اوسي.

سهيلي ته هم لېونتوب پېښ دی او داسې ظلم ته يې لاس اچولی دی چې پر هر چا يې يو لوړه اشتباه راسي سر يې ورپرې کوي.

د شاوخوا بزګران چې د سهيلي خان مريان غوندې سوي وو او د خپلو ښځو اختيار يې هم لا لاسه ورکړی ؤ او د ناځرانو تر چپاو لاندې سوي وو، ورو ورو يې د فرارۍ لاره را ونيوله او د باشلنك غرو ته به يې پناه راوړه، دلته ميرولي هغو ته ځاى ورکاه، څو دا ؤ چې سهيلي خان د باشلنك دغرو له ځوانانو سره د پخې جګړې نيت وکړ.

خو په مقابل کښې د ميرولي شاوخوا هم هغو فراره سوو ځوانانو احاطه کړې وه چې د سهيلي خان وينو ته تږي وو.

❁❁❁

د سهيلي خان لښکر د باشلنك خوا ته را روان سو او د بلې خوا د باشلنك د ځوانانو لښکر د ميرولي تر مشرۍ لاندې مخې ته ورغی.

دا دوه لښکره د (ولاخور) په سيمه کښې سره مخامخ سول، خو ورځ لا زوال ته نه وه رسېدلې چې د سهيلي خان لښکر ماته وکړه.

ورځ او دوې چې تېرې سوې بيا سهيلي خان لښکرکشي وکړه او په مقابل

کښې یې ځوانان ورغلل، دې جګړې دوام وکړ. د سهیلي د خوا ځخه ډېر مړه سول، خو د میرولي ملګري داسې پهلوانان دي چې تر اوسه یې یو هم لا نه دی وژل سوی.

که څه هم د سهیلي لښکر په غشو او لیندیو سمبال دی حتی یو او نیم ټوپک هم لري او د میرولي ملګري څو غشي او نور یې یومان او سوټي نري خو په جګړه کښې هره ورځ بریالي کېږي، دې جګړې څو هفتې دوام وکړ وروسته سهیلي خان خپل ناظران وروغوښتل او په یوه مجلس کښې ملا باران ورته وویل:

خان صاحب! وایي سنګ به سنګ میشکنه! دامیرولي د ولیجان زوی دی، چې هغه یې پلار ؤ. نو زوی خو یې لا ځوان مال دی، ما یې د سر وهلو د پاره داسې فکر کړیدی چې د ده د پلار یو خوریی دلته نژدې زموږ کلي ته اوسي، دا سړی (ازادی) نومېږي، ډېر کلك ځوان دی که اجازه کوې هغه به سبا جنګ ته وروباسو.

پر سهیلي خان دا خبره ډېره ښه پرېوته او په داسې حال کښې چې پر ږېره یې لاس تېراوه ویې ویل: ملا بارانه په رښتیا چې غښتلی سړی یې، دستي دغه ازادی راغواړه زما د خوا ځخه بخښنښ هم ورته ورکه او ورته ووایه چې که یې د میرولي سر راووړ نو یو بل به ښه دروند بخښنښ هم ورکړل سي.

کله چې خان خپله خبره پای ته ورسوله مولوي پر را درسته کړه، خانه دا داسې کورنۍ ده چې وطن به تباه کړي خو د دوی وېښته به هم و نه خېژي.

د مولوي خبره پر خان ښه نه سوه تمامه او په قهر یې وویل:

زما د زوره ناخبره دی! خدای ﻭ باشلنك ته په قهر سویدی. زه به د باشلنك غرونه د اور په تناره کښې واچوم.

حاضرین ټوله پوه سول چې خان ته قهر ورغی نو یو په بل پسې له هغه ځایه راووتل.

په دې سبا چې د جنګ نغاره ووهل سوه نو د سهیلي د لښکرو په مخ کښې ازادی روان دی او کله چې میدان ته راغی نو میرولي وپېژندئ او ورته ویې ویل:

ازاديه ناځوانې مه کوه. کنه زما د تورې توان په تا پورې نسته!
ازادي يوه ليونۍ خندا وکړه او ورته ويې ويل:
د ماما زوا! را ميدان ته کېږه. چې دريغ رابانديې و نه کړې زه ستا د سر په سودا راغلی يم.
جګړه په تودښت روانه ده. مخ ته د تورو د چکاچك اواز پورته کېږي او د شا له خوا غشي لکه باران داسې را اوري.
ميرولی په ميدان کښې دازادي سره څرخي. د هغه د تورې وار په ډال راګرځوي خو په خپله چې يې د تورې وار برابر سي نو توره ځنې چپه کړي او په خندا رغ پر وکړي:
دا دی ازاديه زما يې دربانديې کنه اوس به دې سر په ښنو کښې پروت وای.
ازادی ډېر کوښښ کوي چې خپل وار پر ميرولي برابر کړي خو وس يې نه رسېږي.
دا ورځ بيا تر ماښامه جنګ وسو او ماښام چې تياره سوه، نو جګړه بس سوه. ميرولي پر خپل اس چې (پړانګی) يې نوم پر ايښی ؤ، لکه بريښنا ځان کور ته را ورساه، ده مور ته وويل چې سهيلي ازادی ميدان ته لېږلی ؤ. ټوله ورځ يې ستړی کړم. که د خپلوۍ لحاظ نه وای اوس به يې وخته د ملايکو حساب هم خلاص کړی وای.
د ميرولي مور چې د خپل زوی بيان واوريدئ نو ورته ويې ويل: زويه! په جنګ کښې پلار او ورور نسته، چې د دښمن ملګری سوی دی. چې توره دې پر برابره سي نو سر به يې لکه د بادرنګ دغسې ورپرې کوې.
ميرولي مور ته ډاډ ورکړ، چې داسې وي نو سبا به يې کار وکړم.
سبا ميرولي سهار وختي د جګړې ميدان ته ځان راورساوه او بيا صفونه برابر سول جګړه شروع سوه. ازادي بيا پر ميرولي ور وځغستل او ميرولي ورته وويل چې لاس دې ازاد.
يو آن نه ؤ تېر سوی چې ازادی په دې وپوهېده چې وژل کېږم، نو د اس

مخ يې را وګرځاوه او په يوه ټوپ ترميدان ووت ميرولي سم خپل اس پسې خوشي کړ. دوی دواړه يو په بل پسې د ازادي کلي ته راورسيدل. ازادی د کور په مخ کې د اس څخه وغورځېد او کور ته ننووت.

ميرولی هم سم پسې ور په هوا سو او کور ته پسې ور ننوت، دا مهال ازادی د مور تر شا پټ سو او هغې پر ميرولي ناره وکړه، د وليکي زو د سهيلي د مرګه دې اوريدلي دي چې داسې په ازادي پسې راځغلې! پر ميرولي دا خبره ډېره بده ولګېده او خپله توره يې پر راخلاصه کړه، د ازادي د مور سر يې وواهه او په دې پسې يې توره د ازادي په لړمون ومنډله.

ميرولي دستي راووت پر اس يې پښه را واړوله او د جګړې ميدان ته راغی د جګړې د ميدان څخه لويه دوړه پورته کېږي او د سهيلي لښکر وار په وار په شا راځي. خو کله چې ميرولي را ورسېد نو د سهيلي له لښکرو څخه يوه په لوړ اواز ناره کړه.

مه راګورئ چې ميرولی راغی پر شا راځغلئ!

د دې رغ سره لښکر لکه زخمي سوی ښامار پرله تاو سو او د شا پر خوا يې ما ته شروع کړه.

سهيلي خان ته حال ورسيدئ چې لښکر رامات سو او هغه بيا دربار جوړ کړو او خپل ناظران يې را وغوښتل او د هغو څخه يې چاره وغوښته.

دا مهال يوه کوچني ناظر ورته وويل چې اوس خو مو جنګ په وس ور سره پوره نه دی په چل يې بايد مات کړو. سهيلي چې ډېر خوابدی ؤ. د هغه څخه يې وغوښتل چې څه چل بايد وسي او هغه ووېل:

خان صاحب موږ بايد د جنګ د ميدان څخه ها خواته چې ميرولي راځي په ځمکه کښې پټې سپرغې (کندې) جوړې کړو د دغو سپرغو سرونه به په لښتو پټ کړو او خاوره به پر واچوو. ميرولي ته به بيا د جنګ خبر ورکړو خو هغه چې راځي لارې ته به يې پام نه وي او اس به يې په دغه سپرغو کښې غوزار سي او مغزی به يې غوټ مات سي.

سهیلي خان دا خبره ډېره خوښه کړه او ملاباران ته یې وویل چې په کار لاس پورې کوه.

د سهیلي خلکو ټوله شپه په لار کښې سپرغې جوړولې او سهار ته نژدې یې کار پای ته ورساوه. دغه خلك یوې خوا ته ودرېدل او نغاره یې وډنګوله. میرولي او د هغه لښکر فکر وکړ چې سهیلي بیاتازه دمه لښکر راوستلی دی نو په چټکۍ میرولي پر ملګرو د تیار سئ ږغ وکړ او میرولي پر خپل اس پښه راواړوله.

ده چې شلاخه پر سر وڅرخوله، نو اس لکه د پسرلي برېښنا په هوا ټوپ وغورځاوه او څو دا ؤ چې د سپرغو برخې ته راغی. اس تر یوه سپرغه وغورځېدئ خو چې تر دویمې غورځېدئ د شا پښې یې په سپرغه کښې بندې سوې او داسې سخت وموښت چې د میرولي چپه بغل د اس په رکاب څېرې سو. ملګري یې پر راټول سول او د میرولي ټپونه یې په لنګوټو ور وتړل خو له میرولي څخه زیاته وینه ولاړه او بې سده سو.

د سهیلي نورو ملګرو چې د جنګ میدان ته ور منډه کړه هلته یې هېڅوك و نه لیدل او بېرته راوګرځېدل کله چې میرولي یې پر داسې حال ولیده نو د سهیلي په چل پوه سول.

د میرولي ملګرو هغه راواخیست او کور ته یې راووړ په کور کښې پر ښځو یو بل ویر نوی سو. خو ژر یې د میرولي ټپونه ور پرېولل او دواوې یې پرورکښېښوولې.

جنګ نور بند دی او میرولي هم کله په حال کښې او کله بې حاله وي، د بستر څخه ښورېدلی نه سي. رنځ یې ورځ په ورځ زیاتېږي.

❁❁❁

د سهیلي خان دربار د وطن د خانانو او ملایانو څخه ډك دی او سهیلي خان هم غاړه لکه نیولې ده. ملا باران د سهیلي خان د قوت او فتح په باره کښې لوی بیان شروع کړی دی او پر هر ځای چې د خان نامه ته را ورسېږي نو هر یو پر خپله ږېره لاس تېر کړي او وایي: ښشکه! ښشکه چې پر غیرت ولاړ خان دی.

د دوی دغه مجلس لا ګرم روان ؤ چې پېره دار راغی او خان ته یې وویل:

خان صاحب د موسی جان ورونه راغلي دي عرض کوي.

خان چې د موسی جان نوم واوریدئ، نو لکه په غمچینه وهلی مار پرله تاو سو او په قهر یې د حاضرېدو امر ورکړ، د موسی جان ورونه دربار ته راغلل او د خان په پښو کښې پرېوتل، خان په لغته پورې وهل او پوښتنه یې ځنې وکړه، چې څه واياست؟ مشر ورور يې لاسونه پر ځيګر ونيول او ويې ويل: خان صاحب ستا سايه دې خدای زموږ د وطن له سره نه کموي، زموږ د کورنی سره تا ډېر ښه کړي دي خو موږ ګناهکار يو، موږ اوس خبر اخيستی دی چې موسی جان ليونی سو او پر دښتو ورك سو. ګلمکی د ميرولي په کلا کښې ده او ميرولي هم پر مرګ پروت دی، ښايي اوس دی هم مړ سوی وي، اوس د دې وخت دی چې تاسې ګلمکی راولئ. خان چې د ګلمکی د نامه د یادیدو څخه د وطن د خانانو په مخ کښې د خجالت سره مخامخ سوی ؤ، دوی ته یې ډېر ښکنځل وکړل او امر یې وکړ چې د دوی ټولو غوږونه ور پرې کړي او د دې سره سم جلاد راغی او د موسی جان له ورونو څخه یې غوږونه پرې کړل. د مجلس حاضرين پوه سول چې د خان اوقات تريخ دی نو اجازه يې واخيسته او له دربار څخه را ووتل، يواځې ملاباران او مولوي د خان سره پاته سول. خان څو دقيقي پټه خوله ؤ، بيا يې وويل: دې حرامزادګانو بيا يو چم نه وي جوړ کړی؟

ملا باران په يوه خودراضي وضع وويل: خان صاحب، بيغمه اوسه نور څوك چل نه سي کولای.

خان وويل:

تاسې وا ګلمکی به رښتيا هلته وي؟

مولوي وويل:

اول معلومات وکړئ چې خطا نه وزئ، ملاباران وخندل او ويې ويل:

زه به دری ورځې وروسته پوره حال راوړم. ملاباران يوه زړه بوډۍ پيدا کړه او هغه يې د باشلنك غرو ته ولېږله او هغې هم په مکر او چم معلومات وکړل او حال يې ملا باران ته راوړ، ملاباران دری ورځې وروسته خان ته ورغی او په پوره ډاډ يې

ورته وويل:

د موسی جان ورونو رښتيا ويلي وو. هم ګلمکۍ هلته ده او هم ميرولي د مرګ پر بستر پروت دی، خان ته چې دې خبرې د يو زېرى حکم درلود. پر ړېره يې لاس تېر کړ او د ځيګر صندوخ يې ښه را پورته کړ بيا يې ملاباران ته وويل:

سبا ته به زه، ته او يو څو تکړه سپايان هم برابر هلته ځو او ګلمکۍ به راولو!

ملاباران ورته وويل: پر سترګو!

❁❁❁

د باشلنك د غره د غارو پر لوړ تنګ چې هره ورځ سهار د ميرولي د کور ښځې لارې ځاري او په پيره سره دا کار کوي، يوه ورځ سهار يې وليدل چې لاندې د کلا و خوا ته څو سپينې خيمې ولاړې دي.

دوی پوه سوې چې سهيلي راغلی دی نو فيصله يې وکړه چې ميرولي به نه خبروي ځکه د هغه ټپونو اوس تازه خوله سره وروړې وه او که هغه خبر کړي نو دا به يې په مرګ تمامه سي.

شابيبې وويل چې زه به پټه سم او تاسې حال ورکړئ چې راسي او ګلمکۍ بوزي، خو دا خبره د وليجان پر خور (تانو) ډېره سخته تمامه سوه.

څو دا ؤ چې په پټه خوله يې سهيلي ته خبر وکړ او کله چې سهيلي د دوی د کور نژدې ته ورسېدئ، نو نارې يې کړې.

که ما ته ګلمکۍ راوسپارئ نو زه په تاسې هېڅ کار نه لرم.

تانو پر رغ کړ: سهيليه! هغه د موسی جان مېرمن ده، زه پېغله يم، ما در سره بوزه، هغه پرېږده.

سهيلي په قاطع ډول وويل:

زه بله خبره نه لرم، ګلمکۍ راوباسئ؟

په دې وخت کښې ګلمکۍ راو وتله او دنورو سره يې خدای په اماني وکړه

او په داسې حال کښې چې سهیلي هغه تر موټ نیولې وه، د غره له ډډې ښخه را کښته سول. لاندې چې راغلل نو ګلمکۍ یې تر شاه سپره کړه او اسان یو په بل پسې روان سول.

ښځو ژړل او دې ژړا میرولي یو ځه را بېداره کړ او پوښتنه یې وکړه چې څه کیسه ده؟ په دغه وخت کښې د یوې کوچنۍ نجلۍ تر خوله ووتل ګلمکۍ یو چا بوتله میرولي را وغورځېدئ، پوښتنه یې وکړه، چې چا بوتله؟ ښځو ډېرې زارۍ ورته وکړې، خو میرولي تکیه نسو دغسې یې توره په ملا پورې وځړوله او د کوره را ووت، اس یې را واخیست او په سهیلي پسې را روان سو، ښه ځکل ور هیسته د سهیلي اسانو ته ور نژدې سو او په لوړ اواز یې نارې کړې:

او سهیلیه! خپل قبر ته رانژدې سوی یې. ښځه ایله کړه چې در ورسېدم.
سهیلي چې دا اواز واورېده په وارخطایۍ یې ملاباران ته وویل:

بیا لکه چې په دام کښې وموښتو دا یې چل راته جوړ کړی ؤ.

دوی لا دا خبرې کولې چې ګلمکۍ د سهیلي له شا ځخه ځان را خطا کړ او له اسه راولوېده، خو سهیلي چې کوښښ کاوه چې هغه بېرته اس ته پورته کړي، میرولي پسې ور ورسېد.

سهیلي وارخطا سو، مخ ته یې ټوپ وواهه او نورو ملګریو یې هم اسان پسې وځغلول او په تېښته ولاړل، میرولي ګلمکۍ ته وویل:

هله را غورځه اس ته!

ګلمکۍ چې اس ته ور پورته کېده، اس مخ ته ټوپ کړ او د ګلمکۍ لاسونه د میرولي ملا ته ورسېدل، خو راوځړېده او په دغه وخت کښې د میرولي ټپونو چې تازه یې خولې سره ورغلې وې بیا خوله خلاصه کړه او وینې ځنې ایله سوې، میرولي ضعف وکړ او داس ځخه را غوزار سو، د نس ځخه یې وینې را ایله سوې او یو ان نه ؤ تېر سوی چې د سترګو تور یې ولاړ او سپین یې راپورته سول. ګلمکۍ د ده سر په غېږ کښې ونیوی او یوه سوې کریږه یې وکړه.

سهیلي چې یو ښه ځکل ولاړ د یوې لوېې غونډۍ پر سر یې اس تکیه کړ،

اوس ګوري چې د میرولي او ګلمکۍ اس هېڅ نه معلومېږي یوه ښه ګړۍ یې انتظار ویوست وروسته کرار کرار پسې را روان سو. چې را نژدې سو ګوري چې اس لیري ولاړ دی میرولي پر ځمکه پروت دی وینې ځنې بهېدلې دي او ګلمکۍ یې سر په غېږ کښې نیولی دی.

سهیلی لکه وږی او زوړ لېوه چې همېشه په مړه ښکار پسې ګرځي، رانژدې سو او په دې ډاډه سو، چې میرولي مړ دی، نو پر ګلمکۍ یې ږغ وکړ:

دا دې په خپله مړ کړ د فېروز لورې؟

ګلمکۍ ورو سترګې ور واړولې او هېڅ یې نه ورته وویل.

سهیلی راغی یو وار یې میرولي ته وکتل او بیا یې په وارخطایۍ شاوخوا وکتل نو یې څه و نه ویل، خو ګلمکۍ یې کش کړه او په زوره یې پر خپل اس تر شا سپره کړه او په دوړه یې اس د داور خوا ته په تېوپ کړ.

د میرولي تر مرګ وروسته نو په باشلنګ کښې یوه چوپتیا خپره سوه، په دغه وخت کښې ناڅاپه موسی جان پیدا سو او چې کور ته راغی ډېر خراب سوی ؤ. ده پوښتنه وکړه خو ښځو په ژړا ورته وویل چې میرولي هم ځوانیمرګ سو او سهیلی راغی ګلمکۍ یې بوتله.

موسی جان بل څه و نه ویل په کور کښې یې وکتل یوه توره یې را واخیستله او یو اس یې چې په ځنګل کښې ایله ؤ، راګیر کړ او د داور خوا ته راروان سو. دی د موسی کلا برخو ته راغی او دلته بیا لېونتوب غلبه پر وکړه اس یې په یوه پټي کښې یو بزګر ته ور وباخښه توره یې تر سر تاو کړه او لیرې یې وغورځوله او د "مکۍ مکۍ" نارې یې شروع کړې. دلته خلګ پوه سول چې دا خو د ګلمکۍ مین موسی جان دی، نو هر چا به خوا خوږي ور سره کوله، خو موسی جان نو پاک لېونی سو او کالي یې هم وغورځول.

سهار تر ماښامه بل کار نه لري، یواځې د مکۍ نارې وهي، په دغه وخت کښې سهیلی خبر سو چې موسی جان پیدا سوی دی، لېونی دی او مکۍ مکۍ نارې وهي، نو یوه ورځ یې خپل ناظر راوغوښت او ورته ویې ویل:

دغه لېوني زما عزت ته لوی خطر را پېښ کړی‌دی، په هر چم چې وي خوله يې ور پټه کړئ.

ناظر هم دوه شرير خلك موظف کړل او هغه ولاړل يوه پر سر پوړنی واچاوه او بل پر موسی زغ وکړ:

موسی جانه دا دی ګلمکۍ مې درته راوسته.

موسی جان چې وکتل، نو شين د خندا ولاړ او په يوه ټوپ يې راوځغستل او هغه يې په غېږ کښې ونيوله، خو هغه سړي تر پړوني لاندې چاړه د ده په نس کښې ور ښخه کړه، موسی جان يوه سوې کريږه وکړه او چې پر شا ولاړ نو هغه بل د چړې يو :ل وار پر وکړ. موسی جان په وينو کښې لژند پرېووت او د يو آن د مخه مړ سو. دا دوه خلك وتښتېدل او د شاوخوا بزګران چې راټول سول، نو نر او ښځو پر ژړل او ټولو ويل چې دا د سهيلي په ټونك وژل سوی دی.

موسی جان ته يې غسل ورکړ، کفن يې په واغوست او د کلي سر ته يې پر يوه غونډۍ ښخ کړ. د موسی جان د وژلو اوازه پر وطن خپره سوه او يوه شپه سهيلي ګلمکۍ ته وويل:

موسی جان خو نو لېونی سوئ ؤ او ته هم په خبره وې، په دې ورځو کې ناپېژندلو خلکو وژلی دی، نو ته چا ته ناسته يې، راځه زما سره دې نکاح وتړه.

ګلمکۍ د دې خبرې په اورېدو لويه کريږه وکړه او چپه پرېوته.

ګلمکۍ دری ورځې او دری شپې وژړل او چې ارامه سوه، نو سهيلي ته يې وويل:

دا يو خواست مې لا قبول که نو بس واده به سره کوو.

سهيلي ورته وويل: وايه چې ته هر څه غواړې هغه در سره کوم.

ګلمکۍ ورته وويل: يو وار مې د موسی جان قبر ته بوزه او چې زيارت يې وکړم نو زړه به مې صبر سي، نور چې هر څه تا غوښتل هغه به در سره قبول کړم.

سهيلي ورته وويل: دا کار به وکړم او سبا به دې هلته بوزم.

شپه تېره سوه، او سبا سهيلي او ګلمکۍ پر اسانو را سپاره سول او د شا له

PROPERTY OF ACKU 7555

خوا څخه یو پړك سپاره په پسې دي. دا دی د موسی جان قبر ته را ورسېدل. ګلمکۍ سهیلي ته وویل: چې ته یو څه هیسته ودرېږه.

سهیلي هم د ماجر څخه د باندې ودرید او ګلمکۍ راغله د موسی جان پر قبر پرېوته یوه لویه کریږه یې وکړه. پر قبر را تاو سوه. څو واره پر وڅرخېده. بیا غوزاره سوه. سهیلی ورته ګوري ګلمکۍ پوړنی پر ځان وغوړاوه او بیا یې یو اواز تر خوله ووت. دغسې پرېوته او سهیلی اریان ؤ چې څه وکړي. وروسته یې فکر سو چې د قبر پر کاڼو د ګلمکۍ له پړوني څخه د وینو سرې ریښکې را رواڼې سوې. سهیلي په چټکۍ ور وځغستل او هغه یې را پورته کړه. خو چې ویې لیدل. نو یو سپین خنجر یې د تیو تر پیوست د زړه تر څوکو پورې رسېدلی ؤ.

سهیلي خان څو واره پیوسته پر نارې کړې. ګلمکۍ! ګلمکۍ! دا دی څه وکړل؟

خو! د ګلمکۍ پخوا لا نفس وتلی ؤ.

سهیلي خان په پټه خوله هغه پر اس ونیوله او په چټکۍ و داور ته را روان سو.

❁❁❁

د سهیلي خان په مهمانخانه کښې د سهیلي سره د ده ناظر ملاباران. مولوي او څو کسه نور ناست وو. ټوله پټه خوله وو. څو سهیلي وویل:

عجیبه ژوند دی. څونه بدنامي مې په نصیب سوه. ګلمکۍ هم ځان مړ کړ اوس څه وکړم؟

په دې وخت کښې هر یوه یو څه وویل خو مولوي وویل اوس خو نو پېښه ده. وایي سر څه په یوه لوټه سپېره څه په شل. ما اوریدلي دي چې د ولیجان یوه ډېره ښایسته خور پاتې ده. هغې ته مرکه وکه. ګوندې په هغې دې یو څه غم غلط سي.

سهیلي چې سر کښته ځړولی ؤ. ورو ورو یې را پورته کړ ملا باران ته یې

وويل:

د مولوي صاحب د خبرې په باره کښې څه وايې؟

ملاباران د يوه تازه خواب په ډول وويل: تر هر څه مې خوښه ده! هغه ډېره مېړنۍ او سر تېره ښځه ده او خانه ستا د پاره دغسې جنګي ښځه په کار ده.

د ملا باران د څېرې څخه مولوي او سهيلي خان دواړه يو ډول خوشحاله سول او بيا سهيلي خان وويل:

بس نو کار يې جوړوه!

- پر ستر ګو!

په سبا مولوي، ملا باران او څو کسه نور سپين روبي د وليجان کلاؤ ته ورغلل او هلته کښته سول دوی ته ښځو ښه ډوډۍ ورکړه، وروسته مولوي ورته وويل چې مورِ د سهيلي خان په مرکه راغلي يو او د وليجان خور تانو به د هغه سره واده کوي.

تانو ورته وويل چې اوس مورِ بې سرپرسته يو او په دې خوشحاله يو چې خان مو پر سر سايوان سي. خو مورِ غمديده يو. نو واده به په ډېر ډول او سورنا نه کوي.

مولوي په خوشحالۍ ورته وويل:

"بېشکه ښه خبره او د مسلمانۍ خبره دې وکړه، ښځمه اوسه چې هر څه ته وايې هغسې به وکړو."

دوی را رخصت سول.

کله چې خان ته راغلل، نو مولوي ورته وويل: خانه ډېرې ښځې به دې ليدلې وي او ډېر ودونه به دې کړي وي، خو دغسې يوه مېړنۍ او هوښياره ښځه به بله و نه وينې.

مولوی په تفصيل نکل ورته وکړ او ورته ويې ويل:

هغه په خپله د دغه وخت منتظره وه چې ته پر دوی مهربانه سې.

خان په خوشحالۍ وويل:

زه خو هر وخت مهربانه يم. خو که دوی يو څه شرافت درلودای نو ښه به

وای.

مولوي ورته وويل:

دا جاهلان دي او د خپل جهالت په سزا رسېږي.

وروسته يې ملا باران ته وويل چې د جمعې د شپې له پاره به ښه ترتيبات ونيسې او پاخه سپايان به برابر کړې چې د "تانو" کره ځو او هغه راولو. اوله شپه زه هورې ور سره تېروم.

۞۞۞

د ميرولي تر مرګ وروسته "تانو" د خپلې کلا او د شا و خوا بزګرانو کونډيانو ته جنګي تعليم شروع کړی دی، د غشو ويشتل او د تورې استعمال هرې يوې ته ورښيي او نيت يې کړی دی چې ځو ورځې وروسته د داور پر کلاوو چپاو ور وړي.

دوی لا په دغه کار بوختې وې چې د سهيلي د مرکې خبره منځ ته راغله او کله چې تانو مرکه چيان په اميند رخصت کړل، نو د کلا ښځو ته يې وويل:

ښه سو دا اجل نيولی په خپلو پښو راځي.

دا چې يوه سره پېغله وه، د قهر څخه نو لکه يوه سره سکروټه داسې سوې وه، په لوړ اواز يې وويل:

ما به ښه جوړه کړئ، زما په خونه کښې دوې تورې او دوه ډاله کښېږدئ. نور نو تاسې هم بايد مسلح ياست، هر وخت چې ما د سهيلي سر ور کټ کړ، نو تاسې به د هغه پر ملګرو او سپرو حمله کوئ او زموږ د ځوانمرګانو کسات به ځنې اخلئ.

دا ؤ چې د جمعې شپه را ورسېده، سهيلي خان لکه د اختر فيل ځان جوړ کړ او د وطن خانان او ملايان ور سره دي. ماپښين ؤ، چې د باشلنګ کلي ته را ورسېدل.

دوی دلې کښته سول، سهيلي خان او ځو نژدې ناظران او سپين روبي ور روان سول، د غره ډډې ته د دوی کور ته ور وختل.

ښځو په عزت ښه راغلی ورته وويل.

مولوي بوڅکی بوڅکی د خان مخ ته ښوري او دعاوې وايي نور نو ټوله پټه خوله ولاړ دي.

يوې ښځې ورته وويل موږ ډوډۍ جوړه کړې ده او ناسې به خپل نوکران را واستوئ چې ډوډۍ دروړي. تر ډوډۍ وروسته به خان او نور چې هر څوك ور سره راتله دلې به د ننه کور ته راسي خان بيا هم پوره باوري نه ؤ او ښريدئ چې يوه ټکه پر ايله نه سي، خو د هغې خوا ښرته لاندې خپلو ملګرو ته را روان سو.

پر لارې يې ملاباران ته وويل: څه فکر کوې، زه خو په دغه کورنۍ اعتبار نه لرم؟

مخکښې تر دې چې ناظر ځواب ورکړي مولوي وويل: خانه ته غوږ ونيسه، هلته ښځو څونه خوشحالي جوړه کړې ده، دريې وهي. زړه مه اچوه، اوس نو څوك دوی ته ورپاتې دي چې تکيه ورته وکړي؟

خان ته د مولوي خبرو هېڅ خوند نه ورکاوه او په يوه داسې لهجه يې چې کامل نفرت پکښې څرګندېدئ وويل: مولوي! زه زړه نه اچوم. زما زړه دا د باشلنك تر غرو هم غټ دی، خو په دغه کورنۍ اعتبار نه لرم.

ملا باران وويل: ښېشکه خانه!

دوی نورو مېلمنو ته راغلل د ماښام لمونځونه چې وسول نو د لوړې کلا ځخه مېلمنو ته ډوډۍ را کښته سوه او په ښه عزت ډېره ښه ډوډۍ مېلمنو ته ورکړل سوه.

ډوډۍ چې يې وخوړله، نو سهيلی خان، ملاباران، مولوي او څو غټ او غښتلي سپايان د لوړې کلا خوا ته را روان سول او کلا ته چې داخل سول، نو خان د ناوې خونې ته بوتلل سو.

❁❁❁

سهيلی چې خونې ته ننوتئ. نو ښځو "تانو" په دغسې حال کښې چې تر بغلو يې نيولې وه، د خان خونې ته راوستله او په خونه چې را ننوتې نو د تانو له مخ ځخه يې شال پورته کړ.

خان چې تانو ته وکتل، نو یوه چته ښکلې پېغله یې ولیده، چې ځان یې ډېر ښه جوړ کړی ؤ او پر تندي یې د سرو خالو کتار ښکاریدئ. ښځو خان ته مبارکي وویله او ورو ورو له خونې ووتې.

خان "تانو" ته وویل: په رښتیا چې ته د وطن د سر تاج یې، ستا غوندې ښکلا مې تر اوسه نه ده لیدلې او ما ستا د مېړانې اوازې هم اورېدلې دي.

خان خپلو خبرو ته دوام ورکړ: "تانو"! ته به نورې خبرې هېروې، ته به زما د کلا اختیار داره مېرمن یې، ته چې هر څه وغواړې، هغه به تا ته تیار وي.

خان د کوټې شاوخوا ته نظر وځغلاوه او د کټ سر ته یې دووتورو او دوو ډالونو نظر جلب کړ ا و دامهال یې یو ټکان وخوړ. خو خبرو ته یې دوام ورکړ او ویې ویل: وایي چې تېر په هیر او هېر پر هېر. زموږ نوې دوستي باید د پخوا خبرې ټوله زموږ او ستاسې له منځه وباسي. دا مهال تانو له خپل سر څخه شال ښویولی ؤ او پر اوږو یې پروت ؤ. د دې سترګې لکه د یو خوني زمري سرې اوښتې وې او مخامخ یې خان ته کتل، دې هېڅ نه ویل. خان بیا خبرو ته ادامه ورکړه. ویې ویل: تانو بي بي! ته پوهېږې چې زه د دا ټوله وطن اختیار داره یم. ته به زما د ټوله کار مشوره راکوې او زه چې دا ستا سترګو ته ګورم نو زړه مې په هغو ګیر دی او چې ته راته وواېې نو زه به تر خپل سر هم درته تېر سم.

خان پر احساساتو راغلی ؤ او پسې زیاته یې کړه: تانو! که ته راته وواېې چې په خپله پر دغه میدان ځان مړ که، نو باور ولره چې زه به هېڅکله خان تېر نه کړم. او خپلې غاړې به تا ته کښېږدم. د خان د دغې خبرې وروستي جمله داسې وه لکه یوه سره اوسپنه چې په اوبو ننباسې او ټکهاری یې پورته سي. دغې خبرې پر تانو داسې اثر وکړ او وروسته تر دې چې ورو ورو یې خپل سر وښوراوه د غاښو د سخت یو ځای کېدو ټکهاری یې خان واوریدئ، تانو وویل:

په خانه! په سهیلیه! زه داسې بې غیرته نه یم چې په ناز تا مړ کړم، بلکې په مېړانه دې وژنم!

دا د وژنم کلمه پر خان داسې وموښته لکه مردک چې یې په کوټې کښې

وموښت. له دغې خبرې سره تانو ور وغورځېده او هغه تورې او ډالونه يې راواخيستل چې د کټ سرته ځړېدل.

سهيلی حيران ؤ چې دا څه کوي. خو هغې يوه توره او يو ډال هغه ته ور وغورځاوه. يوه توره يې په خپله په لاس کښې ونيوله او په بل لاس کښې يې ډال ونيوی ويې ويل:

سهيليه! ته عجيبه ساده سړی يې. غواړې چې هغه تانو په غېږ کښې ونيسې چې ځوان وليجان دې وژلی، ځوانيمرګ ميرولی دې په وينو لمبولی. موسی دې مړ کړی او مکی دې د مرګ مبلمنه کړه. ته نه شرمېږې چې دا خبره کوې؟

دې يو اوږد (آه) ويوست او په داسې حال کښې چې سهيلي په وارخطايی هغې ته کتل تانو خبره پسې اوږده کړه او ويې ويل: سهيليه موږ تا غوندې نه يو چې يا دې په زهرو مړ کړو يا دې په پټه ووژنم. يا چل در سره وکړم. يه! دا توره ده او دا دې ډال دی را ولاړېږه چې تن په تن يې در سره معلومه کړم.

دا يې وويل او توره يې په لاس کښې ونيوله. سهيلي هم توره واخيستله. خو پر له پسې يې زاری کولې او تانو ته يې د خدای رويونه ګرځول.

ده لا دغه خبرې کولې چې د تانو د تورې ګوزار يې پر مټ و موښت. سهيلي ورته وويل:

تانو تر تا هم تېر يم. خو پرې مې ږده چې ولاړ سم.

سهيلي خان د تانو د تورې بل وار پر خپل ډال وګرځاوه او پسې نارې يې کړې:

چې هر څه غواړې هغه درکوم او تا هم نه غواړم. خو ما پرېږده چې ولاړ سم.

تانو چې پرله پسې ګوزارونه کول په بې پروايی ورته وويل:

خانه وار دې کوه نورې خبرې مه کوه. موږ پخوا لا تا ته دلې قبر جوړ کړی دی.

سهيلي چې فکر وکړ چې هېڅ عذر يې نه قبلېږي. نو پر خپلو سپايانو يې امر

وکړ. خو متوجه سو چې هلته هم یو لوی زوړ پورته دی. او یواځې د تورو چکاچك اوریده کېږي. نو پوه سو چې دوی تول ګېر دي. دا مهال یې ځان د مرګ په خوله کې نژدې ولیده نو توره یې په لاس سمه کړه او غوښتل یې چې پر تانو یو کاري وار وکړي. خو هغې په ډال د ده وار وګرځاوه. تانو بیا واری پر سم کړ او سهیلي په ډال وګرځاوه او بیا سهیلي توره سمه کړه او پر تانو یې واری وکړ خو هغې بیا په ډال وګرځاوه.

سهیلي چې هر واری کوي زاری ور سره کوي. خو تانو څه نه وایي او وارونه کوي.

کله کله توره په توره حمله کوي د تورو اوازونه د خونې په فضا کښې خپاره سي ببرته ورك سي.

دوی ډېره ښه ګړی سره اخته وو او د تورو جنګ دوام درلود. څو دا ؤ چې د تانو توره یو ځل په داسې حال کښې چې د سهیلي د ډال څخه خطا سوه او د هغه پر مخ وموښته او په وار یې پوزه او نیم باړخو پرې سو او له دې سره یې وینو داره ووهله.

سهیلي ډېر سور سو. توره وهي خو د تانو په ډال ګرځي خو ناتوانه سو او یو ځل داسې واقع سوه چې تانو خپله توره په عوض د دې چې دده پر مخ ووهي غبرګه یې کړه او د سهیلي خان په خېټه یې ورننه ایسته او له دې سره خان را چپه سو تانو پر نارې کړې:

لېوه چپه سوې؟

سهیلي څه و نه ویل خو تانو یو ځل بیا توره تر سر وګرځوله او دا ځل یې په تول قوت د هغه په مغزي ور حواله کړه او سر یې غوټ ځنې پرې کړ.

خان دلته مړ سو او تانو د باندې را ووته چې ویې کتل نورو ښځو د خان ملګري تول وژلي دي.

تانو دوی ته وویل چې لاندې راځئ دوی تول لاندې راتاسوې او هغه سپین روبي چې د سهیلي خان سره راغلي وو حمله یې پر وکړه او پس له یو

دوو ګړیو یې هغه هم ټوله ووژل یا وتښتېدل.

❁❁❁

په دې ډول د سهیلي خان او د وطن د لوی لېوه د چپاو ځخه وطن خلاص سو.

د وطن بزګرانو او خلکو په دې ډېره خوشحالي کوله. چې د دوی وطن یواځې زلمیان نه لري چې د جابرانو خانانو په مخ کښې درېږي. بلکې د دوی ښځې هم داسې نومیالیانې دي چې د سهیلي خان غوندې لېوه یې هم په خپله سزا ورساوه.

پای

# مأخذونه او مراجع

د کتاب د متن په پایلیکونو کښې چې د مأخذونو نومونه په اختصار راوړل سوي، خو د حوالې یا اقتباس مخونه ښوول سوي دي، دلته هغه مأخذونه په کامل هویت معرفي کېږي او په دې ترڅ کښې هغه آثار هم معرفي کېږي چې د دې لیکنې د لیکلو پر وخت استفاده ځنې سوې ده:


۱- اکادمي علوم اتحاد شوروي، افغانشناسي شوروي در عرصه چهل سال، چاپ مسکو ۱۹۵۹.

۲- فیلسین شاله: تاریخ مالکیت مترجم فخري ناظمي، چاپ تهران ۱۳۲۸.

۳- پی یرروسو: تاریخ علوم، مترجم حسن صفاری، چاپ سوم، تهران ۱۳٤۰.

٤- همایون فر: نژاد بشر چاپ تهران، ۱۳۳۲.

٥- عدهٔ از دانشمندان تحت نظر پروفېسور کاسمینسکی: تاریخ قرون وسطی، مترجمین صادق انصاري و محمد باقری، چاپ تهران ۱۳٤٦.

٦- ماکیسم گورکي: ادبیات از نظر گورکي، مترجم ابو تراب باقر زاده، چاپ تهران ۱۳٤٥.

۷- لیوتولستوی: هنر چیست، مترجم حسینی نژاد، چاپ تهران.

۸- اوپانیشاد: ترجمه از سانسکریت شهزاده محمد داراشکوه: مقدمه و

حواشي، داکتر تاراچند، مترجم پارسي سيد محمد رضا جلال نايينی چاپ تهران ۱۳٤۰.

۹- فريدون کار: غلط ننويسيم مقدمه سعيد نفيسي چاپ تهران.

۱۰- جواهر لال نهرو: نگاهی بتاريخ جهان، مترجم محمود تفضلی (در سه جلد)، چاپ تهران ۱۳٤٦.

۱۱- ارنولد تاينبی: فلسفهٔ نوين تاريخ: مترجم داکتر بهاالدين پازارگاد چاپ تهران ۱۳٤۳.

۱۲- محمد تقی بهار: سبك شناسی (در سه جلد) چاپ تهران ۱۳٤۹.

۱۳- ح، حسينی نژاد: فلسفه و شخصيت اناتول فرانس، چاپ تهران تاريخ چاپ؟

۱٤- فرنان - ربر: ادبيات يونان، مترجم حسينی نژاد، چاپ تهران ۱۳۲۹.

۱۵- کاليداس: وکرم اروشي ترجمه دکتر سيد امير حسن عابدی، چاپ دهلی ۱۹۵۹.

۱٦- محمد گل نوری: ملي هنداره (دوه ټوکونه) چاپ پېښور، د چاپ کال؟

۱۷- داکتر ميترا: ريالسم و ضد ريالسم در ادبيات، چاپ تهران ۱۳٤۵.

۱۸- عبد الرحمن پژواك، افسانه های مردم، چاپ کابل.

۱۹- محمدشفيق وجدان: فولکلور افغانی، ادبيات مردم، چاپ کابل ۱۳٤۸.

۲۰- البرماله و ژول ايزاك: تاريخ روم، مترجم غلام حسين زيرك زاده، چاپ تهران ۱۳۳۲.

۲۱- پښتانه: مهتم مياخان اپريدی (لومړی او دويم ټوك) د کابل چاپ

۱۳۴۹-۱۳۵۰.
۲۲- پوهاند عبد الحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی او دویم ټوک) د کابل چاپ.
۲۳- ابو سعید عبد الحی گردیزی، زین الاخبار تحشیه و تعلیق پوهاند عبد الحی حبیبی، چاپ تهران ۱۳۴۷.
۲۴- آریانا دایرة المعارف (پښتو - دري) مختلف ټوکونه، د کابل چاپ.
۲۵- آریانا مجلې، مختلفې گڼې، د کابل چاپ.
۲۶- د کابل مجلې، مختلفې گڼې، د کابل چاپ
۲۷- د کندهار مجلې، مختلفې گڼې، د کندهار چاپ.
28- Ralph Fox: The Novel and the people, Moscow 1956.
29- Dcana Neill: A Short History of the English Novel, London 1964.
30- G. Plekhanov: Art and social life. Moscow 1957.
31- Ruth Benedict, Patterns of Culture: New York 1960.
32- Hoeble: Man in the Primitive World. New York 1958.
33- New College Standard Dictionary, New York 1950.
34- Marx-Engels, Selected, Works, Moscow 1957.
35- The Readers, Campanion to World Literature, New York 1958.
۳۶- حبیب الله نور مفیدی: اکاډمی علوم، کلیات اطلاعات عمومی، چاپ تهران ۱۳۴۴.

# د دې کتاب د لیکوال چاپ سوي آثار

- د پښتني قبیلو اصطلاحي قاموس (حقوقي، جزايي، تعاملي) کابل، ۱۳۵۷
- د پوړنتي اثر انګلیسي ترجمه، کابل ۱۳۵۸.
- د پښتونستان مسئله د حق خود ارادیت په رڼا کښې، کابل، ۱۳۴۸
- د جرګو وطن، کابل ۱۳۶۱
- هلمند د کلتور په ساحه کښې، کابل او هلمند، ۱۳۴۴
- د آسیا په زړه کښې طوفان کابل، ۱۳۵۹
- خېل او وېش (د ځمکې دوراني ملکیت) "د قبیلې پر ټولنیز سازمان او اقتصادي سیستم یوه اتنولوژیکي څېړنه" کابل، ۱۳۶۰
- تحقیق مختصر اتنو لوژیکی بر مؤسسه قانون در جوامع قدیم قبیلوي، کابل، ۱۳۶۰
- تحقیق اتنولوژیکي بر فاکتور زعامت در جامعهٔ قبیلوي، کابل ۱۳۶۰
- پر حدود العالم من المشرق الی المغرب، د اتنوګرافی له نظره یو بحث، کابل، ۱۳۶۲
- شاهراه ابرشیم و شبکه های جنوبی آن، کابل ۱۳۶۱
- د لرغوني افغانستان او مرکزي آسیا د قبایلو اتنوګرافي.

- هندوکش شرقی و تحقیقات انسانشناسي در دره های آن (مصور) کابل ۱۳٦۰
- ملي هنداره، د اجتماعي څېړنو له نظره، کابل ۱۳٦۳
- په پښتو ادبیاتو کښې دکیسې برخه، کابل ۱۳۵٦
- سل معروف نړیوال داستانونه (ترجمه)، کابل ۱۳٦۰
- صفحه ای از تاریخ هلمند و لشکرګاه، کابل ۱۳٤۷
- د پیواړ حماسه، (ډرامه) کابل، ۱۳۵۸
- د کندهار پیژندنه، کندهار ۱۳٤۷
- د پښتون او بلوڅو تاریخي کرونولوژي، کابل ۱۳٦۸
- د بلوڅو ملي آزادي غوښتونکي جنبشونو ته یوه کتنه، کابل ۱۳٦٤


PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د ساپي
د موقوفاتو اداره